# پښتو متون سمېدل غواړي

(لومړی ټوک)

ليکنه، څېړنه او ژباړه

**د محمدمعصوم هوتک**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ټول حقوق په خپروونکي اړه لري

* **پښتو متون سمېدل غواړي**
* لیکنه، څېړنه او ژباړه: **محمد معصوم هوتک**
* مهتمم: مطیع الله روهیال

* خپروونکی: **علامه رشاد خپرندویه ټولنه**
* کندهار – افغانستان
* تلیفون: ۰۷۰۰۳۲۶۰۱۱
* ایمیل: mrohyal@yahoo.com

* کمپوز او ډیزاین: **روهیال کمپیوټر اداره**
* لومړی چاپ: ۱۳۹۰ ش – ۲۰۱۲ ع
* کچه: ۱۳/۵۰ × ۲۱ سانتي متره
* چاپ شمېر: زر ټوکه
* د مخونو شمېر: ۳۴۴
* د خپرونو لړ: ۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهداء

د حضرت مولانا ابوالوفاء افغاني درانه نامه ته!

م. هوتک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپرووونکي یادښت

په افغانستان کي د پښتو متونو د چاپ او خپرولو لړۍ د کندهار او علامه حبيبي د نامه سره تړلې ده. لوی استاد علامه حبيبي رحمة الله علیه په ۱۳۱۷ش کال له کندهاره څخه د پښتو ژبي د پلار خوشحال خان ختک مرغلري خپري کړې. په ۱۳۱۸ کې د خوشحال خان د زوی عبدالقادر خان ختک دېوان چاپ او خپور کړ.

دا په افغانستان کي د پښتو متونو د چاپ پیل وو. له پیله تر اوسه په لسونو متون ترتیب سوي، چاپ سوي او خپاره سوي دي. خو له هماغه وخته بیا تر نن ورځي پوري ټول خپاره سوي متون د متن څېړني له اړخه کمي و کاستي لري. دغه ډول ستونزي او مشکلات د نورو ژبو په خپرو سوو متونو کي هم موجود دي خو که د کمیت او کیفیت له زاویې ورته وکتله سي نو د پښتو په تناسب ئې ستونزي لږ دي. د یوه متن د تصحیح، نقل او ترتیب په وخت کي که متن څېړونکی له دقت او احتیاط څخه کار واخلي، دغه دقت او احتیاط کېدای سي د پښتو متونو په باب ټولي هغه ستونزي چي له بې احتیاطۍ او عجلې او شخصي سلیقو څخه ورپېښې دي رالږ کړي.

که د یوه زاړه متن د انتقال، ترتیب، تصحیح او مقایسې پروسه له شخصي سلیقې و نه ژغورله سي کېدای سي زموږ د ژبي متون د لیکدودي، لهجوي او سلیقوي ګډوډیو ښکار سي. د یوه متن څېړونکي له پاره لازمه او ضروري ده چي د یوې زړې قلمي نسخې د ترتیب او چاپ ته د آماده کولو په وخت کي د هغې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکوال د لهجې او ليکدود پوره درناوی وکړي او متن د يوه امانت په ډول تر خپله ځښتنه ورسوي.

د پښتو ژبې تکړه محقق او ليکوال استاد محمدمعصوم هوتک له ډېري مودې راهيسې د پښتو پر متونو کار کړی دئ. دغه حاضر کتاب د دوی د اوږدو او مثمرو تحقيقاتو نتيجه ده، چې د متن پوهنې او متن څېړنې په اړخ کې د پښتو آثارو پر کوټه وراضافه کېږي.

د استاد هوتک صاحب دغه اثر په دوو برخو او اوو څپرکو کې ليکل سوی دئ، لومړۍ برخه چې څلور څپرکي لري د متن، متني نقاد، خطي نسخې، متن څېړنې اصولو او روشونو، د ژبپوه ستونزې او د متن پوه مسئوليتونو او بالاخره په پښتو متونو کې د پرتو ستونزو، لاسوهنو او تېروتنو د تحقيق او پلټنې له پاره ځانګړې سوې ده.

ورپسې دوهمه برخه شرو کېږي. دوهمه برخه درې څپرکي لري. لومړی څپرکی ئې د هغو متونو د معرفۍ، پېژندنې او کره کتنې له پاره خاص سوی دئ چې د مستشرقينو په لاس تهيه سوي او خپاره سوي دي. په راتلونکو دوو نورو څپرکو کې هغه متون د کره کتنې له زاويې څخه څېړل سوي دي چې په افغانستان کې تر ۱۳۵۲ش کال مخکې او وروسته چاپ سوي دي. په دواړو څپرکو کې دوڅلوېښت متنه نقد سوي او د هر متن ښېګڼې او بدګڼې د متني اصولو او روشونو له مخې څېړل سوي او سپړل سوي دي.

دغه څېړنه د يوه کتاب په شکل د دغې لويې او اکاډيميکې علمي پروژې لومړی ټوک دئ، چې دوهم او دريم ټوکونه به ئې انشاء الله وروسته خپاره سي.

دغه اثر د خپلې علمي محتوی له رويه په پښتو ژبه کې لومړی کتاب دئ چې په دې برخه کې ليکل کېږي، تر دې مخکې په دغه شکل او دغه کميت و کيفيت د متونو په باب څېړنه او تحقيق نه وو سوی، دا پر پښتو ژبه د استاد هوتک صاحب هغه پېرزوينه ده چې تر اوسه چا نه وه پر کړې. که د پښتو ژبې متن څېړونکي او متن پوهان راتلونکې متون داسې ترتيب او تهيه کړي لکه په دغه اثر کې چې ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارښوونه سوې ده، زه باوري يم چي زموږ د ژبي متون به له ډېرو هغو ستونزو څخه نجات ومومي چي استاد ئې د لارښوونو پېرزوينه راباندي کړې ده.

که د دغه اثر په مرسته د پوهنتونونو د محصلينو له پاره د پښتو متونو ليکچرنوټونه تهيه او جوړ سي زه په پوره يقين سره ويلای سم، چي زموږ راتلونکي متن څېړونکي او متني نقادان به له هماغه پيله د متونو په اړخ کي ستونزو او مشکلاتو ته متوجه سوي وي او هغه لار به ئې پرې ايښې وي چي د مکې پر ترکستان ته ځي*.

استاد هوتک صاحب ته مخکي له مخکي د دغه اثر د چاپ مبارکي وايم او د لوی خدای په دربار کي ورته د اوږده او صحتمند ژوند غوښتنه کوم.

مطيع الله ورهيال
د علامه رشاد څېړندويه ټولني مشر
نوی ښار – کندهار

* د کندهار پوهنتون تکړه استاد څېړندوی شېرشاه رشاد د تعليم او تربيې د پوهنځي د محصلينو له پاره د متونو د ليکچرنوټ په تهيه کولو کي د دغه اثر له موادو څخه استفاده کړې ده، زه د دوی دغه اقدام د افغانستان د پوهنتونو په سطحه د يوه ښه پيل پيلامه بولم او خدای دي وکي چي زموږ د پوهنتونونو محترم استادان د دوی پر پله پل کښېږدي او د ليکچرنوټونو په تهيه کولو کي د داسي موادو څخه کار واخلي چي د محصلينو درد ته د پټې کار وکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

۱. پر (پښتو متون سمېدل غواړي) علمي پروژه ........... ۱۴
۲. سریزه ........................................ ۲۵

## لومړۍ برخه

### لومړی څپرکی

۳. متون ........................................ ۳۰
۴. متني نقاد څوک دئ؟ ............................ ۳۱
۵. خطي نسخې د متونو د اصلي منابعو په توګه.......... ۳۴
۶. خطي نسخه څه ته وايي؟ ......................... ۳۴
۷. متون د خپل عصر ژبه تمثیلوي...................... ۳۵
۸. متون د زړو لغاتو ذخیره لري........................ ۳۷
۹. متون د خپل عصر لیکدود راښیي...................... ۳۷

### دوهم څپرکی

۱۰. د متن څېړني اصول او روشونه......................... ۳۹
۱۱. د متونو د تصحیح اصول ............................ ۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲. ډاکټر صلاح الدین المنجد څوک وو؟............ ۴۰
۱۳. د نسخو راغونډول او اوډل ........................ ۴۳
۱۴. د متن څېړنه.......................................... ۴۶
۱۵. د څېړنې هدف او روشونه ئې........................ ۴۶
۱۶. لیکدود.................................................... ۵۰
۱۷. د لنډیز نخښې ......................................... ۵۲
۱۸. د اعراب شکل ........................................... ۵۴
۱۹. سرلیکونه (عنوانونه)................................. ۵۴
۲۰. د متن وېش او نومره ایښوونه ئې...................... ۵۵
۲۱. ټکي، فاصلې او اشارې ................................. ۵۵
۲۲. قوسونه، کرښکي او نخښې.............................. ۵۶
۲۳. لمن لیکونه (حاشیې) .................................... ۵۷
۲۴. اجازات او سماعات..................................... ۵۹
۲۵. فهرستونه ................................................ ۶۰
۲۶. د سریزې کښلو روش..................................... ۶۲
۲۷. په سریزه کې باید درې مطلبه شامل وي ................ ۶۲
۲۸. د نسخې د معرفې له پاره باید دغه لاندې لارښوونې .... ۶۳
۲۹. د مأخذو فهرست.......................................... ۶۵

## دریم څپرکی

۳۰. د متونو په مسخه کېدلو کې د پیوریزم اغېزه............ ۶۶
۳۱. د ژبپوه ستونزې او د متنپوه مسئولیتونه ............... ۱۲۲
۳۲. پر خطي نسخو باندې د اعتبار ستونزه ................ ۱۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ثلرم ثڅپرکی


۳۳. په پښتو متونو کې پرتې ستونزې ........ ۱۲۹

۳۴. تېروتنې –لاسوهنې........ ۱۲۹

۳۵. تېروتنې ........ ۱۲۹

۳۶. د پښتو الفبې نیمګړتیا........ ۱۳۰

۳۷. د لیکدود عدم تجانس ........ ۱۳۱

۳۸. الف: ارادي........ ۱۴۲

۳۹. ب: غیر ارادي ........ ۱۴۳

۴۰. لاسوهنې........ ۱۴۴

۴۱. په متن کې لاسوهنه (مداخله) څه ته وايي؟........ ۱۴۴

۴۲. لاسوهنې د چا له لاسه پېښېږي او ولې پېښېږي؟ ........ ۱۴۶

۴۳. الف: ناسخان، کاتبان او د متن ترتیبوونکي د خپلي .... ۱۴۷

۴۴. ب: د متن لیکونکي او برابروونکي د شخصي........ ۱۴۹

۴۵. ج–د چاپي متونو برابروونکي........ ۱۵۰

۴۶. د –د مادي ګټې په خاطر د نسخې زړول ........ ۱۵۰

۴۷. هـ: د کتابت او تالیف د نېټو سره ګډول ........ ۱۵۱

۴۸. ز: د خطي نسخو ناسمه لوستنه ........ ۱۵۲

۴۹. زموږ زیاتره متون د سرکاري........ ۱۵۴

۵۰. ط: تعجیل........ ۱۵۴

۵۱. ي–او په پای کې باید ووایم ........ ۱۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهمه برخه

## لومړی څپرکی

۵۲. پښتو متون د متن څېړني په رڼا کي ................. ۱۵۶
۵۳. د ختيځ پوهانو په لاس تهيه سوي متون ............. ۱۵۶
۵۴. برنارد دورن او (کريستوماتي) ئې.................. ۱۵۶
۵۵. هنري جورج راورټي او (ګلشن روه) ئې .............. ۱۶۴
۵۶. دارمستتر او (د پښتونخوا د شعرهاروبهار) ئې....... ۱۶۶
۵۷. پادري هيوز او (کليد افغاني) ئې.................. ۱۶۸
۵۸. هنري بيليو او (دېوان خوشحال خان) ئې ............. ۱۷۴

## دوهم څپرکی

۵۹. پښتو متون د متن څېړني په رڼا کي .................. ۱۷۶
۶۰. تر ۱۳۵۲ کال وړاندي چاپ سوي متون (افغانستان) ... ۱۷۶
۶۱. د خوشحال خان خټک مرغلري.......................... ۱۷۶
۶۲. د عبدالقادر خان خټک دېوان......................... ۱۸۰
۶۳. لوی احمدشاه بابا ................................... ۱۸۳
۶۴. پټه خزانه ........................................ ۱۸۶
۶۵. د پيرمحمد کاکړ دېوان ............................. ۱۸۸
۶۶. د رحمان بابا دېوان ................................ ۱۹۷
۶۷. د کاظم شيدا دېوان................................. ۲۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٨. د عبدالحمید دیوان ........................................ ۲۰۹
٦٩. د شمس الدین کاکړ دیوان .................................. ۲۱۵
٧٠. پښتو عروض ............................................. ۲۱٦
٧١. دستارنامه ................................................ ۲۱۷
٧٢. طب نامه ................................................. ۲۲۱
٧٣. د خوشحال رباعیات ....................................... ۲۲٦
٧٤. د حنان بارکزي دیوان ..................................... ۲۳۰

## دریم څپرکی

٧٥. تر ۱۳۵۲ش کال وروسته چاپي متون (افغانستان)...... ۲۳۲
٧٦. د دولت لوانیي دیوان ...................................... ۲۳۲
٧٧. د میرزا خان انصاري دیوان ................................. ۲۳۸
٧٨. معرفة الافغاني ............................................ ۲۴۰
٧٩. د علم رساله ............................................... ۲۴۴
٨٠. د رحمان بابا دیوان ........................................ ۲۴۵
٨١. د قلندر دیوان ............................................. ۲۴۵
٨٢. یاقوت السیر .............................................. ۲۴۹
٨٣. لیلې او مجنون د سکندر خټک ............................. ۲۵۴
٨٤. د صدیق دیوان ............................................ ۲۵٦
٨٥. سواتنامه ................................................. ۲۵۹
٨٦. د خوشحال کلیات لومړی ټوک .............................. ۲٦۱
٨٧. د کامګار خټک دیوان ...................................... ۲۷۳
٨٨. د رحمت داوي لیلی او مجنون ............................... ۲۷۸
٨٩. د حاجي جمعه بارکزي دیوان ................................ ۲۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۰.  د حبیب الله دېوان ........................................ ۲۸۴
۹۱.  تذکرة الاولیاء ........................................ ۲۹۱
۹۲.  د عبدالحمید مومند دېوان ........................................ ۲۹۲
۹۳.  د سکندر شمایلنامه او پندنامه ........................................ ۲۹۵
۹۴.  د ملا لتاړ دېوان ........................................ ۳۰۵
۹۵.  د عبدالقادر ختک دېوان ........................................ ۳۱۰
۹۶.  د احمدشاه بابا د دېوان غورچاڼ ........................................ ۳۱۲
۹۷.  خلاصة المریدین ........................................ ۳۱۴
۹۸.  خیرالبیان ........................................ ۳۱۷
۹۹.  اسماء الحسنی ........................................ ۳۱۹
۱۰۰. فواید فقیرالله ........................................ ۳۲۱
۱۰۱. فراقنامه ........................................ ۳۲۳
۱۰۲. د یونس خیبري دېوان ........................................ ۳۲۵
۱۰۳. اخلاقنامه ........................................ ۳۳۳
۱۰۴. د لیکوال چاپ او ناچاپ آثار ........................................ ۳۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر

# (پښتو متون سمبېدل غواړي)

## علمي پروژه باندې يوه لنډه کتنه

**پوهنوال دوکتور عبدالخالق رشيد**

**پیل:**

**د هندوستان په مغلي دربار کې د فارسي ژبې د مداح شاعر کليم دغه في البد يهه رباعي تر ډېرو پورې له شاه تر گدا د ټولو په خولو کې وه، چې:**

اين مژهٔ فتح از پی هم زيبا بود
اين کيف دو بالا چه نشاط افزا بود
از کشتن دريا سر پيرا هم رفت
گويا سر او حباب اين دريا بود *

---

* خان جهان لودي اصلي نوم پيرا و، هغه نوميالی سردار چي جهانگير او نورجهان او نورو درباريانو به ده ته د تره او کاکا په سترگو کتل، له شاه جهان سره يې ستونزه پيدا شوه او خبره مخامخ جگړې ته ورسېده او د پښتنو يو پراخ مقاومت د ده او دريا خان په مشری پيل شو خو پای د هندوستان په جنوب کې د خان جهان او درياخان د پوځونو په ماته او د دغو دواړو سردارانو په مړينه شو. کله ئې چې د دوی سرونه دربار ته راوړل پر همدغه مهال درباري مداح شاعر کليم همدغه رباعي ويلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې دغه څلوریځه یو څوک لولي کېدای شي ووایي چې په دغه کې نو څه کمال او جمال نغښتی دی، شاعر دی، یو خیال ئې کړی، یو دریا او حباب ئې انځور کړی او یوه شېبه ئې خوشاله پرې تېره کړې ده، خو دا چې مغلو شهزادګانو او نورو چارواکو دا څلوریځه ولې تر ډېرو پورې په خپلو کې سره زمزمه کوله، دوی هغې ته د مغلو په وړاندې د پښتنو د مقاومت د تاریخ د یوې روښې پاڼې په ستر ګو کتل او یو څه ئې داسې پکې لیدل چې باید له یوه نسله ئې بل ته د عبرت په توګه ولېږدوي، ځکه نو دغو څلورو نیم بیتیو د یوه منظوم متن په توګه له ځان سره د وخت د تاریخ یوه خورا حساسه او تاریخي واقعه درلوده. د همداسې متني غوټو د پرانیستلو په موخه په کره کتنه کې یوه څانګه کار کوي چې هغه د متني کره کتنې په نامه سره یادېږي او د ادبي کره کتنې په علم کې تر ټولو مهمه پوهه او د ادبي متنونو د سمولو په برخه کې اړینه څانګه منل شوې ده.

څلوریځه خو یوه یادونه وه، خو زه غواړم چې د هغې په بدرګه تاسې په دغه اړه د یوې متني څېړنې، یوه ادبي اثر په لور چې هغه (پښتو متون سمېدل غواړي) لارښوونه کړم او د دغه مهم اثر د اهمیت او ضرورت هغه نادره سیپۍ ستاسي درنو لوستونکو په مخ کې په لنډه توګه پرانیزم چې دغه کتاب پر لیکل شوی او طرحه شوی دی. د نړۍ په ادب او کره کتنه کې نن سبا په دغه برخه (متني تنقید) کې د بېلابېلو پوهانو او اکاډیمیکو موسسو له خوا ډېر زیات کار شوی او د ادبي میراثونو د خوندي ساتلو لپاره ئې د څېړنو دغه ډول په تېره بیا د کلاسیکو آثارو او نادرو نسخو د پېژندنې او معرفۍ په برخه کې ډېرمهم منلی او ارزولی دی. ادب پوهان په ادبي نقد یا کره کتنه کې یو نومونه (اصطلاح) کاروي چې هغې ته د کره کتنې یا کره کولو متني ډول یا (Textual Criticism) وایي، متني کره کتنه د کره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتنې تر ټولو مهمه، د پاملرنې وړ او په ډېرو وختو کې ګرانه او سرخوږوونکې برخه ده چي دنده ئې د متونو کره کول او سره کول دي.
متني کره کتنه په هندي ادبی بهیر کي هم د پاملرنې وړ ځپړکی دی. په سانسکریت او هندي ژبه کي میماسا (mimasa) ورته وایي چې له (nirukta) یا ایتمولوژۍ سره په رابطه کې د سانسکریت ژبي او ادبیاتو په څېړنه او شننه کې له پخوا تر ننه د اهمیت وړ څپړکي وو، ځکه چې په هندي او سانسکریت کې د کلاسیکو آثارو چې سرې ئې په شمېر او د نسخو په تنوع کې د خلکو په وینا لېونی کېږي دا یواځنۍ پوهه ده چې هندي پوهانو د هغې په مرسته د کلاسیکو آثارو د زرګونو نسخو له منځه یوه را ایستلې او یو انتقادي متن ئې ترې برابر کړی دی.
په اوسنی عصر کې هم چې د نړۍ په ادبیاتو کې د پرتلیزو ادبیاتو څېړنه او مطالعه د یوه علمي مضمون په توګه د نړۍ په علمي موسسو او پوهنتونونو کې اهمیت تر لاسه کړی یو اړخ ئې د متنپوهني او متني کره کتنې تر سیوري او څپرکي لاندې په خورا چټکۍ سره د ودې په لور روان دی. د متنی کره کتنې تر ټولو په زړه پورې تعریف په ویکیپیډیا کې داسې کښل شوی دی:

The ultimate objective of the textual critic's work is the production of a "critical edition" containing a text most closely approximating the original.

مانا دا چې د متني کره کتنې مطلق غرض او موخه دا ده چې له بېلابېلو متنونو څخه یو انتقادي متن هغه چې اصلي اثر او یا نسخې ته ډېر نژدې ایجاد شوی او لیکل شوی وي وڅېړي. د همدغې اړتیا او ضرورت له مخې هوتک صاحب هم پښتو ته یو غنیمت اثر ور ډالۍ کړی چې په لنډه توګه ئې یو لړ ښېګڼې په دغه پیل کي له درنو لوستونکو سره شریکوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دغه اثر په اړه:

(پښتو متون سمېدل غواړي) د هغه درانه اثر نوم دی، چې د پښتو ژبې نوميالی څېړونکی او مسلکي ليکوال ښاغلی محمدمعصوم هوتک ئې د خپلو اوږدو څېړنو او اوږدو کالونو زيار په ترڅ کې زموږ په واک کې راکوي چې دا دی لومړی ټوک ئې زموږ مخې ته پروت دی. د اثرموضوع يوه نوې او نوښتي موضوع ده چې د پخوا په نسبت په نوي ليد او نوي ميتود سره کار او کتنه پرې شوې ده. کتاب په يوه لنډه مقدمه پيل شوی چې ليکوال په هغې کې د خپل کار اهميت او انگيزه په ډاگه کړې او د دغې اوږدې او گټورې پروژې ادبي رسالت ئې په خپلو جامعو الفاظو کې په ډاگه کړی دی لکه چې ليکي: "موږ بايد هڅه وکړو چې د اولنيو اديبانو ميراث د لرغونو تاريخي آثارو په شان وساتو او داسي و نه کړو چې هغه له خپلو سليقو سره سم وتوږو او بدلون پکښې راولو. که مو دا کار وکړ، گويا اصل اثر مو له منځه يووړ" (د ليکوال مقدمه).

په لومړي څپرکي کې هوتک صاحب د متونو، متن او متني کره کتني په اړه يوه ژوره علمي څېړنه د لوستونکو په وړاندې ږدي چې هغه د نوې ادبپوهني او کره کتنې په پراخ علمي ډگر کې يو ژوندی او مهم تيوريکي بحث دی. ليکوال په دغه بحث کې پر متني نقد باندې لومړی په نړيوال او بيا په پښتو ادب کې د هغې پرڅرک باندې په مفصله توگه غږېدلی دی، په نړيوال ادب کې ئې د متني کره کتني پر روان بهير، اززښت او د دغې پوهني پر اهميت، له هغې سره اړوند د ادبي – قلمي آثارو په باريکيو او تاريخي لرليد باندې علمی کتنه کړې ده، چې بې شکه له لوستونکي سره د متني کره کتني د پوهې او لارښوونې په برخه کې ښه مرسته کولای شي، په زړه پورې مشوره او معلومات ئې په دغه برخه کې خپل لوستونکي ته دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د متن پر ژبه باندي تسلط درلودل.

د متن د ژبي د تاريخي تحول او تطور په باب معلومات درلودل.

د متن له ژبي سره د نورو تړلو ژبو پوهنه درلودل.

د مؤلف په باب معلومات درلودل.

د مؤلف د عصر د تاريخي و ادبي جرياناتو په باب علم درلودل.

د مؤلف د نورو آثارو په باب، كه موجود وي مطالعه درلودل".

په دويم څپركي كې د بحث موضوع په پښتو متونو كې پرتې ستونزي دي، په دغه برخه كي ليكوال په خورا دقت او ځيركۍ سره پر ادبي او متني تېروتنو، په پښتو ژبې كې د الفبا پرستونزه، د ليک دود لويه ګډوډۍ چې په ادبي لحاظ د زياتو توپيرونو او ګډوډيو لامل شوی، لاسوهنې او په خپل سر په ادبي په تېره بيا كلاسيكو متنونو او يا د هغو په چاپولو كې د بې ځايه لاسوهنو پر ستونزو باندې علمي رڼا اچول شوې ده، په دغه برخه كې ئې په عملي توګه هغه ستونزي په ګوته كړې چې پښتانه څېړونكي څه پخوا او څه هم په اوسني وخت كې ورسره مخامخ دي. په دغه ترڅ كې د كاتبانو تېروتنې او يا هم د يو لړ اغراضو له مخې په نسخو كې لاسو وهلوته اشارې شوې دي. هوتک صاحب په دغه برخه كې د كاتبانو د تېروتنو هغه ټولې بيلګې ښودلي، كومې چې زموږ كلاسيک متون په بېلابېلو وختو كې ورسره مخامخ شوي دي. په عين حال كې مو په دغه برخه كې له يو شمېر په زړه پوري لارښودنو سره مخامخ كوي چې هغه د متونو په تېره بيا كلاسيكو متونو په برخه كې د هر ليكوال او محقق لپاره مرستندويې او اړينې دي. هوتک صاحب د بېړې او تعجيل په برخه كې چي دغه څپركي پای ته پرې رسېدلی ليكي:

"كله كله پر يوه متن باندي دوه تنه په عين وخت كي كار پيل كړي او هر يو بېړه كوي چي تر ها بل چا دمخه متن خپور او وياړ ئې تر لاسه كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغي ببړي او تلوار له خاطره هم په متن کي د لازم دقت اصول تر پښو لاندي کېږي او ناروا لاسوهنو ته زمينه برابرېږي او په پای کي بايد ووايم چي د متن څېړني لازمه پوهه نه لرل هم د ناروا لاسوهني عامل کېدلای سي".

دريم څېړکی چې د متونو په مسخه کېدلو کي د پيوريزم اغېزه ده بل جالب بحث دی چې په هغه کې هم هوتک صاحب د متونو د مسخ کولو او سوچه کولو تر نامه لاندې د متنونو پرستونزه باندې رڼغېدلی دی او په دغه برخه کې ئې دا په ډاګه کړې چې څېړونکی دا حق نه لري چې د خواخوږۍ له مخې يو متن له خپلې خوښې سره سم جوړ او لاس پکې ووهي، په دغه څېرکي کې د هغو ليکوالو او څېړونکو پام د يو لړعادي لغاتو پر لور چې که څه هم مترادفه بڼه لري لکه (اول) او (لومړی) وراړولی او دا ئې په ګوته کړې چې دغه تصرف او لاسوهنه نه يوازې مادي بدرنګي لري بلکي د شاعر او ليکوال د کلام معنوي اړخ او باور ته هم لوی زيان رسوي او دا د يوه ادبي اثر په وړاندې علمي چلند نه دی. ليکوال په دغه څېرکي کې د سوچه والي په نامه د افراط پر مساله باندی هم غږېدلی او هغو عملی بېلګو ته ئې چې د خوشال، حميد او په لسګونو نورو شاعرانو په آثارو کې ورجوتې شوې انتقادي اشارې هم کړې دي. په عمومي لحاظ که چيري لږ سړی د دغه څېرکي ادبي ارزونې ته دقيق شي زه فکر کوم دغه فصل د علمي فکتونو له امله يو جالب بحث دی چې په علمي لحاظ د نوې ادبي کره کتنې په رڼا کې د اهميت وړ ټکو ته پکې اشارې شوي دي لکه چې په يوه پراګراف کې ئې ليکلي:

"د پخوانيو متونو ژبنۍ څېړنه د ژبي د متخصصينو کار او مسئوليت دئ هغوی ئې په تحول او تطور تر بل هر چا ښه پوهېږي. مګر دا خبره بايد هم په ياد ولرو چي د ژبي ماهران خو هم د چا خبره جادوګران نه دي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټې دي پر معلومې وي. هغوی ځان ته د څېړنې ټاکلي اصول لري او له دغو اصولو څخه په کار اخیستلو کې لازمو وسایلو ته اړتیا لري. د ژبپوه له پاره په لازمو وسایلو کې یو هم پخواني متون دي. هر څونه چې دا متون له غل و غشه پاک وي او د لیکوال یا شاعر ژبه تمثیل کړای سي، هغونه (هغومره) د ژبې د متخصص کار اسانه کوي. د متونو مقایسوي څېړنه د ژبې له متخصص سره د لهجو په پېژندنه کې هم مرسته کوي".

د دغه اثر څلورم څپرکی  چې د متونو سمولو اصول دي، او د علمي سرچینو په رڼا کې څېړل شوي په دغه څپرکي کې د آثارو د سمولو اصول او تګلوري، د نسخو ډله بندي، د متن څېړنې هدف او موخه، د ماخذونو لیکل، حاشیه لیکنه او نورې لاربښوونې لوستلای شو، دغه بحث یو تیوریکي لاربښود بحث دی، چې د علمي سرچینو په مرسته او لاربښوونه ئې د متونو دسمولو آر اصول په علمی توګه تشریح کړې دي.

## د اثر دویمه برخه:

د دغې برخې  په لومړي څپرکي کې پښتو متون د متن څېړنې په رڼا کې څېړل شوي او په ځانګړې توګه هغو متونو او لیکنو ته ونډه ورکول شوې چې هغه پرختیزپوهانو پورې اړه لري، په دغه لړ کې د قدامت په پام کې نیولو سره د هغو پښتو پوهانو هلوځلو او راټول کړه شویو متونو علمي ارزونه شوې چې په دغه برخه کی ئې آثار د پښتو ادب او یو شمېر کلاسیکو شاعرانو د آثارو په اړه نه هېرېدونکي او د پاملرنې وړ دي، په دغه لړ کې لیکوال د دورن خرستوماتي یا منتخبات، د پادری هیوز کلید افغاني، د راورټي ګلشن روه، د فرانسوي دارمستتر  هارو بهار او نور د یوې نوې کتنې په ترڅ کې چاڼ کړي دي، سره له دې چې د دغو ختیزپوهانو دغه یاد شوي په زړه پورې آثار زموږ د هیواد نومیالیو پوهانو هم په خپل وخت کې چاڼ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي وو، خو د هوتک صاحب په دغه اثر کې د هغوی پر ښېړنو برسېره ډېر نور جالب او د پاملرنې وړ ټکي لوستلای شو، په دغه برخه کې تر ټولو جالبه خبره چې هوتک صاحب ورته متوجه شوی دا ده چې د برنارد دورن په وخت کې په لویدیز کې یو شمېر پوهان چې د هغو آثار د متني کره کتنې په برخه کې تر هر چا او هر ځایه رسېدلي وو د دورن غوندې پوهانو تر نظر نه دي تېر شوي او یا دا چې ده هغو ته د خپل اثر په برخه کې پام نه دی کړی او د پښتو منتخباتو په برخه کې ئې د هغو پوهانو تیوریکي لارښوونې په پام کې نه دي نیولي، ځکه هوتک صاحب وايي چې دغه پښتو منتخبات ئې د هغو اصولو پر بنیاد برابر نه برېښي او دغه علمي کار بیا هم د متن پوهنې پر اصولو برابر انتقادي متن نه دی. همداسې ئې د هیوز، راورټی او دارمستتر د لیکنو په اړه هم خپله ارزونه علماً په ټولو جزئیاتو سره په دغه څپرکي کې په هراړخیزعلمي ډول کښلې ده.

په دویم څپرکي کې هغه کلاسیک آثار او د هغو ارزونه شوې چې په لمریزحسا ب تر ۱۳۵۲ کال پورې په افغانستان کې د افغاني پوهانو له خوا برابر شوي او چا پ شوي دي، په دغو آثارو کي د احمدشاه بابا او د عبدالقادر خان پر دېوانونو، پټې خزانې ، د رحمان بابا پر دېوان، د کاظم خان شیدا پر دېوان، د حمید ماشوخېل او شمس الدین کاکړ پر دېوانو، د میاشرف پرپښتو عروض، او دستارنامې پر چاپي متنونو باندې روڼا اچول شوې او د هغو پر ښېګڼو او نمیګړتیاوو باندې ئې د مستندو بېلګو په وړاندې کولو سره یوه جامع متني کره کتنه چې د پښتو ادب د څېړونکو لپاره له هرپلوه لارښودې او روزونکې ده زموږ په واک کې راکړې ده.

په دریم څپرکې هم له ۱۳۵۲ کال څخه وروسته د چاپي آثارو لړۍ ته دوام ورکړ شوی چې په هغو کې په دغه دوره کې مهم چاپي آثار لکه د علم رساله، د قلندر دېوان، یاقوت السیر، د سکندرخان لیلی و مجنون، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صديق دېوان، سواتنامه، د رحمت داوي ليلى و مجنون، د حاجي جمعه دېوان، د حبيب الله دېوان، د حميد دېوان، د ملا لتاړ دېوان او نور چې شمېر ئې په دويم او دريم څپركو كې تر (۴۲) پورې رسېدلی او په افغانستان كې چاپ او خپاره شوي دي يو يو په دقيقه توګه مطالعه شوي او ارزول شوي دي او هغه ستونزې چې په دغو آثارو كې ليكوال موندلي او څېړلي يوه يوه په ډاګه كړي دي او د دغې علمي پروژې لومړۍ برخه هم پر همدغه څپركي باندې پای ته رسېدلې ده.

## د دغې علمي پروژې اهميت:

-يو دا چې د هوتک صاحب جوړونكی كار به تر هر څه دمخه د دغو آثارو د بيا چا پ په ترڅ كې لويه مرسته وكړي، ځكه نو دا ويلای شو، چې دغه كار په خپل ذات كې يو نوی علمي كار او علمي ارزونه ده چې د نژدې يوې پېړۍ په ترڅ كې د پښتو څېړنو او چاپي آثارو په اړه ترسره كېږي او تر ډېره حده پر متني انتقادي كتنه باندې انتقادي كتنه ده چې د يوه اثر د كره كولو او يوه بشپړ انتقادي متن په رامنځته كولو يوه علمي هڅه او پرمخ تللی ګام دی.

– دا علمي كار له ډېرو وختو وروسته د يوه داسې باصلاحيته ليكوال له خوا پرمخ بېول كېږي چې د متونو په څېړنه كي اوږده تجربه او پوهه لري او تر هر څه دمخه په پښتو ژبه كې يو مسلكي ليكوال او كره كتونكی دی چې مخامخ له دغه مسلک سره لوی شوی او پښتو ژبه ئې د زده كړې او څېړنو ساحه ده او دغه څانګې ته لكه زموږ يو شمېر دوستان له نيمې لارې نه دی ورننوتی. ځكه زه باورلرم چې د دغه اثر علمي اهميت به په مسلكي لحاظ زموږ او نورو په علمي ادبي كړيو كې ډېر د باور وړ وي.

– د دغې څېړنې لوی اهميت په دې كې دی چې هوتک صاحب هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ ډول طمعې او ځان ښودنې او ان چې د یوې فرمایشي پروژې په نامه نه ده پیل کړې، بلکي د هغې خواخوږۍ له مخې ئې تر سره کړې چې هره کرښه او هر لغت ئې د یوې نا پایایه مینې او لېوالتیا څرګندونه کوي داسې چې له پښتو سره د لوړ انساني صمیمیت علمي بېلګه ورته ویلای شو. داسې بېلګه چې پر پښتو ژبه باندې پر دغه ناتار او ځپاو کي ډېرو لږو څېړونکو په دومره وړیا بیه لورولې ده.

– د یوه حقیقت په توګه باید دغه ټکی ومنو چې یوه کوټلې څېړنه او تحقیق هغه مهال آسانه کار دی چې منابع او ماخذونه موندل ئې ستونزه نه وي، همدا مهال دا ډول علمي کارونه په نوره نړۍ کې د یوې ډلې له خوا د زیاتو مادي آسانتیاوو په خرڅولو تر سره کېږي، خو پښتانه او پښتو لا تر اوسه د پوهې او شعوري خوځون هغه پړاو ته نه دي رسېدلي چې دا ډول علمي کارونه وهڅوي او د پوهانو قدرداني دې وکړي، خو هوتک صاحب دغه کوټلې څېړنه د مهاجرت په چاپېریال او امکاناتو سره په داسې حال کې چې وړ منابع او آثار ئې هم په واک کې نه ول بیا هم بشپړه کړې چې له هر پلوه د قدرداني او ستاینی وړ ده.

او په پای کې یو ځل باید ووایم چې په دغه څېړنیز اثر کې د لیکنې ټول ارزښتونه املایي او انشایي برخې او د تبویب اصول په بشپړه توګه په پام کې نیول شوي دي او د یوه بشپړه ادبي اثر ټول علمي ارزښتونه او وړتیاوې له ځان سره لري.

زه دا اثر زموږ په څېړنیز بهیر کې یوه اوچته او علمي بریا بولم او هوتک صاحب ته په دغه برخه کي له پاک خدایه د لازیاتو بریو هیله کوم. وائي چې نامتو لیکوال فاکنر له امریکا سره ځکه مینه کوله چې دا ئې هیواد و او د ژوند نه هېرېدونکي روياوې او انځورونه ئې له هغه سره تړلې وو. زموږ هوتک صاحب هم له هیواد او پښتو سره همداسې مینه او رویاوې لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه ئې په خپل دغه کار سره یو ځل بیا زموږ د لویو هستیو لکه علامه رشاد او علامه حبیبي او لسګونو نورو ارواوې خوشاله کړې.

اوږد ژوند او بریاوې ئې په برخه!

پوهنوال دوکتور عبدالخالق رشید

د ۱۳۹۰ کال د جدي ۱۸

ادمنتون – کاناډا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

زيات و کم پنځه ويشت کاله کېږي چې د پښتو پخوانيو متونو له څېړني او چاپ ته له تیاروولو سره مي سروکار دئ. په دې برخه کي مي تر کار پيل کولو وړاندي نه د متن په باب څه مطالعه درلوده او نه مي د متن برابرولو په برخه کي لازمه تجربه. د کار په پيل کي مي هغه چاپ سوي متون د لارښود په توګه ځان ته ایښي ول چي تر ما وړاندي نورو مشرانو او همزولو پوهانو تهیه کړي ول. ما ته د هغوی د کار میتود ځکه معتبر ایسېدی چي فکر مي کاوه هغوی تر متن برابرولو وړاندي د دغي علمي مشغلې په باب لازمي څېړني کړي وې او بيا ئې نو پر متن باندي کارونه پيل کړي ول. زه چي هر څونه د دغه علمي ډيسيپلين تَل ته ورننوتلم، هغونه د خپل ځان نارسايي او د نورو د کارونو نیمګړتیاوي راته څرګندېدلې او په رشتيا سره باید اعتراف وکړم چي د خپل کار نیمګړتیاوي مي تر بل هر چا ډېري مخي ته درېدلې. ما به ليدل چي زموږ له پخوانيو متونو سره په څومره بېباکۍ سره چلند کېږي، څونه په بې مسئولیتیو سره لاس پکښې وهل کېږي، څونه په جرئتمندۍ سره ځان ته دا حق ورکول کېږي چي د يوه کلاسيک شاعر په کلام کي په خپل زعم سره د اصلاح؟ په منظور مداخلې وسي، د پېړيو پېړيو پخوانۍ ژبه په وچه سپين سترګي سره پر اوسنۍ لهجه باندي عيارېږي او تر ټولو ئې بده لا دا چي دغو ټولو بېباکيو او بې مسئولیتیو ته بيا د علم او پوهني او د معاصرو علمي پرنسيپونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



میتودونو پر توګ وراغوستل کېږي. زړه به مي له شنوختته ډک سو، خو له کاره مي لاس نه کېښ او په دې هیله مي تعقیباوه چي ننني کار مي ګوندي تر پروني او د سبا کار به مي تر ننني یو څه پر علمي موازینو برابر سي.

په دې لړ کي مي یو وخت د شېراز د حافظ کلام کوت او په هغه کي مي سترګي پر دغه بیت ولګېدې چي ویلي ئې دي:

رشته تسبیح اگر بگسست معذورم بدار
دستم اندر ساعد ساقی سیمین ساق بود
(دیوان – ص ۲۸۰ چاپ ۱۳۸۵ش)

راته څرګنده سوه چي د حافظ شېرازي په دغه بیت کي د "ساعد" پر لغت باندي اختلاف سته او په ځینو نسخو کي ئې پر ځای "دامن" راغلی دئ:

"دستم اندر دامن ساقی سیمین ساق بود"

په یو بل ځای کي مي ولوستل چي پر دغه یوه لغت باندي پراخ نظرونه ورکول سوي او اووه حاشیې پر کښل سوي دي.

په یوه حاشیه کي ئې د "دامن" کلمه ځکه مناسبه بللې ده چي په دغه نیم بیتي کي د (سین) توری ډېر راغلی دئ او د "ساعد" کلمې سین چي هم پر سرباری سي، په بیت کي د بېخونده تکرار عملیه پېښېږي او دا کار بیا د شعر کیفیت ته تاوان رسوي.

په بله کي بیا د "ساعد" لغت تر "دامن" ښکلی بلل سوی دئ.

په بله حاشیه کي راغلي دي چي د پخوانیو متونو په تصحیح کي باید دا خبره په پام کی ونیول سي چي په خپله شاعر کومه کلمه یا کلمات استعمال کړي دي. د لغت ښایست یا بدرنګي د متونو په مصحح پوري اړه نه لري. موږ باید هڅه وکړو چي د اولنیو ادیبانو میراث د لرغونو تاریخي آثارو په شان وساتو او داسي و نه کړو چي هغه له خپلو سلیقو سره سم وتوږو او بدلون پکښې راولو. که مو دا کار وکړ، ګویا اصل اثر مو له منځه یووړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حافظ په یوه بیت کې د یوې کلمې په باب دغو څرګندونو زما د دې اوسني کتاب د لیکلو له پاره پلمه جوړه کړه. له ځان سره مې وویل چې وګوره، د حافظ په کلام کې د یوې کلمې یا لغت په برخه کې څومره دقت په کار اچول سوی دئ. له بده مرغه موږ په پښتو متونو کې داسې په پراخ لاس مداخلې کوو چې ګویا دا مو خپل شخصي ملکیت دئ، هر راز چې ئې اړوو، را اړوو، خپل حق ئې بولو. په زړه کې راوګرځېدل چې د بامیان د مجسمې الوزول او د خوشحال خټک په دېوان کې په بېباکۍ سره لاس وهل دواړه تاریخي ګناه ده او د لرغونو آثارو محوه کول دي. دغو اندېښنو مې پر ذهن باندې دونه فشار رااووست چې ایستل کېدل ئې په دې برخه کې له څه لیکلو پر ته ناممکن ول. د دې اثر په لیکلو سره به مې اوږې لږ څه سپکې سي. زما د دې لیکنې معنا دا نه ده چې ګویا زه اول سړی یم چې په دې برخه کې قلم چلوم. نه، تر ما دمخه هم زموږ متنپوهانو دغه نیمګړتیا درک کړې ده او ښاغلي سرمحقق زلمي هیوادمل خو په دې برخه کې د خپلي رسمي پروژې په توګه یو تیزس (د متن څېړني میتودولوژي) هم کښلی دئ او په هغه کې ئې د یو شمېر هندي علماوو مقالې له اردو څخه په پښتو ژبه راژباړلې او خپلی تجربې ئې هم پر زیاتې کړي دي. خو نه پوهېږم چې د هیوادمل صاحب دغه کتاب به کوم چا د ځان د کار له پاره لارښود کړی وي که یا؟ ما ته د دې کتاب د مطالعې موقع هغه وخت میسره سوه چې د متن څېړني او متن خېړوني په کار کې مې ښه ډېر کلونه پر خپل سر مزلونه وهلي ول. د دې کتاب مطالعې راسره ډېره مرسته وکړه او ځان راته پر خپلو اندېښنو باندې حق په جانب ښکاره سو او په دې باب مې د نورو آثارو د لیکلو اړتیا لا زیاته محسوس کړه. د ۲۰۱۰ع کال په دوبي کې مې په کار پیل وکړ او د همدې کال د نومبر په سر کې مې له خپل خواخوږي دوست ښاغلي استاد حبیب الله رفیع سره زموږ په کور کې د خپل تر لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندي کار په باب خبري وکړې او ورته ومي ويل چي د پښتو چاپي متونو ټول بهير ته کره کتنه په پام کي لرم او حتی المقدور به هر متن په ځانګړې توګه تر نقد لاندي ونيسم. هغوی هم د دې کار پر اړتيا د تائيد مهر ولګاوه[1].

تر دغو مقدماتي خبرو وروسته زه خپل مسئوليت ګڼم چي په دې برخه کي له استاد ډاکټر عبدالخالق رشيد څخه د زړه له کومي مننه وکړم چي د کتاب دغه ټوک ئې کتلی دئ او پر هغه ئې خپله ګټوره ليکنه کړې ده او ما ته ئې نوري لازمي مشورې هم راکړي او ما هم عملي کړي دي. له ښاغلي هارون خپل څخه هم منندوی يم چي د ځينو ماخذونو په موندلو کې مرسته راسره کړې ده. د ښاغلي جهاني صاحب هم د منني پوروړی يم چي د خپل کتابتون ځينی کتابونه ئې له ويرجينيا څخه تر ما پوري رارسولي دي. ګران روهيال خو زما د لاس لکړه ده. که دی نه وي زما لاس ګوډ دئ. برکتونه دې مل او هڅانده روحيه دې پياوړې وي. د طلوع افغان ورځپاڼي او د تاند ويبپاڼي چلوونکي دي هم خدای ونازوي چي د دې کتاب د محتوياتو لومړۍ مسودې ئې خپرې کړي دي. دا دئ خپل کار ستاسي مخ ته ايږدم او کره کتنو ته مو په ورين تندي هرکلي وايم.

م . هوتک

(۱) استاد رفيع صاحب په دغه وخت کي کاناډا ته تشريف راوړی وو او په ټورنټو کي زما او نورو دوستانو د ليدو په خاطر له کالګري څخه تر ټورنټو پوري د اوږده سفر مشقت په ناروغ بدن پر ځان منلی وو. پاک خدای دي د دغه شان خواخوږو کمی نه راويني (آمين).
پر دې خبرو باندي اوس (۲۹مه د ډسمبر ۲۰۱۱ع) دا يادابنت زياتوم چي ما په دې برخه کي خپل کار په درو ټوکو کي په پام کي نيولی دئ. په لومړي ټوک کي به په افغانستان کي تهيه سوي متون، په دوهم ټوک کي په پښتونخواکي برابرسوي متنونه او په دريم ټوک کي به د دواړو ټوکو کمبوتۍ وڅېړل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړۍ برخه

- متون
- د متن څېړنې اصول او روشونه
- د متونو په مسخه کېدلو کې د پيوريزم اغېزه
- په پښتو متونو کې پرتې ستونزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## متون

متن د لغت له مخي کلکي او لوړي مځکي ته ویل کېږي. جمع ئې "متون" یا "متان" ده. په مجازي معنا سره د یوه کتاب یا یوې لیکني عبارت ته ویل کېږي. په عبارت کي د کتاب یا لیکني حاشیې او زواید نه راځي یعني حاشیې او زواید (تعلیقات او نوري برخي) د لیکني د متن جزء نه دي.

د ادبي تیورئ له مخي، متن د سمبولونو یوه پر له پوري او سره تړلې مجموعه ده چي د یو راز معلوماتي پیغام رسوونکې وي (ویکیپیډیا).

زیاتره پوهان په دې عقیده دي چي متن باید تحریري (لیکلی) وي. شفاهي کیسې او اولسي سندري د متن په کټګوري کي نه سي راتلای.

متون چي له یوه نقل څخه بل نقل ته رالېږدول کېږي، هرومرو ئې په شکل او مفهوم کي لږوډېر بدلون راځي. له دغه بدلون څخه هیڅ متن مستثنی کېدلای نه سي. اسماني کتابونه لا، له قرآن کریم پرته نور ټول په خپله اصلي بڼه پاته نه دي. د قرآن کریم د اصلي متن په ساتنه کي د پاک خدای ﷻ پر ارشاد سربېره چي فرمایلي ئې دي: "انا نحن نزلنا الذکر و انا له لحافظون" (الحجر: ۹ آیت)، د حافظانو رول هم ستر دئ. قرآن کریم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حفاظو په همت او برکت تر نن پوري په پوره امانتدارۍ سره بې له جزئي ترين توپيره خوندي پاته دئ. اسلامي پوهان د قرآن په معجزه توب کي يو دليل همدا راوړي چي په متن کي ئې هيڅ تغير نه دئ راغلی.

نور اسماني کتابونه لکه تورات، انجيل او زبور هيڅ يو په خپل اصلي شکل پاته نه دي او د نورو اسماني اديانو پيروانو دغه تحريف او تصحيف پټ کړی هم نه دئ. دوی دا خبره مني چي د تورات او انجيل اوسني متون لاسوهلي متون دي.

په ارکاييکو متونو کي د تحريف او تصحيف د همدغه جريان سته والي د متني نقد اړتيا رامنځته کړې ده او نن ورځ وينو چي متني نقد د يوه علمي ډيسپلين په توګه مطرح دئ او ځان ته خپل اصول او روشونه لري.

## متني نقاد څوک دئ؟

متني نقاد (Textual Critic) هغه چا ته ويل کېږي چي يو متن دوهم ځل داسي ترتيبوي چي تر ممکني اندازې پوري د مؤلف په لاس ليکل سوي بڼې (original) ته نزدې وي. په اروپايي ژبو کي د اوريجنال (اصل) له پاره د (archetype) يا (autograph) لغتونه هم کارېږي له (archetype) څخه مراد د متن هغه نسخه ده چي نوري موجودي نسخې ټولي ورڅخه په مستقيمه يا غيرمستقيمه توګه کاپي سوي وي او (autograph) معمولاً هغي نسخې ته ويل کېږي چي د مؤلف په خپل لاس ليکل سوې وي. په دې ډول نو ګويا د متني نقاد کاروبار هم له ليکلو (تحريري) موادو سره دئ. هغه څوک چي د خلکو له خولو څخه فولکلوري سندري او کيسې راغونډوي، د متني نقاد په تعريف کي نه ځايېږي. د متني نقاد غايي هدف د يوه داسي انتقادي متن برابرول دي چي اصلي نسخې ته ډېر نزدې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د متني نقد له پاره اوس د (lower criticism) اصطلاح هم کارېږي او له هغې څخه مراد هغه هڅه ده چې نقاد غواړي د متن تېروتني پیدا کړي او له متن څخه ئې وباسي. د دې په مقابل کې د (higher criticism) اصطلاح هم سته چې هغه بیا د اصلي متن د تالیف، د لیکلو د نېټې او ځای مسایل څېړي. دا دواړي اصطلاحوي په متني نقد کې شاملي برخې دي.

په لوېدیځو ادبیاتو کې متني نقاد تر زیاتي اندازې له لاتیني آثارو، یوناني ادبیاتو (ډرامې)، بایبل او د شکسپیر له آثارو سره سروکار لري. د دغو لرغونو او کلاسیکو آثارو په سوو کاپۍ (نقلونه) د زمانې له توپانو څخه ژوندۍ راوتلي دي، خو د هري کاپۍ ارتباط د هغې له اصلي نسخې سره څرګند نه دئ او کله کله خو لا مشکوک هم وي. متنپوهانو له پېړیو پېړیو راهیسي هڅه کړې ده معلومه کړي چې د دغو آثارو کوم نقل یا نقلونه له هماغه اصلي نسخې څخه راوتلي دي. متني نقاد دغه مسایل او له هغو سره نوري اړوندي موضوعګاني تر څېړني لاندي نیسي.

د کلاسیکو اروپایي متونو[1] د برابرولو د انتقادي میتود په برخه کې واردواره درو الماني پوهانو په اساسي توګه کار کړی دئ چې فریدریک وولف، ایمانول بیکر او کارل لشمان نومېدل.

فریدریک وولف Friedric August Wolf (۱۷۵۹-۱۸۲۴) فیلا لوجیسټ وو. د ده نوم د کلاسیکي فیلالوجۍ په بنسټ ایښوونکو کې راځي.

ایمانول بیکر Immanuel Bekker (۱۷۸۵-۱۸۷۱) خپل اوږد عمر د یوناني متونو د انتقادي نسخو تهیه کولو ته وقف کړی وو. ده تر څلورو سوو

---

[1] د کلاسیک کلمه زموږ په ادبي حلقو کې یوازې د "پخواني" په معنا زیات رواج لري خو د کلاسیک مفهوم تر دغه حد پراخ دئ او کلاسیک آثار هغو پخوانیو آثارو ته ویل کېږي چې په خپله نوعه کې د نمونې او سرمشق درجه او حیثیت ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زياتي قلمي نسخې سره مقابله او پر کورنيو باندي ډلبندي کړې. ده د يوناني مؤلفينو شپيته ټوکه آثار چاپ کړل.

کارل لشمان Karl Lachmann (۱۷۹۳–۱۸۵۱) تر بيکر لا هم مخ ته ولاړ او د بېلابېلو نسخو د مقابلې له لاري ئې وښودل چي څه راز کولای سو د خپلو ورکو او لرغونو نسخو په باب قياس وکړو، د هغو اصلي حالت ځانته معلوم کړو او حتي صفحه بندي ئې کړو.

د پښتو آثارو د انتقادي متونو د برابرولو کار نه دومره اوږده سابقه لري او نه هم په دغه برخه کي له نړۍ والو منل سوو اصولو سره سمون. البته هغه کار چي په دې برخه کي تر اوسه پوري سوی دئ، غنيمت دئ خو بشپړ بايد و نه ګڼل سي. زموږ محققين د پښتو انتقادي متونو د برابرولو کار د ختيځ پوهانو (برنارد دورن، هنري راورټي، دارمستتر) په لاس پيل سوی بولي. په رشتيا سره هم د دغو ختيځ پوهانو کار او زيار په دې برخه کي د ستايني وړ دئ خو د دوی کار هم پر هغو اصولو باندي سل په سلو کي ټيک نه خېژي چي د دوی په وخت کي په اروپا کي منل سوي او معمول سوي ول. د دوی د کار په باب به زه د دې کتاب په څلرم څپرکي کي وږغېږم.

په افغانستان کي د پښتو متونو د برابرولو کار د علامه پوهاند عبدالحي حبيبي (۱۹۱۰ – ۱۹۸۴ع) پر لاس په کندهار کي پيل سوی دئ. لوی استاد حبيبي په ۱۳۱۷ش = ۱۹۳۸ع کال له کندهار څخه د خوشحال خټک (۱۶۱۳ – ۱۶۸۸ع) کليات د "خوشحال مرغلري" په نامه خپور کړ او هغه ئې له څلورو خطي او يوې چاپي نسخې له مخي برابر کړی وو. تر دې وروسته د پښتو متونو خپرېدل له کندهار، کابل، پېښور او کوټې څخه د رسمي موسسو او انفرادي اشخاصو له خوا روان دي، کله ئې سرعت زيات او کله کم وي. په دغه اوږده موده، څه دپاسه اويا کاله کي چي کوم پښتو متون خپاره سوي دي، هغو ټولو ته مي لاس نه رسېږي، خو کوم چي راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



میسر دي، د هغو ټولو کره کتنه به د همدې کتاب په نورو راتلونکو څپرکو کي که د خدای رضا وه، وکړم.

## خطي نسخې د متونو د اصلي منابعو په توګه:

موږ چي کله په پښتو ادبیاتو کي د متونو د تصحیح په باب ږغیږو، مراد مو تر ډېري اندازې پوري په لاس کښلي متون (خطي نسخې) وي. خطي نسخې د بشري پوهنو د ټولو څانګو له پاره اصلي منابع دي. د چاپ صنعت تر رواج مخکي د بشري علومو او په هغو کي د لیکل سوو کتابو د تکثیر او خپربښت کار د همدې خطي نسخو او د هغو د کاتبانو پر لاس سر ته رسېدلی دئ. د دوی د نه ستړي کېدونکي تلاښ نتیجه اوس دومره ستره ده چي د نړۍ زیاتره موزیمونه، کتابتونونه او علمي – تحقیقاتي مرکزونه په دغه راز آثارو ډک دي.

## خطي نسخه څه ته وایي؟

په مروجو قاموسو کي نسخه (د لومړي توري په پېښ او د درېیم توري په زوَر) د لیکني، مکتوب، یادداښت، مسوده، ... په معنا ثبت سوې ده او عربي لغت دئ. په دغه ژبه کي ئې نور معادل لغتونه یا شکلونه "نسخت، نخسة" دي. په پخوانیو کتابو او قاموسو کي ئې "نسخه" د مطلق کتاب په معنا کار کړې ده.

ځیني محققین د نسخې د تسمیې په وجه کي لیکي چي دا لغت له "نسخ" (د نون په زوَر) څخه مشتق سوی دئ. "نسخ " زایل کولو، د اعتبار له منځه وړلو او د کوم شي ردولو ته وایي (غیاث اللغات). کله چي یو کاتب کوم کتاب له کوم بل کتاب څخه رانقل کړي، په دې ډول ګویا لومړی (منقول عنه) کتاب د نوي نسخې په منځ ته راتګ سره له اعتباره ولوېد او

(c) ketabton.com: The Digital Library



رد سو. ځکه نو دې نوي ليکل سوي متن ته "نسخه" وايي.

د "نسخه" کلمې منشاء چي هر څه وي خو مراد ورڅخه هغه مطالب دي چي په ښکه، نل يا فلزي قلم سره په رنګ يا سياهي پر يوه پاڼه باندي ليکل سوي يا له کوم بل کتابه رانقل سوي وي او په انګرېزي ژبه کي ورته د (manuscript) لغت کارېږي[۱].

خطي نسخو ته له دوو زاويو څخه پاملرنه کېږي. د متونو مصحح له يوه نظره ورته ګوري او هغه نسخه پوه چي سروکار ئې د نسخې له مادي ارزښت او د انتيک پلورني له مارکيټ يا له موزيمو سره وي، بيا له بل لوري ورته ګوري. متن څېړونکي او نسخه پوه دواړو ته د خطي نسخې د کاغذ نوعيت، د ليک (خط) څرنګوالى، د نسخې د پوښ (وقايې)، تذهيب او ميناتور په باب معلومات خورا ډېر اهميت لري خو په دې اهميت کي د دواړو دلچسپۍ جلاجلا استقامتونه لري. د متن څېړونکى د نسخې د کاغذ، د ليک د رنګ، وقايې او تذهيب څېړلو ته ښايي له دې اسيته مجبور وي چي تر کار لاندي نسخه به ئې د ليکلو يا د تاليف نېټه نه لري. خو نسخه پوه ته بيا دا ټول اړخونه هر يو په خپل ځای کي ځکه ډېر مهم دي چي د هغو له مخي د نسخې مادي ارزښت او بيه ټاکلای سي. د متن څېړونکي او نسخه پوه کار يو د بل بشپړوونکی دئ او يو بل ته ګټه رسوي.

د پخوانيو متونو خپرېدل دا لاندي ژبنۍ ګټي لري:

## - متون د خپل عصر ژبه تمثيلوي:

ژبه لکه نوري پديدې د زمانې له بدلونو او تحولاتو سره سم تغير

---

[۱] په يوناني طبابت کي ئې "نسخه" د کاغذ هغې ټوټې ته ويل چي طبيب به د دوا (درمل) نوعيت، د استعمال طريقه او د معالجې نوري لارښووني پر کښلې. اوس هم زموږ په معاصر طبابت کي نسخه په همدې معنا کارېږي. د دغې ټوټې کاغذ له پاره په انګرېزي کي (prescription) لغت کارېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مومي او پر خپل حال نه پاتېږي. د زماني په بدلونو کي ټول هغه ټولنيز، اقتصادي او سياسي تغيرات شامل دي چي يوه ژبه ورسره مخامخ کېږي. پر ديو ملکونو ته مهاجر تونه، له خپل پلرني او اصلي ټاټوبي څخه لېږدېدني، پر نورو ملکو باندي يرغلونه او د نورو له خوا پر ځايي خلکو باندي تاړاکونه او فتوحات، د ژبي د ويونکو د اقتصادي حالت لوړتيا او ځوړتيا، د سياسي رژيمو او واکمنيو اوښتل رااوښتل او نوري دې ته ورته ژوري پېښي پر ژبه باندي اغېزه کوي. د دې اغيزې په نتيجه کي ژبي ته نوي لغات، نوي وراشې او نوي ژبني عناصر ننوزي او هغه چي د ژبي ويونکو ته د هضمولو او منلو وړ وي، په ژبه کي ئې ساتي. څرنګه چي ټولنيزي، اقتصادي او سياسي پېښي هم تل "پښه پر ځای" نه پاتېږي او بدلون مومي، ځکه نو د هر عصر او هري تاريخي مرحلې ژبه ځانته خپلي ځانګړتياوي لري، ځانته خپلي وراشې او اصطلاحات لري، ځانته خپل مروج لغتونه لري او په جزئياتو کي ځانته خپل ګرامري جوړښتونه لري. له يوه تاريخي عصر څخه بل ته د اوښتلو په جريان کي ژبه هغه ځانګړتياوي، وراشې، اصطلاحات او لغتونه له ځان سره ساتي چي د دا بل نوي عصر ايجابات ئې د هضمولو توان ولري.

د همدې تحليل له مخي د هر عصر متون د هماغه عصر د ژبي د سکښت او جوړښت ښکارندويي کوي. که په پخوانيو متونو کي د اوسنۍ زمانې له غوښتنو سره سم بدلونونه راوستل سي او لاسوهني پکښې وسي، ګويا د متن روح او جوهر ته څوک صدمه رسوي. دا مسخه سوی متن نور نه د هماغه خپل عصر ژبه تمثيلولای سي او نه هم په خپل اصل ليکونکي، مؤلف يا شاعر پوري اړه درلودلای سي. دغه راز مسخه سوی متن بيا د يوه ژبپوه له پاره هم ستونزي پېښوي ځکه دی به د ژبي تحول او تطور د يوه داسي متن له مخي څېړي چي هغه متن به د خپل عصر د ژبي نمايندګي نه کوي بلکي د يوه بل عصر د کاتب لاسوهني به ئې رنګ و جوله وراليشه کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## - متون د زړو لغاتو ذخیره لري:

لکه په تېر بحث کي چي مو ولوستل، هر متن د خپل عصر و زمان د مسلطی ژبي نمایندګی کوي. د هر عصر مسلطه ژبه د خپلي زمانې پر مروجو لغاتو باندي ولاړه وي او همدا لغتونه کاروي. د عصر په تېرېدلو سره ځیني لغات مري او ځیني ژوندي پاتېږي او د نوي زمانې په محاروي ژبه کي کارېږي. د لغاتو مړینه دا معنا لري چي له محاورې څخه وزي او خلک ئې نور په خپلوخبرو کي نه کاروي. زاړه متون د هغو لغاتو د خوندي ساتلو ځای وي چي د نوي عصر په محاوره کي د بېلابېلو عواملو له اسیته له استعماله لوېدلي وي.

که متن له هماغه اصلي (Origin) حالت سره سم یا هغه ته په ورنږدې بڼه وساتل سي، نو دغه لغتونه د بیر ته ژوندي کېدلو چانس موندلای سي او بیر ته محاورې ته ورننوتلای سي. د متن د لغاتو اړول یا د چا خبره معیاري کول د خیانت تر درجې پوري دروند جرم او ګناه ګڼل کېدلای سي.

## - متون د خپل عصر لیکدود راښیي:

که متن په خپل اصلي حالت باندي وساتل سي نو د هغه له مخي یو محقق د هماغه عصر لیکدود ځان ته معلوملای سي او د لیکدود په مرسته بیا د هماغه عصر د لغاتو تلفظ هم تر یوې اندازې پورې پېژندل کېدلای سي. د شرقي ژبو الفباوي د لغاتو د سم وینګ په بشپړ څرګندولو کي ډېري بریالۍ نه دي، خو محقق د خپلو تجربو له مخي له لیکنۍ ژبي څخه د هماغه عصر د لغاتو وینګ تر یوې اندازې پوري ځانته معلوملای سي. د وینګ معلومېدنه بیا د هماغه عصر د هماغي ټاکلي ژبي په لهجه باندي له پوهېدني سره مرسته کوي. د لهجو پوهېدنه د نوموړي ژبي د معیاریت د ودانۍ له پاره د خښتو کار ورکوي. د لیکدود ارتقایي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



انحطاطي سیر څېړنه په ژبپوهنه کي خورا مهم بحث دئ او تر سر تېرول ئې د ژبي په کره کولو کي پوهان بې لاري کوي.

د متونو ناقد یا تصحیح کوونکی د عادي ناسخ یا کاتب حیثیت نه لري، بلکي د ده مسئولیتونه د یوه امانتدار په توګه خورا ډېر دي. د مصحح له پاره لازمه ده چي په ځان کي دغه وړتیاوي او اړتیاوي ولري:

د متن پر ژبه باندي تسلط درلودل.

د متن د ژبي د تاریخي تحول او تطور په باب معلومات درلودل.

د متن له ژبي سره د نورو ترلو ژبو پوهنه درلودل.

د مؤلف په باب معلومات درلودل.

د مؤلف د عصر د تاریخي و ادبي جریاناتو په باب علم درلودل.

د مؤلف د نورو آثارو په باب، که موجود وي، مطالعه درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم څپرکی

## د متن څېړني اصول او روشونه

### د متونو د تصحیح اصول:

اوس چي مو د متن په ارتباط یو لړ عمومي احکام او اصول بیان کړل، زه پر ځان لازمه بولم چي د دې ټول بیان په پای کي د متونو د برابرولو په برخه کي هغه معیاري اصول راوړم چي د متنپوهني ټول پوهان ورباندي متفق دي، دا اصول د ډاکټر المنجد له هغي لیکني څخه په پښتو راژباړم چي "قواعد تحقیق المخطوطات" نومېږي.

د ډاکټر صلاح الدین المنجد د دغي عربي مقالې او فارسي ترجمې یادونه د ښاغلي زلمي هیوادمل "د متن څېړني میتودولوژي" نومي کتاب په (دوولسم مخ) کي سوې ده او له یادوني څخه داسي ښکاري چي ښاغلي هیوادمل دا مقالې کتلي یا لیدلي وې. ده د همدې کتاب له ۸۷ مخ څخه تر ۱۱۷مخ پوري د ډاکټرالمنجد د مقالې اردو ترجمه، چي دکتر فضل الرحمن ندوی کړې ده، په پښتو ژباړلې ده. د پښتو ترجمې عنوان ئې "د مخطوطاتو د تحقیق اصول" دئ. ښاغلي هیوادمل تر دغي یادوني لس کاله وړاندي هم په دغه مشخصه برخه کي د ډاکټر منجد د لیکنو حوالې لري[1].

---

[1] وګ: اسماءالحسنی – د سر خبرې، الف مخ، ۱۳۵۹ش، کابل پوهنتون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډاکټر المنجد د نوموړي مقالې فارسي ترجمه اوس زما مخ ته پرته ده او عنوان ئې "روش تصحيح نسخه های خطی" دئ. دا ترجمه د استاد حسين خديوجم په قلم سر ته رسېدلې ده. ما (هوتک) چې د فارسي ترجمې او د ښاغلي هيوادمل د پښتو ژباړې ځيني برخي سره مقابله کړې، راته معلومه سوه چې په پښتو ژباړه کي له لنډيزه کار اخيستل سوی دئ. زه نه پوهېږم چي دا لنډيز به د اردو مترجم کار وو، که د پښتو ژباړونکي.

ما (هوتک) د متونو د تصحيح په باب د ډاکټر المنجد تر مقالې بله زياته هراړخيزه څېړنه لوستلې نه ده. په دې برخه کي د همدې مقالې د محتوياتو، چي د متونو د تصحيح خورا عمده ټکي لري، دوهم وار رانقلولو او ژباړلو ته ځکه اړ يم چي لومړۍ پښتو ژباړه ئې د اصلي متن لنډيز راته ايسي. په ننني علمي نړۍ کي د علمي مطالبو د بيا بيا ترجمې دود (عنعنه) سته. په عين ژبه کي د مهمو مقالو، رسالو او کتابو بيا بيا ترجمه کول بايد د دغو آثارو د اهميت په معنا وګڼل سي او هره ترجمه له ها بلې سره د مرستندويي ليکني حيثيت لري. زه به تر هر څه دمخه د دغه دانشمندمحقق په باب په لنډه توګه وړغېږم.

## ډاکټر صلاح الدين المُنَجِّد څوک وو؟

د ډاکټر صلاح الدين المنجد د ژوند او علمي کارو په باب زه د سيد علي طباطبايي يزدي له هغي ليکني څخه استفاده کوم چي د دغه ستر عالم د وفات پر وخت ئې د (درگذشت صلاح الدين المنجد) تر سر ليک لاندي کښلې ده.

ډاکټر صلاح الدين المنجد په ۱۹۲۰ع کال په دمشق کي زېږېدلی او په ۲۰۱۰ع کال د جنورۍ پر نونسمه په رياض کي وفات سوی دئ. پلار ئې شيخ عبدالله منجد نومېدی او په دمشق کي شيخ القراء (د قاريانو مشر) وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر المنجد په اسلامي زړو متونو او خطي نسخو کي ژوري څېړني کړي او ارزښتناک آثار ئې کښلي دي چي شمېر ئې تر یو سلو پنځوسو اوړي. ده د خپل مثمر ژوند په اوږدو کي مسکو، کیمبرج، توبینګن، مونیخ، پاریس، تهران، کراچي، دهلي، استانبول، بغداد او د اسلامي هیوادو نورو ښارو ته علمي سفرونه کړي او د نړۍ په مشهورو پوهنتونو کي ئې ویناوي او کنفرانسونه ورکړي ول.

د متونو د تصحیح په باب د ده غوره اثر "قواعد تحقیق المخطوطات" نومېږي چي په عربي ژبه ئې کښلی او د ایراني محقق حسین خدیوجم په قلم په فارسي ژبه ترجمه سوی دئ.




دوکتور صلاح الدین المنجد


د المنجد د رسالې فارسي مترجم استاد سید حسین خدیوجم د مشهد پوهنتون استاد وو. په افغانستان کي ئې د ایران د فرهنګي سلاکار په توګه کار کړی وو. ده د متونو په څېړنه، تصحیح او ترجمه کي څه دپاسه دېرش کتابه خپاره کړي دي چي په هغو کي د امام غزالي د کیمیای سعادت او احیاء علوم الدین ترجمه او تصحیح ئې ما (هوتک) ته معلومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. استاد سید حسین خدیوجم په ۱۳۶۵ هـ ش کال مړ سوی دئ. خو ما ته د المنجدد دغه کتاب بله فارسي ترجمه هم رامعلومه ده چي د محمود فاضل (یزدی مطلق) په قلم سر ته رسېدلې ده او (روش تحقیق و تصحیح کتابهای خطی) نومېږي.




زه به په دې برخه کي د ډاکټرصلاح الدین المنجد له خوا د متن برابرولو په برخه کي ټاکل سوي روشونه د ده د خپلي لیکني له فارسي ترجمې څخه په پښتو راواړوم او خپلي تجربې او خبري به د لمنلیکونو په ډول ورسره مل کاندم.

ډاکټر صلاح الدین المنجد په خپل دغه اثر کي تر یو لړ مقدماتي خبرو وروسته لیکي:

ترجمه: په دې ځای کي مونږ د تالیف د منځته راتگ یا د لیکپوهني او اخځپوهني په باب او یا د کاتبانو د روشونو او د حدیث د اصطلاحاتو په باره کي نه ږغېږو. که څه هم دا ټولي خبري د تحقیق له روش سره مرسته کوي او هر څوک چي د متونو د تصحیح او خپرېدلو کار پیل کوي، باید تر هغه دمخه ئې په دغو مطالبو سر خلاص وي. له دې امله خپلي خبري د تحقیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو علمي روشو ته رااړوو چي له څېړونکو سره د متونو د تصحیح او تهیه کولو په کار کي مرسته کوي.

## د نسخو راغونډول او اوډل

**الف – د نسخو راغونډول:**

۱ – که وغواړو چي یو پخوانی متن وڅېړو، نو وار د واره باید تر ممکني اندازې پوري په هغو بېلابېلو نسخو باندي ځان خبر کړو چي د نړۍ په کتابتونو کي خورې ورې پرتې دي.

۲ – دا کار د بروکلمان کتاب (GAL) او د هغه ضمیمو ته د مراجعې له لاري ممکن دئ[۱]. که دا کتاب د ستونزي د حل له پاره کافي نه وي، نو بیا دي د هغو کتابتونو د عربي ژبي د خطي نسخو فهرستو ته مراجعه وسي چي بروکلمان په خبر نه وو، یا د بروکلمان د کتاب د ضمیمو تر بشپړېدو وروسته برابر سوي دي[۱].

---

[۱] کارل بروکلمان Brockelmann (سپتامبر ۱۸۶۸ – مه ۱۹۵۶) د شلمي پېړۍ په لومړۍ نیمایي کي له سترو الماني ختیځ پوهانو څخه دئ. د نورو مشهورو آثارو په څنګ کي ئې د (عربي تالیفاتو تاریخ) ډېر مینه وال لري. دا کتاب د ۱۸۹۷ـ ۱۹۰۲ع کلونو تر منځ خپور سو او وروسته بیا یو لړ ضمایم هم پر زیات سول او په پنځو ټوکو کي د ۱۹۳۷ – ۱۹۴۲ع کلو تر منځ نشر سو. د دې کتاب اهمیت په دې کي دئ چي ټول هغه آثار ئې راغونډ کړي دي چي په عربي ژبه لیکل سوي دي. ختیځ پوهانو او اسلامپوهانو د دغه کتاب خورا تود هرکلی وکړ (هوتک).

[۱] د پښتو نسخو له پاره دا لاندي کتابو ته مراجعه له تصحیح کوونکي سره مرسته کوي:

– فهرست نسخ پشتو آرشیف ملی افغانستان

– پښتو کتابونه: د رازمحمد ویښ لیکنه او ترجمه

– د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې: د زلمي هیوادمل لیکنه

– د پښتو د ادبي تاریخ خطي منابع: د زلمي هیوادمل لیکنه

- (Catalogue of PASHTO MANUSCRIPTS in the libraries of the British Isles)

(هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ – له هغه وروسته چي د نسخو ځای ځايگی مو معلوم کړ، بايد د هغو د پېژندني کار د لومړنيو فهرستو په مرسته پيل کړو او د خپلي اړتيا وړ نسخې پکښې غوره کړو، عکس (کاپي) ئې واخلو او په دې ډول بايد د داسي يوه صحيح متن تصوير په واک کي ولرو چي د نورو کسانو له لاسوهني او تحريف څخه خوندي پاته سوی وي.

۴ – هغه نسخې چي له نافهرست سوو کتابتونو څخه په لاس راځي، اول ئې بايد عکس (کاپي) واخيستل سي او بيا څېړنه ورباندي پيل سي.

**ب – د نسخو اوډل** (ترتيب):

د نسخو اوډل په دې ډول دي:

۱ – تر ټولو ډېره ښه نسخه چي د تصحيح او نشر پر وخت بايد د متن په توگه غوره سي، هغه نسخه ده چي په خپله د مؤلف په لاس کښل سوې وي.

۲ – د مؤلف د نسخې تر مونډلو وروسته بايد دا خبره وڅېړو چي مؤلف خپل دغه کتاب په يوه وار تاليف کړی دئ او که ئې په څو پړاوو کي. دا کار په دې خاطر ضروري دئ چي موږ ځان ډاډمن کړو چي زموږ په واک کي پر ته نسخه د مؤلف د کتاب وروستی شکل دئ.

۳ – د مؤلف تر خپلي نسخې وروسته وار هغي نسخې ته رسېږي چي مؤلف د نورو کسانو په لاس تر کتابت وروسته لوستلې يا ورته لوستل سوې وي او مؤلف په خپل ليک اعتراف کړی وي چي نوموړې نسخه ئې لوستلې يا ورته لوستل سوې ده.

۴ – تر دې وروسته نو وار هغي نسخې ته رسېږي چي د مؤلف له نسخې څخه نقل سوې يا ورسره مقايسه او مقابله سوې وي.

۵ – بيا نو هغي نسخې ته وار رسېږي چي د مؤلف په ژوند کي کتابت سوې وي او د پوهانو تعليقات او لمنليکونه ورباندي کښل سوي وي.

۶ – ورپسې هغه نسخه راځي چي د مؤلف په زمانه کي کتابت سوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي خو تعليقات ورباندي کښل سوي نه وي.

۷ – نوري نسخې چې د مؤلف تر مړيني وروسته کتابت سوي وي، پر دوه ډوله دي، پخوانۍ او اوسنۍ. پخوانۍ تر اوسنۍ غوره دي او په هغو کي بيا هغه نسخه غوره ده چې د يوه پوه په لاس استنساخ سوې وي، يا کوم پوه ته لوستل سوې او د هغه د تاييد وړ گرځېدلې وي.

کله کله داسي هم پېښېږي چې پر يوه نوې، صحيح او ډېره دقيقه نسخه باندي پېښ سو چې تر هغي زړې نسخې به غوره وي چې لاسوهنه او تحريف پکښې سوی وي. کله به بيا يوه داسي نوې نسخه په لاس راسي چې د مؤلف له کومي معاصري نسخې څخه سيده او په ښه توگه رانقل سوې وي.

که مو د مؤلف نسخه و نه موندله، نو د تحقيق هدف مو بايد د متن يوه داسي شکل ته رسېدل وي چې د مؤلف و تاليف ته ډېر نزدې وي او له تحريف او لاسوهني څخه پاک وي، ځکه په عمومي توگه هر څونه چې د خطي نسخې د کتابت نېټه د مؤلف له زمانې څخه ليري کېږي، په هغې کي د کاتبانو لاسوهني زياتېږي.

۸ – که د يوه کتاب له پاره نوري پېژندل سوي نسخې موجودي وي، د يوې نسخې له مخي د هغه تصحيح او خپرېدل روا نه دي او دا په دې خاطر جائز نه دي چې د کتاب تر خپرېدلو وروسته بيا څېړني او اعراب ايښوولو ته اړتيا پيدا نه سي.

ج – ډلبندي:

ځيني کتابونه د وخت په تېرېدلو سره عام مقبوليت پيدا کوي او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نتیجه کي ئې خطي نسخې زیاتېږي[۱]. په دغو نسخو کي بیا دوې درې یا زیات و کم نوري نسخې داسي وي چي د تېروتنو، یا لمنلیکونو او یا د متن د زیاتوالي او کمښت له مخي ډېري سره ورته وي او داسي ښکاري چي ګویا له یوې واحدي نسخې څخه دي رانقل سوي وي[۲]. په داسي حالاتو کي باید سره ورته (مشابه) نسخې ډلبندي سي او د هر ګروپ (برخي) له پاره د لنډیز په توګه یو توری باید وټاکل سي لکه (الف ګروپ، ب ګروپ، ج ګروپ) او له هر ګروپ څخه باید یوه نسخه غوره سي چي د نسخو د ثبت په وخت کي ئې د اختلافو له پاره استناد په وسي.**

## د متن څېړنه

### د څېړني هدف او روشونه ئې:

**له څېړني څخه مراد دا دئ چي بې له شرحو څخه یو صحیح متن رامنځته سي او هغه راز متن وي چي مؤلف ترتیب کړی او کښلی وي. زیاتره محققین دغه ټکي ته متوجه نه دي او په نتیجه کي لمنلیکونه له بې ځایه شرحو او زوائدوڅخه ډکوي[۱]. د مثال په توګه د لغاتو شرحي، د نومو شرحي او له چاپي کتابو څخه د داسي مطالبو نقلونه چي په متن کي هغو ته**

---

[۱] په پښتو ژبه کي د اخوند درویزه دمخزن الاسلام او د رحمان بابا د دېوان خورا زیاتي نسخې کاتبانو کښلي دي او هر ځای موندلي کېږي (هوتک).

[۲] په پښتو کي زما د معلوماتو له مخي، د احمد شاه بابا دېوان همداسي ځانګړتیاوي لري او خطي نسخې ئې ډېري سره ورته دي (هوتک).

[۱] په پښتو متونو کي د دغه زوائدو او اوږدو شروحو په مثال کي د تاریخ مرصع متن راوړلای سو چي اصلي متن د ۲۰۰۶ع کال چاپ له مخي (۵۷۲ مخه) او مقدمه و تعلیقات ئې (۷۰۴ مخه) دي. زه (هوتک) هم د اوږدو شرحو په تکلیف باندي مبتلا یم او ځان نه سم ځني خلاصولای (هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشاره نه وي سوې او دغه راز د مؤلف پر خبرو باندي تعليقات. دغه راز اوږدې اوږدې او ستومانوونکي شرحي کله کله لوستونکی د متن له مطالعې څخه خواتوری کړي.

د متونو څېړنه بايد په لاندي ډول سر ته ورسېږي:

۱ – د کتاب، د هغه د نامه او مؤلف ته د هغه د انتساب د سموالي څېړنه.

۲– که نسخه په خپله د مؤلف په ليک کښل سوې وي، ليکدود ئې بايد په هماغه شکل وساتل سي[۱].

۳ – که مؤلف له نورو کتابو څخه نقل قولونه را اخيستي وي او مأخذ ئې ښوولی وي، بايد هغه کټ مټ ثبت سي. کمي او زياتي، سموالي او ناسم والي ته ئې بايد په لنډ ډول په لمنليکونو کي اشاره وسي. د مثال په توګه بايد وويل سي: دا متن په پلاني کتاب کي د الفاظو په توپير يا زياتوالي او کموالي سره راغلی دئ.

۴ – کله کله مؤلف خپل مأخذ نه وي ښوولی. په دې صورت کي که محقق ته مأخذ ورمعلوم وي، ښه او ډاډمن کار به دا وي چي هر مطلب خپل مأخذ ته حواله سي.

له پورتنيو دوو ټکو (۳ – ۴) څخه يوازي د متن د مطمئن توب او سموالي له پاره استفاده کېږي.

۵ – کله کله قلم د مؤلف له واکه ووزي، يا حافظه ورسره مرسته و نه کړي او په نتيجه کي کوم لغت يا نوم په ناسمه توګه ثبت سي. محقق کولای سي دغه تېروتنه په لمنليک کي سمه کړي او متن په هماغه ډول چي دئ، وساتي. ځکه متن چي مؤلف په خپل خط کښلی وي، د ده د

---

[۱] ما د حنان بارکزي دېوان د ده په خپل لاس کښلو نسخو له مخي ترتيب کړی دئ خو په افغانستان کي د مروج تعامل له مخي مي (کښي) په (کي) اړولي دی چي بايد نه مي وای اليش کړي (هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



افکارو، پوهي او علمي شخصیت نمایندګي کوي.

۶ – که نسخې بېلابېلي وي، یوه نسخه باید د کار د تاداو (اساس) په توګه غوره سي چې په دې ډول اصلي متن خوندي سي.

۷ – په لمنلیکونو کي د نسخو توپیرونو ته یعني د روایتو اختلافو ته اشاره کېږي.

۸ – د روایت د اختلاف په صورت کي باید مصحح د هر روایت په باب تر تحقیق وروسته، په متن کي هغه څه ثبت کړي چې د سموالي له مخي تر نورو غوره وي. د لاسوهلي او تحریف سوي روایت یا بل اشتباهي مطلب یادونه په لمنلیکو کي کېږي.

۹ – که په یوه نسخه کي کوم مطلب ولیدل سي چې په اصل نسخه کي راغلی نه وي، دغه مطلب باید پر اصل نسخه باندي ور زیات سي او په لمنلیک کي ورته اشاره وسي. البته دا کار هغه وخت صحیح دئ چي محقق ته ثابته سي چي نوموړی مطلب د کتاب په اصلي متن پوري اړه لري او ناسخ یا کاتب له خوا پر زیات سوی نه دئ. که ورته ثابته نه وي، نوموړی مطلب باید په لمنلیک کي راوړل سي، یا هغه ته اشاره وسي.

۱۰ – که کوم توری یا کومه کلمه له متن څخه لوېدلې وي، محقق ته اجازه سته چي لوېدلې برخه پر متن باندي ورزیاته کړي. په دې شرط چي زیاته سوې کلمه باید په پټریو (لویو قوسو) کي کښېږدي. قدماوو (اولنیو) هم د حدیثو په کتابو کي د هغه څه زیاتونه مجاز بللې ده چي د حدیث له متن یا سند څخه به لوېدلې وه[1].

۱۱ – که په نسخه کي کوم ځای سوری یا څیري سوی وي او د متن

---

[1] بناغلي هارون په دې باب له ابن کثیر څخه یو مهم متن په خپل کتاب کي راوړی دئ. وګورئ: تحقیق النصوص – قاهره، ۱۹۵۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه برخه له منځه تللې وي او دغه له منځه تللې برخه په کومه بله خطي یا چاپي نسخه کي موجوده وي او دغه متن له لومړۍ نسخې څخه نقل سوی وي، مصحح کولای سي دغه کمبوت د هغه له مخي پوره کړي او په لمنلیک کي ئې یادونه وکړي. زیاته سوې برخه باید په پټریو (قوسو) کي ونیول سي. خو که محقق کمبوت ځای یا نالیکلې برخه په بل مأخذ کي پیدا نه کړي، باید متن هماغسي ناقص پرېږدي او په لمنلیک کي دي لوېدلي یا نالیکلي برخي ته اشاره وسي.

۱۲ – ځیني مصححان د زیاتو نسخو د سته والي په صورت کي، د یوې باوري نسخې له غوره کولو څخه ډډه کوي، یعني په یوه وخت کي پر څو نسخو باندي تکیه کوي. دا کار که څه هم مصحح ته نامحدوده آزادي ورکوي خو له دې آزادۍ سره سره بیا هم څوک د تېروتني له بابته مطمئن کېدلای نه سي. دا کار هغه مصحح په ښه توګه کولای سي چي د کتاب د مؤلف او د هغه د سبک او ژبي په باب ښه پوره معلومات ولري. سره له دې هم ښه دا ده چي پر یوه نسخه باندي اعتماد وسي او هغه بیا له نورو نسخو سره مقابله سي او غوره او سم ثبت ئې انتخاب کړه سي.

۱۳ – اولنیو محققینو که به د کوم کتاب دوې نسخې وموندلې، یوه به ئې له بلي سره مقابله کوله او اختلافونه به ئې د یوې نسخې په لمن کي نقل کول او ورته لیکل به ئې "فی نسخة کذا". په دغه راز مواردو کي به هغه څه چي په لمنلیک کي نقل سوي ول، ډېر اعتبار درلود. مصحح کولای سي د لمنلیک او حاشیې په منځ کي یوه خوا غوره کړي او په حاشیه کي هغه ته اشاره وکړي.

۱۴ – کله کله یو عالِم سړی کوم کتاب مطالعه کړي او ځیني عبارتونه ئې ورسم (اصلاح) کړي. دغه سم سوي عبارتونه د نسخې ارزښت ورزیاتوي. که مصحح له دغو سم سوو عبارتو سره موافق وي، کولای سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چي په متن کي ئې راوړي او په لمنليک کي هغه ته اشاره وکړي.**

**په کلي ډول بايد په لمنليکونو کي د نسخې ټولو تعليقاتو او حاشيو ته اشاره وسي.**

## ليکدود:

**که نسخه د مؤلف په خپل خط وي، حق دا دئ چي مصحح متن هغه راز نقل کړي لکه مؤلف چي تدوين کړی دئ. مګر د عربي ليک خو د زمانې په تېرېدلوسره بدلون موندلی دئ نو ښه دا ده چي متن د نن ورځي په ليکدود خپور سي[1]. اولنيو دا کار روا بللی دئ[2].**

**کله کله له داسي پخوانيو کتابو سره مخامخ کېږو چي کلمات ئې ټکي نه لري او نن ورځ بې له ټکو ځخه د هغو خپرول ممکن نه دي. کله بيا**

[1] په پښتو کي هم د نني ليکدود مراعاتول مناسب کار دئ ځکه که روښاني کتابونه په روښاني الفبې او د خوشحال خان او کورنۍ آثار ئې په ځنځيري الفبې خپاره سي، لوستونکي به ستونزي ورسره ولري. ډاکټر صلاح الدين المنجد په دې برخه کي زياتره هغه مسايل بيان کړي دي چي د عربي ژبي د متونو په برابرولو کي ډېر په درد خوري. خو څرنګه چي په پښتو آثارو کي هم عربي عبارتونه، آيات، احاديث او عربي مقولې او لغات زيات ليدل کېږي، ځکه ئې زه دلته په بشپړه توګه راژباړم چي له يوې خوا به د لوستونکو په درد وخوري او له بلي خوا به د المنجد دغه ارزښتناکه ليکنه هم نيمګړې سوې نه وي. د ښاغلي هيوادمل صاحب په ژباړه کي ما ته دغه برخه مختصره ښکاره سوه. ښايي اردو ژباړونکي له اختصاره کار اخيستی وي (هوتک).

[2] وګ: الصلاح الصفدی، الوافی بالوفيات، ج اول، مقدمه (تحقيق هـ ريتر) استانبول ۱۹۳۴.

د هيوادمل صاحب په ژباړه کي دغه اثر "مقدمة الوافی بالوافيات" د صلاح الدين صفدری ليکنه بلل سوې ده. زما د څېړني له مخي د دغه اثر مؤلف "صلاح الدين خليل بن ايبک صفدی" نومېږي. صفد (د دوهم توري په زېر) د فلسطين يو پخوانی ښار وو چي د اسرائيلو د اوسني هيواد په شمال کي پروت دئ. يهوديان ئې د اسرائيلو څلرم مقدس ښار بولي. نور درې ئې يوروشليم، حبرون او طبريه دي (هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر داسي متونو پېښېږو چي اعراب پکښې مراعات سوی نه وي يعني همزه، پېښ، زور، زېر، تشديد او جزم نه لري او که دغه متون پر هماغه لومړني شکل باندي پرېښوول سي، اشتباهات منځ ته راوړي نو بهتره دا ده چي په دې صورت کي دغه لاندي لارښووني مراعات سي:

۱ – د کلمې د سر همزه (د ابتدا همزه) که ئې معنا اړوله، بايد هر وخت پر خپل ځای پاته وي. لکه أعلام او إعلام.

۲ – د "الف مقصوره" او "ی" تر منځ د اشتباه ليري کولو په نيامت دي تر "ی" لاندي دوه ټکي کښېښوول سي لکه : أبی، أبي.

له بده مرغه په مصر کي د "ی" چاپي توري دغه دوه ټکي نه لري[1].

۳ – تشديد بايد هر وخت پر تورو باندي کښېږدو.

۴ – د عَلَم نومونو ليکنه هغه شان ضروري ده لکه نن ورځ چي رواج لري[2]. د مثال په توگه د "سليمن" پر ځای دي "سليمان"، د "حرث" پر ځای دي "حارث"، د "خلد" پر ځای دي "خالد"، د "معويه" پر ځای دي "معاويه"، د "مرون" پر ځای دي "مروان" وليکل سي.

په دې ځای کي د دغه ټکي يادونه بې مناسبته نه ده چي عربي علمي ټولني د (تاريخ دمشق) د خپرولو پر وخت نظر درلود چي هغه نومونه چي په قرآن کي راغلي دي، بايد په پخواني ليکدود سره وليکل سي لکه: اسحق، ابراهيم، اسمعيل. خو زما په عقيده ښه دا ده چي د ځينو هغو کلمو الفونه ورکول سي چي پخوا حذف سوي ول لکه: د "لکن" پر ځای "لاکن"، د "هؤلاء" پر ځای "هاؤلاء"، د "هذا" پر ځای "هاذا" او نور. بايد وويل سي چي نن ورځ په مراکش کي دغه الف ټولو نومړو کلموته ورکول کېږي.

---

[1] موږ په پښتو تورو کي دغه ستونزه نه لرو (هوتک).

[2] له عَلَم نومونو (اسماء عَلَم) څخه مراد مشهور نومونه دي. عَلَم د اول او دوهم توري په زور (فتحه) سره (بيرغ) ته وايي او مجازي معنا ئې (مشهور) هم بلل سوې ده (هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ – عددونه باید بېل سره ولیکل سي لکه: د "سبعمئة" یا "سبعمایة" پر ځای دي "سبع مئة"، د "ثلثمئة" یا "ثلاثمایة" پر ځای دي " ثلاث مئة" ولیکل سي.

د دې خبري یادوني ته به اړتیا نه وي چي محقق باید د کتاب په سریزه کي د نسخې د معرفۍ پر وخت د کتاب د اصلي لیکدود په باب ورغېږي او د هغه ځیني نمونې (بولګې، بېلګې) راوړي او دغه راز د هغي طریقې یادونه هم باید وکړي چي مصحح د دغه لیکدود د اړولو له اسیته غوره کړې ده.

## د لنډېز نخښې:

کله کله په متونو کي پر داسي کلمو او جملو پېښېږو چي ډېري تکرار سوي وي لکه پر پیغمبر باندي صلوات (درودونه)، د متوفی کسانو له نامه سره رحمة الله، له صحابه وو سره رضی الله عنه او د حدیثو په کتابو کي د (حدثنا، أخبرنا، أنبأنا) کلمات او نور. اولنیو (قدماوو) ځینو دغو کلماتو ته د لنډېز نخښې ټاکلي او د ځینو کتابو نومونه ئې هم مختصر کړي دي یا ئې په یوه یا دوو تورو اشاره ورته کړې ده.

د لنډېز ځیني دغه نخښې داسي دي:

رحمه الله – رحمه،رح

تعالی – تع

رضی الله عنه – رضه،رض

الی آخره – الخ

انتهی – اه

حدثنا – ثنا

أخبرنا – انا

أنبأنا – انبا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله کله د حدثنا، أخبرنا، أنبأنا کلماتو لنډیز نخښي نه یوازي راویانو ته د حدیث د استناد په برخه کي کاروي، بلکي په خپله په متن کي ئې هم راوړي[۱]. د حدیثو په کتابو کي د صحاح ستّه او نورو له پاره لنډیز نخښي ایږدي لکه:**

**بخاري (خ)، مسلم (م)، ترمذي (ت)، ابی داود(د)، نسائي (ن)، قزویني (ق)[۲].**

**ځیني ختیځ پوهان د هغو کلماتو په برخه کي چي زیاتي تکرارېږي، د لنډیز د دغي طریقې پالل مجاز بولي او کېدلای سي چي څوک ئې په لمنلیکونو کي د هغه مأخذ له پاره هم کار کړي، چي ډېر تکرارېږي. (۱۴ ب) (۱۴ ب) د لنډیز نوري نخښي چي ما (هوتک)ته په نورو منابعو کي په مخه راغلي دي، دا دي:**

**خ: د بلي نسخې (نسخه بدل) ثبت**

**خ ل: د بلي نسخې (نسخه بدل) ثبت**

**خ / م: مؤخّر / مقدّم**

**ح: د شک او احتمال وړ**

---

[۱] (وګ: د حسیني نسخه "ذیل علی البحر" (د عارف حکمت مخطوطه، مدینه). د هیوادمل په ترجمه کي دغه نوم "الزیل علی الصبر" دئ (هوتک).

[۲] وګ: ابن عساکر، معجم الشیوخ النبلاء (نسخې په دمشق او د بیت المقدس په خالدیة کي). په سریزه کي وایي: "د دې هر ګروپ له پاره مي یو توری ټاکلی دئ چي له تلواري (کم فرصت) لیکوال سره مرسته وکاندم، ځکه جزء د کل استازی دئ".

د مقالې په فارسي ترجمه کي د ابن عساکر د دغه اثر نوم "معجم الشیوخ النبل" ثبت دئ. خو ما (هوتک) چي د ابن عساکر د آثارو لیست وکوت، هورې ئې نوم "معجم الشیوخ النبلاء" وو او ما همداسي وکیښ. د هیوادمل صاحب په ژباړل سوي متن کي یوازي "معجم الشیوخ" لیکل سوی دئ او د "النبلاء" قید نه لري. نبل، نبلاء د سوریې د یوه ښار نوم دئ چي حلب ته نژدې پروت دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صح: تصحیح سوی شکل

لا: زائد لفظ

ز: زائد

او نور (وګ: رهنمای تصحیح متون، د جویا جهانبخش لیکنه)

## د اِعراب شکل:

په متن کي د اِعراب[(۱)] له پاره باید له دې لاندي طریقې څخه کار واخیستل سي:

۱ – که ټول متن او یا ئې یوه برخه معربه وي، باید ټول متن ته اِعراب ورکول سي.

۲ – قرآني آیاتو او احادیثو ته اِعراب ورکول واجب (حتمي) دي.

۳ –هغو شعرونو ته باید اِعراب ورکړه سي، چي لوستنه ئې سخته وي.

۴ –هغو کلماتو ته باید اِعراب ورکول سي چي بې له اعرابه ئې په معنا کي څوک تېروزي لکه معلوم او مجهول ماضي فعل (ضَرَبَ د ضاد په زور – ضُرب د ضاد په پېښ).

۵ – عَلَم عجمي نومونه چي معرّب یا مرّکب سوي دي د رجالو له کتابو یا تذکرو څخه په استفادې سره باید معرّب سي.

۶ – که متن له لویه سره معرّب وي یا وروسته بل چا معرّب کړی وي، په سریزه کي ئې باید یادونه وسي.

## سرلیکونه (عنوانونه):

د بابونو او فصلونو سرلیکونه باید د متن تر حروفو غورس ثبت سي.

---

(۱) اعراب د یوې کلمې پر تورو باندي د حرکاتو (فتحه، کسره، ضمه) اینښوولو ته ویل کېږي (هوَتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د متن وېش او نومره ایښوونه ئې:

۱ – د مؤلف وېش، ترتیب او فصل بندي باید په چاپ کي مراعات سي.

۲ – هغه متنونه چي په اساس کي پر فصلو باندي وېشل سوي نه وي، که لازمه وبلل سي، کېدلای سي چي په داسي ډول پر فصلو باندي ووېشل سي چي متن پکښې تاواني نه سي. د هر فصل له پاره باید یو سرلیک (عنوان) وټاکل سي او په پتریو کي ولیکل سي.

۳ – که متن پر باب او فصل باندي وېشل سوی وي، بابونو ته ئې نومرې باید ورکول سي.

۴ – که تر تصحیح لاندي متن ژباړل سوی وي، د ژباړونکي نوم باید د متن تر حروفو په کوچنیو تورو سره د صفحې پر یوه لوړه څنډه یا د صفحې په منځ کي ولیکل سي.

۵ – د حدیثو په کتابو کي باید احادیثو ته نومرې ورکول سي.

۶ – شعري دېوانونه یا باید پر هغه شکل پرېښوول سي چي فصل بندي سوي وي، یا باید قافیې د الفبا په ترتیب ورته واوډل سي او قصیدې او قطعې باید نومرې ولري.

۷ – ښه به دا وي چي د منظومو او منثورو متنونو لیکو ته نومرې ورکول سي یعني د لیکو (کرښو) پر هرو درو، درو یا هرو پنځو، پنځو باندي نمره کښېښووله سي.

## ټکي، فاصلې او اشارې:

۱ – ټکی (نقطه) باید د هغو جملو په پای کي راسي چي معنا ئې پای ته رسېدلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ – فاصله (ویر ګول، کامه) باید داسي (،) کښېښول سي. دغه راز فاصله باید له ټکي سره یو ځای یعني (؛) و نه لیکل سي.

۳ – د پوښتني او حیرانتیا (تعجب) نخښي (؟ – !) باید په خپلو مناسبو ځایو کي کښېښوول سي.

۴ – د "قول" کلمي تر مشتقاتو (قالَ، قیلَ) وروسته دي دوه ټکي سر پر سر کښېښوول سي لکه قالَ محمد:

۵ – په مسجعو متونو کي دي سجعي یوه له بلي څخه د ویر ګول (،) په واسطه جلا سي.

۶ – که په متن کي ځیني ځایونه کنډو وي، پر ځای دې ټکي کښېښوول سي، یعني په هر کنډو ځای کي دي درې ټکي (...) ولیکل سي.

## قوسونه، کرښکي او نخښي:

- د قرآن آیتونه دي په دا ډول قوسو ( ) کي ثبت سي.
- که د کوم کتاب نوم په متن کي راغلی وي، په مزدوجه فاصله یا ګیومه " " کي دي ونیول سي.
- دوه لنډي خطونه (ـ ـ): معترضه جمله دي د دغو خطو په منځ کي راوړل سي.
- دوه عمودي ( | | ): د دوهمي نسخې هغه جملې دي ،چي په متن کي نه وي راغلي، د دغو دوو خطو په منځ کي راوړل سي.
- مات قوسونه: په دغو قوسو کي دي مصحح هغه بیان راوړي چي دی ئې له خپله ځانه پر متن باندي ور زیاتوي لکه هغه توري او کلمې چي د جملې له سیاقه سره مناسبي وي، باید په دغو قوسو کي ثبت سي.
- مربع ډوله قوسونه یا پټریان [ ]: هغه مطالب چي له دوهمي نسخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه پر اصلي نسخه باندي ورزياتېږي، يا په هغو باندي استشهاد کېږي او يا نوي عنوانونه اصلي متن ته ورکول کېږي، بايد په دغو پټريانو کي وي.

- عادي قوسونه ( ): د متن د مخونو شمېر دي په دغو قوسو کي وليکل سي. که مخونه پر الف او (ب) باندي سره بېل سوي وي نو دي د مثال په ډول داسي (۲۵ الف) او (۱۶ب) وليکل سي.
- ) ) ـ دغه راز قوسونه له "کذا" سره مترادف دي او په هغو ځايو کي کارېږي چي د متن لوستنه د څېړونکي له پاره سخته وي. تر مشکوک عبارت وروسته دغه نخښه ايښوول کېږي.

د خطي نسخو هره نسخه بايد په داسي توري سره وښوول سي چي د مؤلف له نامه څخه، يا د هغي کتابخانې له نامه څخه چي نسخه پکښې خوندي وي، يا هم د هغه ښار له نامه څخه چي دغه کتابتون پکښې واقع وي، اخيستل سوی وي.

د بېلابېلو خطي نسخو مجموعې ته دي په ابجد تورو سره اشاره وسي. لکه "ب" گروپ، "ج" گروپ.

## لمنليکونه (حاشيې):

تر اوسه پوري چي مو کوم مطالب بيان کړل، هغه د متن په خارجي شکل او بڼه پوري اړه لري، مگر د مصحح علمي او انتقادي کار د هغه له لمنليکونو (حاشيو) څخه ښکارېږي. ختيځ پوهان دغو لمنليکونو ته د يوه خاص هنر په سترگه گوري، داسي هنر چي پوهې او مهارت ته اړتيا لري.

عربو محققينو د لمنليکونو له پاره ډول ډول لاري پاللي دي. ځيني ئې د نسخو اختلافونه په لمنليکونو کي راوړي او تعليقات و ملحقات په جلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه د کتاب په پای کې پر زیاتوي. دا روش په خاص ډول سره د زیاترو فرانسوي ختیځ پوهانو له خوا پالل کېږي.

دوهمه ډله د نسخو اختلافونه او تعلیقات سره یو ځای کوي او وروسته ئې په لمنلیکونو کې راوړي او دا دواړه بیا د یوې کرښې په واسطه سره جلا کوي. دا روش د ځینو الماني ختیځ پوهانو له خوا پالل کېږی.

دریمه ډله بیا دا دواړه روشونه سره یو ځای کوي.

څلرمه ډله د کتاب په مخونو کې له متن پرته بل څه نه کاږي یعني د روایتو اختلافونه او تعلیقات د کتاب په پای کې راوړي.

زموږ د ځینو څېړونکو روش بیا داسي دئ چې یوه ډله په تشریحاتو، تعلیقاتو او د لغتو په تفسیر کې افراط کوي او بله ډله بیا په کلي توګه ډډه ورڅخه کوي.

که د متونو له تصحیح او څېړني څخه مراد د صحیح متن، د هغه شان متن منځ ته راوړل وي چې په خپله مؤلف تدوین کړی وي، نو دې هدف ته د رسېدو له پاره د لومړۍ ډلي روش سم ښکاري؛ ځکه د نسخو اختلافونه موږ ته هغه صحیح عبارت راښیي چې په متن کې باید راوړل سي. له دې امله نو په لمنلیکونو کې باید یوازي د نسخو اختلاف راوړل سي او په دوهم ګام کې باید له لمنلیکونو څخه د هغو مأخذو د ښوولو له پاره کار واخیستل سي چې په متن کې د هغو یادونه سوې اود محققینو د خبرولو له پاره ګټور وي.

د هغو مأخذو د تشریح او معرفۍ له پاره، چې په متن کې ئې یادونه سوې وي، باید دا لاندي ټکي په پام کې ونیول سي:

۱ – په متن کې د رانقل سوو مطالبو مأخذونه دي په لمنلیکونو کې وښوول سي. لکه: ابن سعید ویلي دي ... په لمنلیک کې دي ورته وکښل سي "په طبقات پلاني ټوک پیستاني مخ کې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ – د قرآني آيتونو په برخه کي دي د آيت شمارې او د سورة شمارې ته اشاره وسي.

۳ – د احاديثو له پاره دي د حديث مأخذ ته اشاره وسي. لکه "احمد په خپل مسند کي ويلي دي" دلته دي د مسند ټوک او د حديث شمارې ته اشاره وسي. البته په دې شرط چي احاديثو ته شمارې ورکول سوي وي.

۴ – شعرونه او شواهد: که ممکنه وي اړوندو دېوانو او د ادبياتو په کتابو کي د موجودو روايتو اختلاف ته دي اشاره وسي. خو که د شعر ويونکی معلوم نه وي، محقق بايد تر خپله وسه پوري هڅه وکړي چي ويونکی ئې معلوم کاندي. له دې بحث څخه په متن کي راغلي عَلَم نومونه او د ځايو نومونه او مشکل لغتونه پاتېږي. که په متن کي د کوم عَلَم نوم او د ځای نوم يا کوم لغت تصحيح ته اړ وي، بايد سمون ئې په لمنليک کي ياد سي. خو که غواړئ چي د کوم عَلَم نوم شرحه بيان کړی يا د کوم ځای جغرافيايي موقعيت څرګند کړی يا د کوم لغت شرح وکاږی، ښه دا ده چي دا خبري د کتاب د پای په ملحقاتو کي راوړل سي څکه په دې ډول به متن په ډېرو لمنليکونو باندي دروند سوی نه وي. که د ملحقاتو په راوړلو سره هم د کتاب متن درنېدی او ستونزي ئې منځ ته راوړلې، بيا دي د اشخاصو د نومو په برخه کي يوازي د مړيني کال ته، بې له مأخذه اشاره وسي او د ځايو د نومونو له پاره دي د هغه موقعيت او مأخذ په لنډ ډول بيان سي. خو د لغاتو په برخه کي دي، په تېره بيا هغه لغات چي په قاموسو کي نه وي ثبت سوي يا په پخوانيو تمدنو پوري اړه ولري، ښه دا ده چي د هغو د تشريح او تفسير له پاره د کتاب په پای کي يو فهرست راوړل سي.

## اجازات او سماعات:

۱ – څرنګه چي اجازات (د حديث لاس پر لاس کېدل يا له کوم چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه اوربدل يا پر كوم چا باندي د حديث لوستل) د حديثو د كسانو د احوال په څېړنه او د هغوی د عصر په پېژندنه كي اهميت لري، نو د حديثو د كتاب خپرولو پر وخت دي هغه اجازات په چاپي متن كي راوړل سي چي په خطي نسخو كي ثبت سوي وي.

۲ – هره ليكه (كرښه) دي، چي په هغې كي اجازه يا سماع وي، جلا نقل سي.

۳ – دغو ليكو ته دي نمرې وركړه سي او هره نمره دي په قوسينو كي ونيول سي.

۴ – سماعاتو ته دي د لنډيز نخښي وركړه سي او د دغو نخښو توري بايد د متن تر تورو نري (نازک) وي.

۵ – سماعات دي د متن تر تورو په كوچنيو تورو ثبت سي. د سماع تر نقلولو وروسته دي د سماع د اوربدونكي او ويونكي او ليكونكي نوم، د اوربدونكو شمېر او د سماع ځای او نېټه راوړه سي.

## فهرستونه:

له فهرست ليكني څخه مراد د خپاره سوي كتاب له مطالبو څخه د استفادې اسانه كول دي، داسي چي هر محقق ته د كتاب د مطالبو موندل ممكن سي. له همدې اسيته دئ چي د ختيځپوهانو له هغو كتابو څخه زياته استفاده سوې ده چي ګټور فهرستونه ورته برابر سوي دي.

فهرستونه د كتاب د موضوع له مخي ډول ډول وي. د هر كتاب د ټولو ګټورو مطالبو له پاره داسي فهرستونه ترتيب كېدلای سي چي په نورو كتابو كي په نُدرت سره تنظيم كېږي. خو بايد پام مو وي چي دا راز فهرست ته نوښت (ابتكار) نه ويل كېږي. ځيني محققين د مطالبو د فهرست په تنظيمولو كي بې فايدې افراط كوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني کسان د هغو لغاتو له پاره فهرست جوړوي چي په قاموسو کي راغلي وي. دا کار د اريانتيا وړ دئ ځکه چي قاموسونه په خپله تنظيم سوي فهرستونه دي. هغه تقليدي فهرستونه چي نن ورځ تنظيمېږي، عبارت دي له:

١ – د نارينه وو، ښځو، قبايلو او کورنيو... د نومونو فهرست.

٢ – د ځايو او هيوادو فهرست.

٣ – د هغو کتابو فهرست چي په متن کی راغلي وي. دا فهرست د مؤلف د مأخذو د پېژندني له پاره، چي کله ډېر زيات وي، ګټور وي.

هر کتاب ته دي د موضوع په تناسب فهرست جوړ سي.

د شعر د دېوان يا د ادبياتو د کتاب له پاره دي د شعرو د قافيو فهرست واوډل سي. د حديثو د کتابو له پاره دي د احاديثو فهرست جوړ سي او د هغو لومړي توري دي د الفبې په ترتيب واوډل سي. د جغرافيايي کتابو له پاره دي د تاريخي ځايو فهرست او نخشې تنظيم سي. د تذکرو په کتابو کي دي د نومونو له يادوني څخه ډډه وسي او يوازي دي د ليکوال يا شاعر د ژوندليک فهرست تنظيم سي. د تاريخ کتابو ته دي د هغو مهمو پېښو فهرست جوړ سي چي په کتاب کي راغلي دي او دې ته ورته نور فهرستونه.

دغه راز د هغو لغاتو له پاره فهرست ته اړتيا سته چي د پخوانيو مدنيتو نخښه وي يا په فرهنګو کي ثبت سوي نه وي او د تصادف له مخي په کتاب کي راغلي وي. د دغو فهرستو د جوړولو اړتيا ځکه سته چي امکان لري په راتلونکي کي د لغاتو د دغه راز فهرستو څخه يو قاموس تاليف سي چي له اوسنيو قاموسو سره به توپير ولري. اوسني قاموسونه د لغاتو له بدلون او پراختيا سره ګام پر ګام روان نه دي.

فهرستونه دوه ډوله دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ – ساده او معمولي فهرستونه چي په هغو کي عَلَم نومونه راغلي وي. په دغو فهرستو کي دي د هغو مخونو شمارې ته اشاره وسي چي دغه عَلَم نومونه پکښې درج وي.

۲ – مفصل فهرستونه چي په هغو کي عَلَم نومونه راوړل کېږي او وروسته ئې د يوې داسي کوچنۍ نخښي په واسطه سره يادونه کېږي چي د کتاب په هر مخ کي په هغې سره عَلَم سوي وي. له دغو فهرستو سره دي موضوعي فهرستونه، چي په دې وروستيو وختو کي ئې محققين ترتيبوي، مل سي. د موضوعي فهرستو اوډل که ډېر زيار او کوښښ ته اړتيا لري خو هغومره گټه بيا هم لري.

په هر حال هغه کسان چي د فهرستو په تنظيمولو گوتي پوري کوي، بايد د څېړني او تحقيق له روشو سره اشنا هم وي.

(د فهرستو بحث د هيوادمل صاحب په ترجمه کي ډېر لنډ سوی دئ. زما په مأخذ کي ئې تفصيل څه زيات دئ، هوتک).

## د سريزي کښلو روش:

مصحح چي د متن د چاپ له کاره وزگار سو، بيا نو بايد د سريزي ليکل پيل کړي. دا کار د دې له پاره دئ چي کله کله مصحح مجبورېږي په سريزه کي د کتاب مخونو ته اشاره وکړي خو دا کار تر هغو پوري ممکن نه دئ څو د کتاب د ټول متن چاپېدل بشپړ سوي نه وي.

## په سريزه کي بايد درې مطلبه شامل وي:

۱ – د کتاب د موضوع معرفي کول او د هغو ټکو بيانول چي د کتاب تر تاليف دمخه څرگند سوي وي.

۲ – په خپله د کتاب معرفي کول او د هغو کتابو په منځ کي ئې د مقام

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښانه کول چې پر همدې موضوع باندې تاليف سوي دي. دغه راز د هغو نوو مطالبو معرفي کول چې دغه کتاب ئې لوستونکو ته وړاندي کوي. د نوموړي اثر ارزښت او د مؤلف مقام او ژوندليک ئې له مأخذ سره يو ځای بيانول.

٣ – د هغې نسخې معرفي کول چې د تصحيح له پاره غوره سوې ده او متن ځنی جوړ سوی دئ.

## د نسخې د معرفی له پاره بايد دغه لاندي لارښووني مراعات سي:

١ – د هغه څه معرفي کول چې د کتاب پر لومړي مخ باندي ثبت سوي وي لکه: د کتاب نوم، د مؤلف نوم. دغه راز د کتاب د نامه او مؤلف ته د هغه د انتسابولو د مسئلې د سموالي (رشتياتوب) څېړل[1].

٢ – د نسخو د ليکلو نېټه او د نسخې د کاتب يادونه. د هغو کسانو نومونه دي هم تر ممکني اندازې پوري راوړل سي چې د دغه اثر نوم ئې په خپلو تاليفاتو کي راوړی وي.

٣ – که په کتاب کي د مؤلف نوم راغلی نه وي، مصحح بايد د مؤلف د پېژندلو له پاره کوښښ وکړي يعني د کتاب د موضوع او سبک، د متن د نومونو او د هغو مؤلفينو له ويناوو څخه دي د ده د پېژندني په برخه کي استفاده وکړي چې په خپلو آثارو کي ئې له دغه نوموړکي مؤلف سره د ليدني کتني يادونه کړې وي.

که کتاب د ليکني نېټه ونه لري، د نسخې عمر دي د ليک او کاغذ له مخي وټاکي.

---

[1] په زياترو پښتو او فارسي نسخو کي د کتاب او د مؤلف نوم ئې پر لومړي مخ باندي ليکل سوي نه وي. د کتاب او د هغه د مؤلف نوم زياتره د حمد و صلوات او مقدماتي خبرو په پای کي معمولاً د "امابعد" تر کلماتو وروسته راځي. په زياتره خطي نسخو کي د "امابعد" کلمات يا په بېل رنګ ليکل سوي وي يا ئې توري د متن تر تورو غورس وي (هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ – د نسخې د مخونو د شمېر، د هغو د اوږدوالي (طول) او پسور (عرض) اندازه، په هر مخ کي د ليکو (کرښو) شمېر او د هري ليکي د اوږدوالي ټاکنه او د لمنليکونو او د هغو د اوږدوالي ټاکنه ضروري ده.

۵ – د ليک (خط) د ډول ټاکل او دا چي نسخه ټوله په يو ډول خط ليکل سوې که په دوو بېلابېلو خطونو.

۶ – د هغه ليکدود معرفي کول چي د نسخې کاتب پاللی دئ او د هغو لغاتو د بېلګو ليکنه چي مصحح د هغو ليکدود په چاپ کي وراړولی دئ.

۷ – د ليک د رنګ او د رنګ د توپير ښوول. کله کله متن په تور رنګ ليکل سوی وي او سرليکونه ئې په سره رنګ وي، کله ئې فاصلې په سره او شين (آبي) رنګ کښلي وي. دې ټولو ته بايد اشاره وسي.

۸ – د کاغذ او د هغه د ډول پېژندنه.

۹ – زياتوني.

۱۰ – په لمنليکونو کي تعليقات.

۱۱ – اجازات (مناوله[1]، د قرائت اجازه، د سماع اجازه): په سريزه کي دي دې ټولو ته اشاره وسي او اصل دي ئې د کتاب په پای کي ور زيات سي.

۱۲ – تمليکات، (د هغو کسانو معرفي چي د هغوی مالکيت د کتاب پر مخونو باندي ليکل سوی وي[2].

۱۳ – د نسخې د سر او پای د مخونو عکس يا د کتاب له متن څخه د کوم بل په زړه پوري مخ عکس. تر عکسو لاندي بايد په متن کي د دغه عکس د اړوند مخ نومرې ته اشاره وسي.

---

(1) مناوِله هغي اجازې ته ويله کېږي چي شيخ، خپل کوم د سماع وړ کتاب و خپل مريد ته ورکړي او ورته وو ايي چي ته د دغه کتاب له مندرجاتو څخه روايت کولای سې (هوتک).

(2) د کتابو څښتنان زياتره خپل مهرونه پر کتاب باندي لګوي يا کله کله خپل نوم ليکي. د مهرونو لوستنه تجربه او مهارت دواړه غواړي (هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د مؤلف د لیک نمونه پیدا سي، ښه دا ده چي عکس (کاپي) ئې پر چاپي کتاب باندي ورزیات سي.

۱۴ – که د باوري نسخو شمېر زیات وي، باید ټولي معرفي سي.

۱۵ – د خطي نسخې تر پېژندني وروسته د لنډ نخښو او رمزونو جدول راځي لکه: د نسخو نخښي او د قوسونو نخښي او ...

## د مأخذو فهرست:

محقق د هر متن د څېړني او تصحیح له پاره زیاتو مأخذو ته رجوع کوي چي په سریزه یا لمنلیکونو کي د هغو یادونه هم کوي. د دغو مأخذو له پاره باید د کتاب په پای کي یو فهرست جوړ سي او د کتاب او مؤلف نوم او د چاپ نېټه او د هغه د مصحح نوم باید په دغه فهرست کي راوړل سي. د چاپي کتابو په برخه کي دي د کتاب د مؤلف تر نامه وروسته د هغه د مصحح نوم هم یاد سي. د مثال په توګه:

معجم البلدان، د یاقوت حموي لیکنه، د وستنفیلډ تصحیح، د لایپزیک چاپ ۱۸۷۰.

که په لمنلیک کي مأخذ د لنډیز په شکل لیکل سوی وي باید دغه لنډیز نخښه د هغه له بشپړ نوم سره یو ځای په جدول کي ذکر سي. لکه:

وفیات = وفیات الأعیان، د ابن خلکان لیکنه، قاهره، پلانی کال.

* * *

دا ول هغه عمومي روشونه چي د متونو په تصحیح کي باید له هغو څخه کار واخیستل سي. د دغي مجموعي په تنظیمولو کي مو داسي صحیح روش غوره کړی دئ چي نه د ختیځ پوهانو د پټو سترګو پېښې پکښې سوي دي او نه هم هغه ګډوډۍ او بې هدفۍ پکښې سته چي د ځینو عربو تصحیح کوونکو په کار کي لیدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم څپرکی

## د متونو په مسخه کېدلو کي د پیوریزم اغېزه:

له سوچه توب سره مینه د پښتنو د ژوندانه هري برخي ته لار موندلې ده او په دې لړ کي ئې د ژبي د سوچه کولو اشتها خورا زیاته ده. دا اشتها په اولنیو لیکوالو کي هم وه او په اوسنیو کي هم. د ژبي د سوچه توب پر کم و کیف باندي زه په خپل بل کتاب (پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه) کي ښه په پراخه توګه ږغېدلی یم، خو په متونو کي د لغاتو د پښتو کولو پر هڅه باندي دلته په همدې کتاب کي څېړنه کوم. دلته زه په دې باب نه ږغېږم چي دا کار ښه دئ که بد؟ دلته مي مراد دا دئ چي موږ د اولس له ژبي سره څومره بې باکه یو او ځانته مو څومره د مداخلې حق ورکړی دئ.

په دې بحث کي به خبره د خوشحال خان له کلامه راونښلوم او هغه لغتونه به د الفبې په ترتیب راوړم چي خوشحال خان یو راز کښلي خو ناسخینو او کاتبانو یا کوم بل چا پښتو کړي دي.

## د خوشحال خان په کلام کي:

### اول – لومړی:

د خوشحال خان د کلام په خطي نسخو کي د (لومړي) لغت د (اول) له پاره نه په سترګه کېږي. دی هر وخت (اول) کلمه کاروي. که په کم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کي (لومړی) کلمه راغلې هم وي، په هغه کي به غالباً د کاتبانو او ناسخانو سليقه او انتخاب شامل وي. د کندهار په لهجه کي هم (لومړی) کلمه وارده سوې کلمه ده. اولس د (اول) کلمه وايي.

زه لـــــومړی په اشـنايـيه نازېدلم
واړه غم و، چي پرې ښه وپوهېدلم
(۱۳۳– مخ)

"لومړي" ته ئې په حاشيه کي کښلي دي "په لومړی، دريمه او څلورمه کي: اول". دا لغت د چاپي نسخو ترتيبوونکو وراچولی دئ.

د همدې غزل په څلرم بيت کي بيا په خپل اصلي شکل ځني پاته سوی دئ.

سر اول د يار د ياد په بالين کښېږدم
لـه غــه پسـه په پالنگ باندې څملم
(۱۳۳– مخ)

د خوشحال خان په بل اثر (فراقنامه) کي هم د (اول) کلمه زياته راغلې ده.

اول هی توبه له خپله
وربسې تـوبه له بله
(۵۸ – مخ)

که د خوشحال په لهجه کي (لومړی) تر (اول) زيات مروج وای، په پورتني بيت کي ئې د (اول) پر ځای کارولو هيڅ راز مشکل نه پېښاوه.

د خوشحال خان په عصر کي د (اول) کلمه د ده تر لهجوي اورشو دباندي هم داستعمال پراخ رواج درلود. رحمان باباوايي:

که د ستا د ښکلي مخ عاشقان ډېر دي
زه پــــه واړو کښې اول يم دويم نه يـم
(۷۵– مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دلته هم رحمان بابا د (اول) پر ځای (لومړی) راوړلای سوای خو داسي ښکاريږي چي د اول رواج تر لومړي ډېر مسلط وو.**

**د پښتو په ځينو لهجو کي د (اول = لومړی) له پاره د (ړومبی) کلمه هم رواج لري. حميد مومند وايي:**

چي ئې زه په ړومبي پند پوري خندا کړم
ناصحان پـه نصيحت کا ريشـخندي بيا
(کليات: ١٠مخ)

**خو د اشرف خان هجري په دېوان کي د (اول) له پاره (اوبنړی) کلمه راغلې ده.**

چي هلک له نسه پرېوځي بې خبره
په اوبنړی قــدم ئې تل ځکه ژړا ده
(١٢٤– مخ)

**د (اوبنړی) کلمه که په نني ليکدود باندي وکښل سي، (اوبڼی) ځني جوړيږي. دا لغت که د ناسخانو له خوا سم ثبت سوی وي، په شنلو ارزي.**

**عبدالقادر خان خټک هم د خپل پلار په شان د (اول) کلمه په پراخه توګه راوړې ده چي يو دوه مثاله ئې داسي دي:**

اول علم بيا عمل دريم اخلاص دی
دا دري خــويه مــرد عــالم رباني کا
(٢٨– مخ)

**يا:**

د اتمام سعی کوه چي کار شروع کړې
يا هــرګــز اول د چارې آغــازمــه کــړه
(٢٠٣– مخ)

**ميرزاخان انصاري وايي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



روح چي ورغی تر تخته
د زړه تــخــت اول اول و
(٣٥– مخ)

**مولوي بريالی وايي:**

د رقيب په خوشگويي به غلط نه سم
پای بســـته وي پـه اول مـــزله بيهاڼ
(اهاړ – ٩٠مخ)

**د (اول) کلمه به له (فارسي) سره مشترکه وي خو په پښتو کي دونه اخښل سوې ده چي نور مشتقات ئې هم زېږولي دي. "اولني"، "اول واريز اولاد"، ... په ورځنۍ محاوره کي معمول او مروج کلمات دي.**

***

**بازئ – لوبي:**

**بازي د (لوبي) په معنا سره د خوشحال خان په وينا کي ډېره ليدله کېږي. ما ته داسي څرگنده سوې ده چي د خوشحال په کلام کي "لوبي" د مطلق "بازئ" په معنا نه دي کار سوي بلکي مراد ورڅخه "ټوکي، تمسخر، ساتېری، تفريح..." هم دي. د پښتو په لوېديځه لهجه کي تر (لوبي) د (بازئ) لغت زيات رواج لري. په کندهار کي د "بازی، تفريح" له پاره د "سات" کلمه هم کارېږي.**

**د خوشحال په کلام کي د (بازئ) کلمه په دې څو مثالو کي لولو:**

مخ ئې لکه اور دی، پرې پرتې دي تورې زلفې
څــــه رنگه بازي کا پـه ســـره اور کي تورارقـم
(١٢۴– مخ)

**يا:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم ځای د تعجب دی که ئې وینې
چې مـغول کاندي بازئې په افغان
(۱۶۱- مخ)

**کم ځای چې (لوبي) راوړي دي، هورې چا ته داسي شک ورلوېدلای سي چې دا به د خوشحال خان خپل انتخاب نه وو.**

عاقـلان له دې دنیا سره کا لوبې
لکه پېغله جن بازي کا په لوځکو
(۱۷۸- مخ)

**په حاشیه کې دا یادونه پر زیاته کړې ده چې په لومړۍ خطي نسخه کي د (لوبې) پر ځای (بازي کا) راغلی دئ.**

**لوستونکو ته دي معلومه وي چې"لومړۍ نسخه" هغه خطي نسخه ده چې که ټوله د خوشحال خان خټک په خپل خط کښل سوې نه وي، یوه برخه خو ئې هرومرو د ده په لاس کښل سوې ده او که دا امکان هم بیخي مردود وګڼل سي، دونه خو سړی په یقین سره ویلای سي، چې د ده له خوا کتل سوې او تحشیه سوې ده. یا:**

په بازۍ بازۍ وژلي ګڼل نه شي
په خندا خندا خونونه کا خونریزه
(۲۱۹- مخ)

**یا:**

پاسې یا کـــوزې دا کارسازۍ
په ښـــوښـــو رنګه دلــنوازۍ
اسمان ته ګوره مځکي ته ګـوره
دا چــارې نه دی لـــوبې بازۍ
(رباعیات: ۲۸۱مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې څلوريځه کې د"لوبې" مفهوم تر "بازۍ" پراخ دئ.
عبدالقادر خان خټک د "بازۍ" کلمه داسې راوړې ده.

په جهان کې نوې نوې بازۍ کيږي
لا يوه تمـــامـــــه نه، بلـــه برپای کا
(۲۶- مخ)

که زما اټکل سم وي، نو په پښتو کې "بازي" د انګرېزي ژبې د (Play) او "لوبه" د (Game) کلمې معادله راتلای سي.

بازۍ د رقص کولو په معنا هم کارېږي. د "بازيګر" او "بازينګر" نومونه د "لولۍ، رقاصې" له پاره هم کار سوي دي او په کلاسيک ادب کې ئې مثالونه سته. ميرزاخان انصاري وايي:

د کثرت بازار ئې جوړ کړ لون لون
په هـــر څـــه کې تماشا د بازيګري
(۲۴۴- مخ)

په کندهارکې د لوټن (ملاقي) کوترو له پاره د (بازۍ) کلمه هغه وخت کارېږي چې کومه کوتره په هوا کې پرله اوړي ا و رااوړي.

"لوبي کول" په متعدي صورت کې له يو چا څخه په خپله ګټه کار اخيستلو ته وايي. د مثال په توګه د افغانستان جمهور رئيس د شمالي اتحاد په ګټه لوبول کېږي. دلته له لوبولو څخه مراد (بازۍ) نه دي.

له پښتو څخه اوس د "بازي" کلمه په قصدي توګه ايستل کېږي او ځای ئې "لوبه" نيسي. دا کار زما په خيال له ژبي سره خوشي لوبي کول دي.

٭٭٭

**بيلتون، هجران:**

عبدالقادر خان خټک د "معظم" په مرثيه کې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پەژړا پـــەوا ویلا لـەمـــوږەبیل شـــو
هجران هیڅ دلسوزي نەوکړەقصاب شو
(۴۳۶- مخ)

د "هجران" کلمه د عبدالقادرخان خټک د دېوان په کندهار چاپ کي (بېلتون) سوې ده. دا تصرف او په نوموړي دېوان کي نور تصرفات زه غالباً د هغي نسخې د کاتب له خوا ګڼم چي د کندهار چاپ ورڅخه تهیه سوی دئ. د پښتو کولو دغه راز هڅي که په ښه نیت هم سوي وي، د ژبي په ګټه کار نه دئ. ځکه د همدغه مسخه سوي متن له مخي بیا سبا یا بل وخت ژبپوهان د عبدالقادر خان د ژبي پر سکښت او جوړښت باندي قضاوت کوي او څرګنده خبره ده چي په قضاوت کي به ئې غبرګ غاښونه وتلي وي.

* * *

**پاشیده، دوړولی:**

**خوشحال خان وایي:**

پرهارونه مې په زړه تازه، تازه شي
دوړولی پرپرهـار باندې نمک دی
(۳۲۳- مخ)

د کلیات مرتب په حاشیه کي ورته کښلي دي چي په ټولو قلمي نسخوکي (پاشیده) د (دوړولی) پر ځای باندي راغلی دئ. دا غزل ما په کندهار چاپ کي پیدا نه کړه، ښایي تر تېر سوی به یم؟ د (دوړولی) بدلون زما په خیال د ارمغان د مرتب کار دئ. ما ته د حیرانتیا ځای دا دئ چي په ټولو قلمي نسخوکي له دغه راز عمومیت سره نو په متن کي د "دوړولی" کلمه په کم منطِق ځای سوې ده؟

* * *

**خوش چشمه، خوښ سترګي، خوږ سترګي:**

**خوشحال خان یو ځای د خپل ټاټوبي (سرای) په باب وایي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانان ئې چاق تندرست، چست و چالاک دي په هر کار کې
خــوښ ســترګې، سپین او ســـره، بلـند بالا دي پـــه نمای
(۳۳۱- مخ)

په حاشیه کې ئې ورته کښلي دي چې په ټولو قلمي نسخو کې د (خوښ سترګې) پر ځای (خوش چشمه) دئ او په ارمغان کې ئې (خوږ سترګې) کړی دئ. د چاپي دېوانو د ترتیبوونکو دې خبري ته پام سوی نه دئ چې دلته د (خوش) صفت نه د (خوښ، خوشاله) په معنا راغلی دئ، نه د (خوږ، شېرین) په معنا. دلته له (خوش چشمه) څخه مراد (ښایسته سترګې) ده.

هی! توبه د لاسوهونکي له بې رحمیه!

***

**د رستم لینده، کمان رستم:**

د هجری په دېوان کې یو بیت داسي دئ:

د رســتم لینده ګـــردون په اوږه کیدي
غوټیالی چې ترې بیسره تر نقاب شي
(۵۲۴- مخ)

ما چې تر کمه ځایه پوري د اشرف خان هجري دېوان مطالعه کړی دئ، راته څرګنده سوې ده چې اشرف خان د فارسي ترکیبو له استعمال سره زیاته مینه لري. دا خو مي ګرسره زړه ته نه لوېږي چې ده دي د فارسي لغتو د پښتو کولو هڅه کړې وي. که ئې فرضاً زړه غوښتلي وای چې د (کمان رستم) پر ځای پښتو معادل راوړي خو (سره و زرغونه، د بوډۍ ټال) به ئې راوړی وای. زه یقین ته په نزدې ګومان سره ویلای سم چې د کاتبانو د پښتو کولو هوس د اشرف خان هجري خپله سلیقه وراړولې ده. زه د خپل ګومان له پاره د هجري همدغه غزل د استشهادپه توګه راوړلای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سم چي په هغې کي ئې د عادي پښتو لغاتو پر ځای لا هم فارسي معادل لغات راوړي دي. د دې غزلي څو نور بيتونه داسي دي:**

همیشه فلک لیده لکه دریاب شي
شبانه قمر نُما لکه آفتاب شي
هر صورت چي مخامخ شي و اوبو ته
آئینه ئې د شبیه قعر د آب شي
نه به نوم د مهر وه نه د مهتابې
د مخ شکل دي سورج کله مهتاب شي
په سبزه دریاب دي مخ هسې جلوه کا
لکه مِهر مه نُما په شنه تالاب شي
(الخ)

✶ ✶ ✶

**دریاب، سیند:**

**خوشحال خان د (دریاب) او (سیند) کلمې دواړه راوړي خو هره یوه په خپله خاصه معنا سره کاروي. (سیند) زیاتره د (رود= river) په معنا او (دریاب) د (بحر= ocean) په مفهوم استعمالوي. په ترکیبي صورت کي هم (سیند) کاروي. د اوښکو سیند،... د کندهار په لهجه کي هم دغه شان قاعده عامه ده. کندهاریان وایي:**

**"د ارغنداو رود ته مو مېله وایستله". یا "په کراچي کي د دریاب غاړي ته ووتلو". دلته له رود څخه مطلب سیند او له دریاب څخه مطلب بحر دئ.**

**په دې لاندي متلو کی هم د دریاب کلمه له هغه "سمندر" سره سر نه خوري چي په پښتو کلاسیک ادب کي زیات راغلی دئ.**

**"د سپي په خوله دریاب نه مرداریږي".**

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ښه وکه (وکړه) په دریاب کې واچوه".

"دریاب که لوی دئ چمچه دي خپله".

د "رود" لغت د ملکیار په سندره کي د "سیند" له پاره راغلی دئ:

کــــه روده روده
د تــــرنک روده
خاوند دي وچ کا
چي زړگی مومي
زمـــا خپله سوده

د لغمان ولایت د "سرخرود" سیمي په نامه کي هم رود د سیند له پاره کار سوی دئ. د سرخرود سیمي ته اوس د "سره رود" سیمه وایي خو محلي خلک ئې لاتر اوسه هم "سرخرود" بولي.

خو د خوشحال خان په چاپي کلیات کي داسي ځایونه د چا مخ ته راځي چي د کلیات مرتب د (سیند) کلمه د خطي نسخو د ثبت پر خلاف راوړې ده. یو ځای داسي لولو:

له دوو سترگو مې روان د اوښکو سیند شو
د دې ســـیند د پاســـه زه لکـــه حـــباب ځـــم
(۱۳۴- مخ)

په حاشیه کي ورته راغلي دي چي په خطي نسخه کي دواړه ځایه (دریاب) دئ. ښه! چی داسي ده نو دا "سیند" بیا په کوم مجوِّز ورواچول سو؟ ښایي جواب به داسي وي چي د "دریاب" په راوړلو سره د شعر وزن ورانېږي او رشتیا هم ورانېږي، خو زه دا احتمال هم لیري نه بولم چي د خوشحال خپل بیت به داسي وو:

له دوو سترگو مي روان دریاب د اوښکو
د دریاب د پاســـــه زه لکــــه حـــباب ځـــم
(والله اعلم بالصواب)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حمیدوایي:**

لا مې زیات په ژړا سوز د سوي زړه شي
په دریاب کي اور رالـــــګي مــــقرر
(کلیات ۷۰-مخ)

**(په پورته بیت کي باید "مقرر" تحقیق سي. ما ته "مکرر" ښه ایسي)**

**میرزاخان انصاري ویلي دي:**

خدای بې مثله پاک دریاب دی
کــه د زړه پــه دیــد عـــزلت کا
(دېوان – ۲۲مخ)

**د دریاب له پاره د "سمندر" کلمه د اردو ژبي "خیرباقي!" دئ چي پښتو ته راننوتلی دئ او له بده مرغه د دغه نوي مهاجر په منلو سره مو د پښتو ژبي دوه لرغوني لغتونه د لحد مېلمانه کړي دي.**

**"سمندر" په پښتو او فارسي ادب کي جلا معنا لري.**

**خوشحال خان وایي:**

جـــهان که واړه ســـره ســـــور اور شي
ګو مــــان و مــــه کـړه چي عـــارف نور شي

که سمندر غوندې په اور کښې کار نه کا
عـارف ئې مه ګـــڼه مـــخ دې ئې تور شي
(د خوشحال رباعیات – ۱٦۵مخ)

**رحمان باباویلي دي:**

کښت د عشق په تو ده زمکه آسان نه دی
ســـــمندر بـــویه په دې صحــــرا ځـــما
(۱۸– مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یا:**

ږدي په خـــوله د سمندر مُهر د مومو
چي څوک ما منع کوي د عشق له شوره
(۳۸– مخ)

**یا بل ځای وایي:**

د بلبلو و چـــمن و ته پروازوي
سمندر کا مدام اور وته آهنګ
(۷۱– مخ)

**حمید وایي:**

الـهي د مـحبت ســوز و ګــداز را
په دا اور کي د سهي سمندر ساز را

**د حمید مومند په پورتني رانقل سوي بیت کي چي څوک د "سوز و ګداز" قرینې ته وګوري نو د "سهي" پر ځای "ستې" ډېر ورسره وایي.**

**حمید د "رود" ویی هم راوړی دئ:**

په ژړا کي دې دوې سترګې
دوه رودونـــــه کـــا ذاهب
(۳۹– مخ)

**حمید بل ځای وایي:**

هسې یـــم په درد و غم کي د دلبر خوښ
لکه اوسي په سره اور کي سمندر خوښ
(کلیات – ۹۶مخ)

**دلته د "سمندر" لغت د "بحر" په معنا نه دئ بلکي مراد ئې د غټ موږک په اندازه یو افسانوي حیوان دئ چي وایي په اور کي اوسي او کله چي له اوره راووزي، مري. د سمندر نوم له یوناني سالامندرا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(salamandra) څخه اخیستل سوی او فرانسوی شکل ئې (salamandre) دئ (د تفصیل له پاره وګورئ: افغان قاموس، غیاث اللغات، لغتنامه دهخدا).**

**په عربي ژبه کي "السمندر، السمندل" کلمات سته او عربي قاموسو په هغه معنا سره ثبت کړي دي چي په پښتو کلاسیک ادب کي ئې مثالونه موږ ولوستل. په "المورد" انګرېزي – عربي قاموس (د بیروت چاپ ۱۹۷۲ع) کي ئې ورته کښلي دي: "غطایة خرافیه زُعم أنها قادرة علی العیش في النار".**

**ترجمه: (دغه حیوان – هـ) د خرافاتي کیسو له مخي په اور کي د ژوند کولو توان لري.**

**دوهمه معنا ئې په "حیوان من الضفدعیات" کړې ده چي پښتو ژباړه ئې "د اوبو حیوان؟" کېږي.**

**د سمندر کلمه د کندهاري شاعرانو په کلام کي هم سته. مولوي بریالی (شهید) وایي:**

پـه لقب د سـمند آتش مـزاجه
تن پخته سر په تنور سو بریالی
(اهاړ – ۲۸مخ)

**د "رود" کلمه نور مشتقات هم لري چي یو ئې "رودبار" دئ. رودبار د (رود غاړو) ته وایي (وګ: د همدې کتاب ۴مه برخه) دا کلمه د کندهار ښکاریان هم ډېره استعمالوي. د دوی په نظر د رودبار د هېلیو غوښه د چمنانو او تالاوونو د هېلیو تر غوښي خوندوره وي. د تالاوونو د هېلیو غوښه یو رازسوړ بوی (وږم) کوي.**

٭٭٭

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دستار، بګړۍ:**

**د (بګړۍ) له پاره د (دستار) کلمه د خوشحال خان خټک شعوري انتخاب دئ او ستر ارزښت ورته لري. دا چي د خټک یوه اثر له پاره چي ئې (دستار نامه) نوم ټاکلی دئ، دا هسي ناڅاپي ټاکنه نه ده. د ده د اشعارو په چاپي دېوانو کي له یو دوو ځایو پرته، چي د (پګړۍ؟) کلمه ئې راوړې ده، نور هر ځای د (دستار) لغت راوړي. هغه ځایونه چي (دستار) پکښې (پګړۍ) سوی دئ، دا دي:**

ملامت ئې د عاشق د سر پګړۍ ده
دا پګـړۍ له سره چـــیرته اچـوم
(۱۲۹- مخ)

**دې بیت ته په حاشیه کي لیکل سوي دي "په لومړۍ، دریمه او څلورمه کي په دواړو مسریو کي د (پګړۍ) په ځای (دستار) دئ" دا تصرف د چاپي دېوانو د ترتیبوونکو له لاسه پېښ دئ. اوس د دې کلمې تړل په خوشحال خان پوري، هغه هم د (پ) په توري، نوې خبره ده.**

**میرزاخان انصاري د احداد د زوی عبدالقادر پر مرګ باندي داسي وایي:**

د روښان د کور سرور وې
د افغان د ســـر دســـتاره
(۱۲۹- مخ)

**کامګار خټک وایي:**

و لحد ته به ئې کـــــوز کاندي سرتوری[1]
دا چي اوس په سر دستار په خیال روان ځي
(۱۲۵- مخ)

---

[1] د دې بیت دوهم نیم بیتی په چاپ کي وران سوی او ما دلته سم کړی دئ. چاپي ثبت ئې داسي دئ:
"دا چي اوس په سر دستار له خیاله وران ځي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کندهاري شاعرانو په کلام کې هم (دستار) کلمه په مخه راځي:**

**مولوي بريالي ويلي دي:**

ايږدي که کج دستار پر کج کاکل ورسره ښايي
دا کج خــــاصيت د پاچ دئ گل نه دئ ملامت
(اهار – ۱۴مخ)

**بگړۍ که پگړۍ؟**

**هجرى وايي:**

اکـــوړى چي د انـــدوه لښـــکرو وه نيو
مگر وران شول د برک د پگړۍ ولونه
(۱۷۲– مخ)

**عبدالقادرخان ويلي دي:**

ځـــو شکر خورى خــــاورې خـــورې شـــولې
ډيري بگـړۍ د خـــيال خــــــورې شـــــولې
چي تل ســــــورلي ئې په عـــراقــــــيانو وه
اوس تورې خاورې پرې پاس سورې شولې
(۴۱۲– مخ)

**د کندهارپه لهجه کي د ستار ته (بگړۍ) وايي. مولوي صالح محمد هوتک ويلي دي:**

کوټي ډک د عقله ښه دئ او لـه فکره
په کار نه ده پر وچ سر د بگړۍ پلـنډه
(پاشلي ويناوي – ۹۱مخ)

**حاجي ولي محمدمخلص کندهاري وايي:**

په سرو پسي نن گــــرزو لــه اړۍ
کي کالي وي د خـــمتا او د وړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر په کار لرو چي ډک وي د مغزو
نه تړلي پر کـــوم تش کله و بګړۍ
(کليات: ۲۰۹–مخ)

په لس زره پښتو لغتونه (د پښتو ټولني چاپ ۱۳۲۰ش) کي (بګړۍ)، په پښتو سيند کي (پګړۍ)، په ظفراللغات کي هم (پګړۍ) ثبت دئ.

ځيني څېړونکي فکر کوي چي د (بګړۍ) په کلمه کي د (بګ) ريښه سته. (بګ) غټ ته وايي. (بګ سړی، بګه ښځه). خو ځيني کسان (جهاني صاحب) بيا (بګړۍ) پښتو ته له هندي څخه راغلې کلمه بولي. که داسي وي نو بيا د کلمې د اصل (ب) د پښتو له قاعدې سره سمه په (پ) باندي اوښتې ده او د کندهار لهجې ئې د اصل (ب) ساتلې ده. د (ب) او (پ) اِبدال خو په پښتو و فارسي کي ډېرسته:

اوربوز، پزه، پوزه – بينی
پرې کول، بريدن
بيګاه – پګاه
بزه، پسه
پردی، بيګانه
بالا، بلند، پورته
باستانی، پخوانی
بادشاه، پاچا
برګ، پاڼه ...

په (پ) باندي د (ب) د اړولو بل مثال هم ما ته د خوشحال خټک کليات په لومړي ټوک، ۲۰۵مخ کي په مخه راغی هورې ئې (بهي – مېوه) د (پهي) په شکل کښلې ده. خو دا بدلون طباعتي تېروتنه نه معلومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بیمارو ســـترگـــو تل پهې کیښوی شي
د خوشحال په لېمو پښه کښېږده گستاخه
(۲۰۵– مخ)

**په متن کي (کیږده) دئ.**

**یا:**

څو رنگه مخونه په دا خاورو کي بد رنگ شول
څــو د خـــیال کـــږې پگړئې یاد لري جـهان
(۱۶۰– مخ)

**یا:**

که هر څو باز لــــــري غوټه مهینه
په همت لـــــږ دی بیا تـــر شــــاهینه
کږه پگړۍ دې په سر هغه کښېږدی
چـــــه بـــرابـرې نېزې وهـــــینه
(رباعیات – ۲۹۰ مخ)

**د حمیدله یوه بیته داسي ښکاري چي (پگړۍ) د مغولو جامه وه. دی وایي:**

گاه جوگیان گاه سنداسیان گهې سکان شي
گه مغل غـــوندې پگړۍ، گاه افغانان شي
(کلیات: ۳۵۰–مخ)

**یا:**

د ســـــــاقي د میو هسې شان اثر دی
په خمار کي مې دستار له سره خور شو
(۱۸۵– مخ)

**خوشحال خان خټک د (مندیل) لغت هم د دستار؟ په ځای کي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**راوړی دئ.**

سـر تـر پايه مـنافـق واړه بد بوی دی
که په سر ئې سپين منديل دی لکه اوری
(۳۴۴– مخ)

**يا بل ځای وايي:**

خـيال خـيال ئې تـرپوه، بدرې و مه خوره
د منډيل شملې پرې ايښې سور د خنگې
(۴۵۷– مخ)

**منديل عربي ويی دئ چي قاموسونو د بگړۍ په معنا هم راوړی دئ خو زياتره ئې په دسمال يا هغه ټوکر معنا کړی دئ چي د مخ خولې (عرق) په پاکوي (دهخدا). د منديل جمع (مناديل) ده. په ظفراللغات کي ئې عربي لغت بللی دئ او معنا ئې "پگړی، لنگی، ...، دستار" ورته کښلې ده. د منډيل په شکل ليکنه ئې نوې پديده ده.**

**يا:**

په خيال خيال ئې ترپوې، بدرې و مه خوره
د منډيل شملې پـرې ايښې سور د خنگې
(۴۵۷– مخ)

**خنگې = خنگ ئې. خنگ آس ته وايي (د شمس الدين کاکړ د ديوان لغتنامه).**

**په دستارنامه (۱۲مخ) کي راغلي دي: "... دا هسې دستار، دستار باله نه شي – څه شوکه زرزري منډيل په سر کا...". رحمان بابا وايي:**

په دستار کښې ئې مسواک وي
تـــر بـغل لانـدې خـــنجـر
(۴۳– مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یا:**

د ریا خرقه ئې خدای مه کړه په غاړه
رحمان کـوږ د ستار تړلی قلندر دی
(۹۴- مخ)

**عبدالقادر خان وایي:**

نن ئې ییا کښېښو په سرباندي دستار کج
لــکه مست هــاتي په لار کوي رفـتار کج
( ۴۸- مخ)

**حمیدمومندوایي:**

دا شېوې له فقیر ښایي چي بې غم وي
بېهوده پــــه سر دستار تړي امیر کج
(۵۴- مخ)

**د (دستار) کلمې د دومره پراخ استعمال له مخي د (پګړۍ) کلمې پر راوړلو باندي شک کول بې بنیاده خبره مه بولئ.**

***

**دننه، درونه:**

**خوشحال خان وایي:**

خپل ژوندون د دوی د مخ دپاره غواړم
لــه دننه مې خــــبر دي ښـــایســـته
(۳۰۰- مخ)

**مرتب لیکي چي په ټولو قلمي نسخو کي د " له دننه" پر ځای "له درونه" کښل سوی دئ.**

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډک، پُر (پور):**

نورو حــریفانو وا ړو ډکي پیالې نوش کــړې
ښه چي د خوشحال پیاله ئې ډکه په بَکس کړه
(۲۶۸– مخ)

**په قلمي نسخو (دریمه، څلورمه) کي د دوهمي مسرۍ (ډکه) د (پور) په شکل ثبت ده.**

**یا:**

لکه ډک په ښو ګلونو په هر کال و
د دې باغ هغه ګلونه سږکال نشته
(۲۸۴– مخ)

**دې بیت ته هم په حاشیه کي زیاته سوې ده چي په قلمي نسخو کي (پور) د (ډک) پر ځای راغلی دئ.**

* * *

**ډول ډول، لون لون:**

**د خوشحال خان د دېوان چاپوونکو د (لون لون = رنګارنګ) کلمه په (ډول ډول) اړولې ده.**

چي په ښاخ ئې ډول ډول میوې زانګي
لا به کلــه د وصــال د ونې بر خــورم
(۱۴۰– مخ)

**په حاشیه کي ورته کښلي دي "په قلمي نسخو کي د (ډول ډول) په ځای (لون لون) دی".**

**عبدالقادرخان ویلي دي:**

په بیاض کي مې د شعر لون لون
شګفته دي تر دا به هزار هزار ګل
(۴۲۶– مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په حاشیه کې ئې ورته کښلي دي چې په (ک) نسخه کې د "لون لون" پر ځای "ړول ړول" ثبت دي.**

***

**زړه ازاره، دل آزاره:**

**خوشحال خان وايي:**

په زړه سنگه، شوخه شنگه
جـفا خـــویـه، زړه ازاره
(۲۱۱- مخ)

**په حاشیه کې ورته کښلي دي چې په لوړۍ، دوهمه، دریمه او ځلورمه خطي نسخه کې "... دل ازاره" ده. (زړه ازاره) ترکیب د چاپي دېوان د ترتیبوونکو لاسوهنه ده.**

***

**زړه سنگو، سنگدل:**

**خوشحال خان ویلي دي:**

چې ئې مینه د زړه سنگو روزي نه شوه
په قـیامت به د هغــو تله وي ســپکه
(۲۲۹- مخ)

**دا کلمه هم ما ته د (سنگدل) ترجمه ایسي او د خان خپل ایجاد ئې نه بولم. خوشحال خان د (سنگ دل) کلمه په خپله اصلي بڼه بل ځای راوړې ده.**

**بل ځای:**

ســـتا د زړه ســـختي مې ســر ترپایه ولیدله
سنگ به سینه وور کړي ستا له هسي سنگه دله
(۲۳۵- مخ)

**ځای ځای ئې د "دل سنگ" په شکل هم کار کړی دئ:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په محشر به مینه وړمه د دل سنګو
که په دا درنیږي تَله د اعـــــمال
(ارمغان: ۱۰مخ)

**سنګدل صفت د هغه وخت په ادب کې مروجه اصطلاح وه. رحمان بابا ویلي دي:**

ډېر عـــزیز دي موم دلان تر سنګدلانو
ته یو ځاځکی شه د اوښو ګوهر مه شه
(۱۵۹– مخ)

**عبدالقادرخان وایي:**

په خوارۍ مونده شي کام له سنګدلانو
په محنت سره ســـره زر خیږي له ګاره
(۱۹۴– مخ)

**کامګار خټک وایي:**

ولې سنګدلې کړې مانوې مې زړه دلـبره
زړه زما هـــر ګوره ډیر نازک دی تر زجاج
(۳۰– مخ)

***

**ږمنځ، شانه:**

**عبدالقادرخان وایي:**

عمر مې په کم شي که یـــو تار د زلفو کم شي
فهم کړه اې ډمې! ږمـنځ پرې ورو ورو چلوه
(۲۴۲– مخ)

**په حاشیه کې لیکلي دي چې په الف نسخه کې د "ږمنځ" پر ځای "شانه" راغلې ده . ما ته د الف ثبت د قادرخان خپل اصل ثبت ښکاري.**

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سینه، ټټر:**

**خوشحال خان وایي:**

وچ ککړ ټټر داغ داغ په منځ کي هیڅ نه
چي ناري د جــــدایيه وهي نای دی
(۳۱۲- مخ)

**په ټولو قلمي نسخو کي د "ټټر" پر ځای "سینه" ثبت ده.**

***

**صاحب، څښتن:**

**خوشحال وایي:**

لکه سپی د خپل څښتن جـــور و جفا وړي
خوار عاشق تر معشوقي پوري بې ننګ دی
(۳۱۱- مخ)

**په لومړۍ خطي نسخه کي د (څښتن) پر ځای (صاحب) ثبت دئ.**

**یا:**

که مې یاد، که مې نایاد کاندي مخدوم دی
د چـاکــر مې له څښتنه حـجت کــوم دی
(۳۳۷- مخ)

**د دې مخ په دوهمه حاشیه کي لیکل سوي دي چي په ټولو قلمي نسخو کي د (څښتن) پر ځای (صاحب) ثبت دئ.**

***

**کر او کوره:**

**کوڼ او کوره:**

د دنیا د سود دپاره کوڼ او کوره
څه خـو شـرم مروت وته وګـوره
(۲۸۳- مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کليات ترتيبوونکي ورته کښلي دي چي دا کلمات په "لومړۍ، دريمه، څلورمه" خطي نسخه کي "کر و کوره" دي.**

* * *

**ليدن ، ديدن:**

**خوشحال وايي:**

عـــاشـــقانو دي ارزو وکـــړه لـــيدن ته
چي د کښلي مخ صفت دې شنفته شو
(۱۸۰– مخ)

**د دغه مخ نهمه حاشيه وايي چي په ټولو قلمي نسخو کي د (ليدن) پر ځای (ديدن) راغلی دئ. يا:**

زه ئې قتل په ليدل يم
دارانــه ده پــــروا داره
(۲۱۱– مخ)

**دلته ئې هم په حاشيه کي کښلي دي چي په ټولو قلمي نسخو کي د (ليدل) پر ځای (ديدن) ليکل سوی دئ. يا:**

تر ليدلو نه ئې نه ليدل بـــــهتر دي
چي و مخ ته ئې نظر کيږي په کرکه
(۲۲۹– مخ)

**د دغه مخ په دريمه حاشيه کي لومړۍ مسرۍ په خطي نسخو کي داسي ښوول سوې ده: "تر ديدنه نه ئې نه ديدن بهتر دی".**

**قادرخان خټک ويلي دي:**

يو ديدن د ښــــــکليو کـــړم ښه آواز آورم
خدای مې وبخښه اقرار په خپل تقصير يم
(۱۱۷– مخ)

**د دغه بيت "ديدن" په (ک) کي په "ليدل" اوښتی دئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دیدن کلمه په کلاسیک ادب کي په پراخه توګه کار سوی ده.

**کامګار خټک وايي:**

چي ئې منع کړ کامګار ستا له دیدنه
په تیره توره دې سر شي د دربان غوڅ
(۳۲- مخ)

***

**مچه، بوسه:**

که دې زړه وي چي دا خوږ خاطر مې روغ کړې
د لبانو مچه راکړه مومیایي ده
(۲۹۱- مخ)

**محشي وايي چي په "دوهمه، دریمه" نسخه کي "بوسه" ده.**

***

**میان، منځه:**

**عبدالقادرخان وايي:**

د عشق په کار کي چي څوک صادق شي
د یار د مهر هاله لایق شي
دویي د دواړو تر میان ووزي
عاشق معشوق شي معشوق عاشق شي
(۴۰۲- مخ)

**د دې څلوریځې د دریم نیم بیتي د "میان" کلمه په (ک) نسخه کي "منځه" سوې او په (هـ) نسخه کي "مینځه" سوې ده. له دې څخه معلومېږي چي د هري نسخې کاتب د خپلي دلچسپۍ له مخي په متن کي لاس وهلی دئ.**

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مېلمستيا، مهماني:**

**مېلمه، مهمان:**

مېلمستيا مې د زړه وينې ورته کښېښوې
چې مېلمه مې شــو د يار خيال په سترګـو
(۱۷۸- مخ)

**خيال بايد دوې څپې ولوستل سي.**

**دا دواړه کلمې د محشي په حواله، په خطی نسخو کې د (مهمانی) او (مهمان) په شکل ثبت دي خو د چاپي دېوان ترتيبوونکو هغه پښتو کړي دي. دا کار خو په ښه نيت سوی دئ خو پر هغه باندي د خوشحال د شعر نوم ايښوول د زړه ورو کار دئ؟**

* * *

**ناپوه، نادان:**

**پوه، دانا:**

**دا لغتونه هم خوشحال خان زياتره د (نادان) او (دانا) په شکلو کي ليکلي دي خو په چاپي دېوانو کي (ناپوه) او (پوه) سوي دي:**

د خوشحال ويل که دُر قيمت بها دي
و ناپوهـــــو ته بتر دي تر کونجـکو
(۱۷۸- مخ)

**په لمنليک کي ورته کښلي دي چي په قلمي نسخو کي "و نادان وته بتر دي تر کونجکو".**

* * *

**ور، در (دروازه):**

د خاطـــر ور مي تړلی دی په غيرو
له عـالمه سره ناست په فکر ستايم
(۱۳۹ - مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ور) ته ئې په حاشیه کې کښلي دي "قلمي (نسخې) او ارمغان: در".
دا تصرف هم د چاپي متن پر ترتیبوونکو تاوان دئ.

په قلمي نسخو کې د (ور= دروازه) له پاره هر وخت (در) راغلی دئ.

دا کلمه په پښتو کې نور مشتقات هم لري لکه (دربدره)، (درگاه)، (دروېزه)، ... د کندهار په لهجه کې (در) او (دروازه) عام استعمال لري. د خوشحال خان د دېوان په ځینو چاپي نسخو کې (در) په (ور) اوښتی دئ.

یا:

ســـتا په ورد ســرفـــراز و
تل سجود دی د بې نیاز و
(۱۷۳- مخ)

په لومړۍ خطي نسخه کې د (ور) پر ځای (در) دئ او دې خبري ته په حاشیه کې اشاره سوې ده.

یا:

زه چې ستا له غمه زار کړم ستا په در کي
که دې غـــوږ زما په زار وای څه به ښه و
(۱۷۵- مخ)

په حاشیه کې ئې ورته کښلي دي چې "د کامل په دواړو چاپونو او کندهار چاپ" کې (در) په (ور) اوښتی دئ. دا کار دونه زیات تکرار سوی چې د کلیات ترتیبوونکی اړ سوی دئ د ۲۶۱ مخ په لومړۍ حاشیه کې داسې وکاږي: "یادونه: په قلمي نسخو کې د (ور) په ځای هر چیرې (در) راغلی دی نو دې یادونې ته بیا ضرورت نشته".

* * *

**وژو، کشتن:**

د خوشحال خټک په کلیاتو کې لولو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وژو د عـــاشــقانو هسې ځغــلې
نیم بسمل ئې په ځای پرېښوم له تلواره
(۲۱۵– مخ)

**په قلمي نسخو کي د (وژو) پر ځای (کشتن) ثبت دئ. یا:**

لیچي څه لـره غـړي توره وکاږي
که د خوارو د وژو په آهنګ نه ده
(۲۷۶– مخ)

**دلته ئې هم په حاشیه کي ورته کښلي دي چي په قلمي نسخو کي (کشتن) دئ.**

***

**هدیره، ګورستان:**

**د خوشحال خان په دې لاندي بیت کي د دېوان د حاشیه لیکونکي په استناد د قلمي نسخو (ګورستان) په (هدیره) الیش کړی دئ:**

هدیره ئې د شهید په څنګ کي بویه
هر سړی چي مړ په توره د بیلتون شو
(۱۸۶– مخ)

***

**یکدل او یکزبان:**

**یو زړه او یو زبان:**

**خوشحال ویلي دي:**

چي په مینه کي یو زړه او یو زبان وي
تر هـــــر چا د هغو چار په برکت ده
(۲۷۷– مخ)

**په قلمي نسخو کي (یکدل و یکزبان) دئ او دا خبره د همدې مخ په دوهمه حاشیه کي سوې ده.**

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دلوی احمدشاه باباپه کلام کي[۱]:**

د لوی احمدشاه بابا په کلام کي دغه راز ژباړل سوي کلمې بېخي ډېري دي. چا راته وويل چي دا خو ښه کار سوی دئ، ما په جواب کي ورغبرگه کړه چي په ښه و بدکي ئې زه څه نه وايم خو دونه خبره ده چي د کوم شاعر په کلام کي دا راز لاسوهنی وسي، دا کلام نو بيا د شاعر خپل کلام نه دئ او په لاسوهونکي پوري تړل کيږي.

**آفتاب:**

**لمر:**

**احمدشاه بابا وايي:**

د سهار آفتاب راوخوت
پرې چمن کـوي زېبونه
(۱۲۷– مخ)

د لوی احمدشاه بابا دېوان په لومړي چاپ (۱۳۱۹ش = ۱۹۴۰ع، پښتوټولنه) کي اول نيم بيتی "د سهار لمر چي راوخت" سره اوښتی دئ او دا اړونه بيا په هغه چاپ کي هم اخيستل سوې ده چي د مومن موحد په زيار په (۱۳۷۸ش = ۱۹۹۹ع کي د کندهار او پېښور چاپونو له گډولو څخه برابر سوی دئ. تر دې وروسته به زه لومړی چاپ په (ل) او د مومن موحدچاپ په (م) سره ښيم.

**آهوچشمه:**

**هوسۍ سترگې:**

**احمدشاه باباويلي دي:**

---

[۱] يادونه: په دغه بحث کي هر بيت ته د مخو شمېر د (لوی احمدشاه بابا دېوان مشهور په دېوان هرا) دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـم په حسن ښايسته ده
آهو چشمه خوش رفتاره
(۹۶- مخ)

په (ل) کي دوهمه مصرع "هوسیٰ ستر ګې زړه آزاره" ده او په (م) کي بيا "آهوستر ګې زړه آزاره" ځني جوړه سوې ده.

د همدې مخ په يوه بله غزل کي بيا له "آهوچشمه ګل اندامه" څخه په (ل) کي "هوسیٰ ستر ګه ګل اندامه" جوړه سوې ده او په (م) کې بيا څه ګوتي په وهلي دي او "هوسیٰ ستر ګې ګل اندامه" کړې ئې ده. بل ځای:

آهـــو چشـــمه ګل بـــدنه
تل په زړونو تاخت کوينه
(۱۳۶- مخ)

په (ل) او (م) کي "هوسیٰ ستر ګې ګل بدنه" دئ.

**اشنا:**

**مين:**

احمدشاه بابا وايي:

د اشنا لـــورى دي کوم دئ
چي دا هسې تېز رفتار ځې
(۱۴۱- مخ)

په (ل) او (م) کي "د مين لوری دي کوم دی" ثبت دئ.

د همدې غزل په څلرم بيت کي بيا (يار) لغت په پېښور چاپ کي په (اشنا) سره اړول سوی دئ.

**بسته:**

**تاړه:**

احمدشاه بابا وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خــزان باد دي بسته سي
چي بلبل به سي پرې خوار
(۳۸– مخ)

په (ل) او (م) کي د اولي مصرع پر ځای "د خزان باد دي تاړه سي" راغلی دئ. د کاتب دې ته نه دئ پام سوی چي (تړل) فعل د (باد) له پاره نه کارېږي، بلکي د باد له پاره (بندول) فعل سم ايسي.

**بلندئ:**

**هسکواله:**

لوی احمدشاه بابا ويلي دي:

معشوقه په بلندئ لکه اسمان سوه
و اســــمان و ته لاس نه رسي د چا
(۲۵– مخ)

د لوی احمدشاه بابا دېوان په لومړي چاپ (ل) کي "بلندئ" په "هسکواله" باندي اړول سوې ده او دا اړونه بيا (م) هم اخيستې ده.

**بهار:**

**پسرلی**

احمدشاه بابا وايي:

د بــهار وريځ ورېږي
مين بلبل په هوسېږي
(۱۶۶– مخ)

په (ل) او (م) کي "د پسرلي وريځ وريږي" دئ.
دغه راز د همدې غزل شپږم بيت:

ديدن گل د نوبهار دئ
د بلبل زړه پــر نازيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په (ل) او (م) کي (د نوبهار) په (د پسرلي) سره اوښتی دئ.**

**په پېښور چاپ کي (پر) هر ځای په (په) اوښتی دئ.**

**لوی احمدشاه بابا وايي:**

گوره پر مخ شنه خالونه
زېب که شـنه گلان زمـا
(۳۱– مخ)

**په پېښور چاپ کي " گوره په مخ شنه خالونه" سوی دئ او (م) هم اخیستی دئ.**

**بل ځای:**

پر يوه ســکونت نه که
د هر گل دئ يار اغيار
(۳۹– مخ)

**په پېښور چاپ کي "په يوه سکونت نه که" سوی دئ.**

**بل ځای:**

عاشقي ده لـکه غرونه پر ما باندي
د دې غــرونو څه طاقت دئ د بشر
(۴۰– مخ)

**په پېښور چاپ کي "عاشقي ده لکه غرونه په ما باندي" سوې ده.**

**بل ځای:**

**احمدشاه بابا وايي:**

پر سينه پرتې قراري
د عاشق د زړه خونخواري، ريحان زلفي سنبل
(۵۲ – مخ)

**په پېښور چاپ کي "په سينه پرتې قراري" ځني جوړ سوی دئ او (م)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم اخیستی دئ.

بل ځای:

احمدشاه بابا ویلي دي:

چي عاشق په رونړا درومي
پر غافـــــل تیاره بلا ده
(۸۸- مخ)

په پېښور چاپ کي "په غافل تیاره بلا ده" ثبت دئ یعني (پر) ئې په (په) اړولی دئ.

بل ځای احمدشاه بابا ویلي دي:

د اشنای دیدن باران دئ
لــکه زمـــکه په اوبېږه
(۱۰۰- مخ)

په پېښور چاپ کي دوهمه مصرع "لکه زمکه پرې اوبېږه" سوې ده.

د همدې غزل په مقطع کي لوی احمدشاه بابا ویلي دي:

"احمد" نفس سره دعوه ده
ربه تـــــه پـــــر ودرېـــږه

(درېدل) دلته د (پلوي، ملگریت) په معنا راغلی دئ. د پېښور چاپ ترتیبوونکي ته دا لغت نااشنا ښکاره سوی دئ یا به د هغې نسخې کاتب ته نااشنا ښکاره سوی وو، چي د پېښور چاپ ترتیبوونکي استفاده ځني کړې ده، ځکه ئې د مقطع دوهم نیم بیتی ټول اړولی او"ربه ته پرې ورحمېږه" کړی ئې دئ. بل ځای:

ولي زړه پــه خـــــبر نه دئ له رفتنه
چي دا هسي ژر تېرېږي درېغه درېغه
(۱۰۴- مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په پېښور چاپ کې "ولې زړه پرې خبر نه دی له رفتنه" ثبت دئ.**

**بل ځای:**

برابر مــين پـــــه ولي
سړی وباسي له ژواکه
(۱۰۶– مخ)

**په پېښور چاپ کې له"... په ولي" څخه " پر ولي" جوړ سوی دئ.**

**بل ځای:**

پر باړخو مي سپيني ويني د هجران له اوره ولاړې
چې د دې نيازمنو کډې پــه ارمان له کوره ولاړې
(۱۴۶– مخ)

**په (م) کې "په باړخو مي سپيني ويني د هجران له اوره ولاړې" ثبت دئ.**

* * *

**پريرويه:**

**پري مخه:**

**احمدشاه بابا ويلي دي:**

پري رويه مـــاه پيـــکره
د آفتاب په څير عليا ده
(۸۸– مخ)

**په (ل) کې اول نيم بيتی "پري مخه سپوږمۍ ډوله" سوی دئ او (م) هم کټ مټ اخيستی دئ.**

**بل ځای:**

نرگس چـــشمه پريرويه
عاشقان باسې له ژونده
(۹۰– مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (ل) کي اوله مصرع داسي ده: "نرگس سترگي پري مخي". (م) هم کټ مټ اخیستې ده.

بل ځای:

خوش آهنگه پریرویه
گـوره زړه اخلي مینه
(۱۳۶- مخ)

په (ل) او (م) کي اول نیم بیتی "خوش اهنگه پري مخه" دئ.

***

پري چهره:

پري مخه:

احمدشاه باباویلي دي :

نازنینه پري چـــهره
ده راغلې له گلزاره
(۹۵ – مخ)

په (ل) او (م) کي اول نیم بیتی "نازنینه پري مخه" سوی دئ؟

***

جدایي:

بېلتون:

احمدشاه بابا وايي:

په شـــمال د جـــــدایي ئې راضي نه ســـــم
په دې خوښ یم که وصال وي په اورو کښي
(۱۵۲- مخ)

په (ل) او (م) کي "په شمال د بېلتانه به راضي نه سم" دئ.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چاه:**

**کوهي:**

چي په چاه دي د زنخ آب حيات دئ
عــاشقانو زندگي په زنخدان ستا
(۲۷- مخ)

**په (ل) چاپ کي ئې لومړۍ مصرع "چي په کوهي دي د زنخ آب حيات دی" کړی دئ او (م) هم همداسي اخيستی دئ. په نورو ټولو نسخو کي د (کوهي) پر ځای (چاه) راغلی دئ او دا تصرف د ژبي د سوچه کېدلو تر افسون لاندي سوی دئ.**

**د همدې غزل د پای له خوا د اول بيت لومړی نيم بيتی ئې سر تر نو که ټول اړولی دئ. لوی احمدشاه بابا ويلي دي:**

د عشق طوق ئې پر گردن درته ولاړ دئ
همېشه د هـــو نارې کړي قـمريان ستا

**په (ل) کي لولو:**

"غړوندی د عشق په غاړه تل ولاړ دی"

**(م) هم دغه ژباړل سوې مصرع کټ مټ اخيستې ده. بايد وويل سي چي د پښتو په ځينو لهجو کي (غړوندی) د ښارويو له پاره کارېږي (د رفيع صاحب له خولې – اکتوبر ۲۰۱۰ع).**

* * *

**خدنگ:**

**غشي:**

**احمدشاه بابا وايي:**

په تېره خـدنگ دا ولي
د عاشق کـومه سزا ده
(۸۸ - مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (ل) کي (خدنګ) په (غشي) سره اليش سوی دئ او (م) هم اخيستی دئ.

***

**خزان:**

**منی:**

**احمدشاه بابا ويلي دي:**

د ګلـــزار به هـــوس وکــه
چي تمام د خزان شپې سوې
(۱۵۴– مخ)

**په (ل) او (م) کي "چي تمام د مني شپې سوې" دئ.**

***

**دامه:**

**لومه:**

**احمدشاه بابا ويلي دي:**

دی له دامه نه خلاصيږي
که ځان سل ګـړی تالاکه
(۱۰۶– مخ)

**په (ل) او (م) کي "له دې لومي نه خلاصيږي" ثبت دئ. په پېښور چاپ کي ئې د دوهمي مصرع "سل ګړی" په "سل ځلي" اوښتی دئ.**

***

**درد:**

**وير:**

**احمدشاه بابا ويلي دي:**

بيا هاله به ته د غم له درده خلاص سې
چي د زړه ترکــه هــوا کــړې زمـا دله
(۱۱۹ – مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (ل) او (م) کي له اول نيم بيتي څخه "بيا هاله به ته د غم له ويره خلاص سې" جوړ سوی دئ. (وير) خو هم (غم) ته وايي او دلته د غم تکرار شعر عيبجن کړی دئ. (د غم درد) دلته مناسب ترکيب دئ چي د ناسخ په قلم مسخه سوی دئ.

***

**دُرونه:**

**مرغلري:**

**احمدشاه بابا وايي:**

سپين ئې غاښ لکه درونه
بې بها قيمت لرينه
(۱۳۶- مخ)

**په (ل) او (م) کي "سپين ئې غاښ دي مرغلري" دئ.**

***

**دل آزاره:**

**زړه آزاره:**

**احمدشاه بابا وايي:**

دل آزاره شوخ و شنګه
تل په وروځو جنګ کوينه
(۱۳۶ - مخ)

**په (ل) او (م) کي " زړه ازاره شوخ و شنګه" دئ.**

***

**دلخراب:**

**زړه خراب**

يار خلوت کښې وو له ما سره جوړ سوی
زړه مي ريږدي له رقيبه دلخراب
(۳۲ - مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (ل) کي دوهمه مصرع "زړه مي رېږدي له رقيبه زړه خراب" او (م) هم همدا شان نقل کړی دئ. د لاسوهونکي په دغه مصرع کي د "زړه" ويي د تکرار عيب ته هيڅ پام سوی نه دئ. بل ځای:

راسه نن سينه کباب يم

ومي گوره دل خراب يم

(۶۲ – مخ)

په (ل) او (م) کي دوهم نيم بيتی "ومي گوره زړه خراب يم" سوی دئ.

***

**دلفريبه :**

**زړه فريبه:**

**احمدشاه بابا وايي:**

دا خوشبويه عطرناکه

دلفـــــريبه دلــربا ده

(۸۸ – مخ)

په (ل) او (م) دوهم نيم بيتی "زړه فريبه دلربا ده" ثبت دئ.

***

**دل آرامه:**

**زړه آرامه:**

**احمدشاه بابا ويلي دي:**

آهو چشمه گل اندامه

دل آرامـــه مه پيکره

(۹۶ – مخ)

د دوهمي مصرع (دل آرامه) په (ل) او (ک) دواړو کي "زړه آرامه" سوی دئ.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دیدن:**

**لیده:**

**احمدشاه بابا ویلي دي:**

د اشنای دیدن باران دئ
لکه زمکه پــه اوبیږه
(۱۰۰ – مخ)

**په (ل) او (م) کي اول نیم بیتی داسي دئ: "د اشنای لیده باران دی". باید وویل سي چي دلته "زمکه" هم د لهجوي دلچسپیو تر اغېزې لاندي د شاعر د خپل وینگ پر خلاف، چي "مځکه" ده، اړول سوې ده.**

**بل ځای:**

که دي ښاد په دیدن نه کړم
دی بــه ومري ستا له غمه
(۱۲۲ – مخ)

**په (ل) او (م) کي "که دي ښاد په لیدو نه کړ" دئ.**

**د همدې غزل په څلرم بیت کي وایي:**

زړه چي ستا په دیدن ښاد وي
هــغه زړه تل وي بې غـــــمه

**په (ل) او (م) کي دلته هم (دیدن) په (لیدو) اوښتی دئ.**

**بل ځای:**

"احمد" تل کوي شکرونه
پــه دیدن ئې تسلې سوې
(۱۵۴ – مخ)

**په (ل) او (م) کي "په لیدو ئې تسلې سوې" ثبت دئ.**

**بل ځای:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اشنای دید ئې مــرهم دئ
بې دې کومړ پرهـار رغېږي
(۱۶۶ – مخ)

**په (ل) او (م) کي "د اشنای لید ئې مرهم دی" ثبت دئ.**

* * *

**دیده :**

**سترگه:**

**احمدشاه بابا ویلي دي:**

مـخـــامـخ راته ولاړه
نه سوه وړي دیده سېر
(۴۲ – مخ)

**په (ل) او (م) کي "نه سوه وړې سترگه سېر". باید وویل سي چي د بابا په کلام کي "دیده" جمع نوم دئ او باید په "سترگي" اړول سوی وای.**

* * *

**راسه:**

**راشه:**

**لوی احمدشاه بابا وایي:**

و عاشق ته جواب ورکړې
بــیا ناري وهې چي راسه
(۱۰۰ – مخ)

**د دې غزلي نوري قافیې (بې هراسه، لاسه، تاسه، اساسه، کم وکاسه، له آسه) دي خو د پېښور چاپ ترتیبوونکي د شینیت تر اغېزې لاندي د شاعر په کلام کي لاس وهلی، "راسه" ئې "راشه" کړی او شعر ئې عیبجن کړی دئ.**

**بل ځای لوی احمدشاه بابا ویلي دي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لــــــویو لــــــویي څه کـــمه نه سي
که هلک ته چیري و وائې "چي" راسه
(۱۰۰ – مخ)

**د دې غزل نوري قافیې (باسه، وسواسه، دپاسه، مواسه، جارباسه، تاسه، له آسه) دي. دلته بیا د پېښور چاپ ترتیبوونکی د شعر قافیو ته متوجه دئ خو د (راسه) منلو ته د شینیت په حکم تیار نه دئ، ځکه ئې نو بیا په شعر کي لاس وهلی دئ او دوهم نیم بیتی ئې"که و هلک ته چیرې وائې دلي پاسه" کړی دئ. د (م) چاپ هم دغه لاسوهنه نقل کړې ده او ده بیا له"وائې" څخه "ووائې" جوړ کړی دئ. دا نو بیا په لاسوهنه کي بله مداخله ده او شعر گویا مسخ المسخ سوی دئ.**

***

**زلفي:**

**څنې:**

**احمدشاه بابا وایي:**

زړه دغې ناداني وړی
پر گـردن زلفي چـاپېر
(۴۲ – مخ)

**په (ل) کي "پر گردن څنې چاپېر" سوی دئ او (م) هم دغه شکل اخیستی دئ.**

***

**سخره:**

**ښاخونه؟**

**احمدشاه بابا ویلي دي:**

د قدرت اوبه ئې ورکړې
له وچ ســخره کا اشجـار

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (ل) او (م) کي دوهمه مصرع داسي اليشه سوې ده:

"وچ ښاخونه کا اشجار"

د همدې غزل "مقطع" شاعر داسي ويلې ده:

"احمد شاه" شپه ورځ ثناکه
عـــقل دچار سي په دا کار

دلته (رسي = رسېږي) دئ يعني په دې کار باندي د چا عقل رسېږي. په پېښور چاپ کي د شينيت تر اغېزې لاندي "عقل دچار شي په دا کار" کړی دئ.

* * *

سخي:

ښکلې؟

احمدشاه بابا وايي:

د ښايست مخي ئې نسته
هـــم سخي ده بې ادراکـه
(۱۰۷ – مخ)

په (ل) کي دوهمه مصرع "هم ده ښکلې بې ادراکه" ده او (م) هم اخيستې ده. دلته ئې په دغي لاسوهني سره شعر ډېر عيبجن کړی دئ ځکه د اول او دوهم نيم بيتي توپير د معنا له مخي هيڅ نسته دواړه يو مطلب دئ!

* * *

سروه:

سبر:

احمدشاه بابا ويلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاشقان ئې زخمي کړي
جوړه ســروه د جويباره
(۹۵ – مخ)

**په (ل) کي دوهم نيم بيتی داسي دئ: "په قد سبر د جويباره" او (م) هم کټ مټ اخيستی دئ.**

**بل ځای:**

نــــازنيــنه دل آزاره
جوړه سروه صنوبره
(۹۶ – مخ)

**په (ل) او (م) کي له دوهم نيم بيتي څخه "جوړه سبر، صنبره" جوړ سوی دئ.**

**بل ځای:**

پــــه قد سروه صنوبر ده
زړونه ځکه ګرېوان چاکه
(۱۰۷ – مخ)

**په (ل) او (م) کي "په سبر صنوبره" دئ.**

**بل ځای:**

په قد ســـروه صـــنوبره
سپين چوړائې مړوندونه
(۱۲۵ – مخ)

**دغه (سروه) هم په (ل) او (م) کي "سبر" سوې ده. بل ځای:**

سروه قـــده ګل عـذاره
خوښ رفتاره ځي مهينه
(۱۳۶ – مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (ل) او (م) کي دغه ځای (سبرقده) سوی دئ.

***

**سوختنه:**

**سوځلو:**

لوی احمدشاه بابا ویلي دي:

بې سوختنه آرام نه که
بېگانه له پلار و موره
(۹۷ - مخ)

په (ل) کي له لومړۍ مصرع څخه "بې سوځلو آرام نه که" جوړ سوی دئ او (م) هم اخیستی دئ.

***

**سینه:**

**ټټر:**

احمدشاه بابا وايي:

راسه نن سینه کباب یم
ومي گوره دل خراب یم
(۶۲ - مخ)

په (ل) او (م) کي اول نیم بیتی "راسه نن ټټر کباب یم" ځني جوړ سوی دئ. د لوی احمدشاه بابا په لهجه کي (ټټر) دومره زیات استعمال نه درلود.

بل ځای:

دم په دم ئې یار یادېږي
سینه سوې لکه سکوره
(۹۷ - مخ)

په (ل) او (م) کي "ټټر سوی لکه سکوره" ثبت دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بل ځای بیا د (سینه) پر ځای (زړګی) راوړل سوی دئ:**

**احمدشاه بابا ویلي دي:**

د ښایست هوسناک ډېر دي
د چـــا ، چـــا ســـینه سپنده
(۹۰ – مخ)

**په (ل) او (م) کي دوهمه مصرع "د چا چا زړګی سپنده" ثبت سوې ده.**

***

**سیمین تنه:**

**سپین تنه:**

**احمدشاه بابا ویلي دي:**

سیمین تنه ګل بدنه
جهانګیره سراسره
(۹۶ – مخ)

**په (ل) او (م) کي له اول نیم بیتي څخه "هم سپین تنه ګل بدنه" جوړ سوی دئ.**

***

**سیه چشمه:**

**توري سترګي:**

**احمدشاه بابا وایي:**

سیه چشمه دلربایه
شکر لبه قد عرعـره
(۹۶ – مخ)

**په (ل) او (م) کي اوله مصرع "توري سترګي دلربایه" کړې ده.**

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سیه:**

**تور:**

**احمدشاه بابا وايي:**

هم خوشخویه عنبربویه
توري زلفي سیه مارونه
(۱۲۵ - مخ)

**په (ل) او (م) کي له دوهمي مصرع څخه "توري زلفي تور مارونه" جوړ سوي دي.**

* * *

**شکرلبه:**

**خوږه شونډې:**

**احمدشاه بابا وايي:**

شکرلبه سـیم غبغبه
موکمره یک تنها ده
(۸۸ - مخ)

**په (ل) نسخه کي اول نیم بیتی "خوږه شونډې سیم غبغبه" دئ او (م) هم نقل کړی دئ.**

**بل ځای:**

**احمدشاه بابا وايي:**

سیه چشمه دلربایه
شکرلبه قد عرعره
(۹۶ - مخ)

**دوهمه مصرع په (ل) او (م) کي "خوږه شونډه قدعرعره" سوې ده.**

**بل ځای:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکرلبه سیم غبغبه
زمـا خونه به تالاکه
(۱۰۸ – مخ)

**په (ل) او (م) کي "خوږه شونډه سپين غبغبه" دئ.**

* * *

**شېرين عمر :**

**خواږه عمر :**

**احمدشاه بابا ويلي دي :**

لکه اور ته ناقـــراره ځي ســتيه
شيرين عمر وته شا کړې زما دله
(۱۱۹ – مخ)

**په (ل) او (م) کي "خواږه عمر وته شاکړې زما دله" دئ.**

* * *

**شېرين اشناى :**

**خوږ مين :**

**احمدشاه بابا ويلي دي :**

نه ئې لاس وي نه ئې پښې وي
شـــېرين اشــــناى روانيږى
(۱۶۵ – مخ)

**په (ل) او (م) کي دوهمه نيم بيتى "خوږ مين ئې روانيږي" ثبت سوى دئ.**

* * *

**ښوراښور :**

**شوروشر :**

**احمدشاه بابا وايي :**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا ډېر ډېر ښورا ښور دي نه پوهېږم
هسي نــــرم زړګی چا کړې زمـــا دله
(۱۱۹ – مخ)

د پېښور چاپ ترتیبوونکي لکه چي د"ښوراښور" په پوهېدلو کي ستونزه درلوده ځکه ئې له هغه څخه "په دا ډېر ډېرشور و شر دي نه پوهېږم" جوړ کړی دئ. له (زړه) سره (شر و شور) نه لګېږي. (شروشور) عموماً په سر کي وي نه په زړه کي.

∗∗∗

**عاشقان:**

**مينان:**

**احمدشاه بابا وايي:**

عاشقان ئې په اور وسوه
ســور پېزوان لکه اخګر
(۴۱ – مخ)

**په (ل) او (م) کي "مينان ئې په اور سوي" ځني جوړ سوی دئ او نوري ټولي خطي او چاپي نسخې چي ما ليدلي دي، "عاشقان" راوړي دي.**

**بل ځای:**

د معشوق تعريف مي وکړ
عاشــــقان به ئې لــولينه
(۱۳۷ – مخ)

**په (ل) او (م) کي "مينان به ئې لولينه" دئ.**

∗∗∗

**عشق:**

**مينه:**

**احمدشاه بابا ويلي دي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مي غوټه د ګرېوان ځې
تل د عشق غوټه په غاړه
(۹۹ – مخ)

**دلته بیا خبره بالعکس ده. په خطي نسخو کې د عشق پر ځای مینه راغلې ده.**

* * *

**فراق:**

**بېلتون:**

**لوی احمدشاه بابا وایي:**

زړه بې څرنګ غوښې ويني ژړا نه که
د فراق اوښې په سترګــو تړې ډنډه
(۹۲ – مخ)

**په (ل) او (م) کې دوهمه مصرع داسې ژباړل سوې ده: "د بېلتون اوښې په سترګو تړې ډنډه".**

* * *

**کج رفتاره:**

**کوږ رفتاره:**

**احمدشاه بابا وایي:**

سنبل مویه کج رفتاره
تل د زړونو ســر وهینه
(۱۳۶ – مخ)

**په (ل) او (م) کې "سنبل مویه کوږ رفتاره" دئ. بل ځای:**

ته وچا وته هـــم ګورې
که تل هسې کج رفتار ځې
(۱۴۱ – مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په (ل) او (م) کې "که تل هسې کوږ رفتارځې" دئ.**

* * *

**کښېښو:**

**کېښود:**

چې ئې سر په مینه کښېښو
هـغه یـــوو ړه محـــبوبا
(۲۶ – مخ)

**په (ل) او پېښور چاپ کې "... کېښود" سوی دئ.**

**بل ځای:**

سر و مال دې یار ته کښېږدې
په دنیا کــوې ناڅــــــار
(۴۰ – مخ)

**په پېښور چاپ کې "سر ومال دې یار ته کېږدې" سوی دئ او (م) هم اخیستی دئ. یا بل ځای:**

که د یار په عشق سر کښېږدې
"احـــــمد" ها له کا اخــتر
(۴۱ – مخ)

**په پېښور چاپ کې (کېږدې) سوی دئ.**

* * *

**کښېووت:**

**کېووت:**

چې د زلفو په دام کښېووت
دا عاشــــــق ووې بـلا
(۲۶ – مخ)

**په پېښور چاپ او (م) کې "…. په دام کېووت" سوی دئ.**

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لبان:**

**شونډان:**

**احمدشاه بابا وايي:**

سره لبان ئې ځنګه خاندي
دا سپين غاښ ئې مرغلري
(۱۴۴ – مخ)

**په (ل) او (م) چاپ کي "سره شونډان ئې ځنګه خاندي" سوی دئ او داسي معلومېږي چي دا لاسوهونکی د لويديځې لهجې ويونکی وو.**

***

**له دسته ... له پا:**

**له لاسه ... له پښو:**

**لوی احمدشاه بابا ويلي دي:**

چي له دسته نا اميده هم له پا سي
بل اميد ئې پاته نه سي بې له خدا
(۲۵ – مخ)

**په (ل) کي لومړی نيم بيتی داسي اړول سوی دئ:**

"چي له لاسه نا اميده هم له پښو سي"

**په (م) کي هم دغه ترجمه سوي کلمات اخيستل سوي دي.**

**لوی احمدشاه بابا هر ځای "تل تتله" کار کړی دئ، خو په (ل) کي "تل تر تله" سوی دئ او (م) هم په پټو ستر ګو اخيستی دئ.**

دغه عشق به له تا نه ځي تل تتله
له سوا وو په ســـوا کړې ته سوا
(۲۵ – مخ)

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ماه پیکره:**

**سپوږمۍ مخه:**

احمدشاه بابا ویلي دي:

پري رویه مـــاه پیــــکره
د آفتاب په څیر علیا ده
(۸۸ – مخ)

**په (ل) کي اول نیم بیتی "پري مخه سپوږمۍ ډوله" سوی دئ او (م) هم کټ مټ اخیستی دئ. د "سپوږمۍ ډوله" ناوړه ترکیب په ټول پښتو ادب کي نه دئ په ستر ګه سوی.**

* * *

**موی کمره:**

**ملاوېښته:**

احمدشاه بابا وایي:

له دې حُسنه ئې څه وایم
موی کـــــمره قد بلنده
(۹۰ – مخ)

**په (ل) او (م) کي دوهمه مصرع په "ملاوېښته ده قدبلنده" سره الیشه سوې ده.**

* * *

**میان:**

**منځ:**

احمدشاه بابا وایي:

نفس په میان زموږ رقیب دئ
نصیحت نـــه سي له نصـوح
(۳۶ – مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په (ل) او (م) کي اول نیم بیتی "نفس په منځ زموږ رقیب دئ" سوی دئ.**

***

**نادان:**

**ناپوه:**

**احمدشاه بابا ویلي دي:**

دی نادان دئ هوښیار نه دئ
خــپل نصیب ئې مبـتلا که
(۱۰۶ – مخ)

**په (ل) او(م) کي اوله مصرع "دی ناپوهه نه هوښیار دی" سوې ده**

***

**ناداني:**

**ښکلي:**

**احمدشاه بابا ویلي دي:**

زړه دغې ناداني وړی
چي ځلیږي لکه لــمر
(۴۱ – مخ)

**په (ل) او(م) کي "زړه مي دغې ښکلي وړئ" سوی دئ.**

**بل ځای ئې د (ناداني) پر ځای (شها) راوړی دئ:**

**د بابا خپل کلام داسي دئ:**

زړه دغې ناداني وړی
پر گردن زلـفي چاپیر
(۴۲ – مخ)

**خو په (ل) او (م) کي داسي اړول سوی دئ:**

زړه مي دغې شها وړی
پر گــردن څوڼي چاپیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتو کي "څوڼي" د نارينه وو اوږدو وروېښتانو ته ويل کيږي او د "زلفو" له پاره که د پښتو معادل لغت مراد سي، نو بيا "کوڅۍ" ئې مناسب معادل دئ، نه "څوڼي".

∗ ∗ ∗

**نرگس چشمه:**

**نرگس سترگي:**

**احمدشاه بابا وايي:**

نــرگس چشمه پريرويه
عاشقان باسې له ژونده
(۹۰ – مخ)

**په (ل) کي او له مصرع داسي ده: "نرگس سترگي پري مخي". (م) هم کټ مټ اخيستې ده.**

**هجران:**

**بېلتون:**

**لوی احمدشاه بابا ويلي دي:**

هجـــران وصل گڼه يو دئ
زړه خلاص نه د غم له شوره
(۹۷ – مخ)

**لومړۍ مصرع په (ل) او (م) کي "بېلتون وصل گڼه يو دی" ثبت دئ.**

**بل ځای:**

د هجران نوم چيري مه اخله" احمده"
له هجرانه رېزمرېزيـم په هډو کښي
(۱۵۲ – مخ)

**په (ل) او (م) دواړو کي دواړه (هجرانه) په (بېلتون) سره اوښتي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بل ځای:**

د هجـــران په اور دي سوي
په وصال ئې زرغونې سوې
(۱۵۴ – مخ)

**لومړی نیم بیتی که څه هم په (ل) او (م) کي یو څه توپیر لري، خو په دواړو کي (هجران) په (بېلتون) سره اوښتی دئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژبپوه ستونزي او د متنپوه مسئوليتونه

**پر خطي نسخو باندي د اعتبار ستونزه:**

له موجودو پښتو متونو څخه د ژبي اساسي څېړنه که نامکنه نه ده، نو ګرانه خو هرومرو ده. له يوې خوا د متن د ليکوال يا شاعر په لهجه باندي پوهېده غواړي او له بلي خوا د متن په لوستلو کي دقت او احتياط. پر پښتو متونو باندي بشپړ اعتماد په څو دليله ګران دئ.

يو دا چي لکه وړاندي چي مو ويلي دي، د پښتو الفبې د ايجاد له زمانې څخه بيا تر ننه پوري د ټولو آوازو او حرکاتو د افادې او ښوولو له پاره کافي نه ده.

په زړه پوري خبره دا ده چي د دغي علمي نيمګړتيا ماهيت ته د خوشحال دانشمند زوی عبدالقادرخان خټک هم متوجه سوی دئ. دی وايي:

د حرفونو لوښی تنګ معنی وي ډېره
پــه بيان نه ادا کيږي صفت ستاسې
(۳۳۸ – مخ)

دی د حروفو لوښی تنګ ګڼي او ګويا د ده په نظر د الفبې حروف د لغت يا معنا د افادې او بيان تر عهدې سم نه سي وتلای.

پښتو ليکدود د واولونو (vowels) په افاده کولو کي خو بيا بېخي زياتي ستونزي لري. په پخوانيو خطي نسخو کي د واولونو د افادې له پاره له عربي حرکاتو (فتحه، کسره، ضمه) څخه کار اخيست سوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه رشاد د خپل ناچاپ اثر "ادبي قاموس" د دريم ټوک پر اوله پاڼه باندي د يوه يادابښت په ترڅ کي کښلي دي:

"د متنونو په لوستلو کي سختۍ:

۱ – په پخوانيو متنونو کي د ځ او څ توپير نسته، ځکه نو اوس د ځ او څ په ړغونو (تورو) کي چي له محاورو څخه لغت نه وي اخيستل سوی او له زړو متنونو څخه اخيستل سوي وي، ګډون راځي.

۲ – د حرکتونو مسأله:

په پخوانيو متنونو کي ځيني حرکتونه چي اوس په تورو ښوول کېږي، نه ښوول کېده.

اوس مشکله ده د هغو تورو صحيحه ادا پيدا کړو. په تېره بيا چي هغه لغت له محاورې لوېدلی وي".

له بده مرغه د پښتو آثارو قلمي نسخې د شاعر يا مؤلف په خپل قلم ډېري نادري او د نشت په شمار دي. د حنان بارکزي دېوان له دې لړ څخه مستثنی دئ. د ده دېوان ټولي خطی نسخې چي زما تر نظر تېري سوي دي، ټولي د ده په خپل قلم خطاطي سوي دي.

هغه نسخې چي بيا د کاتبانو په لاس کښل سوي دي، نوري دنګلې لري.

د هجري په دېوان کي هغه کلمات چي په شين بايد وليکل سي، په ښين ئې ليکي او برعکس ئې لا هم. دوی ته هره (ژ) ږې (ږ) ايسېدلې ده او برعکس ئې هم. دا عمليه په نورو دېوانو کي هم ليدل کېږي.

د عبدالقادر خان په دېوان کي لولو:

د سرونو نردبان ساز کړه باندي خيږه
مــرتبې ته خـــتل نه په اساني دي
(۴۴۸ – مخ)

دلته د شاعر په خپل کلام کي بايد "خيژه" وي خو په "خيږه" راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ. "خیر" د داني یا زخم وچ پوستکي ته وایي.

(د کشینې، کښینې،...) مثالونه تاسي وړاندي ولوستل.

د هجري په دېوان کي حتي د یوه بیت په دوو نیم بیتیو کي د "اوري" او "اروي" دوه رازه املاوي راغلي دي:

هجري غــاو کله څوک اوري د بتانو
چي به اروي اوس وګرې ستا غیاث
(۲/ ۳۰۹مخ)

پر دغسي نامتجانسه املاء به څوک څرنګه د هغه وخت ژبه تحلیل کړای سي.

په دې څېړنه کي ما د رحمان بابا د دېوان له هغه چاپ څخه استفاده کړې ده چي د اروابښاد سید رسول رسا په تصحیح او مقدمه چاپ سوی دئ. دا چاپ د پادري هیوز د هغې نسخې افسیټ دئ چي نوموړي مستشرق خپور کړی او د اشنغر د تنګي اوسېدونکي مولوي احمد ئې تصحیح کړې وه[1]. دې چاپ ته اروابښاد سید رسول رسا یوه جامعه او مغتنمه سریزه کښلې ده او په هغې کي ئې د رحمان بابا پر ژوند او شعر ښه خوندور تحقیق کړی دئ. په دې څېړنه کي ئې د رحمان بابا هغه مشهور بیت دوه واره راوړی دئ، چي لومړی نیم بیتی ئې "چي منکر پرې اعتراض کولای نه شي" دئ. خو دواړه واره رانقل سوی بیت نه دا چي یو له بله سره فرق لري، بلکي د ده په لاس له خپور سوي متن سره هم توپیر لري. دا بیت د سریزي په (۳مخ) کي داسي دئ:

چه منــکر پرِ اعتراض کــولی نه شی
اې رحمانه!دا دِ شعر دی که اعجاز؟

---

[1] وګ: د دغه چاپي دېوان د سریزي ۱۷مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (۱۹مخ) کي بيا داسي دئ:

چه منکر پرِ اعتراض کولی نه شی
دا دِ شعر دی اې رحمانه! که اعجاز؟

د متن په (۵۴مخ) کي داسي دئ:

چه منکر پرِ اعتراض کولی نه شي
دا دِ شعر دي رحمانَ که اعجاز

سيد رسول رسا د پښتو ژبي نقاد محقق وو. د فارسي ادب پراخه مطالعه ئې درلوده او د انگرېزي ژبي د زده کړي له برکته ئې له لوېديځو ادبياتو سره هم بلدتيا درلوده. د ژبي او متونو په باب ئې ليکني تر زياتي اندازې دقيقي او پخې دي. د داسي چا په څېړنه کي چي متون دونه (دومره) بدل سوي وي، له نورو به څوک څه گيله وکړي.

د همدې چاپ په ۱۳۴مخ کي (خوښ خورم، خوش خورم) په يوه بيت کي راغلی دئ.

مه کړه خدای چه څوک بي يارَ خوښ خورم وي
زه به او سم بي تا خوش خورم په څه

د متونو د مسخه کېدو په جريان کي ناقلينو خپله شخصي سليقه هم پر شاعر باندي تپلې ده. احمدشاه بابا ته يو ځای د خپلي سليقې له مخي د "شها" پر ژيړه غاړه باندي تار تار زلفي ښکلې ښکاره سوي دي او ويلي ئې دي:

همېشه پر ژيړه غاړه
دوی خفته لکه ښامار دي
(۱۵۹ - مخ)

خو د (ل) کاتب يا مرتب د خپل ذوق پر اساس له هغه څخه "همېشه پر سپينه غاړه" جوړ کړی دئ او (م) هم کټ مټ اخيستی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه رشاد رحمه الله علیه د پښتانه مصنفین په لومړي ټوک ۵۸ مخ (ناچاپ) کي د شېرخان سوري له خولې لیکي چي نوموړي په متونو کي لاسوهنه "خیانت" بللی دئ. د شېرخان سوري خپل بیان داسي دئ:

"التماس از درگاه واهب العطیات چنان است که این مخدره؟ جلباب افکار را در نظر فاضلان سخنور و سخنوران فضیلت گستر بطرزی جلوه دهد که در عصمت خانه او هیچ خاینی دست نیابد چرا که چون اکثریت کتب متقدمین و متاخرین بنظر این داعی درآمده منحرف شده و اصلا بر هیئت اصلی خودنمانده.

این گلدسته هر چند که دستمال هر ناکس نگردد باطراوتست، و گوهر هر چند که از لوث دست اندازی هر خسیس مصئون ماند بالطافت[۱]".

ما ته یو وخت داسي په زړه کي راگرزېده چي د پښتو متونو پر هغه ثبت باندي ډېر حساب کېدلای سي چي مستشرقینو راوړي دي ځکه مستشرقین د متن بدلولو له پاره هیڅ راز انگېزه نه لري. که د هغوی په متن کي تېروبېر راغلی وي، ملامتیا ئې د خطي نسخې کاتب ته وراوړي. خو بیا هم د مستشرقینو په انتخاب کي بیا نور عوامل هم شامل کېدلای سي. دا چي نوموړي د پښتونخوا په کومه سیمه کي، د کومي لهجې له ویونکي یا ویونکو سره ډېر وخت اوسېدلی دئ. د پښتو د زده کړي معلم یا استاد ئې په کومه لهجه رږغېدی، ... دا ټولي خبري د مستشرق پر قضاوت باندي اغېزه کوي.

د پخوانیو متونو ژبنۍ څېړنه د ژبي د متخصصینو کار او مسئولیت دئ هغوی ئې په تحول او تطور تر بل هر چا ښه پوهېږي. مگر دا خبره باید هم

---

[۱] کابل مجله: ۲کال، ۳ گڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یاد ولرو چي د ژبي ماهران خو هم د چا خبره جادوګران نه دي چي پټې دي پر معلومې وي. هغوی ځان ته د څېړني ټاکلي اصول لري او له دغو اصولو څخه په کار اخیستلو کي لازمو وسایلو ته اړتیا لري. د ژبپوه له پاره په لازمو وسایلو کي یو هم پخواني متون دي. هر څونه چي دا متون له غل وغشه پاک وي او د لیکوال یا شاعر ژبه تمثیل کړای سي، هغونه (هغومره) د ژبي د متخصص کار اسانه کوي. د متونو مقایسوي څېړنه د ژبي له متخصص سره د لهجو په پېژندنه کي هم مرسته کوي. متون د ژبني ماهر له پاره د اومو موادو یا په بل عبارت د لابراتواري معایناتو کار ورکوي. لکه یو طبیب چي د دقیقو او باوري معایناتو له مخي د رنځ په تشخیص کي نه خطا وزي دغه راز ژبپوه ته هم که دقیق متون برابر سي، دی ئې په ژبني تحلیل کي پر کړه نه ځي.

د متونو په ناسم تفسیر کي د ملامتیا ګوته ژبپوه ته دونه نه نیوله کېږي لکه متنپوه ته چي نیوله کېږي. پر ناسم متن چي ژبپوه د خپل استدلال ماڼۍ ودروي، معنا به ئې دا وي چي پر لوټه ئې تاداو ایښی دئ.

د متونو څېړنه که د داسي چا له خوا سوې وي چي د متن د لیکوال یا شاعر د ژوند زمانې ته ئې نزدې ژوند کړی وي دا خو به تر ښو لا هم ښه وي ځکه د متن څېړونکي او متن لیکونکي تر منځ ژبنی واټن پراخ سوی نه وي. هر څونه چي دا واټن پراخېږي، هغونه ئې د ژبنیو تحولاتو د بدلون امکان ډېرېږي. له بده مرغه زموږ کلاسیک متون د شاعر تر زمانې درې څلور پېړۍ وروسته په انتقادي توګه برابرېږي. کاشکي داسي وای چي د شاعر یا لیکوال په خپل لاس کښلي متون موږ ته د زمانې له آفاتو څخه خوندي پاته سوي وای. دا کار خو په پښتو متونو کي، لکه مخکي چي مي هم اشاره ورته کړې ده، د "کرک اګۍ" ده چي موندل ئې د ناممکناتو تر سرحده ناشونی کار ایسي. ځکه نو ژبپوه ته په کار ده چي د متن په تحلیل کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هري راغلي كلمې، لغت او قاعدې ته سم د لاسه تسليم نه سي.

د دغه حقيقت په پام کي نيولو سره ژبپوه ته په کار ده چي د متن د کره شکل موندلو پېښې ته هم اوږه ورکړي. که دا کار و نه کړي او په خپل تحليل کي پر يوه ځانګړي متن باندي تکيه وکړي، نو تر څو چي حقيقت معلومېږي، اوز کلي به وران سوي وي.

د متونو د مسخه کېدو په باب به د دې اوږده بحث له پاى سره د ښاغلي غضنفر له يوې مقالې څخه يو پاراګراف ونښلوم، چي ما د ۲۰۱۰ع کال د مى مياشتي پر۱۶مه په تاند ويبپاڼه کي ولووست او ښه خوند ئې راکړ. ده کښلي دي:

"موږ له شلمې پېړۍ راهيسې معمولا په دريو دليلونو د پخواني شعر په معنا کې تصرف کړى دى: يا مو د خپلې زمانې او تېر وخت د ژبې، سبک او فکر تر منځ فرق هېر کړى دى، يا مو د خپلو اوسنو نظريو د تاييد لپاره د پخوانو د نظرونو په معنا کې ګوتې وهلي دي او يا مو ګومان کړى دى چي که د خپلو پخوانو مشرانو نظرونه د اوسني وخت له منل شويو نظرونو سره ورته وبولو، دا به مو د مشرانو حق په ځاى کړى او دوى به مو په اوسنيو خلکو منلي وي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلرم څپرکی

## په پښتو متونو کي پرتې ستونزي

### تېروتني - لاسوهني:

د تېروتنو او لاسوهنو مشکل يو په بل کي دونه تداخل لري او دونه سره اخښلی و بخښلی دئ چي سره بېلول ئې يو څه سخت کار دئ. د متن يوه برخه به ښايي زما په نظر لاسوهنه وي خو په حقيقت کي به هغه د تېروتني ښکار ګرځېدلې وي او بر عکس ئې لا هم ممکنه ده. دا چي د مشکل کومه برخه بايد تېروتنه وبلل سي او کومه ئې لاسوهنه، تر يوې اندازې پوري د څېړونکي يا لوستونکي په خپل برداشت او قضاوت اړه لري. خو ځله بېلول ئې هم بايد ناشونې خبره ونه ګڼله سي. زه به تر خپله وسه پوري هڅه وکړم چي تېروتني او لاسوهني سره بېلي کړم خو که ځای ځای را څخه ګډې سوي وي، د محترمو لوستونکو لارښووني ته تيار آماده ناست يم.

### ۱- تېروتني:

د پښتو په خطي او چاپي نسخو کي به داسي يوه نسخه څوک پيدا نه کړي چي له تېروتنو دي خالي وي. د ځينو چاپي نسخو د تېروتنو ليست ته چي څوک وګوري، حيران پاته سي. تېروتنه يوه داسي پېښه ده چي خورا زيات عوامل لري. د کاتب بېسوادي، بې پروايي، ستړيا، د فکر غير

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاضري، تلوار، د کتاب له ژبي سره نابلدتیا او نور عوامل ئې په مثال کي راوړلای سو. ما ته داسي شواهد رامعلوم دي چي د کتابو سوداګرو به پښتو کتابونه په داسي کسانو خطاطي کول او خپرول، چي د پښتو ژبي په تور و سپین به نه پوهېدل او متن به ئې ګویا رسامي کاوه. په دغه شان حالاتو کي تېروتنه یوه حتمي خبره ده[۱].

زموږ کلاسیک متون هم لا تر اوسه پوري په هغه راز تهیه سوي نه دي چي د هغو د (original) اصلي نسخو بشپړه نمایندګي دي وکولای سي. ځیني چی ئې په انتقادي توګه د څو خطي او چاپي نسخو له مخي برابر سوي دي، هغه هم د "خو" له اعتراضه یا په بل عبارت له تېروتنو څخه په بشپړه توګه نه دي خلاص او بشپړ اعتماد پر کول ګران دي. د دې اعتراض عوامل به ډېر وي، خو زه به ئې یو څو لږ څه په تفصیل سره وڅېړم.

## - د پښتو الفبې نیمګړتیا:

د پښتو الفبې د ایجاد له زمانې څخه بیا تر اوسه پوري دې حد ته نه ده لوړه سوې چي د ټولو آوازو او حرکاتو د افادې او ښوولو وظیفه دي په بشپړه توګه سرته ورسوي، په تېره بیاد واولو (vowels) په افاده کولو کي خو ئې بېخي ملا ماته ده. په پخوانیو خطي نسخو کي د واولو د افادې له پاره د عربي لیکدود له حرکاتو (زور، زېر، پېښ) څخه کار اخیست کېدی. د ئې ګانو له پاره له زېره، د واوونو له پاره ئې له پېښه او د الفونو او (ه) له پاره ئې له زوره (فتحې) څخه استفاده کوله. دا حرکتونه د پښتو واولو له پاره ځکه کافي نه ول چي پښتو پنځه ئې ګاني، دوه واوه او یو زوه ره کی درلود او عربي حرکتونه درې دانې ول. له دې اسیته نو د متن په لوستنه کي

---

[۱] اروابناد دوست محمد خان کامل صاحب لیکي چي د تاریخ مرصع د چاپ پر وخت د مطبعې "سنګساز ... د پښتو په یوه توري هم نه پوهېږي کمال محنت ئې د ستاینې دی" (وګ: تاریخ مرصع – مقدمه، ۵۲مخ، د ۲۰۰۶ع چاپ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکي له حدس و گومان څخه کار اخیست او هغه راز به ئې لووست لکه د ده په خپله مورنۍ لهجه کي چي ئې زده کړي ول.

**- د لیکدود عدم تجانس:**

د اعتراض بل عامل دا دئ چي د متن لیکدود یو راز نه وي او د نسخې تر پایه پوري په متجانس ډول تعقیب سوی نه وي. د مثال په توگه په عین متن کي "استوږنه، استوگنه، استوگه" مخي ته راځي او لوستونکی نه پوهېږي چي د مؤلف یا شاعر خپله لیکنه او وینگ به څه راز وو؟

د لیکدود د دغه رنگارنگۍ د ښوولو له پاره به لوستونکو ته زه یو لږ مثالونه له مختلفو چاپي نسخو څخه رانقل کړم. له "ارمغان خوشحال" څخه به ئې راپیل کړو.

(ژغ)، (غږ) دواړه راوړي:

د سپوږمۍ په شغله یون کا
ژغ کا زاښي پــه اســمان
(۷۳– مخ)

دغه راز په (۹، ۱۷ ، ... مخو) کي هم (ژغ) راغلی دئ.

خوشحال خان د خپل زوی اشرف خان په باب وایي:

چه زما د لښکر غږ شي
او بــه کیږي د ده ځـان
(۳۵– مخ)

(ږغوي) د (ژغوي) په شکل کاږي.

څوک له ورایه درته ناست وي
ژغـــــوي چنـگ و ســــرنا
(۴۶– مخ)

لوستونکي داسي فکر کوي چي د متن ترتیبوونکي د ختځو لهجه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پام کي نیولې ده. خو څلور بیته وروسته بیا (غوړ) په (ړ) لیکي:

نه دي غوړ د اوربډو شته
نه دي سترګي شته بینا

(ښورول) او (ښورېږي) په (ش) کاږي:

د جاهل په بخره تش سر شورول وي
آفرین مي په خبرو دانشمند کړ
(۶ – مخ)

په هزار رنګه هوا په زړه کښې ورشي
ورځ و شپه سره شورېږي نا قرار
(۴۲– مخ)

خو (ښوروا) بیا په (ښ) لیکي:

چي ښوروا خوري د مغولو واړه سپي دي
د سګانو په خوله څه اخلم نو مونه
(۳۰– مخ)[1]

---

[1] د (ښ) او (خ) د ګډولو مسئله همدا نن ورځ هم د یوې ستونزي په شکل ان د پخو لیکوالو په لیکنو کي پاته ده. د مثال په توګه "لوښې" ئې د (لوخې) پر ځای کښلي وي (تل افغان ویبپاڼه –د جون ۴مه ۲۰۱۱ – که ملا عمرووژل شي نو بیا؟ د حقیار لیکنه). په داسي حال کي چي د لیکوال مراد له "لوښې" څخه هغه واښه ډوله نبات دئ چي په ځنګلو او چمنو کي ولاړې وي. دا لغت که په (ښ) ولیکل سي، نو (لوښې) خو د (ظروف) معنا لري نه د (لوخو).
دغه راز د همدې لیکوال په یوه بل مضمون کي مي "کلک پوخ" ولووست چي مراد ئې "کلک پوښ" وو (لر او بر ویبپاڼه: ۴جون ۲۰۱۱ ع –د حرمینو هنداره – دوهمه برخه). پوښ که د (پوخ) په شکل ولیکل سي معنا ئې د (خام = اوم) ضد ده خو که د (پوښ) په بڼه وکښل سي، د وقائې، پشتي معنا لري. دغه راز بې پروایی د ژبي ملا ورماتوي. خو د معیار ټېکه داران سر نه په خوږوي. دوی خپل ټول فشار پر (سو) او (شو) اچوي او له معیاره ئې مراد بس همدا یوه وړه موضوع ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپښ د (خویښ) او (خویش) په دواړو شکلو لیکي:**

چې ئې خویښ کړې یا ئې دوست کړې لا بلا شي
د ددانـــــو څه غـــــرض له احـــترامـــــه
(۴۴- مخ)

**درې مخه وروسته بیا لیکي:**

کله ځویه د رته ښه کا
کله خـــویش و اقـربا
(۴۷- مخ)

**(شامت) او (شومت) دواړه لیکي:**

دا شامت زمونږه خپل دی چه مو کار هسې مشکل دی
گـــښه تـــه څه هسې نه ئې چــــــه خپل ور تړې لـه رده
(۲- مخ)

**بل ځای:**

د هـغو په مـــــرگ ثواب گټلی بویه
چه ئې سیزي له شومته غاړې غرونه
(۷۴- مخ)

**ځای (ور) لیکي (۲ – مخ)، ځای بیا (در) کاږي (۲۵ – مخ).**

نه مي کار په خاص وعام نه په دیوان دی
نه پــــــه در ولاړ د هـــــــر یوه مردک یم

**د خوشحال خان په بل اثر دستارنامه (د ۱۹۹۱ع چاپ) کي یو ځای "سیژمې (۶۴مخ)" لیکي بل ځای "سیږمې (۱۲۱ مخ)". یو ځای ئې "شوروا (۷۱مخ) "خو بل ځای بیا "ښوروا (۷۶مخ)" کښلې ده.**

**داسي لیکدودي رنگارنگۍ نوري هم ډېري سته او دا کار د ژبپوه له پاره د خوشحال د ژبي په څېړنه کي مشکلات پېښوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اشرف خان هجري دېوان هم له دغه راز رنګارنګيو څخه خلاص نه دئ. يو څو مثاله ئې داسي دي:**

که زه سرشندم په کشليو عيب نشته
دا خصلت د محبت چه ســـر ګيا کا
(۷ – مخ)

**د دېوان مرتب خو په خپل فکر باندي د "شندم" او "شکليو" کلمات ګويا د اشرف خان هجري په ختېکواله لهجه ثبت کړي دي خو دې ته ئې پام نه دئ کړی چي د "شندل" او "ښندل" تر منځ د معنا ډېر توپير سته (وګ : د ليکونکي اثر، له کندهاره تراټکه: ۱۷۲مخ)**

نندارہ د باغ کــوي برقــه پسر کـــړي
چه ګل بوی په دماغ صاف لږي يکباره
(۱۲۷– مخ)

**له "لږي" څخه ئې مراد "لګي" دئ چي د "لګېدل" مصدر د حال صيغه ده.**

**"لږي" په همدې ليکدود له "لږ = کم (د ډېر ضد)" سره اړېکی لري.**
**د دېوان په همدې مخ کي بيا "تيږه = ډبره" په ګاف ليکل سوې ده.**

پـــه نخوت طاؤس کتی په اوردِ ؤسه
تش صورت په تيګه ناست د مخ له تاره
(۱۲۷ – مخ)

**د "ګ" او "ږ" سره اړولو له لوستونکي څخه د شاعر ژبه بالکل ورکه کړې ده. که د مرتب په خيال د شاعر په لهجه کي (ږ) د (ژ) په شکل ويل کېدله، نو په "ګ" باندي ئې د اړولو ضرورت څه وو؟ له يوه مخه به ئې ټولي (ږې ګاني) په (ژ) باندي کښلي وای. د ليکدود دغه راز نه يووالي د شاعر ژبه او لهجه راڅخه ورکه کړې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا څو مثاله وګورئ:**

**خدايګو = خدايږو:**

**ورزِ = ورځې:**

خدايګو شک ګمانی نه يم په خپل ورزِ
ناپرسه ئې مـعذب په ســــالها کړم
(۸۵ – مخ)

**غوګونو = غوږونو:**

که طوطا دِ بيان واروی پـه غوګونو
په زبان به ئې بند ايښی د لکنت وی
(۲۰۸ – مخ)

**آهوتږه = آهوتګه:**

وې مِ حال د وطن وايه آهـــــوتږه
بلکه يون دِ په سرعت نسيم ته شا کا
(۲۵۷ – مخ)

**لږي = لګي، لګېږي:**

هر عاشق د يار پـــه مينه تازه کيږي
په خټک تر قند و ښه لږی سخط ستا
(۲۹۷ – مخ)

**د (ش) او (ښ) سره اړولو هم دغه راز پسات پېښ کړی دئ.**

**"بهښت" هم ليکي او "بهشت" هم.**

که بهښت له ښايسته مخَ خالی وی
عـــاشقانو به ياد کله که، قسم دی
(۱۸۵ – مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په بد عمل آرزو د بهشت کاندِ
تش دِباد پیمانه کاندِ مدّعی دی
(۵۴۲ – مخ)

**"مهی" او "ماهی" دواړه لیکي:**

هغه مرغ چه په هوا مهی په سیند وی
نهایت دواړه فـــناوارداجـــال کا
(۲۸۱ – مخ)

**اجال = اجل:**

د مین ژوندون مشــــکل دی بې صنمه
د ماهی موت (په) خشکی حیات دریاب
(۳۰۰ – مخ)

**د عبدالقادر خان خټک نوی چاپ دېوان (د ۱۳۶۸ش = ۱۹۸۹ع کال چاپ) که څه هم تر ټولو نورو چاپو په دقت سره ترتیب سوی دئ خو لیکدودي اختلافونه ئې د پام وړ دي.**

**د "راخیژې" پر ځای ئې "راخیږې" ثبت کړی دئ.**

پروت عبدالقادر دی د غفلت په توره شپه کي
کله به راخـــیږې د تــوفیق کښــلیه آفــتابه
(۱۵۴ – مخ)

**یا:**

د سرونو نردبان ساز کړه باندي خیږه
مـرتبی ته خـتل نه په اســـانی دي
(۴۴۸ – مخ)

**که د دېوان متن پسې تعقیب سي، چا ته داسي فکر پیداکېږي چي د دېوان د ترتیبوونکي په نظر د عبدالقادر خان خټک په لهجه کي (ږ) په (ژ)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او (ښ) په (ش) سره اوړي. خو نه پوهېږم دلته ئې د کوم مجوّز په حکم د (ژ) پر ځای (ږ) ليکلې ده؟ دغه شان لاسوهني د شاعر خپله ژبه له لوستونکي څخه پټوي او نه به پوهېږي چي په دغو آوازو کي د شاعر د لهجې خپله ادا څه راز وه؟ کله "وربل" او کله بيا "اوربل":**

چی دا هسی رنګ په سرو لمبو کی اوسی
په خپل زړه پورې حيران يم ستا وربل ته
(۱۶۵ – مخ)

**بيت مي کټ مټ رانقل کړی دئ. د ياګانو مراعات ئې نه دئ کړی.**

که طالع د عاشقانو توري نه وي
تور اوربل ئې په مخ ولې تار په تار شو
(۱۳۹ – مخ)

**کله "کشينوي، کشيني" کاږي او کله بيا "کښينی":**

کشينوي چی کشينی ګرد غبار د غم له دله
شی چی نشی دا په بيدلانو شو اخونه
(۲۳۰ – مخ)

په اړخونو ئې لک شوی غشی ښه دی
نه چی کښينی بدکاران د چا تر څنګ
(۸۵ – مخ)

**يو ځای "کشيژدي" ليکي او بل ځای بيا "کښيږدي"**

د پيوند په پرې کولو فقيري شي
نه په دا چی خپله کشيژدي پيوند ونه
(۲۳۱ – مخ)

د دنيا خوښی که واړه ورته کښيږدی
دروغجن دی که پرې غم د آشنا ورکا
(۱۷ – مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په دې بيت کې ئې "خوښي" په ښين سره کښلې ده خو بل ځای ئې "خوشي" د "خوښي" پر ځای ليکلی دئ.**

خــرمی د شاه جـــهان جـــهان پرې نه شـوه
اورنگ زيب په څه خوشي کاندي که پوه دی
(۲۷۱ – مخ)

**د ديوان مرتب فکر کوي چې د "خوښي" کلمه ئې د عبدالقادرخان په لهجه ثبت کړې ده خو دې ته ئې بيا پام سوی نه دئ چې "خوشي" د (چټې، بې ځايه) معنا لري. په لومړي نيم بيتي کې "پرې نه شوه" هم ما ته "پرېنښووله" ايسي؟**

**خو بل ځای ئې بيا د "شادان" کلمه په "ښادان" باندي اړولې ده.**

د پتنګ مـشرب پيدا کـړه په مـعاش کی
د هر چاڅراغ چی بل شی پرې ښادان وي
(۳۱۸ – مخ)

**که په خټکواله لهجه کي (ښ) د (ش) په شان تلفظ کېږي او مرتب زياتره ښينونه په (ش) سره اليش کړي دي، نو دلته بيا ولي دا قاعده څني پاته سوې ده. يو ځای ئې "چمجي" بل ځای ئې "چنجي" ليکلی وي.**

که هر څـو نازک بدن شی
لکــه ګل هسی په تن شی
چی لــحد د ده وطن شی
د چمجيو په خوردن شی
(۴۷۰ – مخ)

ښکلی مخ به يی د ګور خاورې بدرنګ کا
نازک تن به يی د ګــــور چنجي وخورينه
(۴۸۳ – مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکی به په "چمجی" او "چنجی" کي کوم یو د عبدالقادر خان خپل کلام وګڼي.

د حمید مومند کلیات خو مي هیڅ فکر نه کاوه چي لیکدودي تجانس دي ونه لري. ځکه په ډېر دقت او صلاحیت برابر سوی او مرتب ئې هم د پوره صلاحیت څښتن دئ. مګر ما ته پکښې دا څو ځایه د اندېښنې وړ وایسېدل.

"پرښتې" (۲۷مخ) او "فرښتې" (۳۲مخ، ۷۱مخ) دواړه لیکي (دا کار د میرزا خان انصاري د کابل چاپ دېوان کي هم سوی دئ او په یوه بیت (۲۲مخ) کي "پرښتو" کښلی او پنځه بیته وروسته ئې بیا "فرښتو" لیکلی دئ)، "مښک" د کلیاتو د دېوان په برخه کي هر ځای په (ښ) لیکي خو "مشکین" بیا په (ش) کاري (۹۷مخ) چي زه ئې په دلیل پوه نه سوم. دا بیت هم ولولئ:

دا د ترکــــو د مشکینو زلفو تور دی
چي وګرېږي پرې کوي ګمان د مښــکو
(۱۸۰ – مخ)

خو د کلیاتو د (نیرنګ عشق) په برخه کي بیا (مشک) هم په شین لیکي:

عشق و مشک نه شي ساته پټ و پنهان
دا خـــبره ده مشـــهوره پـــه جــــهان
(۴۱۰ – مخ)

د میرزاخان انصاري په دېوان کي په ۱۸۹مخ کي "مشک" خو په ۲۰۲مخ کي بیا "مښک" لیکل سوی دئ.

د کندهار په لهجه کي "مشک" ویل کېږي او د نورو لهجو ویونکي فکر کوي چي دا به هم په (ښ) وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي بريالی وايي:

چي د مشکو عطر پاشي په صحرا کي
د ختن بې غزالې نسته لـــړمـون بل
(اهاړ – ۷۵مخ)

(پنهم – ۴۰۶مخ، ۴۴۵مخ) او (پنهان – ۴۱۰مخ) دواړه راوړي. د لوستونکي له پاره ګرانه ده چي په دې دوو کي به کم يو د حميد خپل تلفظ وي.

لنډه (ي) او اوږده (ې) سره قافيه کړې ده. د (ح) رديف په يوه غزل کي (۵۷مخ) ئې (خاندې، لاندې، وړاندې، مړژواندې، اوېزاندې) له (کاندي، ګويادي) سره قافيه کړي دي. دا راز قافيه تړل د حميد له "موشګافۍ" څخه ليري خبره ده. حميد به هرومرو (خاندې، لاندې،...) او (کاندي،...) يو راز سره تلفظ کول. دا اوسنی دوه رنګي توب د لاسوهونکو کار دئ. (خرخښو) په ۱۷۴مخ کي په (ښ) او په ورپسې مخ کي په شين (خرخشو) ليکي. حتي په ۱۷۶مخ کي په يوه بيت کي لومړی (خرخښو) او دوهم وار (خرخشو) راغلی دئ.

د فلک پــه خرخښو ونښته لاړه
چي جهان ئې وېرېده له خرخشو
(۱۷۶ – مخ)

د اول نيم بيتي لاړه = ناړه ده.

د (خرخشو) او (خرخښو) توپير په وييپانګه کي هم نه دئ ښوول سوی. په دغسي دوګانګي کي به ژبپوه د حميد خپل تلفظ څه راز معلوموي؟ په ۱۹۴مخ کي (ښکته) او په ۱۹۶مخ کي ئې (کښته) ليکي:

چي مې زړه په سود و زيان شي پورته ښکته
هـــغه دم مې محبت وهي پـــه لـــته
(۱۹۴ – مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلبوه سرفرازي په سـرکـوزي کي
راکوزېږي په هلهٔ وکي همای کښته
(۱۹۶ – مخ)

(خيژه) زياتره همداسي کاږي (۲۳۴مخ، ۲۵۲مخ، ...) خو په (۳۵۴مخ) کي بيا دوه ځايه (خېږي) او (خېږه) راوړی دئ. په (۳۵۴مخ) کي هم "خېږه" کاږي. زه نه پوهېږم چي د کليات مرتب خو به د (خيژه) او (خېږه) لغتونه سره جلا نه بولي؟ د ميرزا خان انصاري په دېوان (۲۳۰مخ، د کابل چاپ) کي په دوو پرله پسې بيتو کي (وخيژي) او (وخيږي) دواړه راغلي دي.

(کله چي (ته) د (تله، تلئ) په معنا راوړي د (ه) پر سر باندي همزه ايږدي (۴۱۶مخ) او هدف ئې دا دئ چي له (ته = تو) سره ئې التباس ورک کړي. دا ئې ښه کار کړی دئ. زه (هوتک) چي د (دی = او) او (دئ = است) توپير په همزه باندي کوم، هم مي هدف د التباس ورک کېدل دي. خو زما له دې قاعدې سره د معيار ټېکه داران موافق نه دي خو د حميد مومند د کليات مرتب چي بيا عين عمل سر ته رسولی دئ، بيا نه تا کړي نه ما کړي، ټول پټه خوله ناست دي. دغه ته يو بام و دوې هواوي وايي).

د لوی احمدشاه بابا په پېښور چاپ دېوان کي هم پر دغه راز پېښو پېښېږو. دی وايي:

عـاشق وږی د ديدن دئ
ترخه وېل ئې کړې نمړې
(دېوان ھِر ۱۴۷–مخ)

په پېښور چاپ (۱۹۰مخ) کي دوهم نيم بيتی "ترښه ويل ئې کړې نمړې" ثبت دئ.

زه د رنګارنګيو په برخه کي خپل ځان ته هم ګوته نيسم او يقين مي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ چي که بل څوک بیا زما (هوتک) په لاس ترتیب سوي متنونه ولولي، تر دا نورو دېوانو به زیاتي اندېښمني خبري پکښې پیدا کړي. د دېوانو ترتیبول جلا پوهنه ده او زموږ کارونه غیرمسلکي. له ناچارۍ مو لاس په پوري کړی دئ. ما چي د نورو شرقي ژبو د دېوانو کار یو څه کتلی دئ، رامعلومه سوې ده چي پښتنو ته لا خورا ډېر ګړنګونه او پاڼونه په مخ کي ګوري. په تشو غټبازیو به ځانونه نه خطا باسو.

په متونو کي تېروتني هم پر دوو برخو وېشل کېدلای سي:

## الف: ارادي:

د کلماتو په املاء کي ارادي بدلونونه په ښکاره توګه تېروتني ایسي خو دا تېروتني نه دي او کله کله د شعري اړتیاوو له اسیته پېښي سوي وي. د پښتو په ځینو دېوانو کي د قافیوي ضرورت له مخي د "عبث" لغت د "عبس" په شکل لیکل سوی وي. دا تېروتنه ارادي ده. خوشحال خان ویلي دي:

سر ئې هوري کندهار، بل ئې دمغار دی
تر دا منځ پراته همه واړه عبس دي

د "خوشال خان خټک کلیات" په ۲۵۵ مخ کي دا بیت داسي دئ:

سر ئې هوري کندهار، لم ئې دمغار دی
په دا منځ کي میشته واړه پرې عبس دي

زما یقین دئ چي خوشحال خان دا بیت په دغه شکل نه دئ ویلی؟ ځکه د "پرې عبس" د بېخونده ترکیب دکارولو توقع د پښتو ژبي له یوه مبتدي څخه لاهم نه سي کېدلای.

د اړوندي غزلي نوري قافیې (ناکس، جوس، هوس، جرس او نوري) دي ځکه نو د "عبث" لغت هم د "عبس" په شکل کښل سوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرزا حنان هم پر دغه پله ګام ایښی دئ:

په لویي د زمانې خوشي غلط سوم
لکه دود پر سر د اور د رومي عبس

له دې مثالو څخه باید داسي نتیجه وانه خیستله سي چي ګویا خوشحال خان او میرزا حنان د "عبث" لغت په اصلي کښنګ باندي نه پوهېدل. دوی دا کار ارادي کړی دئ او دا تېروتنه په ارادي توګه پېښه سوې ده. د متن ناقدین ئې باید د سمولو هڅه و نه کړي.

## ب: غیر ارادي:

غیر ارادي تېروتني د کاتب له بېسوادۍ، د کلماتو له ورته والي (مشابهت) او د لغاتو د ناسم لوستلو له اسیته پېښېږي.

د لوی احمدشاه بابا په کلام کي یو ځای لولو:

"احمد" چي دا بیان که هر طالب به طبع وایي
ګــرانه نه ده دایماً تحقـیق به کاندي فضـلا

په پېښور چاپ کي د (دایماً) کلمې تنوین په پام کي نه دئ نیول سوی او (دایمان) ځني جوړ سوی دئ.

په متونو کي د هغو تېروتنو تشخیص دونه ګران کار نه دئ چي د کاتب له بېسوادۍ او یا د ناپوه کاتب د لاسوهني له امله منځ ته راغلي وي خو د هغو تحریفونو پیداکول لږ څه ستونزمن وي چي کاتب یا مرتب ئې په شعوري توګه د ځینو ټاکلو انګېزو او ژبنیو تمایلاتو په موخه په متن کي راولي. د تحریفونو د پېژندني د دې ستر کار له پاره د شاعر یا لیکوال د فکري مسیر او هغو معیارو پېژندنه لازمي ده چي د هغو پر بنسټ شاعر یا لیکوال خپل اثر تخلیق کړی دئ. د دې پر څنګ د هغو ژبنیو ځانګړتیاوو نسبي پېژندنه هم حتمي ده چي د شاعر یا لیکوال په لهجه کي په عیني

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه موجود ول. دې هدف ته د رسېدو له پاره د متن د ټولو نسخه بدیلونو راوړل د متن د مرتب ستر رسالت دئ. د همدغو نسخه بدیلونو سته والی له ژبپوه سره مرسته کولای سي چي د شاعر د ژبي او لهجې په تشخیص کي له تېروتنو راوګرزي.

موږ مخکي د شېرازي حافظ د دېوان خبره وکړه. د دغه لوی عارف پر دېوان باندي د تېرو پنځوسو – شپېتو کالو راهیسي د پارسي شعر او ادب سترو ادبپوهانو او شاعرانو کارکړی دئ او تر اوسه لا هم دې مرحلې ته نه دئ رسېدلی چي ځوک ووایي دا پلانی چاپ نو ګویا کټ مټ د حافظ خپل کلام دئ. په هر چاپ کي هڅه سوې ده چي متن د شاعر خپل کلام ته تر ممکني اندازې پوري ورنژدې سي او له دې ټولو هڅو سره سره د متن مرتب لیکي " امیداست ... روزی برسد که با احتمالی نزدیک به یقین بتوان ګفت که دیوان کاملی ازآن خاکیِ افلاکی فراهم شده است" (وګ: حافظ به سعی سایه، ص ۲۱ – چاپ ۱۳۷۶ تهران، نشر کارنامه).

د متونو په برابرولو کي چي د نورو ژبو د پوهانو دغه راز دقت او احتیاط او زموږ پښتنو بې پروایي ځوک وګوري، نو بې اختیاره ئې باید پر تندي باندي د ملامتیا خولې راماتي سي ځکه د متونو په برابرولو کي ځانو ته د دونه مداخلې حق ورکوو، لکه له نوموړي لیکوال څخه چي مو د دغه راز لاسوهني لیکلې او لاسلیک سوې اجازه تر لاسه کړې وي.

## ۲- لاسوهني:

**په متن کي لاسوهنه (مداخله) څه ته وایي؟**

لاسوهنه د یوه متن په لیکدود، ژبه، لغاتو او د جملو په جوړښت کي تصرف کولو او د هغو اړولو ته وایي. او دوه رازه ده: روا لاسوهنه او ناروا لاسوهنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ په تېرو بحثو کي د ژبي د تحول او بدلون په باب يو څه رېغېدلي يو او دا مو منلې ده چي د ژبي وينګ، کښنګ، سکښت او جوړښت پر يوه حال نه پاتېږي او بدلون مومي. د مثال په توګه، په روښاني ليکدود کي ئې د (ږ) توری داسي کيښ چي (د) ته به ئې په منځ کي ټکی ورکړ، په خوشحالخاني ليکدود کي ئې د (ځ) توری د (ح) په شکل کيښ او په غېږ کي به ئې همزه ورته ايښووله، پښتو مرکې بيا د دغه آواز د ښوولو له پاره (ح) ته يو ټکی پر سر او بل ټکی په غېږ کي ورکاوه او اوس ئې موږ د (ځ) په شکل کاږو.

د متن تصحيح کوونکی که نن په روښاني ليکدود باندي ليکلي متنونه چاپ ته تياروي، حتمي نه ده چي د (ږ) توری دي هغه راز وليکي لکه روښانيو چي کيښ.

بل مثال:

په پخوانيو فارسي کتابو کي ئې ګاف د کاف په شکل کيښ او "عجمي کاف" به ئې باله. اوس که د دغو فارسي متونو د چاپ په وخت کي څوک ګاف د کاف په بڼه وکاږي، متنپوهان ئې نه مني او غندي ئې.

ښه! دا کار خو هم په متن کي لاسوهنه ده. مګر دا راز لاسوهنه د متن اصل او جوهر ته تاوان نه رسوي. که د متن ناقد په خپلو خبرو کي د متن اصلي ليکدود راوښيي او خپله لاسوهنه هم بيان کړي او پټه ئې نه کړي. دې لاسوهني ته روا لاسوهنه وايي. دې راز لاسوهني ته اړتيا سته او په متن کي بايد همدغه شان بدلون راوستل سي.

خو که په کوم لغات کي بيا د همدغه پورته ياد سوي توري (ځ) موقعيت او ځای ته بدلون ورکړه سي، دې راز لاسوهني ته ناروا لاسوهنه ويل کېږي. د مثال په توګه:

په متن کي "روځ" ليکل سوې وي او موږ ئې "ورځ" کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په متن کي "غړ" ليکل سوی وي او موږ ئې "ږغ" کړو.
په متن کی "ږغ" ليکل سوی وي او موږ ئې "غړ" کړو.
په متن کي "پر" ليکل سوی وي او موږ ئې "په" کړو.
په متن کي "په" ليکل سوی وي او موږ ئې "پر" کړو.
په متن کي "دوې" ليکل سوی وي او موږ ئې "دوه" کړو.
په متن کي "کښي" ليکل سوی وي او موږ ئې "کي" کړو.
په متن کي "دستار" ليکل سوی وي او موږ ئې "پگړی" کړو.
په متن کي "عشق" ليکل سوی وي او موږ ئې "مينه" کړو.
په متن کي "ماهی" ليکل سوی وي او موږ ئې "کب" کړو.

✶✶✶

په متونو کي مداخله خپل حدودوثغور لري. دا کار ما هم کړی دئ. خو مداخله بايد د شاعر ژبه ورالیشه نه کړي. که ئې ليکدود د اوسني وخت د غوښتنو له مخي اصلاح سي، دا مداخله روا مداخله ده د مثال په توگه هغه وخت (ڼ) د (نړ) په شکل ليکل کېدی، که ئې موږ اصلاح کړو، دا کار ناروا مداخله نه ده، مگر که په متن کي (ورونړه) ليکل سوي وي او موږ ئې د خپلي لهجوي اغېزې له اسيته (رونه) ثبت کړو، دې ته د متن مسخه کېدل ويل کېږي. که موږ د متن د ليکوال له خوا استعمال سوي لغتونه او کلمات وراړوو، دا راز لاسوهني ناروا لاسوهني دي. که ما کړي وي که بل چا، بايد مخه ئې ونيول سي.

## لاسوهني د چا له لاسه پېښېږي او ولي پېښېږي؟

د لاسوهنو د ملامتیۍ بار د خورا ډېرو کسانو پر اوږو پروت دئ. له دې پړې څخه نه کاتب ځان خلاصولای سي، نه ناسخ او نه د متن معاصر مصحح. زه به دا بحث دلته يو څه سره راغونډ او طبقه بندي کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الف – ناسخان، کاتبان او د متن ترتیبوونکي د خپلي لهجې ښکار سي:**

**علامه رشاد (۱۹۲۱ – ۲۰۰۴ع) رحمة الله علیه د کاتبانو د بې پروایيو په باب د مولانا نورالدین عبدالرحمان جامي (۱۴۱۴ – ۱۴۹۲ع) څو بیته راوړي دي چي دلته ئې تیمناً رانقلوم:**

فغان از دست آن کاتب که کلکش
به بیش و کم نویسی شـــد فسانه
ز بیش و کم نویسی هـــای او شعر
ز بحر و وزن مـــــــاند بر کرانه

(لس مقالې: ۶۸مخ، د ۱۳۶۷ش کال چاپ)

**د علامه رشاد مرحوم د دغه اثر چاپي نسخه خورا زیاتي چاپي تېروتني لري او د کاتبانو، چاپوونکو او خپروونکو د بې پروایيو ډېرغوره مثال کېدلای سي.**

**خوشحال خټک هم د کاتبانو له بې پروایۍ څخه د خپل یو اثر "فضل نامه" په خاتمه کي سر ټکولی دئ. دی وایي:**

وردي نـــه ئـــې شـــي دوه لاســـه
نـــه تـــر خط نـــه تـــر قرطاســـه
یـــو چـــي خـــام بېهـــوده خـــط کـــښي
بـــل کـــه ښـــه کـــښي چي غلـــط کـــښي
د کاغـــــذ مـــــخ توروینـــــــه
خـــط چـــي خـــام بېهـــوده کـــښینه
خدای ئې واخله که ښه خط کښي
کـه ئـې ځـای پـه ځـای غـلـط کـښي

(وگ: د خوشال خان خټک کلیات ۱۱۵۳مخ، د ۱۳۸۷ل چاپ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په" لس مقالې" کي هم د خوشحال خان د دغي ناراضۍ یادونه سوې ده.

د اصل مطلب د لا ښه وضاحت له پاره به د عبدالقادر خان خټک په کلام کي دا لاندي بیت په ګډه سره لولو:

دا ځل دې پر عبدالقادر ور نه سودمن شو
چي به بیا پــه ښایسته وو اعتمید کا
(۱۵مخ)

دې بیت ته ئې په حاشیه کي کښلي دي چي په نورو نسخو کي د "ور نه سودمن شو" پر ځای "ځني سودمن شو" ثبت دئ. مرتب په خپله لهجه کي د "ځني سودمن شو" ترکیب نه لري او دا ورته ناسم ترکیب ښکاره سوی دئ ځکه ئې پر هغه یوازني ثبت باندي اعتماد کړی دئ چي د ده له لهجې سره ئې سر خوړ، نه د عبدالقادرخان له لهجې سره. د متن پوهني اصول له مرتِّب څخه غواړي چي هر ثبت چي زیاترو نسخو اخیستی وي، هغه باید متن ته داخل سي. دلته "ځني سودمن شو" زیاترو نسخو ثبت کړی دئ خو ده د (ج) نسخې ثبت ځکه غوره ګڼلی دئ چي د ده له لهجې سره ئې سمون درلود. دغه راز شخصي دلچسپي د متن ورانولو اول ګام دئ.

بل مثال د عبدالقادرخان له دېوانه:

پرورش د بهره مندو بوټیو وکړی
بې بــهره بوټی وکاږی له بنــیاده
(۱۷۴مخ)

په حاشیه کي ئې ورته کښلي دي چي په (ک، هـ،الف) نسخو کي د (بوټیو) پر ځای (بوټو) ثبت دئ خو ده د هغي یکړي نسخې ثبت (بوټیو) غوره ګڼلی دئ چي د ده لهجې ته نزدې وو. د خوشحال خان خټک او د ده د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ د ټولو شاعرانو په کلام کي مغيره جمع بې له (ياء) څخه په ستر ګه کېږي. تفصيل ئې ما په خپل بل کتاب (له کندهاره تر اټکه) کي ورکړی دئ. لوستونکي دې هورې وګوري.

په خطي نسخو کي د تحريف او بدلون خبره دونه عامه ده چي په شرقي ژبو کي د هيڅ ژبي خطي آثار پر يوه مخ ځني وتلای نه سي. د فارسي ژبي د "مقبول عام" شاعر حافظ شيرازي د ۱۳۷۶ش = ۱۹۹۷ع کال چاپ دېوان له هغو ځوارلسو معتبرو او مستندو نسخو څخه برابر سوی دئ چي د ارواښاد استاد داکټر پرويز ناتل خانلري (۱۹۹۰ع مړ) له خوا ځانګړي سوي دي. خو د دې معتبرو او مستندو نسخو تر منځ توپير دونه زيات دئ چي په درست دېوان کي داسي غزل نسته چي په ټولو نسخو کي دي يو راز ثبت سوې وي. دا چي د پارسي ادب د دغه راز مشهور شخصيت د دېوان دغه حال وي نو د پښتو ارياني خو دي خدای ناره واوري.

## ب – د متن ليکونکي او برابروونکي د شخصي قضاوت ښکارسي:

د خطي نسخو کاتبانو او د چاپي متن برابروونکو په متن کي په بې مسئوليتۍ سره لاس وهلی دئ. دوی په خپل رسالت او مسئوليت يا نه پوهېدل يا ئې لاسوهنه د دوی په نزد د اصلاح او سمون په نيت کوله. دوی فکر کاوه چي په دې لاسوهنو سره د منقول عنها نسخې د ليکوال غلطۍ او تېروتني ورسموي خو خبر نه ول چي په دې کار سره ئې د متونو د تاراج او مسخه کولو عمليه تر سره کوله.

لاسوهني که جمع بندي کړو، نتيجه به ئې داسي راووزي:

۱. کاتب د خپلي لهجې تر اغېزې لاندي راځي او د خپل تلفظ او وينګ ارجحيت ئې دې ته اړ باسي چي په متن کي د ده په نظر اصلاحات راولي. (نه) د (څخه) پر ځای راوړي او برعکس لا هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. له کاتب څخه د ناپوهۍ او غفلت له اسیته په متن کي بدلونونه راځي او کله کله خو د تلوار له خاطره هم د متن اصلي جوله الیشه کېږي.

۳. کاتبان د ژبي د سوچه کولو په ناروغي اخته وي. دوی غواړي له متونو څخه د پردیو ژبو اغېزې پوجي کړي خو پام ئې نه وي چي په دې عمل سره د متن له خپل اصلي مخ څخه پزه هم ورپرې کوي. (وګ: د همدې لیکني د پښتو سوو لغتو برخه).

ج – د چاپي متونو برابروونکي هم د کاتبانو او ناسخانو په شان د متن په مسخه کولو کي شامل دي. پر دوی باندي هم پورتني بیان سوي حالتونه تطبیق کېدلای سي او پر څنګ ئې نور مشکلات دا وي چي ښایي هغه نسخه یا نسخې، چي دی چاپی متن ورڅخه برابروي، زړه وي، ورَسته وي، شوړېدلې یا اوبو وهلې وي، نیمګړې وي ... او نوري ټکي و ډبري پر رالوېدلي وي او له سم لوستلو ئې ایستلې وي. د متن ترتیبوونکی ئې د خپل عندي قضاوت تر اغېزې لاندي رانقلوي او خپروي ئې.

ښایي د چاپی متونو د تصحیح په کار کي غفلت سوی وي، لوستل ئې سخت وي، توري په مطبعه کي سم نه وي لګېدلي.

ښایي د لیکوال یا شاعر په خپل خط د لیکلو نسخو نه سته والي دي د چاپي متن د ناسم والي عامل ګرځېدلی وي.

د – د مادي ګټې په خاطر نسخې زړول، زړې ښوول، غلطي نېټې وراچول هم د لاسوهنو له پاره زمینه برابروي. زما په کتابتون کي د یوسف و زلیخا یوه خطي نسخه سته چي د کتابت نېټه ئې په عدد او تورو (۹۰۵ه ق) ښوول سوې ده. خو نسخه له ورایه معلومېږي چي د عبدالودود په نامه یو چا له روس سره د جهاد په کلونو کي د بلوچستان د سورخاب په کمپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي خطاطي کړې ده او د دغه تقلب هدف ئې د پیسو تر لاسه کول وو.

**هـ – د کتابت او تالیف د نېټو سره ګډول:**

د متونو په برابرولو کي د ټولو متنپوهانو پر دا یوه خبره باندي اتفاق دئ چي د متن په تهیه کي باید هغه نسخه د اصل په توګه ونیول سي چي په زماني لحاظ تر نورو زړه وي. هر څونه چي نسخه زموږ زمانې ته نژدې استنساخ سوې وي، هغونه ئې د تحریف، بدلون او لاسوهني احتمال زیات وي. د نسخې د زړتابه په برخه کي بیا یوه ستونزه دا ده چي کاتبان پر نسخه باندي د کتابت نېټه لیکي او دا خبره نه لیکي چي منقول عنها نسخه، یعني هغه نسخه چي ده دا خپله نسخه څني رانقل کړې ده، په کومه نېټه لیکل سوې وه.

د متن برابروونکي ته یوازي په پښتو پوهېدل کفایت نه کوي، عربي او فارسي هم ورته په کارده. د نسخو د کتابت تاریخ زیاتره په عربي وي. عربي حساب خو ئې باید هرومرو زده وي. کاتبان د نسخو په پای کي یو راز مکرر عبارتونه راوړي او اکثره په فارسي، عربي یا په دواړو ژبو ګډوډ وي. تمت بالخیر ...

کله کله د یوې خطي نسخې په پای کي کومه نېټه په نظم، په نثري عبارت یا په عدد لیکل سوې وي او مصحح فکر وکړي چي دا عدد د استنساخ نېټه ده، خو هغه د کتاب د لیکلو تاریخ وي. یا برعکس؟ د احمدشاه باباد دېوان د پای څلوریځه ئې مثال دئ:

کتـــاب خـــتم شـــو په دو شـــنبې
یـــارانو مـــوږ څـــو تاســـي دلـــې
پـــــــه آخــــــــره ورځ د روژې
سنه هـزار و صد شـصت و ســې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ۱۱۶۳هـ ق ځینو ځېړونکو د دېوان د استنساخ کال ګڼلی دئ؟ چې سهي نه دئ. تفصیل ئې ما د لوی احمدشاه بابا دېوان (مشهور په دېوان هرا)، ۱۲مخ کي بیان کړی دئ.

و- نسخې ته اوبه رسېدل، اوبوزو وهل، په صحافت کي متن کنډو کول، د ګنډلو پر وخت متن ضایع کول هم کله کله د لاسوهني عامل کېدلای سي. مصحح چي له دغه راز ستونزو سره مخامخ سي د متن د بشپړولو له پاره باید له ځانه تصرف وکړي. د تصرف له پاره که پیاوړي او قوي او منطِقي قرینې موجودي نه وي، له ناوړي لاسوهني سره به ئې هیڅ توپیرنه وي.

د متونو برابرول ځان ته اصول لري چي نه مراعاتول ئې د دغو تاریخي پاڼو د سوځولو حیثیت لري. د متونو په سمولو کي که د یوې کلمې یا یوې فقرې د لوستلو په برخه کي چا له حدس و ګومان څخه کار واخیست، ګویا پر غلطه روان سوی دئ. د متن په تصحیح کي حدس هغه وخت مجاز دئ چي د احتمال له پاره ئې د نورو معتبرو نسخو ملاتړ موجود وي. هسي هوایي حدس وهل د متونو د برابرولو معتبر پوهان نه خوښوي او په کلکه ئې ردوي. هر چا که د هرې کلمې ثبت ته د شک په سترګه کتل، دغه شخص دقیق متن تهیه کولای سي.

**ز – د خطي نسخو ناسمه لوستنه:**

د خطي نسخې متن سم نه وي لوستل سوی . کله کله له کاتبانوڅخه زور – زېر پاته سوي وي. (شو)، (شوه) هم لوستل کېدلای سي او سوی هم دئ.

د عبدالقادر خان خټک په دېوان (۱۳۶۸ش چاپ) کي لولو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت ناستی په پل د جهنم دی
سهل کله د عالـــم حکمرانی ده
(۴۳۹مخ)

ما ته د دغه بیت اول نیم بیتی داسي سم ایسي:

"حکومت ناستی پر پله د جهنم دی"

"پر" خو کاتب او مرتب له خپلي لهجې سره سم اړولی دئ او د دې راز اړوني مثالونه په کلاسیک ادب کي په پیڅر دي. د "پل" پر لام باندي په غالب گومان سره زور (فتحه) یا له کاتبه پاته سوې ده او یا مرتب نه ده لیدلې. پر دغه بیت باندي به وروسته نور بیان هم ولولی.

اشرف خان هجري وایي:

نه به وصل د رانجـــا وشي له هـیره
نه به هیر دیدې روشني په رانجا کا
(۴- مخ)

په متن کي "روشن" دئ چي د یوې هجا کمبود په شعر کي سکته راوړې ده. په اصل کي ښایي تر نون لاندي زېر یا له کاتبه پاته سوی وي، یا به د متن چاپوونکي دقت نه وي ورته کړی.

په خطي نسخو کي د اعراب له پاره مشترکه قاعده نسته هر لیکوال او خطاط ئې په خپل فکر او پوهه د تورو پر سر یا تر هغه لاندي ایږدي. لوستونکي زیاتره د دغو حرکاتو په لوستنه کي غلطي کوي. د عبدالقادر خان خټک د دېوان د ۴۳۹ مخ بیت چي مخکي مو راووړ او تبصره مو پر وکړه، دلته بیا هم صدق کولای سي.

حکومت ناستی په پل د جهنم دی
سهل کله د عـــالم حکـــمراني ده

دلته وینو چي په بیت کي "په پل" ثبت سوی دئ چي سم شکل ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



"په پله" یا "پر پله" دئ. د لام زور (فتحې) ته پاملرنه نه ده سوې یا له کاتبه (زور) پاته سوی دئ او په دې ډول د متن "په پل" باندي ژبپوه د خپل ژبني تحلیل تاداو ایږدي او موږ ئې فکر کولای سو چي د دې تحلیل تاداو به څونه لړزانده او غیرواقعي وي.

ح – زموږ زیاتره متون د سرکاري او رسمي پروژو په خاطر تهیه سوي وي او تر سر تېري سوي وي او د پروژې د بشپړولو له اسیته په متن کي راز راز لاسوهنو لارمونلې وي.

ط – تعجیل:

کله کله پر یوه متن باندي دوه تنه په عین وخت کي کار پیل کړي او هر یو بېړه کوي چي تر ها بل چا دمخه متن خپور او ویاړ ئې تر لاسه کړي. د دغي بېړي او تلوار له خاطره هم په متن کي د لازم دقت اصول تر پښو لاندي کېږي او ناروا لاسوهنو ته زمینه برابرېږي .

ی – او په پای کي باید ووایم چي د متن څېړني لازمه پوهه نه لرل هم د ناروا لاسوهني عامل کېدلای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهمه برخه

- پښتو متون د متن څېړنې په رڼا کې
- افغانستان – تر ۱۳۵۲ ش کال وړاندې چاپ سوي متون
- افغانستان – تر ۱۳۵۲ش کال وروسته چاپي متون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## پښتو متون د متن څېړنې په رڼا کې

دا څپرکی د متونو د کار د حوزو له مخې اوډل سوی دئ او د هري حوزې متون په جلاجلا توګه تر څېړنې لاندې نيول سوي دي.
پښتو متون لکه وړاندې چي مو هم اشاره ورته کړې ده، د خپرېدو څو مرکزونه لري او له هر مرکز څخه راپاته آثار د متنپوهنې له مخې ارزيابي کېدلای سي. زه به په دې برخه خپل کار د ختيځپوهانو له آثارو څخه راونښلوم او لوستونکي به وګوري چي د ختيځپوهانو کار تر کومې اندازې پوري د متن څېړنې پر اصولو باندې ولاړ دئ؟

## د ختيځ پوهانو په لاس تهيه سوي متون

### ۱- برنارد دورن او "کريستوماتي[۱]" ئې:

په پښتو متونو کي د ختيځپوهانو د کار په سر کي لومړی شخص

---

[۱] هيوادمل ليکي چي د کريستوماتي په باب د رشاد څېړنه له متن سره مل چاپ نه سوه خو يوه برخه ئې د کابل مجلې د ۱۳۵۹کال په ځينو ګڼو کي چاپ سوه.(وګ: د اسماءالحسنی سريزه "ک" مخ). دا مجله زما سره نسته. که د ژوند پر مېنه پاته وم او دغه مجله مي لاس ته راغله، د دې حاضر کتاب په دريم ټوک کي به ئې ورسره مل کړم (انشاءالله).

(c) ketabton.com: The Digital Library



الماني الاصله روسی عالم جوهانزالبريخت برنهارد دورن (۱۸۰۵ – ۱۸۸۱ع) Johannes Albrecht Bernhard Dorn دئ چي د بوريس اندريیويچ دورن Boris Andreevich Dorn په نامه هم يادېدی. پروفيسر بوريس اندريیويچ برنارد دورن د المان د (Saxe- Coburg) په سيمه کي زېږېدلی وو[1] او د روسيې د سن پترزبورگ په ښار کي مړ سوی دئ. ده پر نورو علمي دندو سربېره په پترزبورگ پوهنتون کي د سانسکريټ او پښتو ژبو تدريس کاوه.

دورن د پښتو خريستوماتي (پښتو منتخبات) په نامه د پښتو نظم و نثر کلاسيک متون خپاره کړي دي او زموږ محققين دغه کار د پښتو انتقادي متونو په لړ کي راوړي. کله چي پروفيسر دورن د پښتو کريستوماتي خپروله، د ده د پلرني وطن، المان درو تنو نورو ژبپوهانو فيردريک وولف (۱۷۵۹ – ۱۸۲۴ع)، ايمانويل بيکر (۱۷۸۵ – ۱۸۷۱ع) او کارل لشمان (۱۷۹۳ – ۱۸۵۱ع) د نقدي متونو (Textual Criticism) په برخه کي لومړني اساسي گامونه اخيستي ول او اروپايي څېړونکي د دغو متونو د تهيه کولو په اصولو باندي پوهېدل. طبيعي خبره ده چي پروفيسور دورن هم د دغو پوهانو له کار او زيار څخه ناخبره نه وو او حتی ويلای سو چي دی په خپله هم د همدغو فيلالوجيستانو په کتار کي ولاړ شخصيت وو. خو کله چي موږ د ده خريستوماتي گورو، په دغه مجموعه کي ټول راغونډ سوي متون د نقدي متنپوهني پر اصولو باندي برابر نه خېژي.

د پښتو خريستوماتي د نثر په برخه کي د افضل خان خټک کليله و

---

[1] د (saxe-coburg) سيمه يوه (Duchy) وه. ډَچي ئې هغې سيمي ته ويله چي د (Duke) له خوا به اداره کيدله. (Duke) تر پاچا رالاندي يو اشرافي لقب وو چي د الماني شاهانو په وخت کي رواج وو. دغه سيمه اوس (Bavaria) او (Thuringia) نومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمنه (عیاردانش)[1]، د اخوند درویزه ننگرهاري مخزن الاسلام او د اخوند قاسم فوایدالشریعة، د تورات او انجیل د پښتو ژباړو ځیني نمونې ثبت کړي او د نظم په برخه کي ئې د عبدالقادرخان خټک یوسف و زلیخا، د عبیدالله یوه غزله، د رحمان بابا د دېوان، د میرزا د دېوان، او په خاتمه کي ئې د بابوجان قصیدې نمونې راغونډې کړي دي.

زما سره همدا اوس دپښتو خریستوماتي (Chrestomathy) هغه چاپ پروت دئ چي په ۱۳۵۶ش = ۱۹۷۷ع کال د کابل پښتو ټولني دوهم وار چاپ کړی دئ او سریزه ئې د ښېړنوال محمدصدیق روهي په قلم په پښتو ژباړل سوې ده.

پروفیسور دورن چي د دغو منتخباتو په سریزه کي کوم مطالب راوړي دي، له هغو څخه معلومېږي چي د دغي مجموعې د ترتیب په وخت کي له ده سره د عیاردانش کومه چاپي نسخه او د ایسټ انډیا هاوس د یوې خطي نسخې اقتباسونه موجود ول[2].

په متن کي ئې دا خبره نه ده ښوولې چي دا متن د چاپي نسخې له مخي ترتیب سوی دئ که د بلینډ له خوا د ورلېږل سوي خطي اقتباسو له رویه. ده د عیاردانش د یوې برخي لغړ متن بې له اختلافي برخو ثبت کړی دئ. نه ئې چاپي نسخه معرفي کړې ده او نه هم د خطي نسخې د اقتباساتو پر ځانګړتیاوو رڼاغېدلی دئ چي په دې ډول څوک ویلای سي چي په خریستوماتي کي د عیاردانش منتخبه برخه د انتقادي متن پر اصولو

---

[1] دا برخه دی د خوشحال خټک له قلمه بولي چي تېروتنه ده.

[2] د خطي نسخې اقتباسونه ورته د ده د ملګري بلنډ (N.Bland) له خوا ورلېږل سوي ول (وګ: د دغي مجموعې د سریزې د پښتو ژباړې اووم مخ).


(c) ketabton.com: The Digital Library



**برابره نه ده[١].**

**د ده له سریزي څخه دا هم ښکاري چي د اخوند درویزه د مخزن الاسلام یوه خطي نسخه، د ډاکټر لیډن (Dr.Leyden) له خوا د مخزن الاسلام ژباړل سوي برخي او د لندن په ایسټ انډیا هاوس کي د "مخزن پښتو" نسخه ورته پرتې وې[٢].**

**ایسټ انډیا هاوس د انګلستان د لندن ښار په (لیډن هال) کوڅه کي واقع او د ایسټ انډیا کمپنۍ مرکزي دفتر هم په همدې هال کي وو. د دغه هال تصویر لاندي وګورئ:**




ایسټ انډیاهاوس ـ لندن ، انګلستان

---

[١] دورن د عیاردانش د ژبي په باب یوه جالبه خبره کوي او وايي: "... عیاردانش د افغانی ژبی د لویدیځې لهجی د لیکنې تر ټولو غوره مثال ګڼل کیدای شی. په حقیقت کی، کومه ژبه چی دی ئې استعمالوی، په لوړه سویه تنقیح شوی ده "(د سریزي اووم مخ). د پښتو د کلاسیکوآثارو ژبه ما (هوتک) په خپل کتاب "له کندهاره تر اټکه" کي د پښتو له لوېدیځي لهجې سره مقایسه کړې ده او خورا ډېر مشابهتونه مې ښوولي دي دا کتاب پروسږ کال (١٣٨٩ش) کال په کندهار کي د علامه رشاد خپرندویه ټولني له خوا چاپ سو.

[٢] د مخزن پښتو دغه نسخه د (Professor D.Forbes) له خوا ورته لېږل سوې وه. (وګ: د نوموړي سریزي اووم – نهم مخونه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خريستوماتي کي د مخزن الاسلام انتخابي برخي هم د نقدي متن پر اصولو باندي ډېري برابري تهيه سوي نه دي او اختلافي بديلونه او توپيرونه ئې ښوول سوي نه دي خو په سريزه کي د مخزن په باب او په هغه کي د کارول سوي ژبي پر ځينو ځانګړ تياوو روښا اچول سوې ده چي دا کار ئې د نقدي متن برابرولو له اصولو سره سم دئ.

د خريستوماتي په نثري برخه کي دريم متن د فوايدالشريعة دئ چي د دورن د خپلوځر ګندوونو له مخي له هغي نسخې څخه اقتباس سوی دئ چي مستېر بلينډ ورسپارلې وه. (وګ: د سريزي څوارلسم مخ). مستېر بلينډ بيا دغه نسخه د ايسټ انډيا هاوس له کومي بلي نسخې سره مقابله کړې وه او د دورن په وينا ئې "د يو زيات شمېر مشکوکو او نامفهومو عبارتونو پر تلنه هم پرغاړه" اخيستې وه.

دورن نه د خپلي نسخې او نه هم د ايسټ انډيا هاوس د نسخې په معرفۍ کي څه ليکلي دي او نه ئې هغه "مشکوک او نامفهوم عبارتونه" راښوولي دي چي د مستېر بلينډ له خوا ئې "پرتلنه" سوې وه. دا کار ئې د متن څېړني له اصولو څخه سرغړونه ده. خو ده يو کار له همدې اصولو سره برابر کړی دئ او هغه دا چي د اقتباس سوي متن ځيني هغه برخي ئې چي د جمال الدين الحسينى له کوم فارسي اثر څخه اخيستل سوي دي او د دغه فارسي اثر يوه نسخه بيا هغه وخت د سن پترزبورګ په شاهي کتابخانه کي موجوده وه، مقايسه کړي دي[1].

---

[1] علامه رشاد دغه اثر فارسي اثر او د هغه مؤلف موږ ته داسي راښيي: "د فوايدالشريعت وروستي څو بابه چي د حضرت پيغمبر ﷺ شمائل پکښي څېړل سوي دي، د امير جمال الدين عطاءالله بن فضل الله الحسينى الهروي (۹۲۷هـ ق مړ) له "روضة الاحباب فى سيرالنبى والآل والاصحاب" څخه اخيستل سوي دي (وګ: د ګلشن روه د سريزي ۳٦مخ - ۱۳۵٦ش چاپ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تورات د پښتو ترجمې اقتباس ورته پروفیسر روډیګر ( Professor Rodiger) ورلیږلی وو او اصلي نسخه ئې نه وه کتلې او طبیعي ده چې د نقدي متن حکم ورباندي کېدلای نه سي[۱].

د پښتو انجیل اقتباسات ئې له هغې چاپي نسخې څخه کړي دي چې په ۱۸۱۸ع کال په سیرامپور کي چاپ سوې وه. نورتفصیل ئې نسته. دا متن هم نقدي متن نه سو بللای[۲].

د خریستوماتي په منظومه برخه کي لومړی د عبدالقادرخان خټک "یوسف زلیخا" ده چي په فارسي کي نورالدین عبدالرحمن جامي (۱۴۱۴ – ۱۴۹۲ع) نظم کړې ده. پروفیسر دورن د عبدالقادرخان خټک د دغي پښتو ترجمې اقتباسات له یوې نسخې څخه رااخیستي دي چې د مستر بلینډ له خوا ورکول سوي ول. ټول متن یو سلو اته مخه دئ. د یوسف زلیخا دغه اقتباس سوي متن ته هم انتقادي نه سو ویلای.

دوهمه منظومه ټوټه د عبیدالله نومي شاعر یو نظم دئ چي په کتاب کي "غزل" او په سریزه (پنځلسم مخ) کي بیا قصیده بلله سوې ده چي دا دواړي خبري سمي نه دي. پروفیسر دورن وایي چي دا غزله؟ د رحمان بابا د دېوان پره یوه پاڼه باندي کښل سوې وه. دې نظم ته ئې غزل ویلې ده په داسي حال کي چي د نظم تر مطلع وروسته د هر بند درې مصرعوي قافیوي

---

[۱] پروفیسر روډیګر د جرمني په (Saxony-Anhalt) ایالت کي د (Halle) ښار اوسېدونکی وو. دا ښار د دغه ایالت په جنوب کي د (Salle) رود پر څنډه پروت دئ. پروفیسر روډیګر د عبراني ژبي ماهر وو او د ده په لاس د (Gesenius) د عبراني ګرامر ځورلسم چاپ بیا چاپ سوی دئ. د دغه ګرامر مؤلف هنریک ویلهلم جیسینیوس (۱۷۸٦ – ۱۸۴۲ع) الماني اوریینټالیست (orientalist) وو.

[۲] سیرامپور د هند د لوېدیځ بنګال په ایالت کي د هوګلي (Hooghly) سیند پر غاړه د یوه ښار نوم دئ. هوګلي سیند د ګنګا رود یو ښاخ دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماهنګۍ لري او څلرمه مصرع د مطلع قافیه تعقیبوي. دغه راز نظمو ته د شعر په اصنافو کي "مربع" ویل کېږي او د غزل نوم پر ایښوول تېروتنه ده. نه ئې د رحمان بابا د دېوان له لیک سره د عبیدالله د نظم د لیکدود پر مشابهت یا اختلاف باندي څه ویلي دي او نه به ورته د شاعر په باب د څېړني امکانات میسر ول.

تر دې وروسته د رحمان بابا له دېوان څخه ښه زیاته برخه اقتباس سوې ده چي ۵۹ مخه ئې نیولي دي. پروفیسر دورن ویلي دي چي له ده سره د دغه دېوان دوې نسخې وې، له یوې سره د میرزا دېوان هم یو ځای ګنډلی وو. دورن دا نسخه له فون فرین څخه تر لاسه کړې وه او بله نسخه دورن ته د تهران په دربار کي د روسیې د سفارت سکرتري ورکړې وه. ده متن د همدې دوهمي نسخې له مخي برابر کړی دئ او د لومړۍ نسخې بدیلونه ئې په لمنلیکونو کي راوړي دي. په سریزه کي ئې د دې دواړو نسخو لیکدودي توپیرو ته هم اشاره کړې ده او په مثال کي ئې (ږ) او (ژ) راوړې ده چي په یوه نسخه کي (ږ) او په بله کي (ژ) کښل سوې ده. ده د دغو دوو نسخو پر توپیرو باندي د تبصرې وعده د دې نظمونو دوهم چاپ وخت ته پرې ایښې ده خو دا وخت ئې له بده مرغه موندلی نه دئ.

په هر صورت په خریستوماتي کي د رحمان بابا د دېوان منتخب کلام یوازنۍ برخه ده چي له نیمګړ تیاوو سره سره بیا هم د متن څېړني پر تول تر زیاتي اندازې برابره خېژي.

د دې مجموعي ورپسې برخه د میرزا له دېوان څخه منتخبات دي. دا برخه له یوې واحدي نسخې څخه تهیه سوې ده او له واحدي نسخې څخه د متن تهیه کول په اوس وخت کي لا هم چي د متن څېړني اصول وضعه سوي او عام سوي دي، مشکل کار دئ. پروفیسر دورن هم د دغي برخي په باب د ستونزو خبره کوي او د میرزا د کلام پر سخت والي باندي ئې حمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. دی وايي: "د مرزا شاعرانه ترهات ډېر مشکل او د رحمان د اشعارو نه اوچت دی. د املا په لحاظ د اخوند دروېزه له ليکنو سره نږدې ښکاری" (د سريزي شپاړسم مخ).

د مرزا کلام رشتيا هم د رحمان بابا د کلام سلاست نه لري او د موضوع په لحاظ هم د تصوف غامض مطالب د شعر په قالب کي بيانوي. دغه غُمض ئې د کلام په پوهېدنه کي مشکلات پېښ کړي دي او له همدې اسيته پير محمد کاکړ ويلي دي:

د ميرزا شعر به ښه وو ولي درېغه
په وحشي الفاظو ده کړ ويران شعر
(دېوان – ۷۷مخ د صحاف چاپ)

د پښتو منتخباتو د متني برخي وروستي ديارلس مخه د بابوجان قصيده ده او په دې برخه کي پروفيسر دورن خپله تبصره په دوو ليکو (کرښو) کي ځای کړې ده او کښلي ئې دي دا يو مذهبي نظم دئ "چي بابوجان له عربي څخه رااړولی دی" (د سريزي اوولسم مخ).

د پښتو منتخبات وروستي دوه سوه دېرش مخه لغت نامه (Glossary) ده چي په سريزه کي ئې د دغه کار پر مشکلاتو باندي خبري کړي دي. د دورن پر دغه کار باندي ږغېدل زما د همدې کتاب موضوع نه ده خو که څوک پر پښتو قاموسونو او فرهنګونو باندي څېړنه کوي، د دورن د کار يادونه له ضرورياتو څخه ده.

د دورن په پښتو منتخباتو کي د راغلو متونو عکسي چاپ نسته چي د هغو له مخي موږ د نسخو پر ليکدود باندي وږغېږو او همدا نيمګړتيا په خپله پر دې خبره باندي شهادت ورکوي چي دا منتخبات سره له دې چي د پښتو ژبي په ادبي تاريخ کي فوق العاده اهميت لري خو په مجموع کي ويلای سو چي د پښتو خريستوماتي مؤلف په ځينو محدودو برخو کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقدي متن څېړني اصول پاللي دي ځکه ئې په پښتو کي د دغي پوهني پر لور لومړنی ګام بللای سو.

## ۲ - هنري جورج راورټي او "ګلشن روه" ئې:

تر پروفيسر بوريس اندرپيويچ دورن وروسته د انګرېزي افسر هنري جورج راورټي (۱۸۲۵ – ۱۹۰۶ع) Captain H.G.Raverty "ګلشن روه" نومې مجموعه مخي ته راځي. ګلشن روه واردواره په ۱۸٦۰ع کال کي د انګلستان په هرتفرډ (Hertford) کي، دوهم وار په ۱۸٦۸ع په لندن کي او دريم وارپه ۱۹۷۷ع کال په کابل کي خپور سوی دئ. پر دغه وروستي چاپ باندي د پوهاند عبدالشکور رشاد (۱۹۲۱ – ۲۰۰۴ع) په قلم ۱۹۲ مخيزه څېړنه سوې او د همدې چاپ په سر کي راغلې ده. په دغه څېړنه کي د هنري جورج راورټي د ژوند، په پښتو کي او پر پښتو باندي د هغه د علمي آثارو او په خپله د ګلشن روه مجموعې پر محتوياتو، د هغې پر شکلياتو، ليکدود او نورو ژبنيو ځانګړتياوو باندي عالمانه خبري سوي دي. زه د دې مجموعې پر ترتيب او تدوين باندي د متن څېړني د اصولو په رڼاکي يو څه رڼېږم.

ګلشن روه نومې مجموعه د نثر او نظم دواړي برخي لري. د نثر په برخه کي ئې د افضل خان خټک د تاريخ مرصع، د اخوند قاسم د فوايدالشريعة، د افضل خان خټک د علم خانه دانش، د بابوجان د کتاب[۱]، د اخوند درويزه ننګرهاري د مخزن الاسلام[۲] او د عبدالقادرخان خټک له

---

[۱] د علامه رشاد د تحقيق له مخي په ګلشن روه کي د بابوجان منتخبات نثر نه دئ.

[۲] په ګلشن روه کي د دغه کتاب نوم مخزن الاسرار راغلی دئ چي تېروتنه ده. د اخوند درويزه دغه اثر خوشحال خان خټک په سواتنامه کي هم "مخزن الاسرار" بللی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلدسته څخه منتخبي برخي راغلي دي. د نظم برخه ئې د رحمان بابا، خوشحال خان خټک، حميد مومند، خواجه محمد، ميرزاخان انصاري، محمدکاظم خان شيدا، اشرف خان خټک، يوسف زليخا (د عبدالقادر خټک ترجمه)، د عبدالقادر خان خټک او د احمدشاه ابدالي له دېوانو څخه منتخب اشعار لري.

دا مجموعه په داسي وخت کي خپرېږي چي د افغانستان تاريخي هيواد د کورني نفاق په لمبو کي د نن په شان سوځي او څوک د علم او ژبي خوا ته لږ پاملرنه لري. پښتو آثارو او قلمي نسخو د "انځرګل" حيثيت مونلی وو چي نوم ئې وو خو پيدا کول ئې د غره خاته وه. د پښتو شاعرانو او مؤلفينو آثار زياتره د پښتنو د خپلي بې غورۍ له امله د دوی له پلرني ټاټوبي څخه بهر وتلي ول. د مجموعې مؤلف چي اصلاً نظامي افسر خو پر څنګ ئې د ژبو او تاريخ د مطالعې په برخه کي د پوره صلاحيت څښتن هم دئ، د پښتو آثارو د راغونډولو او د خپل مطبوع دولت د استعماري ګټو د خوندي کولو له پاره د پښتو ژبي د زده کړي په اهميت پوره خبر دئ. ده خپل دغه کتاب اصلاً د پښتو ژبي د زده کړي په نيامت کښلی دئ.

مؤلف د متونو د تصحيح او برابرولو په اړتيا او اصولو باندي ښه پوره پوه ښکاري. ځکه د ده د علمي فعاليت په زمانه کي اروپايي متنپوهانو د متن څېړني اصول تر چاڼ ايستلي ول. د مجموعې په سريزه کي هنري جورج راورټي داسي وايي:

"په دي کتاب کښِ مي حصي له لسو کتابو د نظم او شپږو کتابو د نثر درجي کړي دي ... دا واړه په نظر دقيق او فکرعميق سره مقابله شوي دي له څو زړو نسخو سره چه مشهوري دي او له نورو کتابو سره چه په لاس مي اتفاقا راغلي وؤ...." (وګ: ديباچه ۴ – مخونه. نقل قول د ګلشن روه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ليکدود اخيستل سوی دئ).

خو دی د خپلو اقتباسو منابع، يعني هغه خطي نسخې چې استفاده ئې ځني کړې ده، نه معرفي کوي او نه هم د متن اختلافي بديلونه راوړي چې د هغو له مخي لوستونکی د ده د مقابلې کار وځېړلای سي.

لکه ده چې هم د همدې ديباچې په پای کې اشاره ورته کړې ده، ده د يوه بل اثر د ليکلو تابيا درلوده او غوښتي ئې دي چې په هغه کې د دغو اقتباسو د ويونکو او ليکونکو په باب وړغېږي، ځکه ئې نو دا اثر بې له کومې تبصرې او حواشيو ترتيب کړی دئ. له همدې امله موږ د ګلشن روه مجموعه د متن څېړني پر اصولو باندي برابره نه سو بللای خو له اهميته ئې په هيڅ ډول سترګې نه پټوو. همدا منابع ول چې زموږ د ژبې د ادبي خوځښت له پاره ئې د شلمي پيړۍ د سر په کلونو کې تاداوونه جوړ کړي ول او زموږ محققينو په دې برخه کې نور محققانه آثار نه درلودل يا ئې بيخي لږ درلودل. تر "ګلشن روه" د "پښتومنتخبات" (کريستوماتي) د متن څېړني پر اصولو باندي نسبتاً سمه خېژي.

## ۳- دارمستتر او "د پښتونخوا د شعر هارو بهار" ئې:

جيم دارمستتر (۱۸۴۹ - ۱۸۹۴ع) فرانسوی عالم وو چې د فرانسې په يوه پخواني ايالت الزاس (Alsace) کې له يهودي مور و پلار څخه زېږېدلی وو[1]. د دوی د کورني نامه (Darmesteter) ريښه په دارمستات

[1] د الزاس ايالت د راين (Rhine) رود پر لوېديځه غاړه د سويتزرليند پولي ته نزدې پروت دئ. دا ايالت تر ۱۸۷۰ع کال وروسته د جرمن امپراتورۍ يوه برخه سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Darmstadt) کي د دوی د پخوانۍ استوګني له ځای سره اړه لري[1].
دارمستتر په پاريس کي تحصيل وکړ او تر تحصيل وروسته په ( College de France) کي د پروفيسر په توګه مقرر سو. ده په ۱۸۸٦ع کال له يوه هيئت سره هندوستان ته سفر وکړ او هورې ئې د پښتنو اولسي سندري راغونډې کړې.

جيمزدارمستتر له يوې انګليسۍ ليکوالي سره واده وکړ چي نوم ئې (Anges Mary Frances Robinson) وو. دارمستتر په ۱۸۹۴ع کال مړ سو. ده له شرقي ژبو سره دومره مينه درلوده چي پر قبر ئې لا هم د "شب درميان و خدا مهربان" جمله په فارسي رسم الخط ليکل سوې ده.

د دارمستتر مشر ورور ارسين دارمستتر (۱۸۴٦ - ۱۸۸۸ع) هم فيلالوجيست وو.

د جيمز دارمستتر مشهور پښتو اثر "د پښتونخوا د شعر هاروبهار نومېږي چي واردواره په ۱۸۸۸ع کال په پاريس کي چاپ سو چي تر دغه چاپ نهه اتياکاله وروسته په کابل کي د پښتو ټولني له خوا د دريم وار له پاره بيا چاپ سو. پر دغه چاپ باندي د جيمز دارمستتر پېژندګلوي ښاغلي دکتور روان فرهادي په فارسي کښلې او ښاغلي حبيب الله رفيع په پښتو اړولې ده او توضيحات ئې د پوهاندحبيبي په قلم ليکل سوي دي. د پښتونخوا د شعر هاروبهار د اولسي ادبياتو يوه مجموعه ده چي د خلکو له سينو څخه راغونډې سوي دي. د متن څېړني پوهان ټول په دې عقيده دي چي متن بايد هرومرو تحريري وي. د شفاهي ادبياتو راغونډول د متونو په کار کي نه سي راتللای او له همدې اسيته زه د دارمستتر پر دغه اثر باندي زما په همدې کتاب کي د ويلو څه نه لرم.

---

[1] دارمستات په جرمني کي د يوه ښار نوم دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






د جيمز دارمسستر مقبره

## ۴- پادري هيوز او "كليدافغاني" ئې:

**كليد افغاني د تامس پاټريک هيوز (۱۸۳۸ – ۱۹۱۱ع) په زيار د پښتو نثر او نظم راټوله سوې مجموعه ده چې په برتانوي هند كې د هغو انګليسي زده كوونكو له پاره د تدريسي كتاب (Text Book) په توګه ليكل سوی او د پنجاب د انګليسي حكومت تر نظارت او حمايې لاندې د ۱۸۷۲ع كال په نومبر كې د لاهور په سركاري مطبع كې چاپ سوی دئ. د كتاب تر نامه لاندې "منتخبات د نثر او د نظم د پښتو ژبې" عبارت هم ليكل سوی او مُرَتِّب ئې "پادري هيوزصاحب ساكن د پښاور" ښوول سوی دئ.**

**د دغه كتاب په سر كې د "ګنج پښتو" په نامه يو كتاب دئ چې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هشنغر د تنګي اوسېدونکي مولوي احمد کښلی دئ. دغه کتاب د کلید افغاني ۱۲۸ مخونه نیولي دي.تر دې وروسته (تاریخ د سلطان محمود غزنوي) راځي چې له (تاریخ فرشته) څخه د مولوي احمد په قلم په پښتو ترجمه سوی دئ. دا ترجمه په ۷٦ مخو کي ځای سوې ده. ورپسې د افضل خان خټک د (تاریخ مرصع) د هغې برخي یوه حصه رانقل سوې ده چې تر دې پخوا هنري جورج راورټي په (ګلشن روه) کي رااخیستې وه. په کلید افغاني کي د ګلشن روه له له اقتباسي برخي څخه (۴۹مخه) رااخیستل سوي چي د کلید افغاني په ۳۵مخونو کي ځای سوي دي.پر دغه ځای باندي د کلید افغاني د نثر برخه پای ته رسېږي او بیا نو د نظم په برخه کي وار د واره "قصه د شهزاده بهرام او د ګل اندامي، تصنیف د فیاض" راځي (۵٦مخه)، ورپسې د "انتخاب د دیوان د عبدالرحمان مهمند ساکن د بهادر کلي" (۳۱مخه)، بیا "انتخاب د دیوان د خوشحال خان خټک" (۳۰مخه)، تر هغه وروسته د (چمن بې نظیر) په نامه د پنځه دېرشو پښتو شاعرانو ګلچین شروع کېږي چي په هغو کي پر خوشحال خان او عبدالرحمان سربېره د دغو شاعرانو د نظم نمونې د الفبې په ترتیب راوړل سوي دي:

معزالله (۳ غزلي)، شیدا (۲ غزلي)، کامګار (۳ غزلی)، حمید (۳ غزلي)، محمدي (۴ غزلي)، یونس (۳ غزلي)، صدیق (۲ غزلي)، کاظم، فتح علي، پیرمحمد، خواجه محمد، غفور (۲ غزلي)، علیم، صدر خوشحال (۲ غزلي)، اشرف (۳ غزلي)، خوشحال (۲ غزلي)، (قلندر ۲ غزلي)، فاضل (۳ غزلي)، دولت، صمد، ابوالقاسم، احمدشاه، رحمان، عصام، میرزا، عبدالقادر (۲ غزلي)، سکندر، حسین (۲ غزلی)، براهیم، عبدل (۲ غزلي)، عثمان (۲ غزلي)، مهین، فضیل، احمد.

پر دغه ځای "کلیدافغاني تمام شه" عبارت راغلی دئ او تر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته "انشاء د پښتو" شروع کېږي چي پنځلس مخه ئې نيولي دي او په هغو کي نونس (۱۹) پښتو خطونه (مکتوبونه) راغلي دي. د کليد افغاني ټول مخونه له غلطنامې پرته (۴۱۸) دي. له دې سره د پادري هيوز دوې مقدمې هم سته چي په انگرېزي ژبه ئې کښلي دي. په هغو کي د کليد افغاني په تهيه کولو او کښلو کي ئې د مولوي احمد د همکارۍ يادونه په ښو الفاظو کي کړې ده او هغه ئې خپل دوست او عالم افغان (پښتون) بللی دئ.

کليد افغاني د پښتو نظم و نثرد يوې خطي مجموعې د ارزښت په اندازه ځای لرلای سي. متن ئې په لاس خطاطي سوی دئ خو د خطاط نوم ئې نسته. د متن په ترتيبولو کي د متنپوهني د اصولو څرک کوربټ نه پکښې ليدل کېږي. نه ئې خطي مأخذونه راښوولي دي، نه ئې د ترتيب و تنظيم اصول. له همدې اسيته زه هم د نوري تبصرې له پاره څه نه لرم.

د کليدافغاني مجموعه دوهم وار د ښېرندوی عبدالله خدمتگار په سريزه په دوو وروستيو پېړيو کي د پښتو چاپ شوو آثارو د سيمينار په مناسبت د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت د پښتو د پرمختيا او پياوړتيا آمريت له خوا د ۱۳۵۶ش = ۱۹۷۱ع کال د زمري پر ۱۵مه چاپ سوی دئ. د دغه چاپ په سر کي د وخت د اطلاعاتو او کلتور وزير پوهاند دوکتور نوين يوه يادونه راغلې ده (۱مخ) ورپسې د (خدمتگار څو خبري) سته چي په هغو کي د استعماري هيوادو پر پراختيا غوښتونکي پاليسي باندي رڼغېدلی دئ او د کليدافغاني دمولف پر هلوځلو ئې روڼا اچولې ده او په ضمن کی ئې د کتاب معرفي هم کښلې ده. دغه راز ئې د مؤلف پادري هيوز د مقدمو پښتو ترجمه هم رانقل کړې ده چي مترجم ئې (صفی الله اسدسفير) ښوولی دئ. ښېرندوی خدمتگار د کتاب پر مطالبو او اشخاصو باندي په ۱۱۵مخو کي ښه مغزن تعليقات کښلي دي او د هغو په پای کي ئې د الفبا پر ترتيب څلور مخه لغتنامه هم کښلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې حاضري ليکنې په وخت کې ما (هوتک)ته د کليد افغاني د دغه دوهم چاپ کاپي سوی چاپ پروت دئ چي نه ئې د ناشر او نه ئې د چاپ د ځای نوم سته. غالباً به په پاکستان کي له اجازې پرته چاپ سوی وي. دغه کاپي ښاغلي جهاني د استفادې له پاره له ويرجينيا څخه رالېږلې ده چي مننه مې مخکي هم کړې ده.

د تامس پاټريک هيوز په باب په افغاني منابعو کي چا ډېر څه نه دي کښلي او زه غواړم چي د ده پر ژوندليک باندي همدلته يو څه ووږغېږم.

Thomas Patrick Hughe (۱۹۱۱ – ۱۸۳۸) د ۱۸۳۸ع کال د مارچ پر ۲۶مه د انګلستان په هنلي شرافساير (Henley Shrophsire) نومي کاونټي کي زېږېدلی دئ. (شرافساير) اوس د (شراپشاير – Shropshire)په شکل تلفظ کېږي. دغه سيمه د انګلستان د (Wales) په لوېديځ کي پرته او په دولتي تشکيلاتو کي د جنوبي ميډلينډز يوه ناحيه ده.

د هيوز د پلار و نيکه په باب زيات معلومات نسته.پلار ئې تامس هيوز نومېدی او اسپوان (ژرندګړی) وو. د هيوز مور و پلار له دوو اولادونو سره يو ځای دلډلو (Ludlow) په ښارګوټي کي، چي د (Teme) رود پر غاړه پروت دئ، ژوند کاوه. پلار ئې د ده په لس کلني کي مړ سو. په ۲۶ کلنۍ کي ئې د ۱۸۶۴ع کال د اګسټ پر ۱۷مه له اليزالوئيډ (Eliza Lloyd) سره په مانچسټر کي واده وکړ. تر واده تقريباً يوه مياشت دمخه هيوز د عيسوي مبلغينو په ټولنه کي شامل سوی وو او ډېر ژر يعني د ۱۸۶۴ع کال د سپټمبر پر دوولسمه ئې پېښور ته د عيسوي مُبَلِّغ په توګه حرکت وکړ او هورې شل کاله پر دغه دنده باندي پاته سو. اته اولادونه ئې په پېښور کي وزېږېدل چي دوه ئې د کولرا په ناروغۍ په وړکتوب کي مړه سول او نور ژوندي پاته سوي اولادونه ئې په هماغه وړکتوب کي بيرته انګلستان ته له خپلي مور سره يو ځای ولېږل. دی به په څو کلونو کي يو وار

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګلستان ته ورتلی. په پېښور کې د هیوز ټول شل کلن ژوند یا شاوخوا کلیو او ښارونو ته په سفر کې یا په خپل دفتر او حجره کې تېر سوی دئ. هیوز ته په پېښور کې د ده د استوګنې په وخت کې معلومه سوې وه چې پښتانه په مېلمه پالنه کې مشهور دي او مېلمه پال ځوک ئې خوښېږي هم. ځکه نو ده ځانته خپله حجره جوړه کړه چې تل به له مېلمنو ډکه وه. ده په پېښور کې د یوې کلیسا په جوړولو کې ستره ونډه واخیستله. دی پوهېدلی وو، چې د عیسوي تبلیغ پر وخت د سیمې د کلتور او ژبې زده کړه ډېره مهمه ده او په همدې منظور ئې نه یوازې پښتو ژبه زده کړه، بلکې خورا نادري پښتو قلمي نسخې ئې د خپل تېروني پښتانه اشنا مولوي احمد په توسط راغونډې کړې. دا نسخې ئې په پېښور کې د ده د ماموریت تر پایته رسېدلو وروسته د انګلستان موزیم ته وبخښلې. هیوز د سیمې د اوسېدونکو په خوی و عادت دومره بلد سوی وو، چې د خپلې جوړې سوې کلیسا ودانې ئې د یوه مسجد په شکل ډیزاین کړې او ډیکور کړې وه. پر سر ئې منارې ورکړې وې او په دننه کې ئې هم سیمه ییز مواد په خپله سلیقه سره اوډلي ول.

هیوز په پېښور کې تر شلو کالو اوسېدلو وروسته انګلستان ته ستون سو. هورې ئې ځان ته مناسبه دنده و نه موندله او د ۱۸۸۴ع کال د مې پر ۲۱مه ئې له خپلو پنځو اولادو سره مخ پر امریکا ونیو. کشر زوی سیدني ئې په انګلستان کې پرېښوو. په امریکا کې ئې د نیویارک ښار په کلیساوو کې کارونه وکړل او په ۱۹۱۱ع کال مړ سو.

پادري هیوز رسمي زده کړې بشپړې کړې نه وې خو یو شمېر افتخاري لقبونه ئې د کار په دوران کې ګټلي ول. په ۱۸۷۶ ع کال ئې د الهیاتو لیسانس او ۱۸۸۶ع کې ئې په همدغه برخه کې دوکتورا د (Archobishop of Canterbury) له خوا تر لاسه کړې وې او په ۱۸۹۷ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ئې په اناپولیس کي له سینټ جان کالج څخه افتخاري (LLD) هم اخیستې وه. دی ډېر پر کاره لیکوال او محقق وو. د مرګ تر وخته پوري ئې قلم له لاسه وانه چاوه. د ده د کار ساحه د عیسویت تبلیغي اورشو وه خو په دغه بهیر کي ئې پر اسلام، پښتو او پښتنو باندي هم لیکني کړي دي. د هیوز څېړني د برنارد دورن، کپتان راورټي، دارمستتر او بیلیو له څېړنو سره توپیر لري. دغو یاد سوو ختیځ پوهانو تر یوې سیاسي تګلاري لاندي خپلي څېړني کړي دي خو د پادري هیوز ماموریت یا میشن ایډیالوژیک وو. په سیاسي او استعماري اهدافو کي د مفتوحه سیمو د کلتور او ژبو زده کړه د سیاست له پاره استخدامېږي او د هغو د مسخه کولو اړتیا پکښې مطرح نه وي. خو په ایډیالوژیک ماموریت کي د محقق تلاښ د خپلي ایډیالوژۍ د خپرېدلو له پاره وي او په دې لړ کي د هر راز کلتوري او مذهبي مسخ او تحریف له پاره ایډیالوژیک جوازونه لري. د همدې استدلال له مخي زما مشوره زما د دې حاضر کتاب درنو لوستونکو ته دا ده چي د اسلام، پښتنو او پښتو په برخه کي د هیوز لیکني په دقت او لازم احتیاط سره ولولي.

د پادري هیوز په سوو لیکنوکي دا لاندي کتابونه او مقالې د افغانستان، پښتو، پښتنو او اسلام په باره کي لیکل سوي دي:

- کلیدافغاني چي پورته مو معرفي کړې ده.
- سیاه پوش کافران (۱۸۷۳ع کال)
- افغانان
- افغاني جنډه (۱۸۷۴ع)
- د شیخ عبدالقادر ابن شاه ولي الله دهلوي د قرآن اردو ترجمې ته په انګرېزي ژبه مقدمه (۱۸۷۶ع)
- د سوات اخوند (۱۸۷۶ع)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د کاشغر پاچهي (۱۸۷۶ع)
- دیوان عبدالرحمان د مولوي احمد په مرسته (۱۸۷۷ع لاهور)
- د اسلام پر مذهبي سیستم باندي یوه کتنه (۱۸۷۷ع)
- د پښتنو اسرائیلي منشاء (۱۸۷۷ع)
- د نجد وهابیان په هندوستان کي (۱۸۷۷ع)
- افغان او پټان
- آیا پېښور په افغانستان کي شامل دئ؟ (۱۸۸۲ع)
- د مانکي ملا (۱۸۸۳ع)
- د اسلام ډکشنري (۱۸۸۵ع)
- د زمري سر له کابل څخه (۱۸۹۲ع)

په پېښور کي د پادري هیوز د تبلیغي او سیاسي ماموریت، پښتو ته د ده د کار پر څرنګوالي او د ده د لیکنو څېړنه به په هغه کتاب کي، که د خدای رضا وه، ولولئ چي ما (هوتک) ئې د کښلو اراده کړې ده.

## ۵ – هنري بیلیو (H.W.Bellew) او "دېوان خوشحال خان" ئې:

دغه کتاب د هارون خپل په قلم داسي معرفي سوی دئ:

**دیوان خوشحال خان**

شاعر: خوشال خان خټک

سموونکی: ډاکټر هـ . و. بیلو، چي د خوشال خان خټک د لمسي (افضل خان خټک) د قلمي نسخې له مخي ئې د دېوان د تصحیح او تنقیح چاري بشپړي کړي دي.

خپروونکی: نامالوم. کتاب د سلطان بخش داروغه په اهتمام چاپ سوی دئ.

د چاپ ځای: د جېلخانې مطبعه، پېښور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چاپ کال : ۱۲۸۷هـ ق/ ۱۸۶۹م

ټول مخونه: ۶۰۷

موضوع: دا چاپ تر دغه مهاله، د خوشال خان خټک د دېوان تر ټولو بشپړ متن دئ، چي پر غزلو او ترجيع بندو سربېره، څلوريځي هم پکښي چاپ سوي دي. دېوان د کښته پښتنو په ليک دود کښل سوی دئ؛ او د چاپ کيفيت يې ښه نه دئ.

په بريټيش کتابتون کي د الماری نخښه: ۱۳.d.۱۴۱٦۳

په بريټيش کتابتون کي، د خوشال خان خټک د دېوان د خطي نسخو او د هغه د دېوان د ځينو غوره سوو بڼو د الماری نخښي دا دي: (وګ: خپل، هارون، د پښتو د پخوانيو چاپي آثارو تشريحي کتابښود، بېنوا ويبپاڼه).

ښاغلي هارون خپل د دغه چاپ نور تفصيل نه دئ ورکړی او ما هم دغه چاپي نسخه نه ده کتلې. خو دونه راته معلومېږي چي دا نسخه د خوشحال خان د دېوان دوهمه برخه ده چي تر لومړۍ برخي يو کال وروسته د همدغه ختيځ پوه په همت خپره سوې ده.

هيوادمل په "ننګيالی د زمانې" ۱۸۱مخ کي ليکي: "د خان دېوان لومړی ځل پېښور د جيل په مطبعه کي د دوکتور بيليو په زيار د سلطانبخش داروغه په اهتمام چاپ شوی دی. د دې نسخې لومړۍ برخه ۸۹ مخه ده په ۱۸۶۹م کال چاپ شوې دويمه برخه ئې چي په ۶۰۸ مخ کي پای ته رسېدلې په ۱۸۷۰م کال چاپ شوې ده. دواړه برخې ئې يو ځای صحافي شوې او په يوه ټوک کي وړاندې شوې دي...".

دې ته ورته عبارت د خوشال خان خټک کليات (چاپ – دانش) په سريزه کي هم اخيستل سوی دئ.

د دوکتور بيليو د خپلي يادوني له مخي دغه دېوان د افضل خان خټک له نسخې سره مقابله سوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم څپرکی

## پښتو متون د متن څېړني په رڼا کي

(افغانستان – تر ۱۳۵۲ش کال وړاندي چاپ سوي متون)

**په افغانستان کي د پښتو انتقادي متونو د تهيه کولو کار، لکه د پښتو ادب نور اساسي کارونه، د علامه عبدالحي حبيبي (۱۹۱۰ - ۱۹۸۳ع) په لاس له نن څخه دواويا کاله مخکي په کندهار کي پيل سوی دئ. علامه مرحوم کله چي په کندهار کي د طلوع افغان اخبار د چلولو مسئوليت پر غاړه لاره، په ۱۳۱۷ش = ۱۹۳۸ع کال کي ئې د "خوشحال خان خټک مرغلري" په نامه د پښتو د پلار خوشحال خټک کليات چاپ کړ. زه به په افغانستان کي د نقدي متن څېړني په باب خپل تحقيق له همدې کتابه راونښلوم.**

### ۱- د خوشحال خان خټک مرغلري:

**د خوشحال خان دغه کليات په څلورو برخو (غزليات، قصائد، رباعيات، مقطعات او متفرقات) کي له څلورو خطي نسخو او څو چاپي نسخو له مخي د اروانباد علامه عبدالحي حبيبي په تصحيح او تحشيه ترتيب سوی او په ۱۱۲۸مخو کي د پنځو سوو ټوکو په تېراژ د ۱۳۱۷ ش کال د غويي په مياشت د کندهار په مطبعه کي چاپ سوی دئ. د خطاطی کار ئې زما د معلوماتو له مخي د ميرزا عبدالودود هوتک (۱۹۰۳ -**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۴۷ع) په لاس سر ته رسېدلی دئ[1].

د کتاب په سر کې ئې "له ویونکو سره یو څو خبرې" تر عنوان لاندې په اتو مخو کې هغه څه راوړي دي چې د متني نقد ننني پوهان ئې لازم بولي. په دغه برخه کې ئې د دغه کلیات د چاپ پر اړتیا خبري کړي دي، پر هغو قلمي او چاپي نسخو رڼغبدلی دئ چې د کلیاتو په تهیه کولو کې ئې استفاده ځني کړې ده، د قلمي نسخو ځانګړتیاوي ئې لنډي راښوولي دي او د خپل کار په باب ئې لوستونکو ته بیان کړی دئ. ده د کلیاتو د متن له پاره هغه نسخه د اساس په توګه ټاکلې ده چې د ډاکټر هنري والټربیلیو Henry Walter Bellew له خوا د افضل خان خټک له قلمي نسخې څخه ترتیب سوې او په ۱۸۷۰ع = ۱۲۸۷ه ق؟ کال د سلطان بخش داروغه په اهتمام د پېښور په جېلخانه کې چاپ سوې ده. دا نسخه د اروابناد امین الله خان زمریالي (۱۹۸۲ع مړ)، چې په دغه وخت کې د کابل د پښتو ټولني غړی وو، په کتابتون کې خوندي وه او اروابناد حبیبي ته ئې د استفادې له پاره کندهار ته ورلېږلې وه. اروابناد حبیبي کښلي دي: "... په چاپي نسخو کښې خو اساس او اصل هغه نسخه ده، چه ... دَ ډاکټر ډبلیو بلیو انګلیس مستشرق له خوا ... طبع او نشر شوې ده.

تر دغه وروسته چه ټولی، نوری نسخې په پېښور کښ د دغه له رویه چاپ شوی دی، هر چا له ځانه لاس پکښ وهلَی او تقریباً اصل کتاب ئې ورک کړی دی، موږ دغه نسخه اساس وګرزوله ... او د څلورو نورو قلمی او

[1] ما چي له پوهنځی څخه د فارغېدلو پر وخت خپل مونوګراف د اروابناد علامه رشاد تر لارښووني لاندې کیښ، هورې مې دا خبره کړې ده او اروابناد علامه هم تایید کړې ده. (وګ: دلیکونکي اثر،میرزا عبدالودود هوتک ۱۹۹۸ع کال چاپ) خو ښاغلي همېش خلیل په خپل یوه اثر (تول پارسنګ – ۲۶مخ، چاپ ۱۹۹۲ع) کې د خوشحال خان خټک مرغلري خطاط سید حسین بللی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشخطو نسخو سَرَه مقابله کړه، زوائد مو ټوله ولیکل ..."(۳مخ).

قلمي نسخې ئې داسي راښوولي دي:

"(۱) مهمه نسخه چه په تقریباً (۱۵۰۰) مخ کښ پر اعلا کاغذ خورا خوشخط په (۱۱۴۲) هجری کال په اتلسم د جمادی الثانی د شیخ محمد اعظم نومسلم په خط په امر د اسدخان لیکلې شوې او بیا ملا عبدالحلیم نامی حاشیه پر لیکلې او مشکلات ئې حل کړی دی.

دا نسخه په ترتیب کښ له نورو سره سمه ده، د لیکلو ځای ئې ندی معلوم، په املا کښ هم له نورُ قلمی نسخو څخه فرق نلَرِی، د ځنو لغاتو په حل کښ موږ له دغی نسخې څخه کومک اخیستی، او حواله مو ورکړې ده، دا نسخه څلوېښت کاله پسله وفاته د خان لیکلې شوې ده.

(۲) دوهمه قلمی نسخه په تصرف دَ ع، ج، ا، ا نښان محمدگل خان وزیر صاحب داخله دَه چه ډېره خوشخط او صحت ته نیژدې ده، دا نسخه په قندهار کښ لیکلې شوې ده، اما د لیکلو کال او لیکونکی ئې ندی معلوم، ډېر زوائد هم لَرِی، په خط او املا او ترتیب کښ له نورو قلمی نسخو سره فرق نلری.

(۳) دریمه نسخه په تصرف د پښتانه فاضل جناب مولوی ابوالوفاء صاحب قندهاری ده، چه موږ ته ئې له حیدرآباد دکنَ راولېږله، دا نسخه که څه هم په خط کښ تر نورو پاته ده، اما ډېر زوائد لری او اکثر بیتونه ئې په نورو کښ نشته، او بشپړه ښکاره کیږی، د دې کتاب قطعات په غره دَ شعبان ۱۱۷۰ کال، او رباعیات ئې په ۲۷ د ذیقعده ۱۱۷۱ کال او غزلیات ئې په ۷ د ذیقعده۱۱۷۱کال او قصائدئې په ۲۴ د شعبان ۱۱۷۰ هجری کال لیکل شوی دی، د کتاب لیکونکی ندی معلوم، مگر د شاهجهان پور په ښار کښ لیکل شوی دی، اړ دا ښکاره کیږي چه کاتب ئې په پښتو نه پوهېدَی، محض ئې نقل اخیستی دَی، ولی چه ډېر ځایونه سهوِ او خطا لرِی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) څلورمه نسخه په تصرف دَ جناب حاجی احمدعلی خان هوتک دَ قندهار وه، چه خورا خوشخطه او صحیح وه، ترتیب او لیک او املا ئې لکه نوری قلمی نسخې هغسی دِی، فرق نه سره لری دَ کتاب د لیکلو کال او کاتب ئې ندی معلوم." (۴مخ)[1].

تر دې وروسته د خطي نسخو د لیکدود توري له مثالو سره یو ځای راوړي (۷مخ) او راښیي چې د خوشحال خان او د هغه د کورنۍ ټول قلمي دېوانونه په همدې لیکدود کښل سوي دي. دا هغه لیکدود دئ چې اوس ئې موږ د خټکو د لیکدود یا ځنځیري لیکدود په نامه بولو. ورپسې د نسخو عمومي املایي ځانګړتیاوي بیانوي او ورسره د خپل کار روش او سموني هم په لنډ ډول لیکي. د نسخو اختلافونه او د لغاتو حل په اړوند مخ کي په حاشیه کي راوړي او د ناحل سوو لغاتو لیست د کتاب په پای کي ورسره مل کوي.

اروانښاد حبیبي دغه کلیات تر زیاتي اندازې پوري د متن څېړني له معاصرو اصولو او روشو سره برابر تهیه کړی دئ. هغه وخت په اسلامي نړۍ او شرق کي د متن څېړني له پاره ټاکلي اصول د یوه کتاب یا رسالې په شکل تدوین سوي نه ول. د علامه حبیبي په لاس تر دغه متن زیات وکم پنځه ویشت کاله وروسته د متني نقد اصول د ډاکټر صلاح الدین المنجد په قلم په یوه رساله کي بیان سول چي اوس د متنپوهني ټول لارویان ورڅخه کار اخلي او ما هم د همدې کتاب په سر کي راوړي دي.

له دې ښېګڼو سره سره بیا هم دغه متن ځیني اصولي کمزورۍ لري. زما په قاصر فکر به غوره دا وای چې د متن له پاره لومړۍ قلمي نسخه چي

---

[1] دا وروستۍ نسخه د مرحوم حاجي محمداکبر هوتک د کتب خانې نسخه وه چي اوس د ښاغلي حمدالله صحاف په خطي کلکسیون کي خوندي ده. دا نسخه ما کتلې ده. حاجي احمدعلي خان هوتک د حاجي محمداکبر هوتک زوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوشحال خټک تر وفات څلوېښت کاله وروسته استنساخ سوې وه، د اصل په توګه ټاکل سوې وای. د ډاکټر بیلیو چاپي متن که څه هم د افضل خان خټک له نسخې څخه ترتیب سوی دئ او غالباً به تر لومړۍ قلمي نسخې د مؤلف زمانې ته نزدې وه، خو چاپي متن د هغې نسخې نقل دئ او په نقل کې د تېروتنو احتمالات هرومرو سته. که داسې وای چې د افضل خان خټک نوموړې نسخه په سر سره د علامه حبیبي په واک کې وای نو بیا باید هماغه نسخه د اساس په توګه ټاکل سوې وای.

د کلماتو شکل ئې هم ځای ځای وراړولی دئ، چې باید لاس نه وای په وهل سوی. د مثال په توګه "زر= زود" ئې "ژر" کړی،"خور، سور" ئې "خپور، سپور" کړی دئ. له دې صراحت سره سره چې وایي " کلمه دَ کښې د پښتو له ظرفی کلماتو څخه ده په ټولو قلمی نسخو کښ په یاء (کښی) لیکلې ده ...." مګر په متن کې ئې ځای ځای ګویا"د قافیې د مجبوریت" له مخې "کښې" لیکلې ده او نور ئې یو مخ "کښ" کښلی دئ. د "کښ" له پاره ئې دلیل دا راوړی دئ چې دا شکل ډېر مروج دئ. دا تصرف باید نه وای پېښ سوی او "کښی" باید لکه څرنګه چې په اصل کې ثبت وه، له یاء سره یو ځای کښل سوی وای. دا چې د "ئې" غائب ضمیر او "یې" فعل تر منځ ئې توپیر کړی دئ، دا کار ئې بیا په زړه پوري دئ.

په هر صورت په افغانستان کې د پښتو تحقیقي متونو د پیلامې په توګه "د خوشحال خټک مرغلري" ډېر دروند کار او نېکمرغه آغاز دئ او موږ ئې د ارزیابۍ په وخت کې باید "عالي" وبولو.

## ۲- د عبدالقادر خان خټک دېوان:

د عبدالقادرخان خټک دېوان واردواره ادبي نړۍ ته د لوی استاد پوهاند عبدالحي حبیبي په زیار په ۱۳۱۷ش = ۱۹۳۸ع کال له کندهاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځو سوو ټوکو په تېراژ خپور سو. ټول دېوان له مقدمې (۲۷مخه)، تصحيح او د نادرو لغاتو له ليست سره يو ځای ۲۳۷مخه کېږي. د دېوان په مقدمه کي د عبدالقادرخان ختک (۱۰۶۳هـ ق زوکړی) پر ژوند، شاعرۍ او تاليفاتو باندي د هغه وخت د موجودو منابعو له مخي تفصيلي خبري سوي دي. زما د معلوماتو له مخي د دې دېوان خطاط هم ميرزا عبدالودود هوتک دئ.

مرتب وايي چي دا دېوان له دوو خطي نسخو څخه برابر سوی دئ. لومړۍ نسخه چي د دغه دېوان په ترتيب کي ورڅخه د اصل په توگه کار اخيستل سوی دئ، د ليکلو تاريخ نه لري خو دوهمه ئې "روز جمعه بتاريخ ۲۳ شهر شوال ۱۱۸۲هـ" استنساخ سوې ده. د دوهمي نسخې زوائد ئې په متن کي د کوچنۍ دايرې په نخښه نښاني سوي دي.

په دېوان کي لومړی "بدلي"، بيا "رباعيات"، ورپسې "متفرقات" او تر هغه وروسته "د ځنو کلماتو املا" او "د پښتو نادر لغات" راغلي دي.

د دېوان په متن کي د اصلي نسخې ثبت ته ارجحيت ورکړه سوی دئ د دغي خبري يادونه ئې "د ځنو کلماتو املا" په يوه صفحه بحث کي سوې ده.

د نسخو بشپړه معرفي نه لري او د نسخو توپيرونه، د لغاتو معناوي، نالوستي ځايونه او نوري لنډي تبصرې د هر مخ په لمنليک کي راوړل سوي دي. د لغاتو حل او د کلماتو لوستل ئې ځای ځای کمزوري او کله کله خو لا ناسم هم دي.

په دې دېوان کي ځيني داسي قراين ليدل کېږي چي د متن ځيني لغتونه له فارسي او عربي شکله څخه اړول سوي او پښتو سوي دي لکه:

لبان – شونډان، آهو چشمو – هوسۍ ستر گو، سنگدل – ډبر زړه، زلفي – څڼې او نور. دا کار په نورو دېوانو کي هم سر ته رسېدلی دئ او ما ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تفصيلي بيان د همدې کتاب په دريم څپرکي کي راوړی دئ. د دغو پښتو سوو لغاتو يادونه د ښاغلي همېش خليل له خوا د عبدالقادر خان خټک ديوان (چاپ ۱۹۶۷ع) کي هم سوې ده[۱].**

**د عبدالقادرخان خټک د کندهار چاپ اهميت په دې کي دئ چي ادبي نړۍ ته ئې د لومړي وار له پاره د دغه شېرين کلام شاعر دېوان وړاندي کړ. خو د متن څېړني له مخي هغه دقت او اصوليت چي "د خوشحال خان خټک مرغلري) په برابرولو کي مرعات سوی دئ، د عبدالقادر خان خټک په دېوان کي لږ په سترګه کېږي. دليل به ئې ښايي**

---

[۱] د "هذا ماکنزتم (نقد)" ښاغلي مؤلف مشتاق مجروح يوسفزي د خپل دغه کتاب په ۶۳۴ – ۶۳۶ مخونو کي زما په لاس د ميرزاحنان بارکزي د دېوان په سريزه کي هغه راغلی نقل راوړی دئ چي ما پکښې د متونو په ترتيب کي د شاعر خپلي لهجې ته د پاملرني پر اصل باندي ټينګار کړی دئ. ښاغلي مؤلف له دغه نقل قول څخه داسي نتيجه اخيستې ده چي ګويا زه "... د احمدشاه بابا، پيرمحمد کاکړ، شمس الدين کاکړ او د ميرزاحنان بارکزی د ديوان د لهجوارولو خبره" کوم خو "د عبدالقادر خان خټک له ديوانه سره شوی دغه زياتی" بيخي نه يادوم. (وګ: ۶۳۵مخ). په دې برخه کي بايد عرض وکړم چي زما خبره عمومي ده او د کوم مشخص شاعر په باب کي مطرح نه ده. د هري لهجې د شاعر ژبه بايد هغه راز ثبت سي لکه شاعر چي په خپله خبري په کوي. د شاعر په ژبه کي تصرف ادبي خيانت دئ. البته د وخت و زمان له تقاضاوو سره سم د املاء يا ليکدود سمول په دغه تصرف کي نه سي راتللای. د عبدالقادرخان خټک د دېوان دغو پښتو سوو لغاتو ته ما ځکه اشاره نه ده کړې چي يو خو د ميرزاحنان بارکزي د دېوان د څېړېدلو پر وخت (۱۳۷۰ش) ما ته معلومه وه چي د عبدالقادرخان خټک دېوان په کابل کي د نورالله ولسپال په زيار او د علامه رشاد مرحوم په لارښوونه بيا چاپ سوی وو (۱۳۶۸ش). په دغه چاپ کي د کندهار د لومړي چاپ ټول پښتو سوي لغات بيرته په اصلي بڼه ثبت سوي ول. دوهم دا چي د ميرزا حنان د دېوان په سريزه کي د عبدالقادرخان د دېوان نيمګړتياوي بيانول بې مناسبته کار هم وو او دئ. کله چي مي د لوی احمدشاه بابا دېوان ترتيباوه، په هغه کي مي بيا د دغه دېوان د کابل چاپ ټول پښتو سوي لغتونه په خپل اصلي شکل وليکل او په سريزه کي مي تفصيلي خبري هم پر وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وي چې د خوشحال خان خټک مرغلري كه څه هم د چاپ له مخې د ارواښاد حبيبي لومړی ادبي سوغات دئ، خو پر متن باندې د څېړنې په برخه کې ئې دوهم کار وو. يعني ارواښاد لومړی د عبدالقادرخان خټک ديوان له دوو نسخو څخه برابر کړی وو او بيا ئې د خوشحال مرغلرې تهيه کړې دي. دغه جريان ته ارواښاد حبيبی د عبدالقادرخان خټک ديوان په مقدمه کې (۱ – ۲ مخونه) تفصيلي اشاره کړې ده.

محققينو ته زما وړانديز دا دئ چې د اړتيا په وخت کې دې د عبدالقادر خان خټک د ديوان د کابل له دوهم چاپ څخه استفاده وکړي.

## ۳ – لوی احمدشاه بابا:

په دغه نامه د لوی احمدشاه بابا شعري مجموعه د ارواښاد عبدالحي حبيبي په زيار د پښتو ټولني (کابل) له خوا په ۱۳۱۹ ش کال د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ سوې ده. د کتاب قطع جيبي ده او ټول مخونه ئې څلور سوه څلور دي چې په دې کې يوسلودوشپېته مخه د سر خبرې دي، دوه سوه اتلس مخه "د احمدشاه بابا وينا"، اووه مخه د ماخذونو ليست، پنځه مخه "د سړو نومونه"، پنځه مخه فهرست او څلور مخه "تصحيح او سمون" نيولي دي. د کتاب په سر کې (دريم مخ) د لوی احمدشاه بابا تصوير او په پای کې د لوی احمدشاه بابا د مقبرې عکس سته چې د کتاب د پشتۍ (وقائې) پر لومړي مخ باندې هم راغلی دئ. د کتاب د پشتۍ پر وروستي مخ باندې د پښتو ټولنې د هغه وخت نښان چاپ سوی دئ.

د لوی احمدشاه بابا د کلام دغه مجموعه له درو قلمي نسخو څخه ترتيب سوې ده چې:

يوه د ارواښاد حبيبي د کتابتون نسخه وه. دا نسخه علامه مرحوم په سندھ کې ميندلې وه او وايي چې "خوشخط طلاکاری ده، ليکونکی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیک تاریخ ئې نه دی ښکاره".

دوهمه نسخه د کابل د پښتو ټولني د کتابخانې نسخه وه او علامه حبيبي کښلي دي چي "دا نسخه هم خوشخط طلاکاری ده، مگر ډیری غلطۍ لری او ناپوه کاتب مسخ کړې ده".

دریمه نسخه یوه نیمګړې خو صحیحه نسخه وه او داسي بدلي ئې درلودې چي په نورو دوو نسخو کي نه وې. علامه زیاته کړې ده چي دا نسخه "لمړی د قندهار د سدوزو د کورنۍ په تصرف کښ وه، اوس د قندهار د بلدئې د ریاست په موزیم اړه لري". دغه نسخه د لوی احمدشاه بابا د وفات په کال (۱۱۸۶هـق) لیکل سوې وه.

له دغو نسخو څخه به ښايي اوس د کابل د پښتو ټولني نسخه لا خوندي پاته وي خو زما د معلوماتو له مخي د کابل د دولتي مرکز خطي نسخې د افغانستان ملي آرشیف ته وړل سوي دي. د دغه آرشیف د پښتو خطي نسخو د چاپي فهرست په ۴۶ – ۴۸ مخونو کي د احمدشاه بابا د دېوان څلور نسخې ثبت سوي دي چي یوه ئې لا هم د هغې نسخې ځانګړ تیاوي نه لري چي علامه حبيبي "د پښتو ټولني د کتابخانې نسخه" بللې ده. د نورو دوو نسخو په اړه هم زما سره معلومات نسته. د علامه حبيبي د کتابتون خطي نسخې معرفي سوي نه دي او د کندهار ښاروالۍ موزیم خو زما د متعلمۍ په وخت کي لا هسي په نامه پاته وو، نوم ئې وو خو مواد ئې له یو څو زړو سِکو او زړو تَوَرو او یو شمېر رسامیو پر ته نور څه پاته نه وو.

له دې یادوني څخه مطلب دا دئ چي که دغه نسخې اوس زموږ په واک کي وای، نو به بیا ځوک دلاسوهونکي او بدلونونو راوستونکي په باب وروستۍ فیصلې ته رسېدلی وای. د (لوی احمدشاه بابا) د دېوان په دغه چاپ کي یوه خبره بیخي واضح ده او هغه دا چي د بابا په کلام کي زیاتره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار سوي فارسي او عربي لغتونه او ترکيبونه د سوچه توب پالني په روحيه پښتو سوي دي چي ما ئې تفصيلي څېړنه په دريم څپرکي کي کړې ده. څوک نه سي ويلای چي دا به د قلمي نسخو د کاتبانو کارنامه؟ وي که د چاپي متن د ترتيبوونکي. علامه حبيبي خو چي زموږ په ياد دئ او له ليکنو سره ئې بلد يو، له دغه راز سوچه پالني څخه ئې هر وخت په شفاهي او تحريري توګه خپل ناراضي توب ښوولی وو. د لوی احمدشاه بابا د دېوان د ترتيبولو پر وخت علامه مرحوم (۲۹ – ۳۰ کلن) زلمی وو. د هغه وخت په زلميانو کي د نن په شان د سوچه توب تمايل ژوندی وو. له امکانه ليري نه ده چي دغه تصرف دي د دېوان د ترتيبوونکي له خوا تر سره سوی وي. د نومونو د پښتو کولو تمايل ما د خوشحال خټک مرغلري په ۳ مخ کي ليدلی دئ چي د کندهار د يوې سيمي "ده خواجه" نوم ئې " د خواجه کلی" کښلی دئ.

د لوی احمدشاه بابا د دېوان په دغه چاپ کي د بابا د کلام ډېره برخه خوندي سوې ده خو ټول کلام ئې نه دئ. د چا خبره کمزوري شعرونه ئې ځني ايستلي دي چي ما ئې تفصيلي بيان د (لوی احمدشاه بابا دېوان – مشهور په ديوان هِرا) ۱۴ – ۱۵ مخونو کي کړی دئ. د نسخو ځيني بديلونه ئې رااخيستي دي. ځيني ګران لغتونه ئې په لمنليکونو کي معنا کړي دي. په متن کي ئې املايي ليکدود تر ډېري اندازې پر خپل حال پرې ايښی دئ او د کلمو د پای تر هې ګاني ئې لاس اړولی دئ او "ښکار ته، ولار ته" ئې د "ښکارت، ولارت" په شکل راوړي دي. دليل ئې دا ليکلی دئ چي د (ه) ورکولو په صورت کي ئې له "ضمير مخاطب" سره التباس پېښېدی. "کښي" ئې د "کښ" په شکل کښلی دئ. ياګاني ئې له اوږدې (ې) پرته چي د ننني ليکدود په شان ئې دوه سر پر سر ټکي ورکړي دي، نوري ئې ټولي بې ټکو ليکلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه متن کې که د لغتو د پښتو کولو افراط نه وای، نو بيا چا ويلای سوای چې تر زياتې اندازې ئې د متني کره کتني اصول مراعت کړي دي. دا چې نړۍ ته ئې د لومړي ځل له پاره د احمدشاه بابا دېوان وړاندي کړی دئ، په خپل ذات کي ډېر ستر کار دئ. د دغه دېوان تر خپرېدلو پخوا د بابا شعرونه په متفرق ډول ځينو ختيځ پوهانو خپاره کړي ول او دېوان ئې خپور سوی نه وو.

## ۴ - پټه خزانه:

پټه خزانه د پښتنو شاعرانو تذکره ده، چې د پښتانه ټولواک شاه حسين هوتک (۱۷۲۲-۱۷۳۷ع) په پاچهي کي د ده د دربار د منشي محمد هوتک په قلم په کندهار کي ليکل سوې ده. د ليکلو کال ئې (۱۱۴۱ - ۱۱۴۲هـ ق = ۱۷۲۸ - ۱۷۲۹ع) دئ او يوازنۍ موجوده نسخه ئې په (۱۳۰۳هـ ق = ۱۸۸۵ع) کال کي استنساخ سوې ده. دا خطي نسخه اوس د افغانستان په ملي آرشيف کي خوندي او د دغه آرشيف د پښتو خطي نسخو د فهرست (د ۱۳٦۵ش کال چاپ) په ۵ مخ کي ثبت ده.

دغه خطي نسخه په ۱۳۲۲ش = ۱۹۴۳ع کال کي د علامه عبدالحي حبيبي لاس ته ورغله او د تصحيح، تحشيې او تعليق کار ئې په ۱۳۲۳ش =۱۹۴۴ع کال کي بشپړ او په همدې کال ئې د پښتو ټولني (کابل) له خوا د کابل په عمومي مطبعه کي چاپ او خپره کړه. په دغه وخت کي علامه حبيبي د ادبياتو فاکولتې رئيس او د پښتو ټولني کفيل وو.

دپټې خزانې لومړی چاپ په سر کي څلور مخه "مقدمه مدون و مصحح"، "شرح رموز کتاب" او "فهرست کتاب" لري. ورپسې متن شروع کېږي په يوه مخ کي اصل متن او په مقابل مخ کي ئې فارسي ترجمه راوړې ده. دغه برخه ئې ټوله ۲۰۳ مخه ده. تر هغه پسې د تعليقاتو برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل کېږي چي ټوله ۶۹ مخه کېږي. په دغه برخه کي د کتاب پر نثر او نظم باندي هم محققانه خبري سوی دي. د کتاب په پای کي "مراجع و ماخذ" او "اسماء الرجال، اسماء الاماکن" راغلي دي. زما سره چي همدا اوس د دغه لومړي چاپ پټې خزانې نسخه پرته ده د پای له خوا نیمګړې ده او پر وروستۍ پاڼه باندي ۲۸۳ نومره لیکل سوې ده. په دغه چاپ کي د شاه حسین هوتک، خوشحال خان خټک، رحمان بابا، حاجي میرویس خان، د نارنج ماڼۍ د کنډوالو، د حاجي میرویس نیکه د مقبرې او شاه محمود هوتک عکسونه او دغه راز د پټې خزانې د خطي نسخې د اول او وروستي مخ (۱۱۱مخ) فوټوکاپۍ پر روغني کاغذ چاپ سوي او له کتاب سره مل دي.

د متن په هر مخ کي د ګرانو لغتونو، د تاریخي کسانو او ځایو د نومونو نسبتاً تفصیلي حاشیې راغلي دي.

کتاب د پښتو په لوېدیځه لهجه کښل سوی دئ او د هغه وخت د کندهارۍ لهجې بشپړه نمایندګي کولای سي.

د متنپوهني د اوسنیو معیارو له مخي د دې متن لویه نیمګړتیا دا ده چي د کتاب اصل یعني نسخه ئې معرفي کړې نه ده. نه د نسخې پر لیکدود رڼېدلی دئ او نه ئې د کاغذ او رنګ پر نوعیت باندي خبري کړي دي. یوازي ئې دونه قدر لیکلي دي چي "این کتاب نایاب پټه خزانه (ګنجینه پنهان) نامدارد، که درسال (۱۱۴۱ – ۱۱۴۲ ه) بامر و اراده پادشاه جوان و معارف دوست و پښتو پرور اعلیحضرت شاه حسین هوتک، در قندهار از طرف محمد بن داؤد خان بن قادر خان هوتک نګاشته شد و مؤلف دانشمند آن از رجال دربار آن پادشاه ادیب و ادب پرور بوده و از نویسندګان زبردست زبان ملی است که کتاب خود را در شرح حال شعرای پښتو بر سه خزانه نهاده ... و یک خاتمه دارد، ... نسخه ازین ګنجینه شاهوار که تاریخ ادب و شعر زبان ملی را از (۱۰۰ تا ۱۱۰۰ ه) حاوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



است و شرح احوال و اشعار (۵۱) نفر شعرای قدیم و معاصر مؤلف را دارد، در بهار سال ۱۳۲۲بدستم افتاد،..." (الف مخ)[۱].

نور متن د متنپوهني پر اصولو تر ډېري اندازې پوري برابر دئ.

په ډېره خواشیني سره باید ووایم چي په پټه خزانه کي راغلي اشعار اوس د ځینو ناپوهو او غرضي کسانو له خوا په تدریسي کتابو او نورو لیکنو کي په مسخه سوي شکل چاپېږي او له بده مرغه د معیاري لیکدود په نامه د لرغونو متونو د تاراج کار په خپله د پښتنو په لاس روان دئ. ګوره چي د مرګي په خوب دغه بیده قوم به کله په خپل خیر و شر پوه سي؟

## ۵- د پیر محمد کاکړ دېوان:

پیرمحمد کاکړ د پښتو ژبي دېوان لرونکی شاعر دئ. د دېوان خطي نسخې ئې لږ موندل سوي دي. دا چي د ده له علمي او ادبي شهرت سره سره ئې ولي د دېوان نسخې ډېري تکثیر سوي نه دي، علت ئې دا وو، چي دی د لوی احمدشاه بابا تر وفات وروسته د پاچا د کشر زوی شهزاده سلیمان د پلوۍ له اسیته د تیمورشاه سدوزي په دربار کي مغضوب سو او له نظره ولوېد. د پاچهي دربار د مغضوبو شاعرانو او عالمانو آثار د پراخ تکثیر او خپرېدلو چانس نه لري. د ده د دېوان معلومي نسخې چي ځای ځای ئې یادوني سوي دي، دا دي:

- یوه نسخه د کابل د پښتو ټولني په کتابتون اړه درلوده چي ابراهیم کاکړ خطاطي کړې ده (د صحاف چاپ دیوان، د رفیع سریزه - ۱۹مخ). د

---

[۱] د پټي خزانې کتاب په افغانستان کي دننه او تر هیواد دباندي مخالفین هم لري او په مخالفت کي ئې کتابونه هم لیکل سوي دي. ما (معصوم هوتک) د دغه کتاب په اړه پر متفرقو لیکنو سربېره د (پوخ کاڼی) په نامه یو کتاب کښلی دئ او په خپل بل اثر (سل بګړۍ یو پوړنی) کي مي د دغه اثر او د هغه د لیکوال په باب تفصیلي خبري کړي دي. محترم لوستونکي دې هورې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استنساخ کال ئې کاتب ۱۲۰۳ هـ ق کښلی دئ چې وروستنیو څېړنو دا نېټه د کاتب بې پروایي بللې ده او وايي چې دا کال ۱۲۳۰هـ ق دئ (هماغه مخ).
زه خبر نه یم چې دا نسخه به اوس هم د پښتو ټولني په کتابتون کي وي که یا؟ د افغانستان په ملي آرشیف کي د پیرمحمد کاکړ د دېوان دوې خطي نسخې سته چې د یوې کاتب ملا مختار کشمیری ښوول سوی دئ (فهرست – ۴۹مخ) او وايي چې د بلي نسخې کاتب او د کتابت کال معلوم نه دئ.

– بله خطي نسخه د "شاهي کتبخانې" وه چې وايي "خوش خطه او مطلا ده، په کشمیر کي لیکلې شوې ده" (د پیرمحمد کاکړ د دېوان، چاپ ۱۳۲۵ش د سریزي ۲مخ).

ما (هوتک) ته داسي فکر پیدا سو، چې دا نسخه او د ملي آرشیف لومړۍ خطي نسخه به ښايي یوه وي. او دلیل مي ځان ته دا تراشه چې دواړي د کشمیر کار دئ او نفیسي طلاکاري نسخې بلل سوي دي. خو اروانښاد بېنوا د دغي نسخې د کاتب نوم او د کتابت کال او دغه راز نوري مفصلي ځانګړ تیاوي نه دي کښلي، چې د هغې له مخي دي زما ګومان په یقین رابدل کړي.

– د ښاغلي حبیب الله رفیع لاس ته هم یو وخت د پیرمحمد کاکړ د دېوان یوه نیمګړې نسخه ورغلې وه چې دوی ئې یادونه د پیرمحمد کاکړ دېوان (د صحاف چاپ) په (۱۵مخ) کي کړې ده.

– د دغه دېوان بله خطي نسخه اروانښاد مولوي ابوالوفاء صاحب له دکن څخه علامه حبیبي ته له یوه لیک سره رالېږلې وه چې اروانښاد بېنوا ته د دېوان د انتقادي متن د چاپ پر وخت رسېدلې وه. دا نسخه د پای له خوا نیمګړې ده او د کاتب نوم او د استنساخ کال ئې نامعلوم دئ. د دغي نسخې یادونه اروانښاد بېنوا د مولوي ابوالوفاء صاحب له لیک سره یو ځای د چاپي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېوان په پای کي راوړې ده.

په یادو سوو خطي نسخو کي له لومړۍ نسخې څخه یوه کاپي علامه حبیبي په خپل خط او د " دوو درو تنو" نورو په مرسته اخیستې وه. اروابناد عبدالرؤف بېنوا د پیرمحمد کاکړ د دېوان د انتقادي متن د برابرولو پر وخت دغه کاپي د خپل کار له پاره د اصل په توګه ټاکلې ده (د دېوان سریزه – ۳مخ) او د دغه دېوان د شاهي کتابخانې د خطي نسخې او یوې بلي چاپي نسخې سره ئې مقابله کړې ده او زموږ تر بحث لاندي چاپي دېوان همدغه دئ. دا دېوان په ۱۳۲۵ش = ۱۹۴۶ع کال د کابل په عمومي مطبعه کي چاپ سوی دئ او لکه وړاندي چي اشاره ورته سوې ده، د تدوین او مقابلې کار ئې اروابناد بېنوا کړی دئ او مفصله سریزه ئې هم پر کښلې ده. د دغه چاپ قطع لویه ده او د مخونو شمېر ئې د سریزي په ګډون ۱۴۲ دئ. په چاپ کي توري ځای ځای سم نه دي لګېدلي او د مثال په توګه "صید" د "مید" په بڼه چاپ سوی دئ (۵۵ مخ)، په ۷۲مخ کي د پای بیت لومړی نیم بیتی "ګلرخان به ګهي ناست ګهي نیاز کړي" ثبت سوی دئ چي زما یقین دئ دا به "... ګهي ناز ګهي نیاز کړي" وي. په ۷۱ مخ کي "برائې په خواب عین د عشق ولید" ثبت دئ چي "عین" به غالباً "غبن" وي؟ دغه راز طباعتي ستونزي هغه وخت د کابل په مطبعه کي زیاتي وې او د انجمن تاریخ له خوا چاپ سوي کتابونه زیاتره د تورو دغه راز ناسمي لګېدني لري. ځای ځای د حاشیو او متن لمبرونه سره تېروبېر سوي دي (۳۰مخ) او دې ته ورته نوري طباعتي تېروتني ئې په مجموع کي لږ دي. په اویایم مخ کي د "سرپوښه بازار" حاشیه یو څه تفصیل غواړي او هغه دا چي د احمدشاهي کندهار په مرکز کي اوس د سرپوښه بازار په نامه یو بازار سته. سرپوښه بازار د سردار کهندل خان (۱۸۵۵ع مړ) د واکمنۍ په وخت کي ودان سوی دئ او دغه وخت پیرمحمد کاکړ ژوندی نه وو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیر محمد کاکړ په دې بیت کې "خیال د حسن دي راوښود په وجود کښې
+ په لنبه د عشق سرپوښه بازار وسو" له "سرپوښه بازار" څخه به د شاعر
مراد "سرپوښه چارسو" وو، چې د احمدشاهي عصر ودانۍ وه او په
۱۳۱۲ش = ۱۹۳۳ع کال د وزیر محمدګل خان مومند په امر ونړول سوه
(وګ: احمدشاهي کندهار – ۳۰مخ). ځیني خلک سرپوښه بازار ته
"سرپوښه چارسو" وايي. دا نوم پر دغه بازار باندي د چارسو د ګومبتي تر
نړولو وروسته باب سوی دئ.

د دغه چاپ چاري تر زياتي اندازې پوري د نقدي متنپوهني پر اصولو
سمي سر ته رسېدلي دي. د متن "اصل" معرفي سوی دئ، اختلافي ځایونه
ئې د نسخو له حوالې سره یو ځای په حاشیو کي ښوول سوي دي. د خطي
نسخو د لیکدود په باب ئې یادوني کړي دي او هڅه ئې کړې ده چې د خطي
نسخو لیکدود په متن کي وپالل سي او په دې لړ کي ئې د هغو کلماتو د پای
توري بې حرکته پرې ايښي دي چې په اوسني لیکدود کي ئې پای ته
ملفوظه (هـ) ورکوله کېږي. د لیکدود په برخه کي ئې "امانتداري" دې حد
ته رسولې ده چې "مانۍ" او "بڼ" ئې په ترتیب سره د "مانړۍ" (۱۸مخ) او
"بنړ" (۶۴مخ) په شکل کښلي دي. په داسي حال کي چې د دغه دېوان د
چاپ پر وخت په افغاني لیکوالو کي د (ڼ) د کښلو مسئله حل سوې وه او
(نړ) شکل ئې ناسم بلل سوی وو. د همدغي فیصلې اغېزه ده چې د همدې
متن په نورو ځایو کي "باڼو" په (ڼ) لیکل سوی دئ. د لیکدود دغه عدم
تجانس د متني ناقد د کار په کمزوریو کي راځي.

د دغه چاپي متن (اصل) هم له لاسوهنو څخه خلاص نه دئ. ځرنګه
چي دا (اصل) هم له بلي نسخې راکاپی سوی دئ او حاضر چاپي متن له
هماغي منقول عنها نسخې سره مقابله سوی نه دئ (ځکه د چاپي متن د
برابرولو پر وخت اروابناد بېنوا ته دا معلومه نه وه چي دغه منقول عنها نسخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چيري وه؟) دا نسخه د ښاغلي رفيع صاحب د ليکني له مخي د وروستيو څېړنو له لاري د پښتو ټولني په کتابتون کي پيدا سوه. (وګ: د پير محمد کاکړ ديوان، د صحاف چاپ – ۱۳، ۱۹مخونه)، ځکه نو څوک په غوڅه توګه حکم نه سي کولای چي دا لاسوهني د کومي نسخې د ناقل کارنامه وي.

د لاسوهنو او ناسم لوست څو مثاله به ئې لاندي ولولو:

پير محمد کاکړ وايي:

کږې ورځي کوږ باڼو چي دي رایاد شي
کـــاږه غشي مي تـــــر زړه لـــو پرې آزاد
(چاپي متن، ۳۳مخ)

په دوهمه حاشيه کي ورته کښلي دي چي د شاهي کتبخانې په نسخه کي (کج باڼو) دئ. په (کوږ باڼو) او (کج باڼو) کي يو هرومرو لاسوهنه ده. ما ته (کوږ باڼو) لاسوهنه ايسي.

بل ځای:

که هر څونه يم دلبره خردمند
له ما واخله ته د مهروفا پند
(۳۴ – مخ)

په حاشيه کي کښلي دي چي په (ش) نسخه کي "که هر چند" ثبت دئ. د (ش) نسخې د يوه بل مخ "هر چند"هم په چاپي متن (۵۲ مخ) کي "هر څو" سوی دئ.

دلته هم په (هر چند) او (هر څو) کي يو ترکيب هرومرو د پير محمد کاکړ نه دئ. زه چي د هغه وخت ادبي ژبي ته ګورم او وينم چي حتي تر ننه پوري لا د نورو ژبو، په تېره بيا عربي و فارسي ژبو کلمات د يوه شاعر د پوهي نخښه ګڼل کېدله او ګڼله کېږي، نو ويلای سم چي په تېرو بيتو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(هر چند) د شاعر خپل انتخاب دئ او (هر ځونه، هر ځو) د لاسوهونکي سوغات.

بل ځای:

خوند د خوږو شونډو به دي هېر تر مرگه نکړم
تل مي پر مـــذاق ده گلابي حــــلوا لـــــذيذ
(۳۶- مخ)

د دوهمي حاشيې له مخي په (ش) نسخه کي "خوند د شکرلبو" دئ. ما په دريم ځپر کي د (شکرلبو) د ترجمه کولو مثالونه د نورو شاعرانو په دېوانو کي هم راوړي دي او د پير محمد کاکړ په همدې دېوان (۹۶مخ) کي مي هم په سترگه سوی دئ. دلته په ډاډه زړه ويلای سم چي د (خوږو شونډو) توصيفي ترکيب د شاعر نه دئ، بلکي د لاسوهونکي اراده پکښې شامله ده.

بل ځای:

زه په هجران کښې رقص، ورته له شوقه وهم
چي مـــوافق پر رباب، مــطربان کاندي آواز
(۴۳- مخ)

په دوهمه حاشيه کي ئې کښلي دي چي په (ش) نسخه کي د (کاندي) پر ځای (کاږي) ثبت دئ. په دې دوو کي خو يوه هرومرو له شاعر پر ته د بل چا لاسوهنه ده. زما د مطالعې او مشاهدې له مخي خو د پير محمد کاکړ په لهجه کي (آواز کښل) مروجه خبره ده. د مثال په توگه ويل کيږي: "دونه غټ آواز ئې راباندي وکيښ چي لار او گودر ئې راڅخه ورک کړل" او په دې دليل به غالباً (... مطربان کاږي آواز) د شاعر خپل کلمات وي.

دغه راز لاسوهني خورا ډېري دي. فراق په (بېلتون) اړول سوی دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(۵۳ مخ)[1]،(ډک) د (پُر) پر ځای کار سوی دئ (۵۸ مخ)، (دِل) په (زړه) اليش سوی دئ (۶۴مخ)، (فراق) بل ځای (هجران) سوی دئ (۱۱۴مخ)، (کښلو) په (ښکلو) بدل سوی دئ (۴۶ مخ)، د (فلک) پر ځای (اشنای) راوړل سوی دئ (۶۱ مخ)، (ويده) د لهجوي علاقمندئ له مخي (اوده) سوی دئ (۶۱ مخ) او نور. د ناسمو لوستنو په لړ کي دا څو مثاله راوړم:**

**د پير محمد کاکړ په دېوان کي لولو:**

روغ صورت دي ښه نعمت دئ شاکر او سه
هــغه گــوره چي په لاس په پښه شــل شي
(۱۰۸- مخ)

**د دوهم نيم بيتي وزن هغه وخت پوره کېږي چي (پښه) ويی دوې څپې (د لومړي په پېښ) ولوستل سي. دا راز تلفظ ما له ځينو کسانو څخه په لوېديځه لهجه کي اورېدلی دئ خو عام تلفظ ئې يوه څپه او د (پ) په سکون دئ. د دېوان مرتب دغه بيت ته په حاشيه کي کښلي دي چي په (ش) نسخه کي (په پښو) ثبت دئ. زما يقين دئ چي همدا ئې د شاعر خپل کلمات دي او نيم بيتی بايد داسي وي:**

---

[1] دلته شاعر د (ف) رديف په يوه غزل کي (ناڅاپه) د شعري اړتيا له مخي (ناڅاف) ليکلی دئ. په کلاسيک ادب کي د کلماتو د دغه راز ارادي تحريف نور مثالونه هم سته. د مثال په توگه (عبث) ئې د (عبس) په شکل کښلی وي. پير محمد کاکړ کښلي دي: (فراق ئې راغی آخر ناڅاف). د نسخې کاتب په خپل زعم غوښتي دي چي د پير محمد کاکړ غلطي وراصلاح کړي او په څنگ کي ئې ژبه هم ورسوچه کړي. نو ئې ټول بيت داسي اړولی دئ: (بيلتون ناڅاپه شو رامضاف).

دلته بايد يوه خبره په پام کي ونيول سي چي کله کله شاعر خپل اشعار دوهم وار گوري او په بيتو کي اصلاحات راولي، روانی ته ئې گوري او سموني پکښې راولي. دغه راز لاسوهني بايد په مستنده توگه د شاعر په خپل لاس او قلم وي. خو که د شاعر په خپل قلم نه وي نو بيا د ناروا لاسوهني نوم ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هغه گوره چي په لاس وپه پښو شل شي"

**(لاس) ویی د جمع له پاره هم راځي. بل ځای:**

راشـــه راشـــه نېکـنامي په دنیا پېره
نشته سود تر دا په پورته که سودا کړې
(۹۵ – مخ)

**په (ش) نسخه کي د (تر دا) پر ځای (تر دې) ثبت سوی دئ. د لوېدیځي لهجې ویونکو ته ښکاره ده چي په دغه لهجه کي د مقایسوي پرتلې په برخه کي (تر دې) ترکیب ډېر رواج لري. (تر دا په پورته) د لوېدیځي لهجې وینګ نه دئ. مرتب ته په کار وه چي په دغه بیت کي ئې د (ش) نسخې ثبت غوره کړی وای. د همدې غزلي نهم بیت داسي دئ:**

دا مال نه دئ چي دي پاته شي په کور کښي
هـغه مـال دئ چي تو بښه ئې د عقـبا کــړې

**د دوهم نیم بیتي (هغه مال) په (ش) نسخه کي (مال هغه) لیکل سوی دئ. په (مال هغه) کي تر (هغه مال) تاکید زیات دئ او مرتب باید دلته هم د (ش) نسخې ثبت ته ترجیح ورکړې وای. (هغه مال) ترکیب خو له ګرامري لحاظه سم دئ خو په خبرو کي کله کله د فقرو کلمات د تاکید او نه تاکید په حکم مخ و شا ته کېږي. رحمان بابا وایي:**

بیا راتله دي دې جهان ته بل وار نشته[1]
بل وار نشـــته بل وار نشـــته وار دئ دا
(۱۵مخ – د پښتو ټولني چاپ، ۱۳۵۶ش)

---

[1] په چاپي متن کي "بیا راتله دې جهان ته ..." ثبت سوی دئ چي د کتابت سهوه ئې بولم ځکه د (دي) له پاره ئې ځای یو څه خالي پرې ایښی دئ. د پښتو ټولني په لومړي چاپ او د عبدالرحمن بابا دېوان په هغه چاپ کي، چي د میان سید رسول رسا په دیباچه چاپ سوی دئ (۱۹۷۶ع)، "بیا راتله دي دې جهان ته ...." دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بابا مقصد په (وار دئ دا) کي پر (وار) باندي زيات تاکيد کول دي. هغه کسان چي د ژبي په بارکيو ئې سر خلاص وي، د دغه راز تاکيد په راوړلو ښه پوهيږي.

پيرمحمد کاکړ د پښتو ژبي له ډېرو وتلو او مشهورو شاعرانو څخه دئ. دی چي په احمدشاهي دربار کي ئې د قدر وړ مقام لاره او د شاهي کورنۍ استاد وو. د ده د ژوند او ادبي کارو په برخه کي د ښاغلي رفيع صاحب ليکنه چي د دغه دېوان د صحاف چاپ په سر کي راغلې ده، ډېر څه لري او تر دې ګړيه ئې بايد وروستۍ څېړنه وبولو. په دغه څېړنه کي د پيرمحمد کاکړ د زېږېدني د ځای په باب زه يو څه ملاحظات لرم چي د دې بحث خاتمه به هم پر همدې بيان باندي وکړم. علامه حبيبی په پښتانه شعراء لومړي ټوک ۲۴۰مخ کي[1] داسي نظر ورکړی دئ چي پيرمحمد کاکړ په ږوب کي زېږېدلی دئ. علامه مرحوم به دا خبره ښايي له دې اسيته کړې وي چي ږوب د کاکړانو اصلي ټاټوبی وو او دئ. دا نظر تر پښتانه شعراء وروسته نورو ليکنو هم اخيستی دئ. له دې يادوني څخه ځيني ليکوال داسي نتيجې ته هم رسېدلي دي چي پيرمحمد کاکړ اصلاً د کندهار نه وو او د ده په دې لاندي بيت ئې خپل نظر پياوړی کړی دئ چي وايي:

د بې نيازو په ديار کښې ځيګرخون شوم
پيرمحـــمد ځـکه هــوا د بل هـيوا د کا
(۶مخ د صحاف چاپ)

خو زه د پيرمحمد کاکړ د دې بيت په حکم د ده د پلار و نيکه ټاټوبی کندهار بولم چي ده غالباً کندهار ته د ورغوښتلو پر وخت ويلی دئ:

---

[1] حواله مي د ښاغلي رفيع صاحب د ليکني څخه اخيستې ده. اصل ماخذ راسره نسته (م. هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



غــم د ځــان ژاړم زه پیر محمده
که څه مزار ته د پلار و مور ځم
(۶۴ مخ د کابل چاپ)

له دې بیت څخه واضح څرگندېږي چې د ده د پلار و مور مېنه او هدیره دواړه په کندهار کي وه. دا چي د ده زوکړه په (بړوب) کي ښوول سوې ده، پیاوړی استناد نه لري او پر حدس و گومان ولاړ حکم دئ. خو بړوب ته ئې لېږدېدنه او بیا بیر ته د کندهار ښار ته ورتگ او هورې ئې مړینه او مزار مستند حقایق دي.

د پیرمحمد کاکړ مزار د کندهار ښار د حضرتجي بابا د زیارت لوېديځ لور ته د شاه ولې پر غاړه وو. پر دغه ځای باندي اوس (۲۰۱۱ع) یوه تجارتي ودانۍ ولاړه ده او د پیرمحمد کاکړ قبر د دغي ودانۍ په یوه برخه کي محاط سوی دئ. ما د کندهار دولتي او فرهنگي چارواکو ته یو وخت وویل چي د دغه قبر له پاره یوه چاره وسنجوي. دوی راسره ښه کړې وه خو اوس حوادث داسي راغلي دي چي وایي یو وخت د یو چا پر کلي باندي د اوبو سېلاب راغلی وو او د ده انا (نیا) اوبو اخیستې وه. ده نورو خلکو ته د مرستي په نیامت ور بړغ کړل چي" آ خلکو! انا ئې یووړه". خلکو په جواب کي ورته ویلي ول "انا دي په اور پسې سي، غاړي غرونه ئې یووړل".

## ۶- د رحمان بابا دېوان:

د رحمان بابا دېوان د کابل پښتو ټولني دوه واره چاپ کړی دئ. لومړی چاپ د ارواښاد عبدالرؤف بېنواپه قلم تر تیب او تدوین سوی دئ او سریزه ئې هم پر کښلې ده. دغه متن د افغانستان مشهور خطاط اروابناد عزیزالدین وکیلي پوپلزي په خپل ښکلي خط خطاطي کړی او په ۱۳۲۸ش = ۱۹۴۹ع کال په افسیټ توگه چاپ سوی دئ. قطع ئې جیبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. د رحمان بابا په چاپ سوو دېوانو کي هیڅ یو د دغه چاپ له نفاست سره سیالي نه سي کولای. د دې نسخې د نفاست او ښکلا په باب ارواښاد مولوي ابوالوفاء صاحب په یوه لیک کي، چي په ۱۳۳۱ش = ۱۹۵۲ع کال ئې له حیدرآباد دکن څخه د هغه وخت د پښتو ټولني د لوی مدیر صدیق الله رشتین په نامه کابل ته لېږلی دئ، داسي ویلي دي:

" ... د عبدالرحمن بابا دیوان داسي ښکلی چاپ شوی دی چی مثل نه لری، ستر گی یی په دیدنه مړیږی..."[1].

زما سره د دغه چاپ یوه نیمګړې نسخه سته چي زموږ په کور کي زما د وړ کتوب له وخته موجوده وه. دا نسخه د سر له خوا له ۱۲مخ څخه شروع سوې ده او پای ئې پر ۱۶۱مخ ولاړ دئ. ښاغلي حبیب الله رفیع په پښتو پانګه – ۱۳۸مخ کي د دې نسخې ټول مخونه ۲۶۰ ښوولي دي. ویل کېږي چي دغه چاپي متن له څو نسخو سره مقابله سوی دئ خو نسخه بدیلونه ئې په متن کي ښوول سوي نه دي. ارواښاد مولوي ابوالوفا صاحب په خپل لیک کي چي پورته مو هم اشاره ورته کړې ده، زیاتوي: "... لیکن د ډیرو قلمی او چاپی نسخو سره مقابله او د اختلاف د جمع کولو او د تحقیق کار د دی دیوان لا پاتی دی. خدای دی وکی چی ګانده ټولنه د دی مهم کار دپاره موفقه شی. ولی چی دا دیوان ډیر کار غواړی ولی چی هر چا پکښی لاس وهلی دی...".

ابوالوفاصاحب دراک عالم او د متنپوهني په کار کي د زیاتي تجربې څښتن وو.

که زما سره د رحمان بابا د دیوان د موجودي نسخې د سر خوا نیمګړې نه وای نو به مي د بینوا مرحوم له سریزي څخه د ویلو ډېر څه

---

[1] (رښتین، صدیق الله، پوهاند، ادبي لیکونه – ۳۵مخ، ۱۳۶۱ش).

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودای. اوس همدومره څه وه چې ومې ويل.

د کابل پښتو ټولنې تر دغه چاپ اته ويشت کاله وروسته د رحمان بابا د ديوان انتقادي متن برابر کړ او دا وار ئې متن د څلورو چاپي او شپاړسو خطي نسخو له مقابلې څخه برابر کړ. د متن د تهيې او اهتمام کار څېړنيار محمدعارف غروال او د نسخو د مقابلې چارې د پښتو ټولنې غړو پر غروال سربېره څېړنمل عزيزالله او څېړونکي محمدعمر او نورو سر ته رسولې دي. ښاغلي حبيب الله رفيع اته پنځوس مخه سريزه پر کښلې ده او د پښتو ټولنې رئيس څېړنوال محمدصديق روهي په دوو مخونو کې يو يادابنت پر ليکلى دئ. څيړنيار محمدعارف غروال په اوو مخونو کې هغه چاپي او خطي نسخې معرفي کړې دي چې دا متن ځنې برابر سوى دئ. د پاړکو لاربښود ئې (۲۱مخه) هم حبيب الله رفيع ترتيب کړى دئ. په پاى کې ويى پانگه لري (۱۳مخه) چې څېړنيار محمدعارف غروال ترتيب کړې ده. متن د ضميمې په گډون ټول ۲۹۴مخه دئ. د خطاطۍ چارې ئې نصيرهنر پښتون سر ته رسولې دي او د چاپ کار په ۱۳۵۶ش = ۱۹۷۷ع کال د کابل په دولتي مطبعه کې د ۳۰۰۰ ټوکه په تېراژ بشپړ سوى دئ[1].

دا متن خورا مفصل نسخه بديلونه لري او د رحمان بابا په کلام کې د ادبياتو د څېړونکو له پاره کافي اندازه مواد لري. متن په داسې وخت کې د پښتو ټولنې غړو تهيه کړى دئ چې د دغې ټولنې د مشرتابه چارې د هيواد يوه پېژندلي اکاډميک شخص څېړنوال محمد صديق روهي ته سپارلې سوې وې. اروابناد روهي د متني نقد (textual criticism) په اصولو پوه سړى وو. د ده له سپارښتنې سره سم د دغه متن په برابرولو کې د متني نقد اصولو ته پاملرنه سوې ده. خو څرنگه چې د متن مقابله کوونکي او

[1] همدا متن دوهم وار په کوئټه کې د مذهبي کتب خانې له خوا په ۲۰۰۴ع کال کې چاپ سوى دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابروونکي په خپله د انتقادي متونو د تهيې په کار کي د زياتي علمي او عملي تجربې خاوندان نه ول، ځکه ارواښاد روهي د دغه چاپي متن په سر کي په خپلو خبرو کي ډېره پر ځای خبره کړې ده چي ويلي ئې دي: "د ادبياتو څېړونکي د خپلو علمي څېړنو دپاره، البته، په دې نسخه باندي بسنه او قناعت نشي کولی ځکه سره له دې کتاب له يو شمېر نسخو څخه ترکيب شوی دی خو هره نسخه ئې د متني کره کتني ( textual criticism) له مخي ځانګړې مطالعه او ژوره څېړنه غواړي. له دې امله، د دې نسخې په چاپيدلو سره د ادبي کره کتونکو وظيفه پای ته نه رسيږي بلکه په نوي افق کي به خپلو څېړنو ته دوام ورکوي".

د دې متن د لوستلو پر وخت زه پوه نه سوم چي د متن برابروونکو کومه نسخه د اصل په توګه ځانته ټاکلې وه. د اصل نسخې ټاکل د متن برابروونکي تر ټولو مهمه دنده ده او متني ناقدين ئې جدي سپارښتنه کوي. د ښاغلي رفيع صاحب د سريزي په اووم مخ کي يو ځای داسي اشاره سته چي د هغې له مخي څوک ويلای سي چي اصل نسخه به د پښتو ټولني د کتابتون کومه نسخه وه. خو په څلورپنځوسم مخ کي د پښتوټولني د کتابتون نسخې په شمار څلور ښوولي سوي دي او څوک نه سي ويلای چي دا به نو کومه يوه وه؟ د اصل نسخې مبهم پرېښوول د دغه چاپ غټه نيمګړتيا ده. نور نو دغه متن د رحمان بابا د ټولو هغو چاپي دېوانو په منځ کي تر ټولو د ډاډ وړ متن دئ چي ما ته ئې د مطالعې زمينه برابره سوې ده.

د رفيع صاحب سريزه په خپل وخت کي غنيمت څېړنه وه او اوس هم له ادبي څېړونکو سره د څېړني په کار کي ښه پوره مرسته کولای سي. خو د دغي سريزي تر ليکني وروسته مورږ د رحمان بابا د ژوند او مړيني په باب نوي حقايق موندلي دي (د يونس خيبري په مرثيه کي د علامه رشاد له خوا د رحمان بابا د مړيني تاريخ موندل) چي له هغو څخه استفاده د دغي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سریزي محتوی نوره هم غښتلې کولای سي.

## ۷- د کاظم شیدا دېوان:

د کاظم شیدا دېوان واردواره د ارواښاد عبدالرؤف بېنوا په تدوین، تصحیح او مقابله د کابل پښتوټولني په ۱۳۳۳ش = ۱۹۵۴کال د یو زر ټوکو په تېراژ چاپ کړ[۱]. په سر کي د مدون په قلم یوویشت مخه سریزه لري، بیا ۲۲۱ مخه متن او ورپسې څلور مخه غلطنامه راغلې ده. د وقائې په دوهم مخ کي د هغه وخت د پښتو ټولني لوی مدیر صدیق الله رشتین یو مخ یادونه کښلې ده. دا کتاب د پښتو ټولني د خپرونو ۱۰۷ لمبر کتاب دئ چي د چاپي تصحیح او کتني چاري ئې ښاغلو صدیق الله رشتین او حفیظ الله سر ته رسولي دي[۲].

دا متن د درو قلمي نسخو له مقابلې څخه برابر سوی دئ چي یادونه ئې د سریزي په (ر) مخ کي راغلې ده.

لومړۍ نسخه د پېښور د اسلامیه کالج په "کتبخانه" کي له ساتل سوي نسخې څخه رانقل سوې ده. دا کاپي د ارواښاد خان عبدالولي خان (د

---

[۱] د دې کتاب پر لومړي مخ باندي ۱۳۳۱ لیکل سوی دئ چي دا کال د کتاب د وقائې د څلرم مخ له ۱۹۵۴ع سره سر نه خوري. خو له ښه مرغه د وقائې په دریم مخ کي بیا دا کال سم سوی دئ او د چاپ نېټه ئې "د زمري میاشت ۱۳۳۳ش" کښلې ده. ما ته داسي ښکاري چي د کتاب د وقائې لومړی مخ په ۱۳۳۱ش کال کلیشه سوی چي غالباً د عزیزالدین وکیلي په قلم ده. بیا نو د کتاب چاپ تر ۱۳۳۳ش کال پوري ځنډېدلی دئ او د چاپ مسئولینو د وقائې پر دریم مخ باندي د مطبعې په تورو ۱۳۳۳ش سنه کښلې ده خو د کلیشې ۱۳۳۱ ته ئې پام سوی نه دئ (م. هوتک).

[۲] دغه حفیظ الله نومی زه نه پېژنم. د شمس الدین کاکړ دېوان هم د ده په تصحیح چاپ سوی دئ. دغه سړی خو به د کندهار د عالي دارالمعلمین استاد ارواښاد حفیظ الله خان نه وي. نوموړی د کندهار د بالاکرز وو او د پښتو ادبیاتو د تدریس وظیفه ئې پر غاړه وه. زه ئې د شاګردۍ ویاړ لرم. ډېر معزز او محترم استاد وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان عبدالغفار خان د زوی) په شخصي لګښت د کوم چا په لاس رانقل سوې ده. ارواښاد بېنوا ته دا نسخه "بيخي بشپړه" ايسېدلې ده او ليکلي ئې دي چي "دا نسخه بيخي بشپړه ده خو ځای په ځای املائی غلطۍ ډېری لری، خو بيا هم څنګه چه کامله نسخه وه نو دلته اساس وګرزوله شوه" (د سريزي (ر) مخ). د دغي کاپۍ په باب به وروسته يو څه په تفصيل سره وږغېږم.

دوهمه نسخه د پښتو ټولني د کتابتون نسخه وه چي "ډېره مهمه او زړه نسخه" وه او د خټکو په ليکدود ليکل سوې وه. دې نسخې د سر، منځ او پای له خوا کمبوتۍ درلودې.

دريمه نسخه د هغې نسخې نقل النقل وو، چي وايي "په ۱۳۲۵هـ ق کال په پېښاور کښی د اکبرپوری د عبدالمستعان کاتب په خط نقل شوې وه" او مولانا ابوالوفاصاحب بيا په کندهار کي له هغې څخه په ۱۳۴۰هـ ق کال يو نقل اخيستی وو. له دغه نقل څخه بيا ارواښاد علامه حبيبي په ۱۳۱۵هـ ش کال د ځان له پاره يوه کاپي استنساخ کړې وه. له يوې نسخې څخه نقل اخيستل او بيا له هغې څخه بله کاپي رانقلول که په هر څونه دقت سر ته رسېدلې هم وي، بيا ئې هم هرومرو له اصل سره توپير حتمي دئ. دا زما خپله تجربه ده چي د متنپوهني د نورو محققينو پوهانو او نسخه پېژندونکو څېړنو هم تاييد کړې ده. زموږ تر بحث لاندي دغه دريمه نسخه هم له دې حکم څخه مستثنا کېدلای نه سي.

لکه څنګه چي مو وړاندي وويل، د کاظم شيدا دغه دېوان له همدغو درو نسخو څخه برابر سوی دئ. نسخه بديلونه ئې د اړوند مخ په لمنليکونو کي راوړي دي او پر څنګ ئې د لازمو کلماتو، لغاتو، د سرو او ځايو د نومونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه توضيح او معنا هم په لمنليکو کي راغلې ده[۱]. په متن کي چاپي غلطۍ ډېري دي او سره له دې چي څلور مخه ګڼه "غلطنامه" ئې په پای کي وراچولې ده خو بيا هم د نورو چاپي متونو په شان، غلطۍ ځني پاته سوي دي. د مثال په توګه په ۱۷مخ اوله حاشيه کي "زوړ" د "زړ" په شکل ليکل سوی دئ او په غلطنامه کي ئې يادونه نه ده سوې، په ۱۸ مخ کي د حاشيو لمبرونه ناسم دي او په غلطنامه کي ئې اشاره نه ده ورته کړې، په ۴۸ مخ کي د دوهمي حاشيې لمبر په متن کي نه دئ راغلی او غلطنامه هم د دې غلطۍ يادونه نه لري، په ۸۳ مخ کي د "نښتو" کلمه د "نشتو" په شکل ليکل سوې ده او غلطنامې ئې سمه بڼه نه ده راوړې، په ۱۹۷ مخ کي هم د حاشيې اړوند ځای په متن کي معلوم نه دئ او غلطنامه هم څه نه راښيي، ... او نور. ښايي د چاپ مصححينو به تر هغو غلطيو لاس اړولی وي چي لوستونکي ئې د متن له سياقه څخه حلولای سي.

که موږ د هغه وخت تحقيقي چاري په پام کي ونيسو نو د کاظم خان شيدا دغه دېوان د متني نقد پر اصولو يو څه سم خېژي. د نه دقت مثالونه ئې لږ دي. ما پکښې دا يو مثال د يادوني وړ وموند چي په (۸۴مخ) کي ئې د "سلومه" کلمې ته په حاشيه کي کښلي دي: "دا کلمه حل غواړي" خو په (۱۶۴مخ) کي ئې د همدې کلمې معنا د پښتو قاموس په حواله "نامدار" ليکلې ده.

د دغه انتقادي متن دې لاندي يو څو مواردو ته کره کتونکی ګوته نيولای سي:

---

[۱] په دغو لمنليکونو کي چي د ثبت اختلافو ته څوک ګوري، نو د کاتبانو لاسوهنو ته حيران پاته سي. د کاظم خان شيدا دېوان مشکل متن دئ او د مشکلو متونو په رانقل کولو کي د لاسوهنو امکانات ځکه زيات وي چي کاتبان ئې په پوهېدلو کي ستونزي لري د نقل پر وخت په لوستنه کي له حدس وګومان څخه کار اخلي او همدا حدس و ګومان ئې کله کله پر خوله غوزاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د حاشيو په برخه کي:**

د متنپوهني ماهران وايي چي که ناقد ته د بديلو نسخو ثبت تر اصل نسخې غوره ښکاره سو، بايد چي متن ته ئې داخل کړي او د اصل نسخې ثبت په حاشيه کي راوړي. د کاظم خان شيدا په متن کي دغه اصل بايد په دې لاندي برخو کي تطبيق سوی وای:

– د ۱۹مخ دوهمه حاشيه بايد په متن کي شامله سوې وای. د حاشيې ثبت "تند نفس په څراغ پُکه + څو روښا ئې کاندي ورکه" او د متن دا "تند نفس په څراغ ځکه + خو روښا ئې کاندي ورکه" دئ. په دې دوو کي د حاشيې ثبت صحيح ايسي ځکه نو بايد متن ته پورته سوی وای.

– د ۲۲مخ د حاشيې "…. شسته کړه" په متن کي "وللی" سوی دئ. څرنګه چي د حاشيې ثبت د اسلاميه کالج د نسخې (اصل) ثبت دئ او د شيدا د کلام له عمومي روحيې سره برابر هم دئ، بايد په متن کي اخيستل سوی وای.

– د ۲۴مخ اوله حاشيه "شفق وار مي په پرهار نمک اولی دی"هم د کاظم خان شيدا د کلام له مسلطي سليقې سره برابر دئ او د "خوښ يم زه لکه شفق نمک په زخم" پر ځای بايدپه متن کي داخل سوی وای.

– د ۲۶ مخ د دوهمي حاشيې ثبت "هر چه مات د زنګ لښکر کا سکندر شي" د متن تر ثبت "هر څوک مات د زنګ لښکر کا سکندر شي" غوره معلومېږي، بايد ځايونه ئې سره اليش سوي وای.

– د۴۷ مخ اوله حاشيه ځکه بايد متن ته لوړه سوې وای چي د متن په اړوند غزل کي دا بيت د غزلي وروستی بيت دئ او د مقطع ځای ئې نيولی دئ خو دا مقطع د شاعر نوم نه لري او د حاشيې ثبت "شيدا آب هسی په خوله کی د شمشير يم" د شاعر نوم لري. د دغه استدلال له مخي بايد د حاشيې نيم بيتی متن ته شامل سوی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ۵۶مخ اوله حاشیه "د شپې (له خوابه)" باید په متن کي "د پښې له خوابه" پر ځای راغلې وای.

- د ۵۷مخ اوله حاشیه "چه محتاج دي خیاط نشي پیرهن ته" د متن تر ثبت "چه محتاج د خیاط نشي پیرهن ته" سم ایسي باید په متن کي راغلی وای. په قلمي نسخه کي به غالباً د متن "چه محتاج د خیاط ..." په نیم بیتي کي تر دال لاندي (زېر) ایښوول سوی وو، چي مراد ئې "... دي خیاط" دئ. په لیکدود کي د اعراب پالل او په هغه کي بیا بې پروايي دغه راز جنجالونه لري او متني ناقد ئې باید په پام کي ونیسي. د دغه مخ حاشیه ګونګه هم ده ځکه د نیم بیتي څنګ ته (نسخه) لیکل سوې ده او څوک نه پوهېږي چي د مدون مراد کومه نسخه ده. په ۷۲ مخ او ۱۵۵مخ کي هم د اړوندي نسخې په باب صراحت نسته.

- په ۶۷ مخ کي د حاشیې "(ته چي لري کړې نقاب) له رخشان نمره" د متن تر "ته چه لری کړې نقاب رخشانه نمره" هم د ګرامر په لحاظ او هم د مفهوم له مخي غوره دئ او باید په متن کي شامل سوی وای[1].

- د ۷۸مخ حاشیه که په متن کي شامله سوې وای، په بیت کي به ئې د "میدان" ویي د تکرار مخه نیولې وای او د شعر عیب به ئې له منځه وړی وای.

## د پیوریزم نخښي او مثالونه:

- په لسم مخ کي د پای له خوا دریم نیم بیتی "ګه خوړل کا ګاهی

---

[1] نمر دلته د "مخ" په معنا دئ. رحمان بابا وايي:

مخ ته که دي نمر وایم د نمر زلفې تار تار نشته
سرو که ستا قد بولم د سروې یون رفتار نشته

(دیوان: ۱۳۵مخ، د ۱۳۵۶ش کال چاپ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



شومی" ثبت دئ. د ښاغلی حنیف خلیل د چاپ د۴۷۱مخ په حواله[1]، دغه نیم بیتی "خوړل" کلمه په خطی نسخو کي "خورش" راغلې ده او ده هم د خپل چاپ په ؟ مخ کي "خورش" اخیستی دئ. د چاپي نسخو "خوړل" ما ته د ژبي د سوچه کېدني اغېزه ښکاري او یقین مي دئ چي د بېنوا مرحوم په نسخو کي که هم د "خوړل" په شکل وي، د شیدا خپل کلام ئې نه بولم.

– د ۱۱۴ مخ د حاشیې ثبت "منور ئې لکه نمر زما چشمان کړل" د متن تر ثبت "پرې می سترګی منوری لکه نمر شوې" ما ته د شاعر خپل کلام ته نزدې ایسي. دلیل مي دا دئ چي د شیدا په کلام کي موږ فارسي کلمات او ترکیبونه تر پښتو لغاتو او جوړښتونو زیات وینو. د حاشیې دغه ثبت د اسلامیه کالج د نسخې ثبت ښوول سوی دئ او د منطق په حکم باید پښتو سوی شکل ئې د دغې نسخې له کاپۍ او د پښتو ټولنې له نسخې څخه اخیستل سوی وي. زه په دغه برخه کي لاسوهنه له امکانه لیري نه بولم او د متن ثبت راته د شاعر د کلام پښتو سوی شکل معلومېږي. د لغاتو او جملو د پښتو کولو مصیبت ما په خپل همدې کتاب کي مفصل بیان کړی دئ. دغه پښتو سوی ثبت د کاظم خان شیدا په نورو چاپو (د همېش خلیل او حنیف خلیل) کي هم اخیستل سوی دئ. د حنیف خلیل د څېړني له مخي د کاظم خان شیدا په ټولو چاپي دېوانونو کي د اسلامیه کالج نسخه د اصل په توګه غوره سوې ده. بېنوا مرحوم د ۱۱۴مخ حاشیه د اسلامیه کالج د نسخې ثبت بللی دئ او ښاغلو همېش خلیل او حنیف خلیل د دغه بیت د ثبت نور بدیلونه راښوولي هم نه دي. نو دلته دوه احتماله تصور کېدلای سي لومړی دا چي ښایي د اسلامیه کالج له نسخې څخه به د ولي خان مرحوم له خوا ګومارل سوي کاتب دغه لاسوهنه کړې وي او یا به همېش

---

[1] پر دغه چاپ به په خپل ځای کي وږغېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلیل صاحب او حنیف خلیل صاحب د اسلامیه کالج په نسخه کي دا بیت په همدې شکل موندلی وي. څرنګه چي په دې برخه کي دوی صراحت نه لري نو طبیعي ده چي زه بیا د نوري تبصرې له پاره مواد نه لرم.

– د ۲۱۸مخ په دې بیت کي:

"په سینه کښې جنان سوزی
چــه بهر شی جهان ســوزی"

(بهر) ویې د حنیف خلیل د تحقیق له مخي د (خارج) لغت پر ځای راغلی دئ (وګ: د حنیف خلیل په زیار د کاظم خان شیدا دېوان – ۴۷۱مخ). دغه تبدیلي د ژبي د سوچه کولو په نیامت سر ته رسېدلې ده.

د کاظم شیدا د کابل چاپ دېوان په باب د هغه تر خپرېدو ۱۳ کاله وروسته ښاغلي همېش خلیل "دیوان کاظم خان شیدا" چاپ کړ. د دغه چاپ د سریزي په (و) مخ کي ئې ولیکل چي "د کابل چاپ نسخه ... ډېره نیمګړتیا لری ...." د ښاغلي همېش خلیل چاپ نسخه بدیلونه هم نه درلودل او د متني نقد پر اصولو برابرنه دئ تهیه سوی ځکه نو په هغه وخت کي چا ته نه څرګندېدل چي دا نیمګړتیا د ناسم ثبت په برخه کي ده که د غزلو او نورو اشعارو د کمبوتۍ په حصه کي. دا خبره ښاغلي حنیف خلیل د اروانښاد بېنوا تر چاپ دروپنځوس کاله وروسته او د ښاغلي همېش خلیل تر چاپ څلوېښت کاله وروسته سپینه کړه. حنیف خلیل د دغه مطلب د څېړلو په ترڅ کي، چي د کاظم خان شیدا د چاپي دېوانو په ترتیبولو کي له کومي نسخې څخه د اصل په توګه کار اخیستل سوی دئ، لیکلي دي: "... مطلب دا شو، چي د چاپ شویو دیوانونو ټولو مرتبینو د اسلامیه کالج نسخه کتلې ده البته همېش خلیل صاحب د بېنوا د چاپ نسخې په واسطه کتلې وه، خو ډېره عجیبه خبره دا ده، چي په اسلامیه کالج پېښور کي د شیدا د دیوان همدغه یوازینۍ نسخه ده، چي ټولو مرتبینو کتلې ده او بیا هم ځینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې داسې دي لكه چي دوى خو يا دغه نسخه كتلې نه وي او كه كتلې ئې وي نو بيا ئې دومره سنګينې تحقيقي غلطۍ کړې دي چي د شيدا د ديوان شكل ئې بدل كړى دى مثلا دا لاندينۍ خبرې:

(۱) د بينوا صاحب چاپ كړى ديوان بيخي د اسلاميه كالج د نسخې مطابق نه دى. په دې نسخه كي، چي كوم كلام موجود دى هغه په مكمل شكل چاپ ديوان كي راغلى هم نه دى. ديوان نيمګړى چاپ شوى دى او ورسره ځينې غزلې او نور كلام كي د مصرعو او الفاظو شكل هم د موجوده قلمي نسخې سره بدل دى ... بدلون او نيمګړتيا دومره لري، چي موازنه ئې ګرانه ده، ..." (د سريزي ۳۴مخ).

له دې اوږده نقل قول څخه دا څو ټكي څرګندېږي او هغه دا چي د اسلاميه كالج په قلمي نسخه كي چي كومي غزلي او نور كلام سته د دغي نسخې په هغه كاپي كي ټول نه وو اخيستل سوى چي بېنوا مرحوم ته د اروابناد خان ولي خان له خوا استول سوې وه. په دغه كاپي كي هم تر غزلو او اشعارو لاس اړول سوى دئ او هم د مصرعو او الفاظو شكل وربدل سوى دئ. خو بېنوا ته دا نسخه د اسلاميه كالج نسخه ښكارېدله او ده ته دا زمينه برابره نه وه چي دغه كاپي دي له خپل اصل يعني د اسلاميه كالج له نسخې سره مقابله كړي. د كلام د دغي نيمګړتيا او د مصرعو او الفاظو د شكل د دغه بدلون مسئول هغه كاتب دئ چي ولي خان مرحوم د اسلاميه كالج د نسخې د رانقلولو له پاره ګومارلى وو او له خپله جېبه ئې د دغه استنساخ په بدل كي حق الزحمه پيسې هم وركړي وې. بېنوا مرحوم ته د شيدا د دېوان د چاپ پر وخت دغه حقيقت نه معلومېدى چي دا نسخه د اسلاميه كالج د نسخې مسخه سوې كاپي ده. دا حقيقت ښاغلي حنيف خليل ته دروپنځوس كاله وروسته هغه وخت څرګند سو، چي د اسلاميه كالج نسخه ئې په خپله اصلي بڼه كي وكتله. كه دغه راز واقعيتونه ما (هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته روښانه سوي نه واى، ما به د (پښتو متون سمېدل غواړي) کتاب د ليکلو ستومانوونکي کار ته اوږه نه واى ورکړې. په ډېر تاسف سره بايد ووايم چې د ادبي او تاريخي آثارو او نسخو د مسخه کولو جريان اوس هم په نوو انګېزو او نوو شکلونو سره روان دئ. د دې ستري فاجعې مخه نيول په کار دي.**

## ۸ - د عبدالحميد دېوان:

**په دغه نامه د پښتو ژبي د نازکخيال شاعر پر ديوان چي د ارواښاد صديق الله رښتين په "مقدمه، تصحيح او اهتمام" برابر سوى دئ ږغېږم. د دې کتاب اوله برخه چي د "حميد پېژندګلي او شاعري" نومېږي، په ۱۳۲۰ش = ۱۹۴۱ع کال د ارواښاد پوهاند رښتين په قلم ليکل سوې او په همدغه کال ئې د مطبوعاتو د رياست له خوا د اقتصاد اوله جايزه ګټلې وه. وروسته ئې د حميد دېوان هم ورسره يو ځاى کړ او د (عبدالحميد ديوان) په نامه د ۱۳۳۱ش = ۱۹۵۲ع کال په حمل کي د پښتو ټولني (کابل) له خواد زرو ټوکو په تېراژ د کابل په عمومي مطبعه کي چاپ سو[1].**

**لکه وړاندي چي ويل سوي دي د دې کتاب اوله برخه (۲۸مخه) د حميد پر ژوند او شاعرۍ باندي بيانونه لري او دوهمه برخه ئې د اشعارو دېوان دئ چي ۱۲۶ مخه ئې نيولي دي. د دېوان په سر کي "يادګيرنه" راغلې ده او په هغې کي د دېوان د ترتيبولو پر کار باندي ږغېدلى دئ او هغه نسخې ئې معرفي کړي دي چي نوموړى دېوان ورڅخه تهيه سوى دئ. په**

---

[1] د دغه چاپ سريزه په ۱۳۳۰ش کال کي کښل سوې ده او همدا کال ئې په پاى کي ليکل سوى دئ. د دېوان د ترتيبوونکي د آثارو په هغه ليست کي چي د کتاب د وقائې په دريم مخ کي راغلى دئ، هم د همدې دېوان د چاپ کال ۱۳۳۰ ښوول سوى دئ. ښاغلي زلمي هيوادمل د عبدالحميد مومند دېوان د سريزي په ۹۱مخ کي هم دغه کال ۱۳۳۰ش ښوولى دئ، خو د عبدالحميد دېوان د وقائې پر څلرم مخ باندي د پښتو ټولني تر نښان لاندي (حمل ۱۳۳۱) کښل سوي دي او ما همدغه کال د کتاب د چاپ کال ګڼلى دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې نسخو کي يوه قلمي ده او دوې نوري چاپي دي. وايي چي قلمي نسخه "د پښتو په پخواني خط ليکل شوې ده". ما (هوتک) ته نه معلومېږي چي د پښتو له پخواني خط څخه د مرتب مراد څه دئ؟ دا نسخه د ليکلو تاريخ نه لري، د کاغذ د پاڼو له مخي زړه او پخوانۍ نسخه ده او مرتب زياتوي: "دا نسخه چه مونږ وکتله تر زياتي اندازې صحيح ده او ډېره لږه غلطۍ لری د دې نسخی په وقايه باندی د شيراحمد نوم ليکل شوی دی نو ښايی چه د ده په قلم نقل شوی وی". پر قلمي نسخو باندي کله کله د نسخو مالکان خپل نومونه کاږي او کله کله د نسخو لوستونکي هم خپل نوم د يادابښت په توګه پر ليکي نو حتمي نه ده چي دا نوم دي د نسخې د ناسخ نوم وي[1].

اروابښاد مرتب د دېوان په ترتيبولو کي همدغي قلمي نسخې ته "زيات اعتبار" ورکړی دئ. په هغو دوو چاپي نسخو کي چي د دغه دېوان په برابرولو کي کار څني اخيستل سوی دئ، يوه ئې بشپړه ده چي وايي "په لاهور کی د ملا عبدالغفار قندهاری د فارسی حاشيې سره په ۱۳۳۱ق چاپ شوی ده، لاکن زياته غلطی لری او د لغاتو اکثری معنی ګانی هم صحيح نه دی ليکل شوی"[2]. بله چاپي نسخه ئې "نيمګړې" بللې ده چي وايي "د سر او آخر پاڼې ئې نشته".

په "يادګيرنه" کي دا خبره هم ياده سوې ده چي دا دېوان ئې په "نوی املا او رسم الخط" نقل کړی او ليکلی دئ.

---

[1] دا قلمي نسخه مرتب ته "عبدالله خان افغاني نويس د نقل او مقابلې دپاره" ورکړې وه چي مرتب د دېوان په ۱۵۴مخ کي "تشکر" څني کړی دئ. د "تشکر" په يادونه کي د محمدګلاب ننګرهاری نوم سته او وايي چي "د دی دېوان په نقلولو کښی ډېر زحمت ويستلی او د دريو نسخو له مخه ئې دا ديوان نقل کړی دی".

[2] ښاغلی هيوادمل دغه نسخه د حميد د دېوان څلورم چاپ بللی دئ او وايي چي ټول مخونه ئې ۱۲۶؟ دي. ده د ملا عبدالغفار کندهاري له نامه سره "هوتک" هم کښلی دئ. (وګ: هماغه دېوان ،هماغه مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دېوان په سر کي د "لاس پوری کول" تر سرخط لاندي مرتب، چي په هغه وخت کي د پښتوټولني لوی مدير وو، په دوو مخوکي خپلي خبري کړي دي او دغه دېوان ئې "د حميد دُرومرجان" بللی دئ.

د عبدالحميد دېوان چاپي نسخه چي همدا اوس زما مخ ته پرته ده، نيمگړې ده او له بده مرغه د الف رديف اته مخه ئې کنډو دي. د دغي نسخې اوله غزله په دې لاندي مطلع سره شروع سوې ده:

"واقع شوی دی بیا کوم تقصیر له ما؟
چــــه تېرېږی دلـــربا دلگـــر له مـــا"

د دېوان په پای کي اووه مخه لغتنامه لري چي لغتونه پکښې د الفبې پر ترتيب برابر اوډل سوي او معنا سوي دي. تر هغې وروسته "د سمونی پاڼه" راغلې ده چي درې مخه ئې نيولي دي.

د دغه دېوان د ترتيب په وخت کي د متني کره کتني چاري د پيل په هماغه لومړيو پړاوو کي وې او د متونو تصحيح کوونکو هم د دغه علمي ډيسيپلين له اصولو سره ډېر بلد نه ول. دا متن په حاشيو کي نسخه بديلونه لري، د متن له پاره ئې قلمي نسخه د اصل په توگه ټاکلې ده، په حاشيو کي ئې د ځينو لغاتو او نومو په برخه کي لنډي ځرگندوني هم کړي دي چي دا کارونه د متني نقد پر اصولو برابر دي. خو لکه وړاندي چي مو وويل، د متن د تصحيح کار په دغه وخت کي د خالپوځو (خاپوړو) په حالت کي دئ. که څه هم تر دغه متن وړاندي د خوشحال خټک مرغلري او د عبدالقادر خټک دېوانونه له کندهاره خپاره سوي ول، خو بيا هم مصححينو په دې برخه کي کافي تجربه نه درلوده، ځکه نو زماپه نزد د دغه متن هغه ځايونه چي گوته ورته نيول کېدلای سي، دا دي:

– ځيني حاشيې کمزوري دي. په ۴۸ مخ کي دوهمه حاشيه چي وايي: "په بله نسخه کښی – ..." دلته بله نسخه گونگ عبارت دئ. بايد يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه مشخص سوی وای. په ۶۲ مخ دریمه حاشیه کي کښلي دي: "په یوه نسخه کښی ..." دلته هم د متني کره کتني اصول حکم کوي چي نسخه باید مشخصه سوې وای. په لمنلیکونو کي دغه راز ځایونه نور هم سته.

– ځیني حاشیې باید متن ته پورته سوي وای .

د۶۶مخ حاشیه وایي چي: "په قلمی نسخه کښی چندڼ راغلی دی" خو په متن کي "سندل" ثبت دئ. دلته باید د اصل (قلمي نسخې) ثبت غوره سوی وای. سندل – صندل د چندڼ کلمې معرب (عربي سوی) شکل دئ.

د۸۵ یم مخ حاشیه "کودی" باید متن ته شامله سوې وای. په متن کي راغلي دي " مخ زما تر یاره پورې تورکالی نسکور دی"، له (نسکور) صفت سره (کودی = کودری) سم وایي. "کالی نسکور دی" د کاتب تصرف بولم او ښایي کاتب د (کودي) لغت په پوهېدلو کي مشکل درلود.

په ۹۰ یم مخ کي دوهمه حاشیه "د غم اورشو"باید متن ته تللې وای او د متن ثبت "په تمامې دنیاورې دغه اورشو" باید حاشیې ته کښته سوی وای. په همدې مخ کي اوله حاشیه "عاشقۍ ئې د منصور کانه راوکړه" بایدپه متن کي د "عاشقۍ د منصورکار راته روا کړ" پر ځای راغلې وای. زما خیال دئ چي د نسخې نقل کوونکي ته (کانه) لغت نااشنا وو. سر ئې نه په خلاصېدی، ځکه ئې په بیت کي تصرف کړی او په بېخوندۍ سره ئې مسخه کړی دئ.

په ۹۳ مخ کي د دوهمي غزلي د پای له خوا د دریم بیت د سر نیم بیتی داسي دئ: "ډېرو سولو د هجران خضر پښېمان کړ". په حاشیه کي ورته کښلي دي چي په چاپي نسخه کي (ډېرو ښښلو) دئ. زما په فکر دلته د چاپي نسخې او زموږ تر بحث لاندي متن ناقلینو دواړو غلطي کړې ده. اصل نیم بیتی باید داسي وي: (ډېرو شوکو د هجران خضر پښېمان کړ). دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



(شوګي) لغت په مغیره حالت (شوګو) کي راغلی دئ. (شوګي) سخت درد، قلنج ،... ته وايي. ناقلین لکه چي په دغه لغت نه پوهېدل. د عبدالحمید مومند دېوان او د عبدالحمید مومند کلیات ترتیبوونکي د ( شوګه) په معنا پوهېږي خو په دغه بیت کي ئې ورته فکر سوی نه دئ او "ډېرو سولو د هجران ...." ئې ثبت کړی دئ. حمید مومند د (شوګو) کلمه په خپل بل اثر نیرنګ عشق کي هم راوړې ده:

یــــوله ځلې د ســبق سبقت اندېش
به له شوګو د رخصت په خاطر رېش
(کلیات: ۴۳۹مخ)

په ۹۶ یم مخ کي "هر دقت چه دې په مخکي حسن راوړی" په حاشیه کي لیکل سوي دي چي په نیمګړې چاپي نسخه کښې د راوړی په ځای (وکه) دی". (وکه) باید متن ته داخل سوی وای او (راوړی) باید حاشیې ته کښته سوی وای. له (دقت) سره د (کېدل) فعل سم راځي. دقت کېږي، راوړل کېږي نه!

په ۱۲۰ مخ کي د دوهمي حاشیې (خاوري) ویی باید په متن کي د (مینه) پر ځای داخل سوی وای. بیت داسي دئ:

"څه فساد دی ستا پــــه مینه کی حـمیده
چه د مینې په کیمیا کښی سره زر نه شوه"

اول نیم بیتی که د چاپي نسخې له ثبت سره سم "څه فساد دی ستا په خاوره کښي حمیده" راغلې وای د بیت مفهوم به ډېر سم سوی وای. حمید ځان ته وايي چي ستا په خاوره = خټه کي څه فساد سته چي د میني په کیمیا سره نه سره زر کېږي. په متن کي د (میني) کلمې تکرار د حمید له "موشګافی" څخه لیري خبره ده.

په ۱۴۲ مخ کي هم د دوهمي حاشیې "د عشق په شور کي" د متن تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثبت "له حمیده صبر مه غواړه ناصحه + دغه توان ورځخه لاړ د عشق په تور کي" له بیت سره ښه سر خوري. له حمید څخه د صبر دغه توان د "عشق په شور کي" تللی دئ، نه "د عشق په تور کي". د عشق شور د اصل قلمي نسخې ثبت هم دئ، باید د مرتب د خپل اقرار په حکم "ډېر اعتبار" ورکول سوی وای.

په ۱۴۴مخ کي یو بیت داسي دئ:

"د پردو وینو زول هرگوره گران دی
ځکه اچوی په غېږ کی مینا وینې"

د دغه مخ په دوهمه حاشیه کي کښلي دي چي په چاپي نسخه کي د (غېږ) پر ځای (قی) راغلی دئ. په دوهم نیم بیتي کي باید (قی) راغلی وای ځکه د (قي = استفراق) په وخت کي ځوک له خولې څخه ویني اچوي. له مینا (جام) څخه هم د میو د راتوئېدلو پر وخت (د قی کولو پر وخت) ویني راځي. دلته هم باید د حاشیې ثبت په متن کي شامل سوی وای.

دغه راز نور موارد هم سته.

- د متن د تصحیح کار ځای ځای تر سر تېر سوی دئ. د مخونو لمبرونه ناسم لگېدلي دي. ۱۰۸ مخ، ۸۰۱ سوی دئ، ۱۴۷ مخ ۷۴۷ سوی دئ،....

د لیکدود یو رنگتوب (تجانس) ئې بد نه دئ خو په متن کي ئې (کي) او (کښې) دواړه راوړی دئ . ان تر دې اندازې چي په یوه بیت کي ئې دا دواړه شکله لیکلي دي:

"څه فساد دی ستاپــــه مینه کی حـمیده
چه د مینې په کیمیا کښی سره زر نه شوه"

زموږ د مشرانو د وخت امکاناتو ته چي ځوک وگوري او په نننې معیار ئې و نه تلي، نو دا متن له دې ټولو ټکو سره سره بیا هم په خپل وخت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقیق کار وو او د نثني متني ناقدینو د کار له پاره د یوه تاداو حیثیت لري. پاک خدای دي زموږ مشران ټول وبخښي. د علم و ادب درانه بارونه ئې تر موږ پوري رارسولي دي.

## ۹- د شمس الدین کاکړ دېوان:

د شمس الدین کاکړ دېوان د کابل پښتو ټولني واردواره چاپ کړی دئ. مقدمه ئې ښاغلي عزیزالله واصفي کښلې ده او د تصحیح چاري ئې هم ده سرته رسولي دي. د اهتمام کار ئې حفیظ الله نومي بشپړ کړی دئ. په ۱۳۳۳ش = ۱۹۵۴ع کال د کابل په عمومي مطبعه کي د یو زر ټوکو په تېراژ چاپ سوی دئ. د دېوان په سر کي د هغه وخت د پښتو ټولني لوی مدیر اروانښاد صدیق الله رښتین په یوه مخ کي یوه یادونه پر لیکلې ده. مقدمه ئې (۱۱مخه) د نورو دېوانونو پر خلاف د کتاب په پای کي راغلې ده. د دېوان ټول مخونه ۱۶۹ دي.

دا دېوان د متني نقد له اصولو سره سم تهیه سوی نه دئ. داسي ښکاري چي له یوې واحدي نسخې څخه به برابر سوی وي ځکه حواشي یا نسخه بدیلونه نه لري. لغتنامه ئې هم نه ده ورته ترتیب کړې او غلطنامه هم نه لري. اصل نسخه چي دا چاپي متن ځني برابر سوی دئ، نه د مقدمه لیکونکي له خوا او نه هم د پښتو ټولني د لوی مدیر له خوا راپېژندل سوې ده. د افغانستان په ملي آرشیف کي د شمس الدین کاکړ د دېوان دوې قلمي نسخې سته چي یوه ئې "عبدالواحد بن فیض محمد قندهاری" په کتابت او دوهمه ئې د "محمدګل خوشکاوی"په قلم لیکل سوې ده. زه فکرکوم چي دا چاپي متن به په همدې دوو نسخو کي له یوې څخه تهیه سوی وي. که څه هم د ملي آرشیف د پښتو خطي نسخو په فهرست کي ئې کښلي دي چي د دغه دیوان یوه خطي نسخه د افغانستان د علومو اکاډمی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کتابخانه کي هم سته. د اکاډمۍ کتابخانه هماغه د پښتو ټولني کتابتون وو. له امکانه ليري نه ده چي دا چاپ له هماغي نسخې څخه رانقل سوی وي. څرنګه چي چاپي متن د متني کره کتني پر پرنسيپو برابر نه دئ، ځکه نو دا ټولي خبري حدسيات دي او حدسيات د ننني معيار له مخي د اعتبار وړ خبري نه سي کېدلای.

د شمس الدين کاکړ دغه دېوان تر چاپ ۳۴ کاله وروسته د صحاف نشراتي موسسې (کوټه) له خوا په ښکلې قطع او صحافت بيا چاپ سوی دئ. د تصحيح او ډيزاين چاري ئې صحاف نشراتي موسسې سر ته رسولي دي دا متن ئې ما (هوتک) ته کاناډا ته رالېږلی وو، ما مرور پر وکړ، ټايپي تېروتني مي ورسمي کړې او دوهمه سريزه و لغتنامه مي ورته وکښله. دا چاپ هم د متن څېړني پر معاصرو اصولو برابر نه دئ خو تر اول چاپ يو څه د اعتماد وړ کېدای سي.

## ۱۰ - پښتو عروض:

پښتو عروض د احمدشاهي عصر د يوه ننګرهاري پښتانه عالم مياشرف ليکنه ده. دا کتاب د عروضو په علم کي لومړنی پښتو اثر دئ. په دغه برخه کي موږ د مياشرف تر کتاب پخوا بل اثر نه لرو. د دغه کتاب يوه خطي نسخه مولوي ابوالوفاء صاحب کندهاري غالباً په هند کي موندلې او له حيدرآباد دکن څخه ئې د کابل پښتو ټولني ته لېږلې وه. دا نسخه د ارواښاد استاد رښتين په "کتنه او سپړنه" د پښتو ټولني له خوا په ۱۳۴۴ش کال په آفسيټ ډول چاپ سوه. خطاط ئې د فارسي ژبي محقق ليکوال او شاعر مولانا خال محمد خسته او د خط ډول ئې نستعليق دئ. د کتاب ټول متن ۳۸ مخه دئ او استاد رښتين په ۳۴ مخونو کي د "پلټنه او سپړنه" په نامه تعليقات پر کښلي دي. د تعليقاتو په دوهم مخ کي د قلمي نسخې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشخصاتو او ليکدود باندي برغېدلی دئ او ليکلي ئې دي چي قلمي نسخه د ليکلو نېټه او د کاتب نوم نه لري. د قلمي نسخې د شپږم، يوولسم او پنځلسم مخونو عکس ئې هم په متن کي راوړی دئ.

دا متن له يوې واحدي نسخې څخه تهيه سوی دئ او طبيعي ده چي نسخه بدېلونه نه لري. ځای ځای ئې په لمنليکونو کي د کلماتو تشريح سته.

پښتو عروض د متن څېړني له مخي تر زياتي اندازې د باور وړ متن دئ. د متن محتوا (منځپانګه) ئې ځيني داسي خبري لري چي عروض پوهان ورسره موافقه نه لري. خو د دې موضوع څېړنه زما د اوسنۍ ليکني تر چوکاټ وتلې خبره ده.

## ۱۱-دستارنامه:

دستارنامه د خوشحال خان خټک (۱۶۱۳ – ۱۶۸۸ع ) مهم اثر دئ. دغه مهم اثر واردواره د پېښور موزيم د مهتمم ارواښاد عبدالشکور په اهتمام په ۱۹۵۲ع کال په دغه ښار کي چاپ سو. عبدالشکور صاحب دغه چاپي متن له هغي قلمي نسخې څخه تهيه کړی وو، چي د پېښور د پښتو اکيډېمۍ په کتب خانه کي موجوده وه. د دې قلمي نسخې په باب وروسته ليکل سوي دي چي ارواښاد عبدالشکور ته "دا نسخه د ګنبت خان بهادر محمدرفيق خان ورکړې وه"، په کتب خانه کي په "... نمبر ق – ۲۵۳" قيد ده او "په حاشيه کي ئې فراقنامه هم ليکلې ده"[1]. دغه قلمي نسخه د افضل خان خټک له پاره د عبدالحليم نومي په کتابت د ۱۱۱۹هـ ق کال د

[1] وګ: دستارنامه – پښتو اکيډيمي پېښور – د سريزي ح ،ط مخ،چاپ ۱۹۹۱ع.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمادي الثاني پر پنځمه خطاطي سوې ده[1]. په دې چاپي متن کي د قلمي نسخې ليکدود کټ مټ رانقل سوی دئ چي د دستارنامې د کابل چاپ د ترتيبوونکي په نظر ئې "لوستنه د هر چا دپاره ګرانه وه" او د پېښور د دوهم چاپ د ترتيبوونکي په قول "عبدالشکور صيب د چاپ کړې نسخې املاء دومره ګرانه ده چه په اله آسانه څوک پرې پوهيدی نه شی". د عبدالشکور صاحب چاپ د دستارنامې اول چاپ دئ او علمي نړۍ ته واردواره د ده له خوا په چاپي توګه وړاندي سوې ده.

د کابل پښتو ټولني د ۱۳۴۵ ش = ۱۹۶۶ع کال په دوبي کي د خوشحال خان خټک د مړيني د ۲۸۶يم تلين د نمانځني په مناسبت د دستارنامې متن د ارواښاد عبدالشکور صاحب له چاپ څخه رانقل او په مناسبه قطع او ښه صحافت ئې د کابل په دولتي مطبعه کي د ۲۵۰۰ ټوکو په تېراژ چاپ کړه. د پښتو ټولني د هغه وخت مشر ارواښاد استاد رشتين دوه مخه سريزه پر کښلې ده او په هغې کي وايي چي رانقل سوی متن ئې "په ډير زيار صحيح کړی شوه"(د سريزي – لومړی مخ). د دستارنامې د دغه چاپي متن د مخونو شمېر ۱۳۸ دئ. د متن په پای کي "د ځينو لغاتو څېړنه" راغلې ده. دا څېړنه دوې برخي لري. يوه ئې د ارواښاد دوست محمد خان مومندپه قلم ليکل سوې او د پېښور له اول چاپ څخه رانقل سوې ده. د لغتنامې دغي برخي ته په ځينو ځايو کي نوره تشريح هم ورکول سوې ده. دوهمه برخه ئې پښتو ټولني برابره کړې ده. دواړي برخي په ۱۶مخونو کي ځای سوي دي. تر لغتنامې وروسته د متن فهرست په دوو مخونو کي راغلی دئ. د متن په سر کي د خوشحال خان تصوير او په پای

---

[1] وګ : د کابل چاپ دستارنامې – ۱۳۸مخ. د افضل خان نامه ته د خټک لقب ما (هوتک) وراچولی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي ئې د ده د قبر تصویر سته چي د کابل د پښتو ټولني په غوښتنه د کابل د حجارۍ او نجارۍ په فابریکه کي د مرمر له ډبري څخه په ۱۳۲۷ش = ۱۹۴۸ع کال جوړ سوی وو.

د دستارنامې د دغه چاپ په باب د پېښور چاپ (۱۹۹۱ع) ښاغلي مرتب حاجي پُردل خان خټک کښلي دي چي "... په ښکلې ټائپ چاپ شوې ده – ولې په دې کښې په ځینو ځایو کښې دَ بابا ژبه بدله کړې شوې ده" (وګ: د دغه چاپ د سریزي – ط مخ). خو له بده مرغه دغه ځایونه ښوول سوي نه دي. د دغو ځایو موندل هغه وخت ممکن کېدلای سي چي د کابل چاپ متن د پېښور چاپ له متن، یا د پېښور د پښتو اکیډیمۍ له خطي نسخې او یا هم د ارواښاد عبدالشکور له چاپ سره مقابله سي. زه اوس د دغې مقابلې له پاره امکانات نه لرم.

تر کومه ځایه پوري چي ما ته څرګنده سوې ده، د کابل چاپ په دغه متن کي دې لاندي ټکو ته د متني ناقد ګوته نیول کېدلای سي:

– مصحح ځای ځای ډېري پر ځای او معقولي سموني په حاشیه کي راوړي دي. د متن څېړني اصول موږ ته وایي چي که په یوه متن کي کاتب ناسمه کلمه لیکلې وي او مصحح ئې د سمولو له پاره پاخه استنادونه لري، نو باید دغه سمونه متن ته داخله سي او ناسم ثبت ئې په حاشیه کي وښوول سي. دا څو مثاله به ولولو:

په اول مخ کي کاتب د خوشحال خان د یوه اثر نوم په ناسم ډول "فقرانامه" کښلی دئ. مرتب و دې غلطۍ ته متوجه سوی دئ او سم شکل "فراقنامه" ئې په حاشیه کي راوړې ده. مرتب ښایي دا کار د امانتدارۍ له اسیته کړی وي، خو د متن څېړني له اصولو سره سم ئې باید "فراقنامه" په متن کي او "فقرانامه" په حاشیه کي راوړې وای.

په پنځم مخ کي هم د کاتب غلطۍ ته د مرتب پام اوښتی دئ چي "اما

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسمان سره څه کا" ئې "اما د ایمان سره چه کا" لیکلی دئ. مرتب ته په کار وه چي سم عبارت ئې متن ته پورته کړی او ناسم ئې حاشیې ته کښته کړی وای.

په همدې مخ دوهمه حاشیه "یوه بل کمینه تر ملا کړې" عبارت باید متن ته شامل سوی وای. د متن "یوه بله کینه تر ملا کړی" باید حاشیې ته راغلی وای.

د نهم مخ د حاشیې"تقوی" باید د متن د ناسم ثبت "فتوی" پر ځای راغلی وای.

د ۳۴ مخ د حاشیې "دودوي" باید د متن د "دوی" پر ځای لیکل سوی وای.

د ۳۷مخ د حاشیې له توضیح سره سم باید په متن کي د "باز" کلمه ورزیاته سوې وای. لوستونکي کله کله حاشیې ته پام نه کوي او د متن په لوستلو کي ستونزه پیدا کوي.

– سره له دې چي وایي متن "په ډېر زیار صحیح کړی شوه" خو بیا هم ډېر ځایونه (۲۸، ۳۹، ۵۲، ۵۶، ۶۸، ۷۰، ۷۱، ۷۵، ۸۰، ۸۲، ۸۵، ۱۵۳ مخونه ...) ناسم پاته سوي دي. مرتب د پېښور چاپ لیکدود د خپل وخت مروج لیکدود ته رااړولی دئ خو ځای ځای ځني پاته سوی دئ (۷۳مخ). دا کارونه د متن څېړونکو په عیبو کي نه شمېرل کېږي خو مرتب ته په کار وه چي پورتنۍ یادونه ئې د "په ډېر زیارتر یوې اندازې صحیح کړی شوه" په شان کښلې وای.

– د لغتنامې ځیني ځایونه د تامل وړ دي. دا چي په ۱۵۳ مخ کي د "شولان" معنا بې له کومي حوالې څخه " کمند" لیکلې ده، ما ته سمه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري. شولان سالَن ته وايي[۱]. دې تېروتني د خوشال خان خټک کليات (؟ چاپ) ته هم لار کړې ده.ما چي له کندهاره تر اټکه کتاب کېښ، د خوشال خان خټک کليات ته مي د دغي معنا په برخه کي اشاره کړې وه، خو اوس پوه سوم چي د دغه کليات مرتب د شولان لغت په معنا کي د دستارنامې د لغتنامې ښکار سوی دئ.

په دغه لغتنامه کي خورا ډېر لغتونه معنا سوي نه دي او د معنا پر ځای ئې ټکي ايښي دي. له چاپي نسخې ځخه د نقل کوونکي يا نقل کوونکو نومونه هم نه دي ښوول سوي. د متن د مرتب نوم هم په صراحت سره نه دئ ليکل سوی او د متن د چارو سمبالوونکي د "مو" په ضمير سره ښوول سوي دي. د دغه ضمير له کارولو ځخه ځوک فکر کوي چي پر متن باندي ډله ييز کار سوی دئ، خو زما په خيال د دغه متن د تهيه کولو کار تر ډېري اندازې پوري د پښتو ټولني د مشر له خوا سر ته رسېدلی دئ.

زما په نزد د دستارنامې دغه چاپ د انتقادي متن د اصولو پر تول برابر نه خېژي او مبهمات ئې ډېر دي.

## ۱۲ - طب نامه:

طب نامه د خوشحال خان خټک بل اثر دئ چي په نظم ئې کښلی دئ او پر دغه چاپ چي ئې زه اوس ږغېږم، د کابل پښتو ټولني په ۱۳۴۵ش = ۱۹۶۶ع کال د خوشحال خان دمړيني د۲۸۶ تلين په مناسبت د پوهاند رشتين "سمونه او کتنه" د دوو زرو ټوکو په تېراژ د " طب نامه د خوشحال خټک" په نامه چاپ کړی دئ.

د کتاب په سر کي"ړومبنۍ خبرى" په ديارلسو مخونو کي راغلي دي

---

[۱] وګ: د ليکونکي اثر، له کندهاره تر اټکه – ۲۸۲مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په هغو کې د دغه کتاب د چاپ پر اړتیا، د قلمي نسخې (اصل) پر ځانګړ تیاوو، د خوشحال خټک پر نورو آثارو او د هغو پر بېلابېلو چاپونو، د خوشحال د کلیاتو پر قلمي نسخو او د خوشحال په باب پر لیکل سوو آثارو باندې رڼا اچول سوې ده. ورپسې د طب نامې متن شروع کېږي چې ټول ځلوېښت مخه دئ. تر هغه وروسته د خوشحال له چاپي فضل نامې څخه د "صحبت آداب" مثنوي، چې اته مخه ئې نیولي دي، راغلې ده. د طب نامې متن او له فضل نامې څخه رانقل سوې مثنوي خطاطي سوې ده. د خطاط نوم ئې نه دئ ښوولی خو زه فکر کوم چې دواړه متنه به د مولانا خال محمدخسته په قلم خطاطي سوي وي (والله اعلم بالصواب). کتاب ته په نهو مخو کې لغتنامه هم لیکل سوې ده او لغتونه ئې د الفبې په ترتیب اوډلي دي. سریزه (ړومبنۍ خبرې) او لغتنامه دواړه په چاپي تورو ده. د کتاب په سر کې د خوشحال خټک تصویر هم سته.

د خوشحال خټک طب نامه، چې په ځینو کتابو کې د "صحت البدن" په نامه هم یاده سوې ده، تر دغه چاپ پخوا په ارمغان خوشحال (د سیدرسول رسا په زیار) او فضل نامه (د پېښور د اشاعت سرحد له خوا چاپ) کې چاپ سوې ده خو د اروابښاد استاد رشتین له خولې چې ویلي ئې دي: "... په دواړو ځایو کښې داسې غلته چاپ شوې ده چه له چاپ نه ئې نه چاپ غوره ؤ"(د ړومبنۍ خبرې "د" مخ).

د دغه حاضر چاپ متن د پښتو ټولنې د کتابتون له خطي نسخې څخه رانقل سوی دئ او له چاپي متنونو سره مقابله سوی دئ. د نسخو اختلافونه ئې په ښه تفصیلي توګه د هر مخ په لمنلیکونو کې راوړي دي. د پښتو ټولني خطي نسخه د اروابښاد محمدعمر بلبل افغان (۱۳۴۵ش = ۱۹۶۶ع مړ) له خوا د ټولني کتابتون ته ورکول سوې وه. اروابښاد بلبل افغان له دغې نسخې څخه بل نقل هم اخیستی وو، چې هغه هم په همدې کتابتون کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوندي وو (ږومبنۍ خبرې – ج – مخ). وايي چې قلمي نسخه (اصل) د سر له خوا بشپړه خو په منځ او پای کې ئې دوه مخه کنډو دي. د نسخې ټول مخونه شپږڅلوېښت دي، ليک ئې پوخ نستعليق او ليکدود ئې د ختکو دئ. دا متن په دقت تهيه سوی دئ او د متن څېړني پر اصولو باندي تر زياتي اندازې سم خېژي. د طب نامې د وروستي چاپ (د پېښور پښتو اکيډيمي – ۱۹۸۵ع) مرتب سيد محمد تقويم الحق کاکاخېل د کابل د پښتو ټولني چاپ طب نامې په باب ليکلي دي: "د کابل پښتو ټولنې ... يوه مجموعه د طب نامه خوشحال خان ختټک په نوم په ۱۹۶۶ع کښې چاپ کړې ده.او تر خپله حده ئې د صحت کوشش کړی دی" (۷ مخ).

زموږ تر بحث لاندې چاپي طب نامې متن ته که د متني کره کتني له عينکو څخه وکتل سي، دا لاندي ځايونه ئې سمېدل غواړي:

– خوشحال خان د ناروغيو د علاج له پاره ځای ځای دوې درې يا تر دې زياتي نسخې (Prescriptions) سر پر سر راوړي دي. تر اولي نسخې وروسته ئې نورو ته د "ايضا" عنوان ورکړی دئ. دغه عنوان په چاپي متن کي هر ځای په " بل رنګ" اړول سوی دئ. دغه تصرف بايد نه وای سوی او د قلمي نسخو "ايضا" بايد خوندي سوی وای.

– د څلرم مخ څلرمه حاشيه "ده ساله" له متن سره سم وايي. په متن کي بيت داسي دئ:

" غوږ د غوا چه زاړه ډېر وی + د سال يا تر ده تېر وی"

د متن"د سال" که حاشيې ته کښته سوی او د حاشيې "ده سال" که متن ته رالوږ سوی وای، ښه به وو.

– د يوولسم مخ پنځمه حاشيه له متن سره سر نه خوري، بېځايه ليکل سوې ده. دا حاشيه بايد د دوولسم مخ له اولي حاشيې سره يو ځای راغلې وای. د دې کار ملامتيا خو پر کاتب وراوړي خو که کتاب دوهم وار

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصحیح سوی وي، نو ئې بیا پړه نورو ته هم متوجه کېږي.

– د دوولسم مخ څلرمه حاشیه ګونګه ده. په حاشیه کي راغلي دي چي "په چاپي نسخو کښې عنوان دا دی (دارو د قوت باه) چه بیخپ غلت دی". په متن کي هم په غټو تورو" دارو د قوت باه" ثبت دئ. لوستونکی د محشي په مطلب سم نه پوهېږي چي څه وايي؟

د همدې مخ پنځمه حاشیه هم تشریح غواړي. په دغه حاشیه کي ئې کښلي دي: "په چاپي نسخو کښې"نک چهکنی" لیکل شویدی". په متن کي "نک جهنکی" دئ او "نک جهنکی" بیا په لغتنامه کي معنا سوی نه دئ. لوستونکی نه پوهېږي چي په دې دوو کي کوم یو سم دئ. کله کله د متن تر تیبوونکي ځیني مروج او د ژبي عام کلمات بې تشریح پرېږدي خو که کلمه یا کلمات عام فهمه نه وي او مرتب ئې معنا هم نه وي راوړې، په دې صورت کي له لوستونکی څخه لار ورکېږي او نه پوهېږي چي د مرتب له خوا د ثبت سوي کلمې یا کلماتو د سموالي له پاره استناد په څه شي وکړي. د پېښور وروستي چاپ "نک چهکنی" ثبت کړی دئ خو هورې ئې هم معنا نه ده لیکلې. ښايي دا لغت به په هغه سیمه کي مروج او عام لغت وي[1].

– د ۲۴مخ دوهمه حاشیه بې ضرورته ده. د چاپي نسخو او موجود متن ثبت یو شان " دواړو" دئ. که دال له (واړو) څخه یو څه لیري لیکل سوی وای، مشکل په حلېدی.

– د ۲۷ مخ په دریمه حاشیه کي ویلي دي: "په چاپي نسخو کښی د (ورپوهیږی) په ځای (پری پوهیږی)". دلته که متن ته د چاپي نسخو ثبت داخل سوی وای، ښه به وو. د متن د "په ډېر رنګه جلاب کیږی +

---

[1] تر کومه ځایه چي ما ته معلومه ده (چهکنی) یو راز تُروه مایع ده. د جوړولو پر وخت ئې ګشنیز، هوږه او نورمساله جات له سُرکې سره ګډوي او پر کتغ باندي ئې دپاسه اچوي. د کتغ خوند او مزه په ډېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوشیاران به درپوهیږی" په پرتله " هوشیاران به پرې پوهیږي" محاورې ته نزدې او صحیح دئ.

– د ۳۴مخ د اولي حاشیې (وار) باید متن ته لوړه سوی او د (ځار) پر ځای راغلی وای. په متن کي خوشحال خان پر مېړه باندي د عورتي حقوق بیانوي او وایي:

"که مثنی که درې که چار وی + زیست روزگار دې په ځار وی"

د خوشحال مراد دا دئ چي که د چا دوې، درې یا څلور ماندینې ګاني وي، له هري یوې سره دي "زیست روزګار" په وار (نوبت) وي. د ماندینو په تعدّد کي د اسلامي شریعت حکم هم "تَعدِلوا" دئ. (ځار) دلته د بیت له مفهوم سره سر نه خوري او د حاشیې (وار) ورسره سم راځي.

– د ۳۵ مخ د دوهمي حاشیې "پرې دې تل حلاله خورینه" د متن د "برې دې تل حلال خوروینه" پر ځای راغلی وای ځکه خبره پر "نفقه" ده او د دغه مونث نامه سره (حلاله) صفت سم راځي نه (حلال). د همدې مخ د دریمي حاشیې "حرامه، عامه" هم باید د متن د "حرام، عام" پر ځای لیکل سوی وای. د متن تر "که لقمه ورکړې حرام" به "که لقمه ورکړې حرامه" د پښتو ژبي له ګرامري اصولو سره سمه خبره وي. پخوانیو ناسخینو د کلماتو د پای حرکتونه په زور، زېر، پېښ سره ښوول.

– د ۳۶مخ څلرمه حاشیه "په ډېر رنګه دخول کیږي بهتر دا دی" هم د ټولو چاپي نسخو ملاتړ لري او هم تر "په ډېر رنګه دخول کیږي هنر دا دی" د معنا و مفهوم په لحاظ غوره ښکاري، ځکه نو باید حاشیې ثبت متن ته لوړسوی وای او د متن ثبت حاشیې ته راکښته سوی وای.

– د ۳۷مخ اوله حاشیه چي وایي د متن د "په دا کار کښی تندرستی ده سراسر" په ټولو چاپي نسخو کي" په دا کار کښې تندرستي ده د بشر" ثبت دئ، باید د چاپي نسخو ثبت ته اعتبار ورکړه سوی وای. په دغه بیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي (د بشر تندرستي) يعني د (وجود تندرستي، د ځان تندرستي) د متن د (سراسر تندرستۍ) تر عام مفهوم موزونه راځي.

- د ۳۸مخ څلرمه حاشیه "که به پۍ څښې شودې پۍ د بزو څښه" هم د متن تر "که ئې څښې شودې پۍ خو د وزو څښه" د نورو نسخو زيات ملاتړ لري، ځکه ئې نو متن ته شاملول زما په نظر سم ول.

د طب نامې متن پر څلوېښتم مخ پای ته رسېدلی دئ. په پای کي ئې له فصل نامې څخه تر يوه اوړده مثنوي (؟ مخه) وروسته لغتنامه راغلې ده. په لغتنامه کي د متن ټول لغتونه نه دي اخيستل سوي او په اخيستل سوو لغتو کي هم ټول معنا سوي نه دي. د ډېرو لغتو معنا ته (...) ايښوول سوي دي. د معناوو په برخه کي هم زما سره د ويلو څه خبري سته خو د هغو بيانول مي له موضوع څخه ليري کوي. زما د څېړني استقامت د متني نقد لوری دئ، خو دا يوه خبره به د دې بحث په پای کي وکړم او بحث ته به د پای ټکی کښېږدم. د لغتنامې د (ش) رديف اول لغت "شوده پۍ" ته ليکل سوي دي: "يو بوټی دی"؟! شوده، پۍ، شيدې ټول د هغې سپيني اوبلني غذا پښتو نومونه دي چي په فارسي ئې (شير) او په انګرېزي ئې (milk) بولي.

## ۱۳- د خوشحال رباعيات:

"د خوشحال رباعيات" نومې مجموعه د کابل د پښتو ټولني د ادبياتو څانګي له خواپه ۱۳۴۹ش = ۱۹۷۰ع کال د ۱۵۰۰ ټوکوپه تېراژ په ۲۹۹ مخونو کي د پښتو ټولني د هغه وخت د مشر پوهاند رشتين له څلورمخه يادابښت سره، چي د مجموعې په پای کي ئې راوړی دئ، خپره سوې ده. د ارواښاد پوهاند رشتين د يادابښت له مخې، پر دغه مجموعه باندي ډله ييز کار (درې مياشتي) سوی دئ. په دغه يادابښت کي راغلي دي چي: "د خوشحال د رباعياتو د نقلولو کار په اول ځل د ادبياتو په څانګه کښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی محمداسمعیل سړبن له خوا سر ته ورسید، پس له هغه د ښاغلی بختانی، ځدراڼ، سړبن، حبیب الله اپریدی او شاه ولی صافی له خوا د نورو چاپی او قلمی نسخو سره مقابله شو او بیا د ښاغلی حفیظ الله او سړبن له خوا پاکنویس کړی شو". (الف مخ) خو ښاغلي رفیع صاحب لیکلي دي چي: "په ۱۳۴۹ کال چي پښتو ټولنې د خوشال ختک د سیمینار له پاره د خوشال بابا رباعیات چاپول بختاني صاحب ئې (د) تصمیم؟ او مقابلې د کمیسیون مشر و او د دې رباعیاتو کار هم د دوی تر نظرلاندې تر سره شو." (وګ: رشاد مجله، لومړی کال دوهمه او دریمه ګڼه ۱۷ – ۱۸مخونه). که څوک متن ته وګوري نو پوهېږي چي د تصحیح اساسي کار د پوهاند رشتین له خوا سر ته رسېدلی دئ. دې کار درې میاشتي دوام موندلی وو او وروسته بیا "د قلمی نسخو د لیک دود د سختیا په وجه ډېر ځایونه پکښې ناسم پاتی شوی وو". اروانښاد رشتین صاحب زیاته کړې ده چي: "په دغه وجه له قلمی نسخو سره د بیا مقابلی ضرورت پیدا شو او ما په خپله د محمداسمعیل سړبن، شاولی صافی، شادوله او بینا په مرسته په دغه کار لاس پورې کړ ... په دوو هفتو کښی دغه ګران کار سر ته ورساوه، (۱۶۰۴) رباعی ګانی مو ولوستلی او ناسمی رباعی ګانی مو په ډېر غور سره مقابله او د قلمی نسخو له مخه سمې کړې."( ب مخ)

په دې مجموعه کي اویا رباعۍ داسي دي چي په نورو چاپي او خطي نسخو کي نسته او په دې ډول د ټولو رباعیاتو شمېر (۱۶۷۴) ته رسېدلی دئ (ج مخ)[1].

د دې مجموعې په ترتیبولو کي د خوشحال خان د دېوان له درو قلمي

---

[1] د خوشال خان ختک کلیات د سریزو په (درېیم مخ) کي دا شمېر "ټولټال ۱۶۸۴ څلوریزې" بلل سوی دئ چي غالباً به چاپي تېروتنه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسخو (د پښتو ټولني د خطي زېرمي) او نورو درو چاپي نسخو څخه کار اخیست سوی دئ. قلمي نسخې ئې داسي ښوول سوي دي:

"۱ – لومړۍ قلمی نسخه د خوشحال په ژوندپه ۱۰۹۹ھ کال په جانه کوړ کښی چه د آدم خیلو اپرېدو په علاقه کښی یو ځای دی لیکل شوې ده[1].

۲ – دوهمه قلمی نسخه هم ډېره پخوانۍ ده خو تاریخ ئې نه معلومیږي.

۳ – دریمه قلمي نسخه هم زړه او پخوانۍ ده، خو تاریخ او د سر او آخر پاڼې نه لري." (الف – ب مخونه)

چاپي نسخې داسي راښیي:

"۱ – لومړۍ چاپي نسخه په ۱۳۱۶ش کال د ښاغلي عبدالحی حبیبی له خوا په کندهار کښی چاپ شوی ده[2].

۲ – بله چاپي نسخه د ښاغلی دوست محمد کامل له خوا په ۱۹۵۲ع کال په پېښور کښې چاپ شوې ده.

۳ – دریمه چاپي نسخه د ښاغلی سید رسول رسا له خواپه ۱۹۶۴ ع کال په پېښور کښی چاپ شوې ده" (ب مخ).

ارواښاد پوهاند رشتین لیکي چي له دې ټولو قلمي او چاپي نسخو سره ئې "د خوشحال رباعیات" مقابله کړي دي. رشتیا هم که څوک د دغي مجموعې متن وګوري په لازمو مخونو کي ئې نسخه بدیلونه په لنډ ډول د اړوند مخ په حاشیو کي راوړي دي. دغه راز ئې د مشکلو لغاتو لنډي معناوي هم په حاشیو کي کښلي دي. دا رباعیات رشتیا هم په خپل وخت کي تر نورو ټولو چاپ سوو دېوانو بشپړ دي خو که د متن څېړني له مخي

---

[1] دا هغه نسخه ده چي ویل کېږي ځیني برخي ئې د خوشحال خان په خپل خط کښل سوي دي.
[2] دا سنه سمه نه ده او یو کال کمه ښوول سوې ده (هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



وځېړل سي، نتیجه به ئې داسي راووزي:

له کومو خطي نسخو څخه چي استفاده سوې ده، د هغو پېژندنه ډېره مختصره او صرف دومره ویل سوي دي چي "پخوانۍ" یا "زړه پخوانۍ" ده. د نورو لیکدودي ځانګړتیاوو پر ځای ئې صرف دومره قدر ویلي دي چي"دغه درې واړه قلمي نسخې په پاخه نستعلیق خط د ختکو د کورنۍ په خاص لیک دود لیکل شوی دی. په دغه لیک دود کښې د پښتو د هر دروند توری دپاسه وړوکي همزه (ء) لیکل کیږي".

د متن له پاره د اصل نسخې ټاکلو خبره مبهمه پاته ده او څوک نه پوهېږي چي په متن کي کومي چاپي یا قلمي نسخې ته د اصل په توګه کتل سوي دي. د یاداښت په لومړي مخ کي ویل سوي دي چي "د رباعیاتو د نقلولو کار په اول ځل ... د ښاغلی محمداسمعیل سړبن له خوا سر ته ورسید" خو دا ئې نه دي ښوولي چي دا نقل له کومی چاپي یا خطي نسخې څخه سر ته رسېدلی دئ. د مقابلې په برخه کي ئې دومره قدر ویلي دي چي "په دې مقابله کي د پښتو ټولني له دوهمی او دریمی قلمی نسخې څخه زیاته ګټه اخستل شوې ده او اولی قلمی نسخی ته د ضرورت په وخت کی رجوع شوې ده". د دغه انتخاب دلایل ئې نه دي بیان کړي. لازمه خو دا وه چي "لومړۍ نسخه" چي د خوشحال په ژوند کي لیکل سوې وه، د اصل په توګه ټاکل سوې وای.

داسي ښکاري چي د متن د تهیه کولو په کار کي تلوار (بېړه) سوی وي ځکه د خوشحال د۲۹۰ یم تلین د نمانځني وخت پر رارسېدونکی وو او پښتو ټولني غوښتل دغي نمانځني ته دا دروند متن تهیه کاندي له همدې اسیته ئې د مقابلې کار په دوو هفتو کي بشپړ کړی دئ. دا موده د دغسي یوه درانه متن د مقابلې له پاره کافي نه ده.

په هر صورت "د خوشحال رباعیات" د خپل وخت د نورو آثارو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر تله په دقيقه توګه تهيه سوي دي د لغاتو ثبت ئې نسبتاً اوريجينل دئ او دا متن د پښتو ادب د باوري متونو په کتار کي راتلای سي.

## ۱۴- د حنان بارکزي دېوان:

د ميرزاحنان بارکزي دېوان واردواره د کابل پښتو ټولني د کابل مجلې د څانګې له خواپه ۱۳۳۶ش کال د زر ټوکو په تېراژ د کابل په دولتي مطبعه کي چاپ سوی دئ. ټول دېوان (۲۴۴) مخه دئ او په پای کي(؟) مخه سمون لري چي چاپي تېروتني ئې پکښې ښوولي دي. د کتاب په سر کي ئې د حنان بارکزي تصوير هم وراچولی دئ. په سر کي د هغه وخت د پښتو ټولني رئيس استاد ګل پاچا الفت يو مخ او د کابل مجلې د هغه وخت مدير محمددين ژواک درې مخه ليکنه کړې ده او په هغو کي هم د حنان د شعر پر اهميت او يو څه هم د ده پر ژوندليک رڼغېدلي دي. نه ئې د دېوان د ترتيب پرڅرنګوالي، نه ئې د اصل نسخې د معرفۍ له پاره او نه ئې هم په دېوان کي د راغلو مشکلو لغاتو د حل له پاره وخت موندلی دئ. يوازي ئې دومره قدر ويلي دي چي: "د دې کتاب د ځينو برخو په کتنه کښې ښاغلی ساپی د ادبياتو مدير او په پاکنويس کښې ښاغلی عبدالصمد خان مرسته کړې ده چه اداره تشکر ځنی کوی. (اداره)".

دا دېوان د متن څېړني پر اصولو کوږ نه برابرېږي او تر دې خبري په ها خوا چي ادبي نړۍ ته د اول وار له پاره د پښتو د دغه نازکخيال شاعر کلام په چاپي توګه وړاندي کړی دئ، نوره ښېګڼه نه لري.

د دغه دېوان انتقادي متن ما (هوتک) تهيه کړی او خپور کړی دئ چي پر خپل ځای به خبري پر وسي. خو په دې ځای کي به د هماغه انتقادي متن د اول چاپ د سريزي له (ن) مخ څخه هغه مطالب کټ مټ رانقل کړم چي ما له نن څخه شل کاله پخوا د پښتو ټولني له خوا د حنان بارکزي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چاپي دېوان په باب کښلي ول:**

"دا ديوان دپښتو ټولني له خوا په ۱۳۳۶ش کال د کابل په دولتي مطبعه کي چاپ سوئ دئ. ارواښاد استاد ګل پاچا الفت، چي په هغه وخت کي د پښتوټولني رئيس وو، يو مخ سريزه او ښاغلي محمددين ژواک[1] چي په هغه وخت کي د کابل مجلې مدير وو، درې مخه مقدمه پر کښلې ده. په دې دواړو ليکنو کي هغه نسخه چي د دېوان د ترتيبولو په وخت کي ترې استفاده سوې، نه ده ښوول سوې. مرتب ئې هم په وضاحت سره نه دئ معرفي سوئ. ډېري طباعتي غلطۍ لري او له څلورمخه (سمون) سره سره بيا هم زياتي غلطۍ ورڅخه پاته دي چي سمي سوي نه دي. حتی په هغه غزله کي چي حنان د کاتبانو له بې پروايي څخه شکايت کوي، هم غلطۍ سته (وګورئ: د چاپي دېوان ۹۰ مخ). د رديف ګډوډئ هم پکښې سته. د (واو) د رديف يوه غزله د (ی) په رديف کي راغلې او د (ی) د رديف يوه غزله د رباعياتو په پای کي مکرر راوړل سوې ده. په چاپي متن کي داسي نخښي نښانې سته چي مرتب بايد څوک د ختيځي لهجې ويونکی پښتون وګڼي. د شاعر له لهجې سره پوره بلد نه دئ. دې کار په شعر کي لږ څه بې نظمۍ راوستلي دي.

ټول دېوان ۲۴۴مخه دئ چي ۳۴۹ غزلي، ۲۵ رباعۍ، ترجيع بند، مخمس اوفالنامه پکښې ده ... زما په خيال د ديوان د چاپولو په کار کي لازم دقت نه دئ سوئ خو دا چي د ادب مينه والو ته ئې د پښتو ژبي د يوه ډېر نکته سنج شاعر دېوان وړاندي کړئ دئ، د ستايني وړ اقدام دئ. لومړي چاپونه هرومرو نيمګړ تياوي لري".

---

[1] ژواک صاحب د دغي ليکني پر وخت ژوندی وو. نوموړی د ۱۹۹۷ع کال په اګسټ کي په المان کي مړ سو او هورې ښخ دئ. (هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم څپرکی

(افغانستان – تر ۱۳۵۲ش کال وروسته چاپي متون)

## ۱۵ - د دولت لواڼي دېوان:

دولت لواڼی د روښاني خوځښت پیاوړی مبلغ او دېوان لرونکی شاعر دئ. د ده دېوان واردواره د کابل د پښتو ټولني د ادب او فولکلور د لوی مدیریت له خوا د عزیزالله او محمدعارف غروال په اهتمام په ۱۳۵۳ش = ۱۹۷۴ع کال د یو زر ټوکو په تېراژ چاپ سوی دئ. د کتاب قطع لویه ده. د دېوان په سر کي د پښتو ټولني د هغه وخت د رئیس ارواښاد محمدصدیق روهي په قلم یو مخ سریزه لري او په هغې کي ویل سوي چي دا دېوان ئې د بایزید روښان د وفات د څلور سوم تلین د بین المللي سیمینار په مناسبت له نورو کتابو سره یو ځای چاپ کړی دئ. تر دغي سریزي وروسته د پښتو ټولني د ادب او فولکلور څانګي لوی مدیر څېړنمل دوکتور سیدال شاه پولاد په درو مخونو کي پر روښاني خوځښت، د دولت لواڼي پر شاعرۍ او د دغه دېوان د ترتیب په باب لنډي خبري کړي دي. تر دغو لیکنو وروسته د ارواښاد پوهاند عبدالشکور رشادپه قلم یوه درنه تحقیقي لیکنه (۳۴مخه) راغلې ده او علامه رشاد مرحوم د دولت لواڼي پر ژوند، عقایدو، د هغه پر دېوان او د هغه د شاعرۍ پر عروضي اړخ باندي ژوري علمي او ابتکاري خبري کړي دي چي د چاپي دېوان ارزښت ئې ډېر ورلوړ کړی دئ. تر دغي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالمانه ليکني وروسته د ديوان مهتمم محمدعارف غروال په يوه مخ کي د دېوان د ترتيبولو پر چارو باندي په لنډ ډول رڼا اچول شوې ده (؟) دېوان د تر تيبولو پر چارو باندي په لنډ ډول رېغېدلی دئ.

تر دغو ليکنو وروسته د دېوان متن شروع سوی دئ چي ۲۶۱مخه ئې نيولي دي. تر متن وروسته "مننه او کورودانې" (يو مخ)، بيا "د چاپي تېروتنو سمون ليک" (اووه مخه) او ورپسې "لغات نامه" (۱۰مخه) راغلې ده. په لغات نامه کي لغتونه د الفبې پر ترتيب باندي اوډل سوي او معناسوي دي. په لغاتنامه کي يو شمېر لغتونه بې معنا پاته سوي دي. د دېوان په سر کي د بايزيد روښان خيالی تصوير هم چاپ سوی دئ.

دا دېوان له دوو خطي نسخو څخه برابر سوی دئ چي وايي يوه ئې "ډېر کلونه د پښتو ټولني په کتابخانه کي خوندي وه، بيا ئې د مطبوعاتو په کتابخانه او وروسته ئې د عامه کتابخانې په قلمي څانگه پوري اړه درلوده". (د پوهاند رشاد د ليکني ديارلسم مخ). دا نسخه د ليکلو نېټه او د ليکونکي نوم نه لري خو د اشعارو په نسبت تر دوهمي نسخې ډېره بشپړه ده[1]. دوهمه قلمي نسخه په غزني کي د البيروني په کتابخانه کي ساتل سوې وه. دغه نسخه د ميا محمدي جيو " قدس سره" په پرمايښت د پېښوری گل محمد په کتابت په ۱۱۷۴هـ ق کال ليکلې ده (وگ: د سريزي "د" مخ). په چاپي متن کي د اطلاعات و کلتور قلمي نسخه د اصل په تو گه ټاکل سوې ده او له دې نسخې څخه د رانقلولو کار ئې محمداسمعيل سړبن سر ته رسولی دئ. دغه نقل د غزني د البيروني کتابخانې له خطي نسخې سره محمدعارف غروال او عزيزالله مقابله کړی دئ اواختلافي ځايونه ئې

---

[1] د دې نسخې يادونه علامه عبدالحي حبيبي د پښتانه شعراء په لومړي ټوک کي کړې ده. نسخه اوس د افغانستان په ملي آرشيف کي خوندي ده.(وگ: فهرست نسخ خطی پشتو آرشيف ملی افغانستان – ۵۲مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حاشيو کي راوړي دي[1].

د دولت لواڼي د دېوان د خطي نسخو په اړه زه مجبور يم چي د خپلي اوسنۍ څېړني د استقامت پر خلاف يو څو خبري وکړم او هغه دا چي د دغه چاپي متن په درو سرو مقدماتي ليکنو کي د دولت لواڼي د دېوان پر دغو دوو خطي نسخو برسېره په خارج کي د درو نورو قلمي نسخو يادونه سوې ده چي وايي يوه ئې په بريټيش موزيم کي او دوې نوري ئې د هند د رامپور په رضا لايبريري کي خوندي دي. د بريټيش موزيم د نسخې يادونه په دوو ليکنو کي بې حوالې خو په يوه ليکنه کي د پښتانه شعراء لومړي ټوک ۹۱مخ په حواله سوې ده. په موزيم کي ئې د دغي نسخې د قيد نمبر (۴۲۲۸) او د نسخې د استنساخ کال ئې (۱۱۰۱هـ ق) ښوولی دئ. زما د مطالعې له مخي د پښتانه شعراء لومړي مؤلف دغه خبره د "د هند د زړو آثارو د مجلې، ج ۱۱، ص ۵۶۷" په حواله کښلې ده. ما (هوتک) ته پخوا لا دومره قدر معلومه وه چي په بريټيش موزيم کي د دولت لواڼي د دېوان نسخه نسته. کله چي په چاپي دېوان کي مي دغه درې ليکني ولوستلې نو مي هڅه وکړه چي دا خبره لږ څه سپينه کړم. تر څېړني وروسته راته څرګنده سوه چي په بريټيش موزيم کي د روښاني خوځښت د يوه بل پښتانه شاعر ملا ارزاني دېوان په همدغه ياد سوي نمبر (۴۲۲۸) قيد وو. د

---

[1] د صديق دېوان (چاپ ۱۳۵۸ش) د سريزي په (ج) مخ کي راغلي دي چي د هند د جمهور رئيس مرستيال فقيد ډاکټر ذاکرحسين افغانستان ته د راتګ په وخت کي (۱۳۴۵ش کال) د هند د کتابخانو د ځينو خطي نسخو ميکروفيلمونه راوړي ول چي په هغو کي د دولت دېوان هم شامل وو. د دولت دغه حاضر دېوان د ذاکرحسين تر سفر اته کاله وروسته چاپ سوی دئ. زه نه پوهېږم چي په دې ديوان کي د دغه مايکروفيلم خبره ولي ياده سوې نه ده او ولي د متن په تهيه کولو کي استفاده نه ده ځني سوې؟ (م. هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا ارزاني د دېوان دغه نسخه په (۱۱۰۱هـ ق) کال استنساخ سوې ده[۱]. له دغي نسخې څخه ارواښاد بېنوا يو نقل (کاپي) تر لاسه کړی وو او ښاغلي زلمي هيوادمل له دغي کاپۍ څخه د دېوان متن ترتيب کړی دئ. د هيوادمل صاحب له دغه نقل څخه ډاکټر پرويز مهجور خويشکي د ارزاني خويشکي په کليات کي استفاده کړې ده[۲].

د بلومهارټ (James Fuller Blumhardt) د فهرست پښتو انگرېزي متن همدا اوس (۲۰ جولای ۲۰۱۱ع) زما سره نسته خو له لندنه مي راغوښتی دئ. نوی فهرست د ډاکټر ميکنزي (D.N.MacKenzie) له خوا د (Catalogue of Pashto manuscripts in the libraries of the British Isles) په نامه په ۱۹۶۵ع کال کي له ځينو اضافاتو سره بيا خپور سوی دئ. په دغه چاپ کي د ارزاني شاعر د دغه خطي دېوان د قيد نمبر (B.M.Or.۴۴۹۶) او د فهرست په ۵۹مخ کي پنځه شپېتم کتاب دئ. زما په خيال دغه تېروتنه واردواره د هند د زړو آثارو په مجله کي پېښه سوې ده او بيا ئې نورو افغاني ليکنو ته هم لار موندلې ده.

بيرته راگرځم اصلي موضوع ته. د دولت دېوان دغه چاپي متن د متن څېړني پر اصولو برابر تهيه سوی دئ خو زما په خيال د متني ناقد له نظره د "خو" ځايونه پکښې سته.

په حاشيو کي د البيروني کتابخانې د نسخې ثبتونه په تفصيل سره راغلي دي. ما چي ځغلند نظر پر وکړ، راته معلومه سوه چي په زياترو ځايو کي د البيرونې کتابخانې د نسخې ثبت د متن تر ثبت غوره دئ او بايد د

---

[۱] (وگ: وينې، رازمحمد، پښتو کتابونه، د بلومهارټ د فهرست پښتو ترجمه، ۱۱۷مخ چاپ ۱۳۳۷ش).

[۲] (وگ: د ارزاني خويشکي کليات –د سريزو ۱۹مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاشيې ثبت متن ته ورلوړ سوی وای. زه ټولي حاشيې دلته نه سم راوړلای او يوازي په دې څو مثاله اکتفا کوم.

– د اول مخ اوله حاشيه "(صفت) بکښم" د متن تر ثبت "صفت به کوم" د روښاني عصر پښتو ته نزدې دئ او بايد متن ته داخل سوی وای. د همدې مخ دوهمه حاشيه "پښو" د متن تر ثبت "پښې" ګرامري سموالی لري، بايدمتن ته لوړ سوی وای.

دغه راز پنځمه حاشيه "شمس قمر ئې باندی بل کړه مشعلونه" د متن تر ثبت صحيح ده. په متن کي"شمس قمر باندې ..." ثبت دئ چي هم ئې يوه څپه کمه ده او هم د (ئې) ضمير ځني لوېدلی دئ.

– د دوهم مخ په اوله حاشيه کي "... لافي مه کانړو" شکل د متن تر "... لافي مه کړئ" لرغونی دئ، بايد په متن کي شامل سوی وای.

– د څلرم مخ په شپږمه حاشيه کي راغلی"پنډ" د متن تر "بند" غوره دئ. "پر مرداره باندې پنډ لکه ورغونه" ما ته سم ايسي. پنډېدل د (غونډېدل) په معنا دئ. "پر مرداره باندې بند..." راته ناسم ښکاري.

– د پنځم مخ دريمه حاشيه "د نيکانو نصيحت به چيري نغوږی" بايد متن ته پورته سوی وای ځکه د متن ثبت له دوهم نيم بيتي سره ډېر سر نه خوري.

دغه راز موارد بيخي زيات دي او زما په نظر که د البيروني کتابخانې نسخه د کلام له کمښت سره سره د اصل په توګه ټاکل سوې وای او کمبوتې ئې د اطلاعات و کلتور له نسخې څخه پوره سوي وای، ښه به وو. د البيروني د کتابخانې نسخه تر دا بلي نسخې څو غوره ځانګړ تياوي لري:

اول دا چي نسخه د کتابت نېټه او د کاتب نوم لري. خطاط ئې ګل محمد پېښوری معلوم شخص دئ. د ده په لاس د نورو کتابو کښل سوي نسخې ډېري سته. لاس کښني ئې د نورو کاتبانو په پرتله د ډاډ وړ دي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي حال کي چي د اطلاعات و کلتور نسخه نه د کتابت نېټه لري او نه ئې د کاتب نوم څرګند دئ. خو د چاپي دېوان ترتيبوونکو ته لکه چي د البيروني کتابخانې د نسخې د کتلو موقع د اطلاعات و کلتور له نسخې څخه تر نقل اخيستلو وروسته برابره سوې ده. دا نو هغه وخت وو، چي د بايزيد سيمينار رانژدې کېدونکی وو او دوی د دوهم وار نقل و مقابلې له پاره لازم وخت نه درلود. د وخت د کموالي خبره محمدعارف غروال په خپلو خبرو کي کړې ده (پنځه دېرشم مخ).

د وخت د کموالي له اسيته دئ چي په متن کي پر غلطنامه سربېره نوري چاپي غلطۍ هم ناسمي پاته سوي دي. ځای ځای د حاشيو لمبرونه ځني پاته سوي دي (۵، ۸، ۱۰، ... مخونه)، توري سم نه دي لګېدلي او نوري وړې تېروتني.

د تورو ناسم لګېدلو او د متن ناسم رانقلولو يوه ډېره مهمه څېړنيزه تېروتنه پېښه کړې ده چي يادونه ئې د راتلونکو څېړنو له پاره ګټه رسوي. په ۲۱مخ کي دولت لوانۍ د يوه اوږده نظم په ترڅ کي د روښان پير د لمسي او د جلال الدين غازي د زوی رشيد خان الهداد انصاري د مړيني نېټه بيانوي او وايي:

په يـــوه آهې ارواح لـــه تنه بيل شـــو
په تاريخ د عين، نون، ح، ی، سفر ؤ

دوهم نيم بيتی د الهداد د مړيني تاريخي ماده ده چي که ئې د همدغه چاپي ثبت له مخي محاسبه کړو (ع = ۷۰ + ن = ۵۰ + ح = ۸ + ی = ۱۰)، مجموعه ئې (۱۳۸) کېږي. نو هرومرو بايد ووايو چي د (عين) پر ځای بايد (غين) وي او دا وروستی ثبت د مطبعې حروف چين له حيا څخه! (عين) کړی دئ. خو که د (ع) پر ځای (غ) وليکو، نو د تاريخي مادې ارزښت به (۱۰۶۸) راووزي. علامه رشاد د همدې چاپ د سريزي په نهم مخ کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهداد مړینه په (۱۰۵۸ھ ق) کي بللې ده چي د پورتني بیت تر نېټې لس کاله پخوا پېښه سوې ده. د دغه حقیقت له مخي باید د بیت دوهم نیم بیتی شاعر داسي ویلی وي:

"په تاریخ د غین، نون، ح ئې سفر ؤ"

د متن رانقلوونکي د (ئې) ضمیر د (ی) په شکل ثبت کړی دئ چي لوستونکی پر هغه باندي په تاریخي ماده کي د شامل توري ګومان کوي. په خطي نسخو کي دغه ضمیر د (یِ، یه) په شکل نور مثالونه هم لري.

زه لکه چي د دولت لواڼي پر دېوان باندي د بحث په ترڅ د خپل کتاب له موضوع څخه دوه واره ووتلم او د متن څېړني بحث راڅخه پاته سو. خیر، امید دئ چي دا یادوني هم بې ګټې نه وي.

له پورته بیان څخه داسي نتیجه راایستلای سو، چي د دولت لواڼي د دیوان دغه چاپي متن له ځینو کمزوریو سره سره بیا هم د انتقادي متن نوم ګټلای سي.

## ۱۶- د میرزاخان انصاري دېوان:

دغه دېوان د څېړنمل دوست په "سریزه، سمون او لمنې" د پښتو ټولني له خوا د پښتو د نړیوال مرکز د بین المللي سیمینار په مناسبت په ۱۳۵۴ ش = ۱۹۷۶ع کال د کابل په دولتي مطبعه کي د یو زر ټوکو په تېراژ چاپ سوی دئ. د اهتمام چاري ئې ښاغلي حبیب الله رفیع سر ته رسولي دي او د وقایې (پشتۍ) او نورو پاڼو خطاطي او نقاشي ئې د "نصیراحمد، پ" په ګوتو سر ته رسېدلې ده. له "نصیراحمد، پ" څخه مراد (نصیر هنر پښتون) دئ.

د متن په سر کي "د میرزا خان پیژندګلوی او د دیوان نسخې" تر سرلیک لاندي د میرزاخان انصاري پر ژوند باندي د څېړنمل دوست په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قلم درې مخه محققانه خبري ليکل سوي دي. ورپسې هغه چاپي او خطي نسخې ښوول سوي دي چې د دغه متن په ترتيبولو کي استفاده ځني سوې ده. په هغو کي د پښتو ټولني قلمي نسخه د "ملا شاه محمد ولد مرحوم و مغفور ملا دادمحمد ولد ملا شاه مراد قوم خوګاڼی ساکن ارغسان" په کتابت ليکل سوې او د ليکني نېټه ئې "دوشنبه شهر ربيع الثانی سنه ۱۳۲۷هجری" ده چي په دې حساب د شاعر تر مرګ (۱۰۴۰هـ ق) دوه سوه اووه اتيا کاله وروسته ليکل سوې ده. دغه نسخه چي د متن په ترتيب کي د اصل په توګه ټاکل سوې ده، د ښاغلي څېړنمل حبيب الله په لاس رانقل سوې ده. نقل سوی متن د ميرزا خان انصاري له هغه چاپي نسخې سره مقابله سوی دئ، چي د کندهار ښار د کتابو د تاجرانو ملا جان محمد او ملابسم الله له خواپه ۱۳۳۴هـ ق کال د لاهور په اسلاميه مطبع کي چاپ سوې ده. دغه چاپ د ميرزاخان انصاري د ديوان لومړی چاپ دئ. دغه راز ئې متن د ښاغلي همېش خليل له خوا د ميرزاخان انصاري له چاپ سوي ديوان او د الماني الاصل ختيځپوه دورن په خريستوماتي کي د ميرزاخان له کلام سره مقابله سوی هم دئ. متن له نورو خطي نسخو سره هم مقابله سوی دئ چي يوه ئې د پښتو ټولني بله نيمګړې نسخه، بله ئې د رفيع صاحب د کتابتون نيمګړې نسخه، دريمه ئې د کابل د عامه کتابخانې بشپړه نسخه او د دغي کتابخانې بله نيمګړې نسخه ده.

د متن په لمنو کي د دغو ټولو چاپي او خطي نسخو اختلافي ثبتونه راوړل سوي دي. د ديوان ترتيب او شکل د مروج ليکدود کارولو له اسيته اوښتی دئ. اول الفنامه (۱۸مخه)، بيا قصيدې (۳۳مخه)، ورپسې غزلې(۱۹۹مخه)، وروسته متفرق اشعار (۶مخه) او په آخر کي ئې لغتنامه (۴مخه =اته ستونه) راغلې ده. ټول کتاب د سريزی په ګډون ۲۶۸مخه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د متن په ترتیب کي ځای ځای د اصل ثبت حاشیې ته وړل سوی دئ (۴مخ).

د متن په لیکدود کي د یاګانو بشپړ مراعاتول نه دي پالل سوي او (چي، چيي) د (چه) په شکل کاږي. د ظرفیت (کښی) ئې زیاتره په همدې شکل لیکلی دئ خو ځای ځای (کی) هم په سترګه کېږي (۴۷مخ).

د میرزاخان انصاري په دغه چاپي دېوان کي دانتقادي متن څېړني پرنسیبونه پالل سوي دي او په افغانستان کي د زیاترو چاپي متونو په پرتله د ډاډ وړ متن دئ او مثبت ارزیابي کېدلای سي. دلیل به ئې دا وي چي د سمون چاري ئې د یوه داسي ژبپوه له خوا سر ته رسېدلي دي چي هم ئې د پښتو پر لهجو باندي ښه پوره علمي حیطه درلوده، هم ئې د عربي په شمول نوري خارجي ژبي زده وې او هم ئې د اسلامي شریعت او طریقت په باب مطالعه کړې وه. تر دې چي را تېر سو د اهتمام چاري ئې هم د متونو په کار کي د یوه برلاسي او تجربه کار محقق له خوا بشپړي سوي دي.

## ۱۷ - معرفة الافغاني:

معرفة الافغاني د پیرمحمد کاکړ په قلم لیکل سوی اثر چي د لوی احمدشاه بابا د زوی شهزاده سلیمان په نامه ئې اهداء کړی دئ. کتاب د پښتو ژبي د تدریس په نیامت کښل سوی دئ. د دغه کتاب خطي نسخې د انځرګل په شان نادري او پر نسته حساب دي.یوازنۍ چاپي نسخه ئې د کندهار ښار د کتابو د تاجرانو ملا جان محمد او ملابسم الله له خوا د لاهور په "اسلامیه ستیم پریس" کي چاپ سوې ده. د چاپ کال ئې ۱۳۴۱هـ ق = ۱۹۲۲ع دئ.له دغه چاپ څخه یو متن د ښاغلي حبیب الله رفیع په سریزه او سمون برابر سوی په دوو وروستیو پېړیو کي د پښتو د چاپ شوو آثارو د سیمینار په ویاړ خپور سوی دئ. د چاپ کال ئې ۱۳۵۶ش = ۱۹۷۱ع دئ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چاپ ځای ئې د کابل دولتي مطبعه ده. دغه چاپ د ننګرهار مجلې د ۱۳۵۶ش کال د پنځمي ګڼې پر ځای خپور سوی دئ.

د دغه چاپ په سر کي فهرست (۱مخ) او ورپسې د وخت د اطلاعاتو او کلتور د وزیر پوهاند دکتور نوین (یادونه) بیا د ارواښاد علامه عبدالحي حبیبي په قلم یو یاداښت (۱مخ) او په تعقیب ئې د ننګرهار مجلې د مسئول چلوونکي میرزامحمد ذهنیار خبري راغلي دي. تر دغو خبرو وروسته د ښاغلي حبیب الله رفیع په قلم اوږده سریزه (۳۸مخه) پیل سوې ده چي په هغې کي پر معرفة الافغاني، پیرمحمد کاکړ او شهزاده سلیمان باندي تحقیقي بحث کړی دئ.

د کتاب متن له ۳۹مخ څخه شرو سوی دئ. دا کتاب لس بابه دئ چي لسم باب ئې بیا شپږ فصله لري. ټول کتاب د سریزو او نورو مطالبو په ګډون دواتیا مخه کېږي چي په دې کي د پیرمحمد کاکړ تصویر او د لومړۍ چاپي نسخې د وقایې او لومړي مخ عکاسی هم شاملي دي.

دا متن له یوې واحدي چاپی نسخې څخه برابر سوی دئ چي د مرتب په قول د کتاب چاپي متن "له اصلی نسخی څخه په ډېره بی پروایی رانقل شوی دی" او د متن همدې غلطیو مصحح "... په خپل کار کی له ډیرو ستونزو او کړاوونو سره مخ " کړی دئ (د سریزي ۳۵مخ). خو د دغو بې پروایيو مثالونه ټول په حواشیو کي نه دي راغلي. د متپوهني اصول حکم کوي چي د اصلاح سویو برخو ټول اصلي ناسم شکلونه باید په لمنلیکونو کي درج سي چي د هغو له مخي بیا یو بل کره کتونکی د مصحح د کار ارزونه وکولای سي.

د متن مصحح لیکلي دي چي: "د کتاب د لیکدود په برخه کی ډیری نیمګړ تیاوی شته ... شو، شی او دې ته ورته ویی چی د کندهاری ګړدود له مخی په س کښل کیږي دلته کله په ش او کله په س دی چی ما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیر محمد د ګړدود له کبله په س وکښل، ...." ( ۳۷ مخ). د مصحح دا کار د متنپوهني عمده اصل دئ خو ځای ځای ئې په متن کي نه دئ پاللی او ځني پاته سوی دئ. د مثال په توګه په (۴۱مخ) کي دریم بیت داسي دئ:

"چیری نه چی غلط دوی شی
پیچ وتاب لکه د موی شی"

چي دلته باید دواړه شینونه په سینونو سره اوښتي وای.

د (۴۲مخ) د شپږم بیت په دوهم نیم بیتي کي "شیال یی نشته څوک په حلم" باید " سیال ئې نسته ...." ثبت سوی وای.

زموږ زیاتره مصححین او لیکوال د لهجو توپیرونه یوازي په (س) او (ش) کي ګڼي، چي سهي نه ده. په دې لاندي مثالو کي هم د پیرمحمد کاکړ خپله لهجه نه ده مراعات سوې:

د (۴۱مخ) د پنځم بیت دوهم نیم بیتی داسي دئ:

"چی هر څوک درود پری وایی"

د پیر محمد کاکړ په لهجه کي د "پری وایی"پر ځای "پر وایي" ویل کیږي او باید همداسي ثبت سوی وای.

د همدې مخ د دوولسم بیت اول نیم بیتی داسي دئ:

" څلورم یاریی علی ؤ"

د پیر محمد کاکړ له لهجې سره سم باید د " څلورم" پر ځای (څلرم) لیکل سوی وای. په اصل کي هم (څلرم) ثبت دئ خو مصحح دغه ثبت حاشیې ته کښته کړی دئ چي باید متن ته ئې لوړ کړی وای.

په (۵۵مخ) او (۶۹مخ) کي ئې (ږلی) ویی راوړی دئ چي د پیرمحمد کاکړ په لهجه کي (ژلی) ویل کیږي.

په (۵۸مخ) کي ئې (چښل) د پیرمحمد د لهجې پر خلاف (څښل) ضبط کړی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (۵۹مخ) او (۷۷مخ) کي ئې "پګړی" د پیرمحمد کاکړ د لهجې وینګ نه دئ. د ده په لهجه کي (بګړۍ) ویل کېږي. دغه راز په همدې ۷۷مخ کي "پګړی په سر کړه" هم د پیرمحمد کاکړ خپل وینګ نه دئ، بلکي د ده خپل تلفظ "بګړۍ پر سر کړه" سم دئ. د دغه مخ ټول (په) د استعلاء وظیفه سر ته نه سي رسولای او پر ځای ئې باید په ټولو جملو کي (پر) راغلی وای.

په (۶۲مخ) کي "غوایه" ویی د پیرمحمد کاکړ په لهجه کي (غویی) دئ او باید همداسي ثبت سوی وای. په (۷۱مخ) کي ئې بیا سم ثبت کړی او (غویی) ئې کښلی دئ.

په (۶۳، ۷۸ مخونو) کي د "کټوی" لغت د پیرمحمد کاکړ په لهجه کي (کټو) ویل کېږي چي جمع ئې (کټوي) راځي. څرنګه چي په ټول متن کي د یاګانو مراعاتول د تخنیکي ستونزو له اسیته پالل سوي نه دي او مصحح ئې عذر د کتاب په پای کي د (استدراک)په برخه کي غوښتی دئ، نو د (۶۳مخ) "کټوي" که د جمع په حالت کي وي خو سمه خبره ده، کنه نو په مفرد شکل کي د پیرمحمد کاکړ د لهجې استازیتوب نه کوي. په (۷۸مخ) کي ټول لغتونه په مفرد شکل کي راوړل سوي دي او دلته نو "کټوی" راوړل سم ثبت نه دئ او باید (کټو) لیکل سوې وای.

له دغو یادونو سره سره د مصحح هڅه او تلاښ د زیات تقدیر وړ ده او د پښتو یو تاریخي کتاب ئې د علاقمندانو په واک کي ورکړی دئ خو لکه وړاندي چي مي هم اشاره ورته وکړه، د دې کتاب متن د یاګانو په همدغه نیمګړي حالت کي هغه تدریسي وظیفه سر ته سمه نه سي رسولای چي پیرمحمدکاکړ ئې د لیکلو پر وخت په پام کي نیولې وه. دغه راز د متن خورا ډېر "معنا طلب" لغتونه بې تشریح پاته سوي دي، ځکه نو زه د دغه متن له سره بیا تهیه کول او خپرول یوه اکاډمیکه اړتیا بولم. که په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅ کي د دغه ارزښتناک اثر کومه خطي نسخه وموندله سي، خو د زوی زېری به وي.

## ۱۸ - د علم رساله:

د علم رساله د بایزید روښان نوی موندل سوی منظوم اثر دئ چي د سرمحقق دوست شینواري په "سمون او سریزه د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز، پښتو ټولني له خوا په ۱۳۶۴ش = ۱۹۷۵ع کال د اشرف خان هجري د درېم تلین د سیمینار په مناسبت د کابل په دولتي مطبعه کي د افسیټ په ډول چاپ سوی دئ. د رسالې په سر کي د اشرف خان هجري د سیمینار د علمي سکرټریت یادونه (۶مخه) راغلې ده. دا یادونه د "احقرالعباد ز، هـ" په قلم ده. له ز، هـ څخه مراد ښاغلی زلمی هیوادمل دئ. بیا د رسالې فهرست (۲مخه)، ورپسې "دغې رسالې په باب څو خبرې" د سرمحقق دوست شینواري په قلم (۷مخه)، او تر هغه وروسته بیا هم د سرمحقق دوست شینواري په قلم "بایزید روښان د هنر او شعر په ډګر کی" لیکنه (۶مخه) او په تعقیب ئې د رسالې متن (۸۰ مخه) راغلی دئ. د رسالې په پای کي "د رسالې ویی پانګه (لغتنامه)" سته چي ۳۳ مخه ده او لغتونه ئې په تشریحي توګه معنا کړي دي.

عین رساله تر دغه چاپ نهه کاله پخوا د "روښاني رساله" په نامه د همدغه مرتب له خوا خپره سوې ده.

زموږ تر بحث لاندي متن له درو نسخوڅخه تیار سوی دئ.

یوه ئې چاپي او دوې ئې خطي نسخې دي. چاپي نسخه چي د پای له خوا نیمګړې ده، په ۱۳۵۵ش = ۱۹۷۶ع کال د پښتو ټولني له خوا د "روښاني رساله " په نامه د ارواښاد دوست شینواري په زیار په آفسیټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول چاپ سوې ده[1]. دغه چاپي نسخه چي وايي "د املا او انشاء په برخه کي تر نورو موندل شوو نسخو خورا زیاته سمه ده"، د متن له پاره د اصل په توگه ټاکل سوې ده.

بله ئې د ښاغلي هيوادمل د کتابتون خطي نسخه ده. دا نسخه بیا د سر له خوا اووه بیته کنډو ده، د کاتب نوم او د کتابت نېټه ئې څرگنده نه ده.

دریمه ئې د ډیلي نسخه ده چي ښاغلي هيوادمل هند ته د سفر په ترڅ کي (۱۳۶۲ش = ۱۹۸۳ع کال) د هندپه موزیم کي موندلې وه او وايي چي د لیکلو کال ئې د اورنگزېب د کړوسي فرخ سير پاچا د پاچهۍ دريم کال (۱۷۱۵ع) دئ. (وگ: د سريزي "ن" مخ). دا نسخه د سر او پای له خوا بشپړه ده.

دا رساله د متنپوهني له اصولو سره سمه ترتيب سوې ده، نسخه بديلونه ئې منظم او په هر اړوند مخ کي راغلي دي. لکه وړاندي چي مو وويل، نسخه په آفسيټ توگه چاپ سوې ده خو د خطاط نوم ئې نسته. په متن کي ياگاني له مروج ليکدود سره سمي په منظم ډول مراعات سوي نه دي چي همدائې د گوتي نیولو یوازنۍ ټکی دئ.

## ۱۹ - درحمان بابادېوان (رفیع):

پر دغه چاپ باندي خبري په دمخنيو پاڼو (٦ شمېره کتاب) کي سوي دي.

## ۲۰ - د قلندر دېوان:

د قلندر دېوان د جمهوري ارگ د کتابخانې له قلمي نسخې څخه "د

---

[1] روښاني رساله به په خپل ځای کي تشريح سي. هوتک.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زلمي هيوادمل په سريزه او سمون" د کابل پښتو ټولني په ۱۳۵۶ش = ۱۹۷۷ع کال په جيبي قطع چاپ کړی دئ[1].د اهتمام چاري ئې عبدالکريم پتنګ سر ته رسولي دي. د دېوان په سر کي د پښتوټولني د رئيس ښيرنوال محمدصديق روهي په قلم دوه مخه سريزه ده، ورپسې د "قلندر ا و د هغه ديوان" تر سرليک لاندي شپږ پنځوس مخه ليکنه راغلې چي ښاغلی زلمي هيوادمل کښلې ده، بيا غزلي (۱۵۴مخه)، څلوريزي (۲۲مخه) او په پای کي ټوټې (اووه مخه) راغلي دي. ښاغلي زلمي هيوادمل د خپلو خبرو په پای کي کښلي دي چي: "دغه چاپي متن چي تاسي يې ګورئ! له هماغې يوې خطي نسخې څخه نقل شوی، د ملاښايسته له خطي جونګ، د استاد رشاد د مجموعې له خطي شعرونو، کليد افغانی، بهارستان او بهار ګلشن په مجموعو کی د قلندر له راغلو شعرونو سره مقابله شوی دی..."(۵۶مخ).

د متن د برابرولو په وخت کي د ښاغلي مرتب تکيه زياتره پر هماغه يوه خطي نسخه او د ملا ښايسته خان پر خطي جونګ باندي ده څکه په نورو منابعو (د استاد رشاد مجموعه، کليدافغاني، بهارستان او بهار ګلشن) کي د قلندر يوه يا دوې غزلي خوندي دي. د دېوان ترتيبوونکي که په دغو منابعو کي د قلندر د کلام کوم توپير موندلی دئ، هغه ئې د متن په حاشيو کي ښوولی دئ. دغه راز ئې د ځينو کلماتو د ثبت په برخه له خپل نظر څخه ځيني ښائېدني هم راوړي دي (۱۷مخ، ۲۲مخ، ۱۰۸مخ...).

زما د ارزيابۍ له مخي دا متن له لږو منابعو څخه تهيه سوی دئ او ښه تهيه سوی دئ. خو که دا څو خبري په پام کي نيول سوي وای، تر ښو به لا

---

[1] نوموړې قلمي نسخه اوس د افغانستان په ملي ارشيف کي ساتل کېږي او د "فهرست نسخ خطی پشتو آرشيف ملی افغانستان، چاپ ۱۳۶۵ش" په ۶۷مخ کي اته نوي يمه نومره نسخه ده. هوتک.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه وای:

– متن لغتنامه نه لري. د عادي لوستونکي له پاره د مشکلو لغاتو سته والي د متن پوهېدل سخت کړي دي. لکه:

اشتکا (۳مخ)، توباتوب (۱۰مخ)، جرومات (۱۳مخ) ، راح (۱۸مخ)، سخی (۳۰مخ)، سگار (۴۰مخ)، مفرغ (۴۴مخ)، وسرویی (۵۰مخ)، خچی (۵۴مخ)، چوک (۶۳مخ)، ...

دغه راز د ځینو حاشیو قوت دومره دئ چي متن ته لوړي سوي وای. د مثال په توگه:

د شلم مخ او له حاشیه "ځکه نیسم زه و تلو ته د رهبر مخ" د غزلي پر موسیقیت باندي د متن تر "وتلو ته ځکه نیسم د رهبر مخ" ډېره برابره ده او باید متن ته لوړه سوې وای.

د درودېرشم مخ اوله حاشیه "... په شرابو مستغرق یم" د متن تر "... مستغرق یم د شراب" د غزلي له ټون (tune) سره سمه وایي او متن ته ئې لوړېدل په کار وو.

د اته څلوېښتم مخ اوله حاشیه که متن ته تللې وای، ښه به وو. د متن اړوند بیت داسي دئ:

"(چي) ئې غم د یار اغزی شی په مسند کی
ترو بـــه څـــرنگه آرام که په بســـتر څوک"

په کلید افغاني کي دغه بیت داسي دئ:

"(چي) ئې غم د یار اغزی شي په بستر کي
ترو بــــه څرنگه آرام که په بستر څـوک"

د دېوان تر تیبوونکي ته د (بستر) کلمې تکرار خوند نه دئ ورکړی او پر ځای ئې (مسند) غوره بللی دئ. د (اغزي) او (بستر) تلازم ته ئې نه دي کتلي. زما په خیال دغه تلازم د هغه بل تکرار په بیه ارزي چي څوک ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره وګڼي.

د دروا ټیایم مخ اوله حاشیه باید متن ته وړل سوې وای. په متن کي د دغي حاشیې اړوند بیت داسي لولو:

"څنګه لمبه مي په زړه کي بله ده
راته ولاړه د لیـــندیـــو ډلـــه ده"

د ملاښایسته خان په جونګ کي دوهم نیم بیتی "راته ولاړه د انجنو ډله ده" ثبت دئ. په دغه ثبت کي خورا مهم ژبني حقایق پټ دي چي یا به د جونګ د کاتب د لهجې استازیتوب کوي او یا به نو د قلندر د خپلي لهجوي ځانګړتیا اغېزه پر پرته وي. شاعر ته د "نجونو ډله ولاړه ده او په لیدلو ئې د ده په زړه کي لمبه بله ده". د (لیندیو) کلمه د زړه له لمبې سره سم نه وايي. له دې لمبې سره د (نجونو) ویی سم لګېږي. خو د دیوان مرتب ته به احتمالاً دا خبره معلومه نه وه چي د (نجونو) لغت ساکنه ابتداء (انیشیل کلسټر) په ځینو لهجو کي د همزې په زیاتېدلو سره له منځه وړل کېږي، چي زما یقین دئ چي ورمعلومه وه، یا به نو د چا خبره د معیاریت اغېزه پر غالبه سوې وي. د پښتو په دغو لهجو کي(نجلۍ) د(اِنجلۍ) په شکل تلفظ کېږي او جمع ئې هم د (نجونو) پر ځای (انجنو) کېږي. دا راز وینګ او کښنګ خو د معیاري لیکدود پر اصولو نه برابرېږي، مګر ثبت ئې د راتلونکو ژبنیو څېړنو له پاره خورا ډېر اهمیت لري او د دې حقیقت ښکارندويي کوي چي د پښتو په ځینو لهجو کي د فارسي ژبي په شان د "ابتداء بساکن" ځانګړتیا د له منځه تلو میلان پیل سوی دئ. وايي چي د "ابتداء بساکن" ځانګړتیا په زړه پارسي کي وه، اوسنۍ پارسۍ هغه له لاسه ورکړې ده. د دغه میلان څرک د ژبپوه له پاره په زړه پوري فاکټ کېدای سي. دغه ځای دئ چي د متونو د امانتدارۍ په کار کي د متنپوه مسئولیت درنېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نسخې په املایي ځانګړتیاوو کې ئې د "ګ" ګرافیم نه دئ بیان کړی. په خطي نسخو کې د دغو ګرافیمو مشرح بیان د پښتو لیکدود د تاریخي سیر له څېړني سره مرسته کولای سي.

## ۲۱ - یاقوت السیر:

یاقوت السیر د محقق العلماء مولانا عبدالحق خروټي (۱۲۹۰هـ ق = ۱۸۷۳ع مړ) تالیف دئ چې لومړی ټوک ئې د ښاغلي زلمي هیوادمل له "سریزه، سمون، او لمني" سره د افغانستان د اسلامي علومو د څېړنو مرکز په ۱۳۶۷هـ ش ۱۹۸۸ع کال کې د دوو زرو ټوکو په شمېر چاپ کړی دئ. د اهتمام چاري ئې "شمس الحق فضلی او پاکفر" سر ته رسولي دي. کتاب (د "روه" د حقدار لیکوال، محقق او زړه سواند فرهنګی او صحافی مرحوم استاد مولانا عبدالقادر نامه ته) اهداء سوی دئ. په سر کې د اسلامي پوهنتون رئیس محمدصدیق سیلاني یو مخ سریزه "د سر خبرې" پر کښلي دي، ورپسې د پوهاند عبدالحی حبیبي یادابښت (په یوه مخ کې) راغلی دئ، بیا څلور مخه فهرست او تر هغه وروسته د زلمي هیوادمل په قلم څورلس مخه لیکنه ده چې عنوان ئې "محقق العلماء عبدالحق خروټی او د ده یاقوت السیر" دئ او په هغې کې ئې د کتاب پر متن، د کتاب د ناظم پر ژوند، د کتاب پر خطي نسخو او د موجود متن د ترتیب پر موضوع خبري کړي دي. د خبرو په ترڅ کې ئې ویلي دي چې دغه حاضر متن له دوو خطي نسخو څخه برابر سوی دئ چې یوه ئې د استاد جاوید د شخصي کتابتون نسخه ده او بله ئې د افغانستان د ملي آرشیف نسخه. دواړي نسخې ئې لنډي معرفي کړي دي خو د نسخو د لیکدو په باب ئې څه نه دي ویلي. د کتاب د لومړي ټوک په متن کې د استاد جاوید نسخه د اصل په توګه ټاکل سوې ده او دلیل ئې د هغې نسخې قدامت او زوړوالی ښوولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ. متن وروسته د ملي آرشيف له نسخې سره مقابله سوی دئ او اختلافونه ئې په لمنليکونو کي راوړي دي. د متن ځيني لغاتونه ئې په لمنليکونو کي معنا کړي دي او وايي چي په دواړو خطي نسخو کي ځيني لغاتونه او نومونه منثوري شرحي لري چي دا شرحي ئې هم په لمنليکونو کي درج کړي دي. د متنپوهني ماهران د دغه راز شرحو رانقلول ګټور کار بولي، په دې شرط چي شارِح ئې کوم معلوم پوه وي او شرحي ئې د مرتب په نظر د اعتماد وړ وي.

مرتب وايي چي د متن په تصحيح کي ئې روش انتقادي دئ. ضعيف بيتونه له متن څخه لمني ته نقل سوي دي او قوي بيا له لمني څخه متن ته لوړ سوي دي (ديارلسم، څورلسم مخ). خو دا خبره ئې نه ده واضح کړې چي د "قوي او ضعيف" له پاره ئې معيار څرنګه او څه شی ټاکلی دئ.

د کتاب د لومړي ټوک متن ۴۵۵ مخه دئ او تر هغه وروسته يو مخ "تکمله او استدراک" لري. بيا د هغو کتابو ليست (دوه مخه) راغلی دئ چي د متن د ترتيبوونکي له خوا برابر سوي دي. په پای کي "د مأخذو فهرست" (درې مخه) ورلوېدلی دئ.

د کتاب دوهم ټوک د علامه حبيبي له سپارښتني سره سم د ښاغلي حبيب الله رفيع پر غاړه اچول سوی دئ او تر اوسه (۲۰۱۱ع) پوري ئې ما د چاپ خبره نه ده اورېدلې.

د ياقوت السير دغه حاضر متن چي ما وکوت، د يادوني دا لاندي موارد مي پکښې وموندل[1].

– لغتنامه ئې ځای ځای ډېره مختصره ده. د مثال په توګه:

علويات: لوړ.

---

[1] دا يادوني د کتاب د مخونو پر اساس نه دي راوړل سوي او ترتيب ئې سره پاشلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفليات: ټيټ (۱مخ،۱۱مخ).

دا معنا کافي نه ده او د متن له پوهېدلو سره مرسته نه سي کولای. د لغتنامې له ترتيب څخه بايد هدف دا وي چي د متن په پوهېدلو کي لوستونکو ته ګټوره تمامه سي او د قاموسونو و کتلو ته ئې اړ نه کړي. په ديني متونو کي"عالَم عليا" او "عالَم سُفلی" ځانته تر لغوي معنا په هاخوا نور تعبيرونه هم لري چي هغو ته اشاره کولو د متن د پوهېدني له پاره ډېره مرسته کولای سوای. خو ځای ځای بيا ځيني معناوي ښې تفصيلي دي (۲۰مخ). که د معناوو په برخه کي همدا روش پالل سوی وای. ګټه به ئې زياته وای.

ځای ځای مغلق په مغلق معنا سوی دئ. په (۲۵مخ) کي"قِران" ته کښلي دي "د يوه شي له بل شي سره مقارن کيدل". که لوستونکی په "قِران" ونه پوهېږي، له "مقارن" څخه هم مطلب نه سي فهمولای. مجبور دئ قاموس ته به مراجعه کوي. يا "کبلی" په "غزال" معنا کول (۱۵مخ) هم ډېره مرسته نه سي کولای. که ئې "د هوسۍ بچی" ورته کښلی وای، لوستونکی به د قاموس کتلو له تکليفه خلاص کړی وای. "امتنان" په "پاسلونه" ترجمه کول هم له دې قراره وګڼئ. "حمايل" ئې د منتخب په حواله "دوال شمشير" معنا کړی دئ. لوستونکی مجبور دئ چي د "دوال" له پاره بير ته قاموسو ته مراجعه وکړي.

د (۲۵مخ) په وروستۍ حاشيه کي چي "تشريق" ته د "روښانول، ښکلی کول، د شرق خوا ته توجه کول" معناوي ليکل سوي دي، دا ئې لغوي معناوي دي. په متن کي د "تشريق" ورځو (ايام تشريق) ته اشاره سوې ده. دغه معنا ئې د متن په (۱۹۸مخ) کي راوړې ده. کشکي ئې په (۲۵مخ) کي هم اشاره ورته کړې وای.

- ناظم ځيني لغتونه له خپلي لهجې سره سم کار کړي دي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاموسونو معناوي نه ورسره وايي. د مثال په توګه:

"ځله" (۲۸مخ) ته ئې "ځل، وار، نوبت، ...، مينه، شوق، هوس". له متن سره دا يوه معنا هم نه لګېږي. په "ځله خلاص ئې سوه شونډان" کي د "ځله" معنا "يو له بله" ده چي دا ئې لهجوي معنا ده.

"شېله" (۳۸مخ)، چي "د اوبو مجرى، د سيل مجرى" ورته ليکل سوي دي، له لهجوي معنا سره يوه څه توپير لري. د ناظم په لهجه کي "شېله" د کوچني مانده، خوړ معنا لري. "زيي" (۹۸مخ – دوهمه حاشيه) کي په ذال ليکل سوې ده او د پوښتني نخښه ئې له (کذا في الاصل) سره ورته ايښې ده. (زيي) د کندهار په لهجه کي د (قوم) له پاره معادله کلمه ده. "په زيي څوک ئې؟" يعني په قوم څوک ئې.

د "منوال" (۴۱مخ) هغه معنا چي د معين قاموس په مرسته راوړل سوې ده، له لغوي لحاظه سهي ده خو د کندهار ملايانو به (حال و مِنوال) د (حال و احوال) په مفهوم کاراوه. "واقعه" (۴۲مخ) چي په "ښکارېدونکی، پېښېدونکی" معنا سوې ده، غلطه نه ده، خو په متن کي له "په واقعه" څخه مراد (په رشتيا سره) دئ.

– مرتب بايد د حاشيه نګار هري معنا او حاشيې ته تسليم نه سي. مثلاً په (۹۴مخ) کي د حاشيه نګار په حواله ئې"محسوس" په (ليدل سوی) معنا کړی دئ. محسوس کلمه په ډېره ليري معنا سره د "آشکار" مفهوم لري خو دلته بايد د "محسوس" لغوي معنا (احساس سوی) هم ورسره زيات سوی وای. په (۴۱۱مخ) کي"براءة" لغت ته د (ج) نسخې د شارح په حواله "پاکی"معنا ليکل سوې ده. دا معنا خو په قياسي توګه له بيت سره وايي خو د لغت اصلي معنا نه ده. په (۴۳۳مخ) کي"ذوالفقار" د (ج) نسخې د حاشيه ليکونکي په حواله "نوم د توري د حضرت دی" معنا سوې ده. دا خبره سهي ده چي د ذوالفقار په نامه توره يو وخت د حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد ﷺ په واک کي وه خو مشهور روایت دا دئ چي دا توره د حضرت علي کرم الله وجهه له نامه سره تړلې ده. د دې خبري وضاحت لازم وو.

دغه شان نور ځایونه هم سته چي د شارح نوټونه ئې د تامل وړ ګرزولي دي.

- په لیکدود کي د یاګانونه مراعاتولو د متن شکل وراړولی دئ. (سي) د (سی) په شکل، (وایي) د (وایی) په شان، (لري) د (لری) په بڼه، (واخلي) د (واخلی) په توګه لیکل سوی دئ. د دې راز لیکني پړه د خطاط ده خو مرتب ته ښایي چي خطاطانو ته د لیکدود په برخه کي لازمي لارښووني وکړي. د متن مرتب ته دا خبره معلومه سوې ده چي د ناظم په لهجه کي (مې، چیې، کي، حمدي، دې، روانې، ته بې، کالې، لرې، منعې، امرې، نهې...) په ترتیب سره د (مي ئې، چي ئې، کي ئې، حمد ئې، دي ئې، روانه ئې، ته به ئې، کاله ئې، لره ئې، منع ئې، امر ئې، نهی ئې...) په مفهوم کارېږي. خو د متن خطاط ته بیا په دې برخه کي لازمه لارښوونه نه ده سوې او هغه د دې مهمي قاعدې ټولي اوږدې یاګاني په بې ټکو (ی) سره کښلي دي. زه پوهېږم چي د ټول متن سمول تر خطاطۍ وروسته ممکن نه وو، خو دې خبري ته باید په سر کي اشاره سوې وای. د نه اشارې په صورت کي دا احتمال سته چي له موضوع سره نااشنا لوستونکي دي (کی) د (سړی) پر وزن د (کي ئې) په مفهوم وبولي او ممکن یو بل په اصطلاح ژبپوه به بیا پر دغه راز لیکدود باندي د خپل استدلال مانۍ ودروي! چي طبیعي ده، دا مانۍ به "تر ثریا پوري کږه" روانه سوې وي.

د یاقوت السیر په متن کي د عربي لغاتو ډېرښت له مرتب څخه د لغتنامې پراخېدل غوښتل. که ئې دا کار کړی وای، د متن په پوهېدنه کي ئې ډېره مرسته کولای سوای. زما د خپلي تجربې څخه راته معلومه سوې ده چي د متن ترتیبوونکی باید د "حل طلب" لغاتو لیست په خپله جوړ نه کړي، بلکي د هغه په ترتیبولو کي دي له متن سره د یوه نااشنا لوستونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته وغواړي. ډېر لغاتونه به ښايي د متن مرتب ته مشكل نه ايسي خو لوستونكى ښايي د هغو په پوهېدلو كي ستونزي ولري.
زه د موضوع د اوږدوالي له بيري څخه دې بحث ته د پاى ټكى ايږدم.

## ۲۲ - ليلې او مجنون د سكندر خټك:

ليلې او مجنون د خوشحال خان خټك زوى سكندرخان خټك (۱۱۱۶هـ ق پوري ژوندى) په پښتو نظم ويلى دئ. دغه چاپ ئې چي زه اوس پر ږغېږم، د ځيرنوال دوست شينواري (د هغه وخت پښتو ټولني مرستيال) په سريزه او تصحيح او د محمدشېرين سنګري په اهتمام د افغانستان د علومو اكاډيمۍ د ژبو او ادبياتو انستيتوت له خوا د خوشحال خټك د مړيني د درې سوومي كاليزي په مناسبت د يو زر ټوكو په تېراژ په ۱۳۵۸ش = ۱۹۷۹ع كال كي خپور سوى دئ. په پيل كي ئې د ژبو او ادبياتو د انستيتوت د هغه وخت رئيس ځيړنوال د كتور سيدال شاه پولاد په يوه مخ كي سريزه كښلې ده او په هغې كي ئې "پښتو ادب كي د ليلى او مجنون د قصې پر شفاهي او تحريري شكل "باندي لنډې خبري كړي دي. ورپسې د دوست شينواري په قلم ۱۹مخيزه سريزه راغلې ده چي سرليك ئې "د ليلى او مجنون قصې ته يوه كتنه" دئ. په دې څېړنيزه كتنه كي د دغي رومانتيكي قصې په باب هر اړخيز معلومات وركړه سوي دي او په پښتو ادب كي ئې د دغي كيسې څركونه په مفصل ډول بيان كړي دي. بيا نو د كيسې متن شروع سوى دئ چي ټول مخونه ئې يو سل ودېرش دي. تر هغه وروسته "ويى پانګه (قاموسي برخه)" راځي چي مشكل لغاتونه (۴۲ لغاته) ئې د قلمي نسخې د مخونو په ترتيب راوړي او مشرحه معنا ئې ورسره مل كړې ده. ويى پانګه شپږ مخه ده او په پاى كي ئې دوه مخه سمون ليك سته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما به د دې کتاب په کوم بل ځای کې هم دې خبرې ته اشاره کړې وي چې د متونو لغتنامه باید د عادي لوستونکي پر سویه برابره تهیه سي. ځیني لغتونه به ښایي د متن ترتیبوونکي ته "معنا طلبه" نه وي خو نورو لوستونکو ته به ئې په معنا باندې سخته وي. دغه لغتونه چې د سکندر خان خټک د همدې چاپي لیلی و مجنون په ویی پانګه کي راوړل سوي دي، د متن د مرتب په نظر د دې وړ ول چې معنا دي سي. ګویا د متن مرتب د ویی پانګې په لیکلو کي خپله سویه په پام کي نیولې ده خو د کیسې په متن کي، چي ټول ۲۰۸۴ بیته دئ، په سوو داسي لغتونه هرومرو سته چي لوستونکي دي ئې د معناوو په پوهېدلو کي ستونزي ولري. همدا وجه ده چي ما پر یاقوت السیر باندې د تبصرې په ترڅ کي دا خبره کړې ده چي د متونو د لغتنامې په لیکلو کي باید د عادي لوستونکي مشکلات په نظر کي ونیول سي.

د کیسې متن د هغي خطي نسخې له مایکروفیلم څخه برابر سوی دئ چي د ډیلي په موزیم کي خوندي ده. د متن د استخراج کار د دوکتور سیدال شاه پولاد له خولې ښېرنوال دوست شینواري د ښېرنمل محمد عارف غروال او ښېرنیار عبدالواجد واجد په مرسته سر ته رسولی دئ خو په خپله دوست شینواری بیا په ۱۷مخ کي لیکي چي "ښېرنیار عارف غروال او ښېرونکي عبدالواجد واجد" دا کار سر ته رسولی دئ. د کتاب د سر پاڼي پر دوهم مخ باندې د دوست شینواري خبره تائید سوې ده. دغه متن بیا له هغه ناقص چاپي متن سره مقابله سوی دئ چي په ۱۲۹۴هـ ق کال په ډیلي کي چاپ سوی وو. د متن په برابرولو کي مایکروفیلم د اصل په توګه غوره سوی دئ او کمبوتات ئې (۲۶بیتونه) له چاپي نسخې څخه پوره سوي دي. د متن په هر مخ کي اختلافي شکلونه او معنا طلب لغاتونه (دوولس لغاته) په لمنلیکونو کي راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خطي نسخې (اصل) پېژندنه د څېړنوال دوست د ليکني په ۱۷مخ کي راغلې ده چي ډېره مختصره (٦ کرښي) خو کافي ده. په هغې کي ويل سوې دي چي نسخه د سر او پای له خوا بشپړه ده، په منځ کي يوه مصرع کنډو ده، ټول مخونه ئې ۱۴۷ دي، د نسخې کاتب او د کتابت نېټه ئې نامعلومه ده. د نسخې د ليکدود په باب ئې دومره ليکلي دي چي نسخه "د خوشحال د کورنۍ په ليکدود نه ده ... او د کلمو د پای (و، ه، ي) نه دي ليکل شوی".

متن په صلاحيت سره تهيه سوی او د ډاډ وړ دئ. د ارواښاد دوست شينواري په قلم تهيه سوي متون زياتره پر هغو اصولو ښه پوره برابر خېژي چي د متنپوهني پوهانو ورته ټاکلي دي. په ژبپوهنه کي لوی لاس لرلو ورته د متونو په برابرولو کي ډېرلاس ورکړی دئ.

## ۲۳- د صديق دېوان:

د يوه پښتو شاعر په توګه د صديق په باب معلومات د دغه دېوان تر خپرېدو (۱۳۵۸هـ ش = ۱۹۷۹ع) پخوا يوازي پر هغو څو کرښو باندي بِناء ول، چي پادري رابرټ هيوز په کليد افغاني کي کښلي وې. د دغه دېوان تر خپرېدلو وروسته موږ د دغه شاعر او د هغه د هنري ايجادياتو په باب ډېر څه وموندل. دا دېوان د افغانستان د علومو اکاډيمۍ د ژبو او ادبياتو د انستيتوت له خوا د خوشحال خټک د درې سوم تلين په مناسبت په ۱۳۵۸ش کال د يو زر ټوکو په تېراژ خپور سوی دئ. د تصحيح کار ئې د هغه وخت د پښتو ټولني مرستيال څېړنوال دوست شينواري سر ته رسولی دئ او سريزه ئې هم د ده په قلم ليکل سوې ده. د اهتمام چاري ئې د څېړنيار عبدالواجد واجد او سعدالله له خوا بشپړي سوي دي. د دېوان سريزه ديارلس مخه ده او په هغې کي د صديق د دېوان د خطي نسخې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب جامع معلومات ورکول سوي دي او د سريزي ليکونکی دغه راز د ده پر ژوند باندي هم د دېوان د اشعارو په استناد رڼغېدلی دئ. د دېوان د اشعارو برخه ۲۵۲ مخه ده او په پای کي نهه مخه ويی پانګه (قاموسي برخه) لري چي لغتونه پکښې د الفبې په ترتيب اوډل سوي او معنا سوي دي. تر ويي پانګي وروسته په يوه مخ کي "د يادوني وړ خاص نومونه" راوړل سوي دي چي دا هم د الفبې په ترتيب دي. ټول دېوان د سريزي او لغتنامې په ګډون ۲۶۲مخه دئ.

د دېوان متن د هغي خطي نسخې له مايکروفيلم څخه برابر سوی دئ چي د هندوستان د پايتخت ډيلي په موزيم کي پرته ده او دې موزيم ته د هندوستان د ټونګ رياست د نواب اميرمحمد خان له کتابخانې څخه د مولاناابوالکلام ازاد په امر راوړل سوې وه. دا نسخه د ميا محمد صاحبزاده له پاره په ۱۲۲۳هـ ق کال ليکل سوې ده. د دغي نسخې مايکروفيلم د هندوستان د پښتانه مرستيال جمهور رئيس اروابناد ډاکټر ذاکرحسين په لاس افغانستان ته د ده د رسمي سفر په ترڅ کي (۱۳۴۵ش = ۱۹۶۶ع) د سوغات په توګه له نورو پښتو خطي دېوانو سره يو ځای راوړل سوې وه.

د سريزي ليکوال له دغه مايکروفيلم څخه د دېوان د خطي نسخې ځانګړ تياوي داسي راښوولي دي:

د صديق د دېوان دغه نسخه غالباً يوازنۍ نسخه ده، د سر له خوا بشپړه او د پای له خوا نيمګړې ده، شعرونه ئې د لام تر رديفه رسېدلي دي او په همدې رديف کي کنډو دي، په روښانه فارسي خط (چي مراد به ئې غالباً نستعليق خط وي) ليکل سوې ده، ښايسته طلايي جدولونه لري، ليکدود ئې د ختکو ليکدود دئ، د نسخې ټول مخونه ۱۸۴دي، په هر مخ کي په منځني ډول ۱۳ بيتونه ځای سوي دي، د ټولو غزلو شمېر ئې ۳۱۳ دئ او بيتونه ئې ۲۳۹۶ ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سریزي په منځ کي له اوسني لیکدود سره د نسخې د لیکدود یو مقایسوي جدول هم راوړل سوی دئ.

د نسخې د پېژندلو له پاره دغه معلومات کفایت کوي او متنپوهانو ته د منلو وړ دي.

په سریزه کي د صدیق پر شاعرۍ او د ده د ژوند پر زمانه باندي محققانه خبري سوي دي خو "د اشعارو د څرنګوالي قضاوت" ئې لوستونکو ته پرې ایښی دئ. دغه راز ئې کښلي دي چي "... همدغه صدیق په ځینو تذکرو کي دوه تنه ګڼل شوی دی چي د دغه دیوان په خپرېدو سره دغه غلطي سمېږي". له "ځینو تذکرو څخه به ئې مراد غالباً (فرهنګ زبان و ادبیات پښتو) وي، ځکه د دغه کتاب په لومړي ټوک ۲۷۶ – ۲۷۷ مخونو کي دوه صدیق نومي شاعران، چي په حقیقت کي یو تن دئ، معرفي سوي دي. د (فرهنګ زبان و ادبیات پښتو) لیکونکي چی خپله دغه تېروتنه د دغه کتاب د دوهم ټوک په ۳۲۰مخ کي اصلاح کړې ده، استناد به ئې غالباً د صدیق د دېوان د سریزي پر همدغه بیان باندي ولاړ وي.

د صدیق د دېوان دغه چاپي متن د متنپوهني پر اصولو باندی سم خېژي. سره له دې چي متن له یوې نسخې څخه ترتیب سوی دئ، هغه هم اصل نسخه د مرتب په لاس کي نسته، بلکي مایکروفیلم ئې ورسره سته. له مایکروفیلم څخه د متن استخراج په خپله ستونزمن کار دئ او د نقل کولو په کار کي ئې د تېروتنو احتمالات زیات سته، خو بیا هم متن ښه ترتیب سوی دئ او له واحدي نسخې څخه متن تر دې ښه نه سي تهیه کېدلای. دا ځیني خبري که په پام کي نیول سوی وای، ښه به وای:

– د متن یوه برخه له هغو درو غزلو سره مقابله سوې ده چي ارواښاد پوهاند رښتین د کابل مجلې د ۱۳۴۳ش= ۱۹۶۴ع کال په څلورمه ګڼه کي خپاره کړي دي او دغه راز د پښتانه شعراء لومړي ټوک سره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړوندي برخي کتل سوي دي خو د متن ترتيبونکی يا ترتيبوونکي دا ټکی نه دئ بيان کړی چي آيا د رابرټ هيوز له کليد افغاني سره د همدې متن اړوندي برخي مقابله سوي دي که يا؟ که دا مقابله سر ته رسېدلې وي، بايد په سريزه کي ئې څرګنده يادونه سوې وای او اختلافي ثبتونه ئې، که موجود وای، په حاشيو کي ښوول سوي وای.

– د متن کنډو ځايونه د حدس او ګومان له مخي ډک سوي دي. دغو ځايو ته په حاشيو کي اشاره سوې ده چي د متنپوهني اصول پکښې مراعات سوي دي خو د متن په بشپړېدنه کي له حدس او ګومان څخه کار اخيستلو ته متنپوهان په پرنسيب کي زړه نه ښه کوي. البته که د حدس له پاره پياوړي استنادونه موجود وي، هله نو بيا څه خبره نه ده.

– د متن ځيني لغتونه په لمنليکونو کي معنا سوي او لغتنامه هم لري. خو دلته بيا هماغه خبره ده چي لغتونه مرتب د خپلي اوچتي علمي سويې له مخي انتخاب کړي دي. د عادي لوستونکي له پاره لا اوس هم په دغه متن کي معناطلبه لغتونه سته.

له دې څو "خو" سره سره بيا هم متن د ډاد وړ دئ.

## ۲۴ – سواتنامه:

سواتنامه د خوشحال خان خټک منظوم اثر دئ چي په هغه کي د سوات سيمي په باب هر اړخيز معلومات د نظم په ژبه وړاندي سوي دي. دا منظوم جغرافيايي، تاريخي، سياسي، کلتوري او معلوماتي اثر وار د واره د خوشحال خټک د لمسي افضل خان خټک (۱۶۶۴ –۱۷۴۰ع) په اراده او قلم د تاريخ مرصع متن کي خپور سوی دئ[۱]. وروسته بيا سيدرسول رسا

---

[۱] وګ : د تاريخ مرصع ۳۷۷ ـ ۳۹۱مخونه، د مئی ۲۰۰۶ع کال چاپ، يونيورسټی بُک ايجنسی ـ پيښور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د "ارمغان خوشحال" په اتم ټوک کې هم چاپ کړ. د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو انستيتوت د خوشحال خان خټک د مړيني د درېم سوم تلين په مناسبت د سواتنامې تحقيقي متن د زرو ټوکو په تېراژ په ۱۳۵۸ ش = ۱۹۷۹ع کال چاپ کړ چې د تصحيح، تحقيق او تحشيې کار ئې د ارواښاد لوی استاد پوهاند عبدالحي حبيبي له خوا سر ته رسېدلی دئ (د ثور لومړۍ ورځ – ۱۳۵۸ش کال) او د اهتمام چارې ئې بسم الله حقمل، مجاوراحمد مومند، نصرالله ناصر او لطيف تر سره کړې دي. د متن هر بيت نومره لري چې ټول شمېر ئې ۳۹۱بيتو ته رسېږي. همدا شمېر بيتونه په تاريخ مرصع او ارمغان خوشحال کې هم ثبت دي. د متن په سر کې د سوات پر تاريخ باندې هراړخېزه څېړنه سوې ده (اووه اويا مخه) او د هر مخ په پای کې نسخه بدېلونه، د توضيح غوښتونکو لغاتو، نومونو، او ځايونو په باب نسبتاً اوږده لمنليکونه وراچول سوي دي. متن په ډېر دقت سره سم سوی دئ او هغه ځايونه او لغاتونه چې د مصحح په نظر ناسم ورغلي دي، په دقت سره سم سوي دي او مدلل سوي دي. د متن په پای کې يو مخ سمون ليک پر زيات سوی دئ او په هغه کې اته موردە چاپي تېروتني راغلي دي. دغه تېروتني د افغاني او پښتني مطبوعاتو په مقايسه ډېرې لږ دي او د اهتمام پر دقت باندې دلالت کوي. د سريزې او لمنليکونو ليکدود د مصحح خپل ليکدود نه دئ او د دوی له نورو ليکنوسره مغايرت لري.

د دغه چاپ په باب، چې ټول متن ئې اووه اويا مخه دئ او په هغه کې درې سوه يو نوي بيته راغلي دي، ويل کېږي چې په "تاريخ مرصع" او "ارمغان خوشحال" کې د سواتنامې له راغلو ثبتونو څخه برابر سوی دئ[1].

علامه حبيبي د دغه چاپ په سر کې تر سريزې يو مخ وړاندې د يوې

[1] وګ : ننګيالی د زمانې، د سرمحقق هيوادمل ليکنه، ۱۸٦مخ، ۱۳۸۰ش کال چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادوني په ترڅ کې د تاريخ مرصع د چاپ سوي نسخې او ارمغان خوشحال په باب ليکي چي "دغه دواړه کتابونه د سواتنامې د متن په تصحيح او تحشيه کي زما تر نظر لاندي وو..." له دې عبارت څخه زما سملاسي انتباه داسي وه چي د متن په برابرولو کي له نورو نسخوڅخه هم بايد استفاده سوې وي. کله چي متن ته ورننوتلم هورې مي د اووم، اتم، نهم، يوويشتم، پنځه ويشتم، شپږويشتم، اته دېرشم، اووه شپېتم مخ په حاشيو کي "په يوه خطي نسخه کي"، "يوه نسخه:"، "په ځينو نسخو کي"، "يوه نسخه:"، "يوه نسخه"، "بله نسخه"، "بله نسخه"،"... او خطي نسخو کي" عبارتونه ولوستل او دا مي زړه ته ولوېدله چي د سواتنامې دغه متن يوازي د تاريخ مرصع او ارمغان خوشحال پر ثبتونو باندي متکي نه دئ. که څه هم د "يوه نسخه" او "بله نسخه" اشارې و تاريخ مرصع او ارمغان خوشحال ته هم راجع کېدلای سي خو "يوه خطي نسخه" او "په ځينو نسخو کي" عبارتو څخه د لوستونکي حتمي انتباه داسي ده چي د متن په تصحيح کي له نورو نسخو څخه هم کار اخيست سوی دئ. له بده مرغه د متن مصحح د دغو نسخو تفصيلي پېژندنه لازمه نه ده ګڼلې او همداکار د متن څېړني پر ننني اصولو باندي نه سي برابرېدلای.

## ۲۵- د خوشحال کليات لومړی ټوک:

د خوشحال خټک کليات لومړی ټوک (د غزلونو برخه) د افغانستان د علومو اکاډيمۍ د ژبو او ادبياتو انستيتوت د ادب او فولکلور څانګې له خوا د خوشحال خان د مړيني د درېيم سوم تلين د بين المللي سيمينار په وياړ، چي د يونسکو په مرسته جوړ سوی وو، د ۱۳۵۹ش = ۱۹۸۰ع کال په حوت مياشت کي د ۱۸۰۰ ټوکو په شمېر د کابل په دولتي مطبعه کي چاپ سوی دئ. د اهتمام چاري ئې مصطفی نژدې او روزيګل هنرمل سر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسولي دي. د هغه وخت د علومو اکاډيمۍ لوی رئيس پوهندوی دوکتورګل محمدنورزوی[۱] شپږويشت مخه سريزه پر کښلې ده. څېړندوی محمدصديق روهي، چې په دغه وخت کې د علومو اکاډيمۍ د ژبو او ادبياتو د انستيتوت د ادب او فولکلور لوی مدير وو، "د خوشحال خټک لنډه پېژندګلوي او د کلياتود لومړي ټوک د انتقادي متن ماخذونه" تر سرليک لاندې ديارلس مخه معلومات ورکړي دي. تر دغو ليکنو وروسته په يوه مخ کې "کورودانې" او په بله پاڼه کې د لومړۍ خطي نسخې د ليکدود مقايسوي جدول راغلی دئ. تر دې پسې د کلياتو متن شروع کېږي چې د دري اشعارو په ګډون ئې ۵۲۸ مخه نيولي دي. کتاب په پای کې درې مخه سمون ليک هم لري.

د دغه چاپ د وقايې تر دوهم مخ وروسته د خوشحال خان انځور او پر څلرم مخ ئې "دوهم چاپ" کښلی دئ.

د کلياتو د لومړي ټوک دغه متن له درو چاپي نسخو او پنځو قلمي نسخو څخه ترتيب سوی دئ. د ترتيب کار ئې تر ډېره حده د ادب او فولکلور څانګې "پخوانې" مدير دوست محمد دوست (ارواښاد دوست شينواری) سر ته رسولی دئ خو د متن په تکميل او دوهم وار کتنه کې يوه پياوړي ټيم زيار ګاللی دئ چې "څېړندوی محمدصديق روهي، څېړندوی محمداکبر معتمد، څېړنمل محمداسمعيل سربن، څيړنمل محمد عارف غروال، څيړنيار عبدالواجد واجد، څيړنيار نورالله ولسپال، څيړنيار محمدعمر وزير، څيړونکي عبدالباري جهاني او سعدالله" ئې غړي ول.

کومې چاپي نسخې چې د دې متن په ترتيب کې کار ورڅخه اخيستل سوی دئ، ټولې د باصلاحيتو کسانو له خوا ترتيب سوي دي او

---

[۱] په کتاب کې ئې "نوروزی" ليکلی دئ چې چاپي تېروتنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطي نسخې ئې، په تېره بيا لومړۍ خطي نسخه د قدامت او اعتبار له مخي مهمي بلل سوي دي. زه به لومړۍ د دغو چاپي او خطي نسخو پېژندني ته د قلم څوکه وروګرزوم او بيا به نوري خبري پسې تعقيب کړم.

په چاپي نسخو کي "کليات خوشحال خان خټک" په سر کي ياد سوی دئ. دا کليات د ارواښاد دوست محمدخان کامل په لاس ترتيب سوی او لومړی وار په ۱۹۵۲ع او دوهم وار په ۱۹٦۰ع کي په پېښور کي چاپ سوی دئ. دوهمه چاپي نسخه "ارمغان خوشحال" نومېږي چي ارواښاد سيد رسول رسا په ۱۹٦۴ع کال په بيښور کي خپره کړې ده او دريمه چاپي نسخه "د خوشحال خان خټک مرغلري" ده چي ارواښاد علامه حبيبي په ۱۹۳۸ع کال کي له کندهاره خپره کړې ده.

په خطي نسخو کي لومړۍ نسخه يوه ډېره مهمه نسخه ده چي د خوشحال خان تر مړيني يو کال دمخه (۱۰۹۹هـ ق) ليکل سوې ده. دوهمه نسخه ئې د کتابت نېټه نه لري خو دوهمه او دريمه نسخه په ترتيب سره په ۱۲۵۰هـ ق کال او ۱۲۷۳هـ ق کال ليکل سوې ده. څلرمه نسخه هم د ارواښاد روهي د ليکني له مخي هغه نسخه ده چي علامه حبيبي مرحوم "د خوشحال خټک مرغلري" په ترتيبولو کي استفاده ځني کړې ده، او غالباً به هغه نسخه وي چي د خوشحال خان تر وفات دوڅلوېښت کاله وروسته (۱۱۴۲هـ ق) خطاطی سوې ده.

په دې خطي نسخو کي د لومړۍ نسخې په باب داسي نظر هم سته چي پر ځينو ځايو باندي ئې د خوشحال خان په خپل قلم ليکل سوي اشعار او يادښتونه ليکل سوي دي[1] د دغي نسخې ټول مخونه د سريزي په اټه

[1] (وګورئ : خوشحال ريويو، درې مياشتنۍ مجله، لومړی جلد، ٦٨مخ، د حبيب الله رفيع مقاله، پښتو اکيډيمی پشاور يونيورسټی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېرشم مخ کي (۵٦) ښوول سوي دي چي چاپي تېروتنه ده او په سمون لیک کي هم اشاره نه ده ورته سوې. د دغي نسخې ټول مخونه (۳۹۰) بلل سوي دي[1].

ما چي د کلیاتو دغه ټوک وکوت، یو ځای ئې د عبدالغني کاسي جونګ ته د ادبي ستوري لومړي ټوک په استناد حواله ورکړې ده (۳۳مخ). له دې حوالې څخه ځوک ویلای سي چي د کلیاتو په مأخذو کي د عبدالغني کاسي جونګ هم راځي (که څه هم لږ استفاده ځني سوې وي) چي یادونه ئې باید په سریزه کي سوې وای.

د خوشحال خټک کلیات لومړي ټوک په سریزه کي ګڼور مطالب سته خو سریزه د وخت د سیاسي فضا تر اغېزې لاندي په داسي روحیه کښل سوې ده چي د چا خبره خوشحال خان خټک باید د "مترقي" شاعر! په توګه معرفي کړي.

د دغه کلیات د ترتیبولو په کار کي د نیمګړتیاوو یادونه د ارواښاد روهي صاحب په لیکنه کي داسي سوې ده:

۱ – ټول بیتونه له یوې معیاري نسخې څخه نه دي اخیستل سوي.

۲ – د لمن لیک په عبارت کي له دوو بېلو بېلو روښونو څخه کار اخیستل سوی دئ.

۳ – د ردیف په مسئله کي د قافیې کلمات د قاموس په شان نه دي اوډل سوي او یوازي د قافیې اول توري ته اعتبار ورکړه سوی دئ.

د دغه نقادانه نتیجه اخیستني په ستَوالي کي ما ته ګویا د کره کتني اړتیا نوره نه پاتېږي، خو په پورتني نقد کي عمومیاتو ته اشاره سوې ده او زه به یو څه جزئیاتو ته ورداخل سم.

---

[1](وګ : طب نامه "ی" مخ، د کابل چاپ ۱۳۴۵ش کال).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د متن په ترتیبولو کي د اصل نسخې ټاکلو پر پرنسیب باندي ما د دې کتاب په سر کي خبري کړي او په پورته نتیجه ګیري کي هم د "یوې معیاري نسخې" څخه مراد همدا د اصل په توګه د یوې نسخې ټاکلو ته اشاره سوې ده. د دغه کلیات په ترتیبولو کي باید هغه خطي نسخه د اصل په توګه ټاکل سوې وای چې د خوشحال خان خټک په ژوند لیکل سوې او موږ ته د "لومړۍ نسخې" په نامه راښوول سوې ده. د دې نسخې بدیلونه چې د متن په لمنلیکونو کي ښوول سوي دي، ټول دا حکم کوي چې د دغې نسخې ثبت ته باید اوله درجه اعتبار ورکول سوی وای. زه به ئې دلته پر ځینو برخو باندي وربغږېږم:

- د لومړۍ نسخې له زیاترو (ښین) لرونکو کلماتو (کښي، کښیږدي، ښکنځل، نخښه، ...) څخه (ښینونه) غورځول سوي او د (کي،کیږدي، کنځل، نښه...) په شکل لیکل سوي دي. د متن تر پنځم مخ پوري ئې اختلافي صورتونه په حاشیه کي لیکلي دي خو د پنځم مخ په دریمه حاشیه کي ئې د یوې یادونی په ترڅ کي د دغواختلافي صورتو له لیکلو څخه هم اوږې سپکي کړي او کښلي ئې دي: "څرنګه په قلمي نسخو کي هر ځای د (کي) په ځای (کښې) او د (کیږدي) په ځای (کښیږدي) راغلی دی په راتلونکو مخونو کي ئې یادونې ته ضرورت نشته".

د کلیات د ترتیبولو په وخت کي د افغانستان لیکوالو په متونو کي دغه راز تصرفونه د معیاري لیکدود په پلمه په عام ډول کول او ما هم د متونو په برابرولو کي دغه شان تصرفونه کړي دي، خو د متنپوهانو په نظر دا کار د متن مسخه کول بلل کېږي. د خوشحال خان په ژبه او لهجه کي دغه ښینونه هم ویل کېدل او هم لیکل کېدل. که ئې د نننې معیار پر اساس په اړوندو کلماتو کي و نه لیکو، ګویا د خوشحال ژبه مو ورمسخه کړې ده او د دې راز کلماتو په سته والي کي څوک نه سي کولای له دغو شعرو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان نوم وتړي. دا مسئله زموږ په نظر مهمه نه راځي خو د متنپوهان ئې ډېره جدي مداخله بولي او د نه کولو توصیه ئې کوي. زموږ پوهانو که د لیکدود په برخه کي کومي فیصلې کړي دي د هغو تطبیقول پر کلاسیکو متونو باندي د خندا وړ کار دئ. تاسي د انګرېزي ژبي کلاسیک آثار وګورئ، هورې د (thee,thou,thyself,thine) کلمات چي په ترتیب سره د (you,you,yourself,yours) معادلي کلمې دي، په نننیو چاپونو کي هم لیکي. دا کلاسیک کلمات د نننۍ انګرېزۍ په دواړو معیاري شکلونو (برتانوي اوامریکایي) کي نه کارېږي خو په کلاسیکو متونو کي ئې پر هماغه پخواني شکل پرې ایښې دي.

د پښتو کلاسیکو متونو د ثبت په کار کي د پښتونخوا محققین د افغانستان تر څېړونکو ډېر محتاط دي.

- د لومړۍ خطي نسخې "زما" ضمیر هر ځای "دما" سوی دئ. دلیل به ئې ښایي دا وي چي د متن د ترتیبوونکو په نظربه د خټکو لهجه په پام کي نیول سوی وي. پوهاند زیار صاحب هم د خټکو په اوسنۍ لهجه کي د "دما، دتا،..." ضمیرونو سته والی تائیدوي (د خوشال ادبي پښتو: ۳۰مخ). خو ما د خوشحال خان خټک په آثارو کي د "زما" ضمیر پراخ استعمال لیدلی دئ او داسي مي لا هم زړه ته راګرزي چي په ځینو لهجو کي دي د (دما) ضمیر سته والی د ژبي د وروستیو انکشافاتو محصول وي. په هر صورت دا چي د هغي خطي نسخې ثبت ته اعتبار نه دئ ورکول چي د خوشحال خان په ژوند کي لیکل سوې ده، په خپله د پوښتني وړ خبره ده، خو د حیرانتیا ځای دا دئ چي د متن په ۱۳مخ کي بیا د همدغي خطي نسخې "دما" په "زما" سره اوښتی دئ او په دریمه حاشیه کي ئې یادونه هم راغلې ده!

- د ژبي د سوچه توب تمایل د متن په ترتیب کي اغېزه کړې ده. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مثال په توګه:**

د لسم مخ په نهم لمنلیک کي د لومړۍ نسخې "همېشه" د سوچه توب تر اغېزې لاندي "تل" سوی دئ. باید د شاعر خپل انتخاب ته ترجیح ورکړه سوې وای.

د ۴۵مخ د پنځم لمنلیک "دیوانه دیوانه تر شي" په ټولو قلمي نسخو کي همداسي ثبت دئ خو د سوچه توب په اشتها سره "لیونی لیونی تر شي" ځني جوړ سوی دئ.

د ۵٦مخ د دوهم لمنلیک "کشتن" په متن کي "وژو" سوی دئ. باید د خطي نسخو ثبت غوره بلل سوی وای. دغه راز د همدې مخ د پنځمي حاشیې"دیدن" چي په ټولو قلمي نسخو کي همداسي ثبت دئ، په متن کي "لیدل" سوی دئ. په شرقي ادب کي "دیدن" د عادي فزیکي لیدلو په مفهوم نه کارېږي، بلکي "دیدن" د عاشق او معشوق تر منځ لیدنه کتنه ده او د دې کلمې په کارولو او لوستلو کي هغه خاص کیفیت ذهن ته تداعي کېږي چي د شرق د محافظه کاري ټولني د حاکمو شرایطو تر اختناق لاندي دوه مینان په پټه یو له بل سره ګوري. د "دیدن" ځای په پښتو ادب کي معمولا ګودر ښوول سوی دئ:

که دیدن کړې ګودر ته راسه
زه به منګی په لپو ورو ورو ډکومه

کله کله د "دیدن" پر ځای د "ملاقات" کلمه هم کارېږي. دغه "ملاقات" هم د کلمې په عامه معنا سره نه راځي، بلکي مراد ئې د دوو مینو لیده کاته وي. د کندهار یو محلي شاعر ویلي دي:

بې ملاقاته دي سلام راستول اور لګوي
زه هغه اور له ځانه وژنم دلبر نور لګوي

تاسي ګورئ چي موږ د ژبي د سوچه توب په هوس له خومره مهمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفاهیمو سره لوبي کوو او مسخه کوو يې!

د "دیدن" ښکلې او عاشقانه کلمه په ۱۷۵،۹۴،۹۲،۶۶،... مخو کي هم مسخه سوې ده.

د ۷۴مخ د اووم لمنلیک "نادان" چې په خطي نسخو کي همداسي ضبط دئ، په "ناپوه" اړول سوی دئ. "نادان" کلمه هم زموږ په شفاهي او تحریري ادب کي د "دیدن" په شان په عامه معنا نه کارېږي. د "نادان" په کلمه کي پر ناپوهۍ سربېره، معصومیت، بې تجربه توب، د عمر کموالی او نور مفاهیم په پام کي دي.

د ۸۴مخ د لومړۍ حاشیې "چارپایو" د خطي نسخو پر خلاف په متن کي "څارویو" سوی دئ. له "چارپای" څخه د شاعر مراد د ځناورو په ګډون ټول حیوانات دي خو په "څارویو" کي ټول حیوانات شامل نه دي. خوشحال خان ئې په توپیر پوهېدی.

د ۱۰۲مخ د اولي حاشیې "اول" کلمه چې په خطي نسخو کي همداسي ده، په متن کي "لومړي" سوې ده. د ۱۲۷مخ د دریم لمنلیک "تنګدل" په متن کي "زړه تنګ" سوی دئ. د ۱۳۴مخ د څلرم لمنلیک "دریاب" په متن کي "سیند" سوی دئ. د ۱۷۴مخ د پنځمي حاشیې "دِل" په متن کي "زړه" سوی دئ. د ۱۷۸مخ د لومړي لمنلیک "بازۍ" په متن کي"لوبې" سوي دي.

دا لیست که زه پسې تعقیب کړم، باید یو بل کتاب ورته سرښته کړم.

دا مسخه کوونکي لاسوهني ښايي د خوشحال خټک کلیات د لومړي ټوک ترتیبوونکو نه وي کړي او له کومي چاپي نسخې څخه به ئې د "الا، بلا، بګردن ملا" په حکم رااخیستي وي، خو متنپوهانو ته د دغو تصرفاتو له بابته قناعت ورکول، مشکل کار دئ.

– په کتاب کي ځیني جدي چاپي تېروتني سته چي په سمون لیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي هم اشاره نه ده ورته سوې. دوه درې مثاله ئې دا دي:

د ۱۴مخ په څلرم مخ کي د "احول = چپک" لغت (احوال) ليکل سوی دئ، د ۴۹ مخ د پای له خوا دوهم بيت بيخي ډېر وران سوی دئ. چاپي شکل ئې داسي دئ:

مينه د مجنون په لــيلالا شوم ډيره ډيره
څو په چي عالم ورباندې وکړه هورزور

سم شکل ئې داسي بايدوای:

مينه د مجـــنون پر ليــلالا شوه ډيره ډيره
څو به چي عالَم ورباندي وکړ هومره زور

د ۲۸۴مخ د پای له خوا دريم بيت په متن کي داسي دئ:

پاس په سر د اشيانه، تورکارگه قـمرترې لاندي
تور کارگه قمر ترې لاندي، پاس په سر د اشيانه

(قمر= سپوږمۍ) دلته هيڅ معنا نه ورکوي. دا ويی بايد (قُمري = کوکو کوتره) وي.

ما د خوشحال خټک کليات لومړی ټوک تر درې سوم مخ پوري په دقت وکوت او په درو پاڼوکي مي خورا ډېر داسي لمنليکونه څني رانقل کړل چي زما په نظر بايد متن ته لوړ سوي وای، خو نور ئې بې حوصلې کړم او په همدغومي بسنه وکړه. د دغو رانقل سوو لمنليکونو يوه برخه به د "مشت نمونه خروار" په توگه له لوستونکو سره هم شريکه کړم.

د لومړي مخ اوله حاشيه بايد متن ته لوړه سوې وای. د حاشيې "درست" کلمه د خوشحال خان د ژبي عام او مروج لغت دئ چي لومړۍ خطی نسخې هم ثبت کړی دئ. په متن کي د "درست" پر ځای "کُل" راغلی دئ چي بايد نه وای راغلی.

د دوهم مخ د يوولسم لمنليک "څه رنگه" بايد د متن د "څه شکل" پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای راغلی وای. د لومړۍ خطی نسخې ثبت باید غوره ګڼل سوی وای.

د شپږم مخ په اوومه حاشیه کي د "کړ" فعل په متن کي "کړل" سوی دئ او د حاشیې له مخي ګویا په دریو خطي نسخو کي "کړ" ثبت دئ. زما په نظر د خطي نسخو خطاطانو د (ړ) پر سر باندي زور (فتحه) ایښې ده چي مراد ئې (کړه) دئ. د خوشحال خان خټک په لهجه کي (کړه) د پښتو د ځینو نورو لهجو په شان د (ړ) توري په زوه ره کي سره د جمع له پاره راځي. د دغه دلیل له مخي باید دغه د (کړه) شکل په متن کي شامل سوی وای. دا سهي خبره ده چي په اوسني لیکدود کي باید موږ (کړل) د جمع له پاره ولیکو، خو د خوشحال په ژبه کي دغه راز تصرف لازم نه دئ.

د دیارلسم مخ په لومړۍ حاشیه کي د لومړۍ خطي نسخې یو بیت رانقل سوی دئ چي:

د تقوا غلیمه! دف له لاسه کښېږده
په ډهلی شــهر څــوک نغاره نه کا

په متن کي ئې دغه بیت داسي دئ:

د تقوا غلیمې! دف کېږده له لاسه
په ډهلي ښهر کي څوک نقاره نه کا

دلته ګورو، چي د خطی نسخې "غلیمه" په متن کي ښځینه "غلیمې" سوی دئ او "نغاره" هم "نقاره" سوې ده.

د غلیم ویی به ئې ځکه ښځینه کړی وي چي د مرتبینو په نظر "دف = داریه" وهل معمولاً د ښځمنو کار دئ او د نغارې (غ) به ئې ځکه په قاف اړولی وي، چي ګویا دا ئې اصلي بڼه ده.

فکر کوم لوستونکي به زما سره پر دې خبره باندي په یوه نظر وي، چي خوشحال خان د خپل شعر د کلماتو په ټاکلو کي هر وخت له غور او دقت څخه کار اخلي. ده ته دا خبره معلومه وه چي (دف) یوازي ښځمني نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهي، بلکي نارینه ئې هم وهي. دغه دف وهونکي نارینه ته "لوتي" یا په مُلایي لیکدود "لوطي" ویل کېږي. او نغاره وهل خو په مطلق ډول د نارینه وو کار دئ. اوس چي هم د پښتنو سیمو په ځینو زیارتو کي نغارې وهل کېږي، وهونکي ئې نارینه وي. خوشحال خان چي "د تقوا غلیم" نارینه ګڼلی دئ، په دې کي ئې په یوه غشي دوې نخښي ویشتلي دي. یو خو ئې د دف و نغارې د وهونکو جنس په سهي توګه ښوولی دئ او بل ئې له لوتي سره، چي په پښتني ټولنه کي ئې مقام سپک دئ، د تقوا د غلیم حیثیت هم راټیټ کړی دئ. موږ د خان دا ټولي هنري ښېګڼې په خپل بېځایه تصرف سره زیانمني کړي دي.

په ۲۸ مخ کي یو بیت داسي دئ:

تل به د جفا په دریابونو کي غوټې خوري
څـوک چي زړه د دورپه دلـبرو مـبتلا کا

د دغه مخ په اوومه حاشیه کي ئې ویلي دي چي په لومړۍ خطي نسخه کي د دریا برنړ پر ځای "ګردابونو" راغلی دئ. که قلم زما په لاس کي وای ما به د خطي نسخې ثبت اخیستی وای، ځکه د غوټې خوړلو احتمال تر "دریابونو" په "ګردابونو" کي زیات سته. په دریاب کي هرومرو څوک غوټې نه خوري خو په ګرداب کي له غوټو څخه چاره نسته. نو په دې بیت کي خو یو د "ګرداب" او "غوټې" تر منځ مناسبت په پام کي نیول سوی دئ او بل د اول نیم بیتي "ګردابونه" د دوهم نیم بیتي له "دَوَر" سره ادبي تلازم لري. د خوشحال خان سر په دغه راز باریکیو ښه پوره خلاص وو.

د ۸۶مخ کي د یوې غزلي مطلع داسي ده:

خـدایه! کـه زه تا ته نژدې کـېږم په افــــلاس
زرمې کند په غاړه کړه، یو مات کچکول په لاس

په دوهمه حاشیه کي د دغه بیت په ارتباط کښلي دي چي په لومړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطي نسخه کي د کچکول پر ځای کنډول راغلی دئ. که ما دغه متن تر تيبولای، د کچکول پر ځای مي "کنډول" ليکی. په دې دليل نه چي ګويا کچکول دلته د بيت له معنا و مفهوم سره نه وايي، بلکي په دې دليل چي يو خو دا د هغې نسخې ثبت دئ چي تر ټولو خطي نسخو قديمه او د شاعر په ژوند ليکل سوې ده او دوهم دا چي د "کنډول" لغت لرغونی استعمال رابښيي. کنډول، کنډولی د مات خاورين لوښي په معنا قاموسونو اخيستی دئ او د پښتو په لوېديځه لهجه کي ژوندی لغت دئ. په نورو لهجو کي به هم وي.

په ۱۷۴مخ کي يو بيت داسي دئ:

د عاشق په زړه کي خيال د معشوقې وي
د هــــــندو په زړه کي فـــکر د ټيـــکو

په دريم لمنليک کي ورته کښلي دي چي په لومړۍ خطي نسخه کي د ټيکو پر ځای "ټنګو" راغلی دئ. زما په نظر په پورته بيت کي تر (ټيکو) به (ټنګو) ډېره موزونه کلمه وي. ټنګه يا تنګه يو راز فلزي سِکه وه چي زما د وړکتوب په وختو کي ئې چلښت درلود او تر پنځه ويشت پولِه (اووه لس ايکيزي) لږ څه زيات ارزښت ئې درلود. په دوهم نيم بيتي کي دې ټکي ته اشاره ده چي ګويا د هندو په زړه کي تل د روپو (روپيو) فکر وي. زموږ په عوامو کی دا خبره همدا اوس لا هم کېږي چي "هندو پر روپو ايمان راوړی دئ". زما د يادو خبره ده چي پخوا به د کندهار خلکو هندواڼو ته دمخه ښې پر ځای "لالا! دولت زيات" جمله ويله. د دغه استدلال له مخي زه ويلای سم چي د لومړۍ خطي نسخې ثبت بايد غوره ګڼل سوی او متن ته داخل سوی وای.

د ۲۰۵مخ په پنځم بيت کي لولو:

غونچه، ګل چي ستا له خولې سره سيالي کړه
خــــوله ئې باد په تماچـــه کـــړله فـــراخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دریمه حاشیه کې ئې ورته کښلي دي چې په لومړۍ خطي نسخه کې د"تماچه" پر ځای "تپانچه" راغلې ده. ما ته د لومړۍ نسخې ثبت سم ښکاري ځکه په (توپ، توپک) کې (ت) او (پ) دواړي ساتلي سوي دي او (تپانچه = توپنچه) چې د توپک تصغیري نوم دئ، هم باید دا دواړه ږغونه ولري. د خوشحال په شعر کې هم دغه اصل په پام کې نیول سوی دئ. د (تپانچه = توپنچه) نور لهجوي شکلونه (تمانچه، تومانچه، تمینچه، تپوڼچه، تمیانچه، تموچه، تپنچه، تینچه) دي. پوهاند دوکتور زیار صاحب په خپل لیکلار ښود کې تر دغه ویي ګام اړولی دئ، نېخه چې ولي؟

د پنډو (ضخیمو) متونو د ترتیب په کار کې مرتب په اول سر کې د نسخو ډېره دقیقه، مفصله او هراړخیزه مقابله سره کوي خو ورو ورو ئې د دقت خوا کمېږي. معنا دا چې مرتب نور ستړی سوی او بې حوصلې سوی دئ. په دغسي حالاتو کې د متن ترتیبوونکي ته په کار ده، چې کار پرېږدي او ځان هوسا کړي. په خوشحال خټک کلیاتو کې زه د بې حوصلې توب او ستړیا نښانې وینم.

چې خبري سره راغونډې کړم، د پای خبره به دا وي چې د خوشحال خټک کلیات لومړۍ ټوک تر نورو ټولو چاپونو د ډاډ وړ دئ. ما دا څو یادوني له دې اسیته وکړې چې د خوشحال خټک کلام د پښتو ادب "روح روان" دئ او پر هغه باندي د دقیق کار نوره او نوره اړتیا لا اوس هم سته.

## ۲۶- د کامګار خټک دېوان:

د پښتو ژبي دغه دېوان لرونکی شاعر، کامګار خټک د خوشحال خان خټک کړوسی دئ. دېوان ئې وار د واره په ۱۹۵۵ع کال په پېښور کې چاپ سوی دئ. دغه چاپ ئې ما (هوتک) نه دئ کتلی. وایي سریزه ئې سید تنسیم الحق کاکاخېل کښلې ده او متن ئې له هغې چاپي نسخې څخه نقل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوی دئ چي د کامگار خټک تر مړيني شپږويشت کاله وروسته (۱۱۹۱هـ ق) د محمدسعيد کاتب له خوا د خانزاده مبارز خان له پاره ليکل سوې ده[۱]. په سريزه کي دا خبره هم ستۀ چي نوموړی چاپ "ټول ديوان نه دی بلکي د اشعارو چاڼ شوې برخه ده".

د کامگار خټک دېوان دوهم وار د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو انستيتوت د ادب او فولکلور د لوی مديريت له خوا د ۱۳۵۸ش = ۱۹۷۹ع کال په قوس مياشت کي د يو زر ټوکو په شمېر د کابل په دولتي مطبعه کي چاپ سوی دئ چي زموږ حاضره ليکنه د همدغه چاپ په باب ده. د دغه چاپ ترتيبوونکی څېړونکی عبدالمتين متين دئ او د اهتمام چاري ئې سعدالله او څېړنيار محمدعمر وزير بشپړي کړي دي. دېوان، چي تر ترتيب وروسته د څېړونکي عبدالباري جهاني له خوا له سره تر پايه کتل سوی دئ، په سر کي ئې د څېړندوی محمدصديق روهي په قلم دوه مخه (الف، ب) ليکنه راغلې ده، چي په هغې کي د دغه متن د ترتيبولو پر کار باندي لنډي خبري سوي دي او زياته کړې ئې ده چي د متن په ترتيبولو کي د پېښور چاپ دېوان، د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ملي آرشيف له خطي نسخې او کابل پوهنتون په ادبياتو پوهنځي کي د کامگار خټک د دېوان د خطي نسخې له مايکروفيلم څخه استفاده سوې ده او د پادري هيوز په کليد افغاني کي چي د کامگار خټک کوم اشعار راغلي دي، هغه هم ورسره مقابله سوي دي.

تر دغه لنډو معلوماتو وروسته  د کتاب "سريزه" راځي (يوويشت مخه) او په هغې کي د کامگار خټک پر ژوند، اشعارو او افکارو او د کامگار خټک د دېوان پر خطي او چاپي نسخو خبري سوي دي او دغه راز ئې هغو

---

[۱] وگ: د کابل چاپ سريزه – الف مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



متفرقه مقالو او مضامینو ته هم اشاره کړې ده چې د نوموړي شاعر په باب لیکل سوي دي. د سریزې په دغه وروستۍ برخه کې د هغو چاپي او خطي نسخو په باب نسبتاً تفصیلي بیانونه مخې ته راځي چې د متن د ترتیب په وخت کې د مرتِب په واک کې وې. دی د ملي ارشیف د نسخې په باب د عبدالله خدمتګار د لیکنې په حواله لیکي چې: "دغه نسخه د لومړي ځل له پاره د تېمورشاه درانی (۱۱۸۶ - ۱۲۰۷هـ ق) په زمانه[1] په (۱۱۸۹هـ ق) کال لیکل شوی ... تر ۱۳۲۴هـ ش کال پورې د ښاغلي فتح محمدخان خټک سره وه چې د کامګار خټک د مړینې د نیټې څخه (۲۴) کالو نه وروسته لیکل شوی ده ... دغه خطي نسخه په ۱۳۲۵ هـ ش کال (د کابل) پښتو ټولنې ته راوړل شوی او د مولوی محمدشیرګل کاموی په قلم نقل شوی ...". تر دې وروسته زیاتوي چې د دغې نسخې په پای کې کښلي دي: "در وقت نصف روز یکشنبه ماه محرم الحرام سنه ۱۱۸۹نسخه اول تحریر شده بوده. فقط تحریر۲۱عقرب ۱۳۲۴".

له دې بیان څخه څوک نه پوهېږي چې د ملي آرشیف نسخه د نوموړي خطي نسخې اصل دئ که نقل؟

تر پورتنیو عبارتو وروسته د ښاغلي عبدالله خدمتګار د کلید افغانی د تعلیقاتو د یو پنځوسم مخ په حواله لولو: "د کامګار خټک د دیوان یوه قلمي نسخه د شیداد دیوان سره په یوه پښتۍ کې په بریټیش موزیم کې ده چې د مستر هیوز تر نظرلاندې د هغې نسخې څخه چې په افضل خان جمالګړی پورې اړه لري د پیښوری غلام جیلانی په قلم په ۱۸۷۲م کې نقل شوې وه. افضل خان جمالګړی د فتح محمدخان نیکه و. چې بیا دغه نسخه فتح محمدخان پورې رسېدلې وه او د کابل نسخه د هغې له مخه نقل شوی

---

[1] مراد ئې د پاچهۍ زمانه ده. هـ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه". (د سريزي [ژ] مخ).

له پورتني عبارت څخه چي وايي "بيا دغه نسخه فتح محمدخان پورې رسېدلې وه"، زما برداشت داسي دئ چي ګويا د بريټيش موزيم کاپي هم تر فتح محمدخان پوري رسېدلې وه؟ او د کابل نسخه د دغي کاپۍ نقل دئ؟ خو د بريټيش موزيم په کټلاګ (د ۱۹۶۵ع چاپ) کي دغه خبره نسته چي ګويا دغه کاپي دي بيرته فتح محمدخان ته رسېدلې وي. رازمحمد ويښ چي د "پښتوکتابونه" په ۱۳۶ – ۱۳۷مخونو کي د کامګار خان خټک د دېوان د قلمي نسخې په باب کوم مطالب راژباړلي دي، هورې هم دغه خبره نسته.

لکه وړاندي چي مي هم اشاره وکړه، له دې بيانو څخه موږ ته نه سي واضح کېدلای چي د ملي آرشيف نسخه د افضل خان جمالګړی (۱۹۶۰ع مړ) هماغه نسخه ده چي غلام جيلاني پيښوري د هيوز تر نظر لاندي کاپي ځني اخيستې وه او که هغه نسخه چي د مولوي محمدشيرګل کاموي په قلم په ۱۳۲۴ ش کال کاپي سوې وه. د دې موضوع د سپينېدلو په نيامت ما "فهرست نسخ خطی پشتو آرشيف ملي افغانستان" (چاپ ۱۳۶۵ش)، وکوت او راته څرګنده سوه چي د ملي آرشيف نسخه د ۱۳۲۴هـ ش کال کاپي سوې نسخه ده. په دغه فهرست کي د "مولوي محمدشيرګل کاموي" نوم نسته او د نسخې کاتب " نامعلوم" بلل سوی دئ. دا چي د ښاغلي خدمتګار صاحب له خولې د فتح محمدخان خټک د دغي نسخې په باب ويل سوي دي چي "څه موده وروسته دغه نسخه په ۱۳۲۵هـ ش کال پښتو ټولنې ته راوړل شوی"، يو کمزوری روايت دئ او که سهي هم وي نو دا خبره واضح سوې نه ده چي دا نسخه نو بيا څه سوه؟ او اوس کوم ځای خوندي ده او که ورکه ده؟

متنپوهانو چي د نسخو د تفصيلي معرفۍ پر اړتيا زور اچولی دئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبب ئې دا دئ چي ګونګ معلومات نورو څېړونکو ته سر ګرداني پېښوي. لکه ما ته چي ئې پېښه کړه او مجبور سوم چي هم د بريټيش موزيم اصلي کتلاګ وګورم، هم ئې پښتو ژباړه او هم د ملي آرشيف فهرست.

د ملي آرشيف د نسخې په باب ويل سوي دي چي: "د دې نسخې رسم الخط فارسي او په ځينو ځايونو کي پښتو ډوله دی او د املا ليک دود ئې اوسنی او په ځينو نورو برخو کي د ختېکو د کورنۍ په شان دی". د ليک په انواعو کي ما د (فارسی) او (پښتو) ډولونه بل ځای نه دي لوستي. له فارسي څخه ئې ښايي مطلب (نستعليق) او له پښتو څخه ممکن (نسخ) ليک وي. د نسخې د ليکدود پېژندني له پاره دغه څرګندوني کافي نه دي.

د مايکروفيلم په باب ئې کښلي دي چي: "د ادبياتو پوهنځي د انګلستان د لندن د بريټيش موزيم څخه راغوښتلی و...." (ش – مخ) خو دا فيلم مرتب ته هغه وخت په لاس ورغلی وو، چي "د ديوان د کار څخه خلاص شوی و" او زياته کړې ئې ده چي: "... څرنګه چي په ميکروفيلم کي د احمدشاه بابا، کاظم خان شيدا او کامګارختېک اشعار يو ځای فوټوکاپي شوي وو نو ځکه بيخي ګډوډ او بې ترتيبه و". له دغه شان څرګندونو څخه پر متن باندي د ډاډ اندازه کمېږي او څوک نه سی ويلای چي متن به د شاعر خپله ژبه څومره تمثيل کړې وي.

تر سريزو وروسته د ديوان متن شروع سوی دئ چي ټول مخونه ئې ۱۸۹ دي. ورپسې لغتنامه راغلې ده (۱۱مخه) او په پای کي څلورمخه سمون ليک ورلوېدلی دئ. د متن توري سم نه دي لګېدلي او مرتب خپل عذر د کتاب په پای کي غوښتی دئ. د تورو ناسم لګېدلو ځای ځای متن له لوستلوايستلی دئ او لوستونکی مجبور دئ چي له اټکله کار واخلي.

په متن کي د پېښور چاپ اوږده اوږده لمنليکونه بې ضرورته رانقل سوي دي. دغو حواشيو ته بايد يوه اشاره قدر سوې وای. متنپوهان د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شارحینو د شرحو رانقلول لازم ګڼي چي متن له هغو پر ته د پوهېدلو نه وي. د متن ناقدین بې ضرورته اوږدې حاشیې که څه هم د موضوع د ښه ترا پوهېدلو په مقصد وي، نه خوښوي.

نسخه بدیلونه زیاتره ګونګ او لنډ دي. په نسخه بدیلونو کي که د اختلافي توري یا تورو اړوند کلمات هم ملګري سي، د متن په لوستلو کي ډېره مرسته کوي.

د کامګارخټک دېوان خطي نسخې محدودي دي او د کابل دوهم چاپ یوه غنیمت اضافه ده خو که پر متن باندي د اعتماد خبره رامنځ ته سي نو ما ته داسي ښکاري چي د کامګارخټک د کابل چاپ مأخذ ټول د نقل کاپۍ دي. تر دې چاپ د پېښور چاپ متن که څه هم نیمګړی دئ، باید د ډېر ډاډ وړ وګڼل سي، په دې شرط که په دقت رانقل سوی وي، ځکه په مستقیمه توګه له هغې زړې نسخې څخه ترتیب سوی دئ چي د کامګار خټک تر مړیني شپږ ویشت کاله وروسته خطاطي سوې ده.

که د کومي بلي خطي نسخې تر پیداکېدلو دمخه دا دېوان بل وار چاپېږي،زماپه فکر باید د پېښور چاپ د اصل په توګه وټاکل سي.

## ۲۷-د رحمت داوي لیلی و مجنون:

د رحمت داوي د شاعرۍ د اوج زمانه د سدوزي تېمورشاه (۱۷۷۲–۱۷۹۲ع ) د پاچهۍ دوره ده او ژوند ئې تر۱۲۱۰هـ ق =۱۷۹۵ع پوري یقیني دئ په دغه کال ئې د لیلی و مجنون کیسه په پښتو مثنوي کي ترجمه کړې ده. دی د پښتو شعر پنڅ دېوان لري چي وایي نیمګړی متن ئې په ۱۹۸۰ع کال په پېښور کي چاپ سوی دئ (د پښتو ادبیاتو تاریخ – لرغوني او منځنۍ دورې – ۱۹۱مخ). د رحمت داوي په قلم د لیلی و مجنون منظومه کیسه د نظامي ګنجوي لیلی و مجنون ترجمه ده. د دې مثنوي د یوې خطي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسخې افسيټ چاپ په ۱۳۶۰ش =۱۹۸۱ع کال په کابل کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د علمي او تحقيقي مرکز د فولکلور مديريت له خوا خپور سوی دئ. د کتاب په سر کي د ژبو او ادبياتو د علمي او تحقيقي مرکز د هغه وخت رئيس څېړنوال دکتور سيدال شاه پولاد په دريو مخو کي ئې د دغه اثر پر محتوی او د هغه د چاپ پر اهميت لنډې خبري کړي دي. په دغو خبرو کي ئې "ځوان ليکوال څېړنيار مصطفی نژدې ته د دې مثمر کار د سر ته رسولو په باب خپل صميمانه تبريکات" وړاندي کړي دي. ګويا د دغه متن د ترتيبولو کار د همده له خوا سر ته رسېدلی دئ. ورپسې "د ليلی او مجنون د ميني جوله په ادب کي" تر سرليک لاندي تفصيلي بيان (۳۳مخه) د څېړونکي عبدالهادي هاند په قلم او تر هغه وروسته د "رحمت داوی څوک وٌ؟" تر عنوان لاندي (۴۴مخه) ليکنه راغلې ده چي په هغې کي د شاعر پر ژوند او شعر او دغه راز د قلمي نسخې پر ځانګړتياوو باندي اوږدې خبري سوي دي. دغي برخي ته د چا نوم نه دئ ليکل سوی او د ليکني له سياق څخه داسي ښکاري چي که ټوله نه وي، نو زياته برخه ئې د عبدالهادي هاند په قلم کښل سوې ده خو د کتاب پر لومړي مخ باندي د سريزي ليکوالان مصطفی نژدې او عبدالهادي هاند بلل سوي دي او وايي چي د اهتمام چاري ئې روزيګل هنرمل سر ته رسولي دي.

تر سريزو وروسته د قلمي نسخې افسيټ متن له پنځه څلوېښت ميناتورونو سره چاپ سوی دئ او په پای کي ئې دوه ويشت مخه لغتنامه وراچولې ده.

دا چي ولي ئې دغه متن په افسيټ ډول چاپ کړی دئ، دليل ئې د پنځه څلوېښتو ارزښتناکو ميناتورونو خوندي کول راوړی دئ. د ميناتورونو خوندي کول خو رشتيا هم ارزښتمن کار دئ خو په دغسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیخونده ډول، بې کیفیته کاغذ او پیکه طباعت سره نه. د دغو میناتورو ارزښت به هغه وخت لا زیات وای چي پر روغني کاغذ او د طباعت په عالي کیفیت سره چاپ سوي وای. د دغه متن بیا چاپ او هغه هم د متني نقد پر اصولو برابر یوه اړتیا ده او زلمیو ته ښایي چي وخت وروباسي. ما ته دغه اوسنی کار، که څه هم له اهمیته ئې انکار نه سي کېدلای، د متنپوهني پر اصولو برابر نه ښکاري.

## ۲۸-د حاجي جمعه بارکزي دېوان:

حاجي جمعه بارکزی د کندهار د زاړه ماشور د کلي اوسېدونکی پښتو دېوان لرونکی شاعر وو. د ده شاعري پر کندهار باندي د سردار کهندل خان د اول وار واکمنۍ (۱۸۲۹ - ۱۸۳۹ع ) په دوران کي د عروج په حال کي وه.

د حاجي جمعه بارکزي دېوان د افغانستان د علوموااکاډیمۍ د ژبو او ادبیاتو د علمي او تحقیقي مرکز اړوند د پښتو ټولني د ادبیاتو د لوی مدیریت له خوا په ۱۳۶۰ش =۱۹۸۱ع کال چاپ سوی دئ. د متن د تهیه کولو کار ئې ښاغلي زلمي هیوادمل سر ته رسولی دئ او سریزه و لغتنامه ئې پوهاند عبدالشکور رشاد پر کښلې ده.

د کتاب په سر کي د "حاجي جمعه او د هغه شاعري" تر سرلیک لاندي څېړنه (۹مخه) د پوهاند رشادپه قلم او د نصیر هنر پښتون په خطاطۍ راغلې ده او په هغې کي د حاجي جمعه پر نسب، ټاټوبي، د ژوند زمانه، سلوک، تصلف، ایراد، بې قدري، معما، ادبي صنایع او بیاني ښېګڼې باندي محققانه خبري سوي دي. ورپسې د متن د مرتب ښاغلي زلمي هیوادمل په قلم د دغه دېوان د متن په باب اوږدې خبري (۴۲ مخه د تکملې او استدراک په ګډون) سوي دي او په هغو کي د حاجي جمعه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېوان د موندلو، د هغه د شاعرۍ پر فورم او محتوی، د حاجي جمعه په دېوان کي د يوې قصيده وشمي غزلي تر اغېزې لاندي پر پښتو قصصي ادب باندي دوولس مخه څېړنه، د حاجي جمعه پر ادبي شهرت او ادبي لار، د دېوان د خطي نسخې پر ځانګړ تياوو او د چاپي نسخې پر لارښود ږغېدلی دئ. تر دغو اوږدو خبرو وروسته د دېوان متن شروع کېږي چي د خطي نسخې پر خلاف ئې د دوو دفترو پر ځای په يوه دفتر کي ترتيب کړی دئ. د خطي نسخې د دوهم دفتر اشعار ئې په متن کي د ستوري په نخښه نښاني کړي دي. ټول متن ۱۵۳ مخه نيولي دي او په پای کي ئې لغتنامه (۲۱مخه د دوو مخو خاطرې په ګډون) راغلې ده. لکه وړاندي چي مو هم اشاره ورته کړې ده، دغه لغتنامه د پوهاند رشاد په قلم ليکل سوې ده او په هغې کي د حاجي جمعه په کلام کي د راغلو تصوفي اصطلاحاتو تشريحي معناوي د الفبې په ترتيب بيان سوي دي. لغتنامه هم د نصيرهنر پښتون په لاس خطاطي سوې ده.

د حاجي جمعه بارکزي دغه چاپي دېوان د متنپوهني پر اصولو باندي تر ډېري اندازې برابر خېژي. د متن د مرتب دا خبره چي وايي: "... زه دا ادعا نه لرم چي دا يو کره او له هره حيثه سهي متن دی..." (د سريزي ۳۶مخ) ما ته دا جرئت راکړ چي متن ته په انتقادي نظر وګورم او کله چي مي په دقت وکوت ځو داسي ټکي مي پکښې وموندل چی په دوهم چاپ کي ورته پاملرنه په کار ده.

د متن د مرتب په خبرو کي چي په پښتو ادب کي د عاشقانه قصو په باب دوولس مخيزه څېړنه راغلې ده، په خپل ذات کي د ستايني وړ کار دئ خو د يوه دېوان په سريزه کي د دومره تفصيلي بيان د اړتيا له پاره توجيهي منطق نه سي موندل کېدلای.

د دېوان متن له دوو خطي نسخو څخه برابر سوی دئ چي يوه ئې ښايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اصل دېوان نقل وي او بله ئې د نقل سوي نسخې نقل دئ. اول نقل ئې د ملا مطلوب په قلم او دا بل نقل ئې د مرحوم محمدگل نوري په لاس ليکل سوی دئ. د دغو نسخو په باب د سريزي تر نهه ويشتم مخ وروسته لازم معلومات ورکول سوي دي او په هغو کي د نسخې اندازه، کاغذ، ليک، املايي ځانګړتيا او نوري ضروري خبری پکښې سته. د نقل په برخه کي ئې ليکلي دي چي: "مرحوم استاد نوري د حاجي جمعه د خطي نسخې د نقل ستونزه هم پر ځان منلې، او دغه ديوان ئې نقل کړی دئ ... د نقل په پيل کی د استاد نوري يو مخيز يادښت هم لري، په هغه کی د حاجی جمعه لنډه سوانح بيان شوي، او د ديوان د خطی نسخی د پيدا کولو په باب يی هم خبرې پکی کړې دي". (د سريزي ۳۳مخ). د مرحوم استاد نوري دغه يادادښت بايد د يوه تاريخي سند په توګه رانقل سوی وای او يا لږ تر لږه ئې د دغي خطي نسخې د پيدا کېدلو جريان د مرحوم نوري له خولې ليکلی وای.

ښاغلي مرتب وايي: "د دغه متن په تصحيح او چاپ ته برابرولو کی د شاعر د خپلی لهجی پوره پوره خيال ساتل شوی دی. دا د متن څېړنی يو عمده اصل دی، چی مصحح او د متن څېړونکی بايد د متن په ژبه کی لاسوهنه و نه کړی ... مګر ما په دغه متن کی په پوره امانتدارۍ تر خپلی وسی پورې د شاعر خپله لهجه او د هغې لهجې ژبنی خصوصيات له پامه نه دي غورځولي". (د سريزي ۳۷مخ). د متن په تصحيح کي رشتيا هم دا کار ډېر مهم دئ او د حاجي جمعه د ديوان مرتب په رشتيا سره د شاعر خپله لهجه تر ډېره ځايه په پام کي نيولې ده. مګر بيا هم په متن کي داسي ځايونه سته چي د شاعر له لهجې سره سم ثبت سوي نه دي او يا ئې په ثبت کي نيمګړتياوي سته. لومړۍ نيمګړتيا دا ده چي د شاعر د لهجې دغه مشخصي ځانګړتياوي په متن کي په بشپړه توګه ښوول سوي نه دي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال په توګه د شاعر په لهجه کي د اوږدې ياء استعمال د نورو لهجو په پرتله لږ دئ. د دېوان مرتب دغه راز مواردو ته ډېره پاملرنه نه ده کړې. لکه په ۴۴مخ کي "راپورې، تورې خاورې" په ۴۵ مخ کي "چيرې"، په ۴۶ مخ کي "پورې، دې" په ۴۷ مخ کي "بدې" کلمات ټول په اوږده ياء ثبت سوي دي په داسي حال کي چي دغه کلمات د شاعر په لهجه کي په لنډه ياء سره د "راپوري، توري خاوري، چيري، پوري، دي، بدي" په ډول تلفظ کېږي. د "چي، کي، مي" ياګانو ته خو ټکي بيخي ايښوول سوي نه دي. دا کار ښايي د مطبعې پر کارکوونکو باندي حواله سي خو د متونو مصحح ته په کار ده چي متن تر ټايپ وروسته هم په دقت سره وګوري. په ۳۹مخ کي "نې ازل له ابتدا سته چي وو کله" نيم بيتي کي "له" د شاعر په لهجه کي د "لره" پر ځای کارېږي. دغي ځانګړتيا ته بايد په لمن ليک کي اشاره سوې وای، چي نه ده سوې. د شاعر د لهجې "نې = نه ئې، بې = به ئې، سرې = سره ئې،..." ښه پوره دقت سوی دئ او په لمنليکونو کي اشارې ورته سوي دي. خو په دغو لمنليکونو کي زياتره ليکدودي نيمګړتياوي سته او د "نی = نه ئې" په شکل ئې کښلي دي. دلته بايد "نی" په اوږده ياء ليکل سوی وای. په بې ټکو ياء سره "نی" د نل معنا لري. دغه راز ليکدودي نيمګړتياوي د ان دپاسه دي، چي په دوهم چاپ کي بايد کلکه پاملرنه ورته وسي.

په لغتنامه کي يوازي تصوفي اصطلاحات معنا سوي دي خو په دېوان کي نور حل طلب لغتونه په پېخر سته چي په لغتنامه کي ئې راوړل لازم ول.

مرتب وايي چي پارسي کلام ئې "د ادبي ضعف له امله ... له ديوان څخه وغورځول شو" (۳۸مخ). د پارسي کلام د ادبي کمزورۍ مسئوليت د شاعر پر اوږو پروت دئ. مصحح ته په کار نه ده چي د شاعر له کلام څخه يوازي قوي اشعار غوره او ثبت کړي. د لوی احمدشاه بابا په دېوان کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارسي کلام څه، چي پښتو کلام ئې لا هم په پېخر کمزورۍ لري. مګر له دا ټولو کمزوريو سره سره موږ د بابا کلام ټول خوندي کړی دئ. د خوشحال خان ختک په کلام کي ځيني داسي کلمات کار سوي دي چي زموږ کلتوري نورمونه ئې د کلام بې عفتي بولي. خو د خان د دېوان تصحيح کوونکو کټ مټ رااخيستي دي. مصحح ته د چا خبره "نه بند سته، نه زندان". دی د متن رانقل کوونکی دئ. د متن د ښو او بدو مسئول په خپله شاعر دئ.

دا هغه عمده ټکي دي چي د حاجي جمعه د دېوان په دوهم چاپ کي پاملرنه ورته بويه.

## ۲۹-د حبيب الله دېوان:

حبيب الله د دوولسمي هجري قمري پېړۍ د پای په کلونو کي شاعري کړې ده او مردف پښتو دېوان لري. د دغه دېوان يوه نسخه سته او هغه واردواره د هندوستان د ټونګ د نوابانو ملکيت وو، چي وروسته ئې د ډيلي موزيم ته يووړل سوه او اوس هورې خوندي ده. دا نسخه د ځمکنو د مياعمر رحمة الله عليه (۱۱۹۰ هـ ق = ۱۷۷۶ع مړ) د مشر زوی ميامحمدي صاحبزاده په غوښتنه د ګل محمد پېښوري په کتابت په ۱۱۷۵هـ ق کال خطاطي سوې ده. د دغي نسخې مايکروفيلم د هندوستان پخواني پښتانه جمهور رئيس دوکتور ذاکر حسين افغانستان ته د خپل سفر په ترڅ کي (۱۹۶۶ع کال) پښتو ټولني ته د نورو ډېرو مايکروفيلمونو سره د سوغات په توګه راوړی وو. دا مايکروفيلم تر ۱۳۵۵ش = ۱۹۷۶ع کال پوري بې استفادې پروت وو او په همدې کال د پښتو ټولني د ادبياتو د څانګې غړو څېړنمل محمدعارف غروال او څېړنيار واجد په لاس نقل او چاپ ته تيار سو. دغه نقل په ۱۳۶۰ش = ۱۹۸۱کال د څېړنمل غروال په "سريزه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمون" د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ سو او لغتنامه ئې هم د ده له خوا ورسره مل سوه. د چاپ سوي دېوان په سر کي د "حبیب الله او د هغه دېوان" په سرلیک سریزه (۱۷مخه) راغلې ده او په هغې کي د شاعر پر ژوند، زمانه، شاعرۍ باندي خبري سوي دي او د خطي نسخې په باب ئې هغومره معلومات ورکړي دي چي ما پورته لنډه اشاره ورته کړې ده. د خطي نسخې د لیکدودي ځانګړتیاوو خبره ئې، چي متنپوهان ئې لازمي ګڼي، نه ده کړې چي باید په پټه خوله تر تېر سوي نه وای. تر دغي سریزي وروسته متن شروع کېږي چي له اتلسم مخ څخه پیل او پای ئې ۱۷۴یم مخ ته رسېږي. په متن کي غزلي، متفرقات (رباعۍ، مخمسونه او الفنامه) سته. تر متن وروسته ئې په درو مخونو کي "د غزلونو په ترتیب خاص نومونه" راوړي دي او بیا ئې ویی پانګه (پنځه مخه) ورسره نښلولې ده. په ویی پانګه کي ئې لغتونه د غزلو د نومرو پر اساس اوډلي او معنا کړي دي.

د متن ناسم ځایونه ئې سم کړي دي او په لمنلیکونو کي ئې اشارې ورته لیکلي دي. ځیني کلمات چي ئې د شعري وزن د پوره کولو په نیامت پر زیات کړي دي، هغه ئې هم په حاشیو کي ښوولي دي. دغه راز اضافي کلمات معمولاً په قوسینو کي راوړل کېږي او د حاشیو لیکلو ضرورت ئې نه وي. خو د حاشیو لیکلو شکل ئې هم متنپوهان نه کړي. د متن د لمنلیکونو عددونه ځای ځای سم نه دي راغلي. لکه په شلم مخ کي چي دوهمي حاشیې ته هم (۱) لیکل سوی دئ، په پنځه ویشتم مخ کي یوه حاشیه ده خو په متن کي دوه ځایه ښوول سوې ده، په شپږویشتم مخ کي دواړو حاشیو ته (۱) لیکل سوی دئ،... دغه راز موارد چاپي تېروتني دي او د سمون لیک لیکل ورته بویه. د حبیب الله دېوان سمون لیک نه لري. ځیني ځایونه چي د لوستلو نه ول، هغو ته ئې په لمنلیکونو کي اشارې کړي دي.

ما چي دغه ځایونه وکتل یو څه مي نوک په جګېدلی او هغه په دې ډول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– په ۲۲مخ کي د حضرت علي کرم الله وجهه د منقبت د یوه بیت د دوهم نیم بیتي په لوستلوکي مرتب ته ستونزي پېښي سوي دي او کټ مټ ئې لیکلي دئ. بیت داسي دئ:

ډیر د ده کارونه وو له عقله راوتلي
ښه مو دي راوړي پروي د لام ملا

په دغه بیت (پروي) د خطي نسخو د تعامل له مخي (په روي) هم لوستل کېدلای سي او( په رَوِي) هم. ما ته د دوهم نیم بیتي سم شکل داسي ایسي:

"ښه مو دي راوړي په رَوِي د لام و لا"

درانه لوستونکي پوهېږي چي "رَوِي" د قافیې اصلي توري ته ویل کېږي چي د قافیې رکن هم ورته وايي. علامه رشاد رحمة اله علیه په خپل یوه فارسي شعر کي چي"بر کفن دزد کهنه صد رحمت" ئې سرلیک دئ، د "کفن دزد" د شیطان صفته زوی په باب لیکي:

پســــــری داشت تربیت دیـده
گـــــــوی تلبـیس از پدر برده
دشمن صدق و خصم راست روی
در پســا وند مَـــکر حرف رَوِی

په وروستي نیم بیتي کي د علامه مرحوم مراد دا دئ چي د کفن کښ زوی له "مکر" او فرېب سره داسي تړلی او نه بېلېدونکی وو، لکه (روي) توري چي د قافیې له کلمې سره حتمي وي.

د حبیب الله په پورتني شعر کي شاعر زماپه خیال هغه فارسي بیت ته اشاره کوي چي د څلرم خلیفه په باب ویل سوي دئ:

شاه مردان شیر یزدان قوت پروردگار
لافتي اِلاّ عـلي لاسیف اِلاّ ذوالـفقار

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د دغه بیت مفهوم پښتو دېوان لرونکي شاعر یونس په یوه پارسي غزل کي داسي راوړی دئ:**

سیف النظر که همچو تو ئی درجهان کجاست
نه هـــــرفتاعـلي است، نه هر تیغ ذوالفـقار
(دېوان ۷۸مخ، چاپ ۱۳۵۶ش)

**د حبیب الله په بیت کي له "لام ولا" څخه به د شاعر مطلب د دغه فارسي بیت ( لا، لا) وي چي په نیم بیتي کي د (رَوِي) کار ورکولای سي او بې دې تورو شعر هم د معنا او هم د وزن له مخي نیمګړی کېږي. (المعني في البطن الشاعر).**

**- په ۲۷ مخ کي د یوې غزلي مقطع داسي ثبت ده:**

چي فریاد حبیب الله کا ستا په مینه
روغ عالم ورته نعره کا مهـیرک بلا

**دوهم نیم بیتي ته ئې په لمنلیک کي کښلي دي: " کټ مټ ولیکل شو".**

**د دوهم نیم بیتي سم شکل داسي دئ:**

"روغ عالم ورته نعره کا، مرګ، بلا"

**"مرګ، بلا" د نفرت او نفي کلمات دي چي پښتانه ئې په ورځنیو محاورو کي کاروي. ښځمني چي اولاد ته په قهر سي، ورته وایي:**

**"مرګ، بلا! څه چیغي دي شروع کړي دي".**

**شاعر وایي چي که زه ستا په مینه فریاد وکړم، ټول عالَم راته وایي چي "مرګ،بلا"، خوله دي پټه که (کړه).**

**- په ۲۸ مخ کي یو بیت داسي دئ:**

د غم و له به یې نهل وي په زړه کي
بې غم کله وي غمخوار د دې دنیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړي نیم بیتي ته ئې "کټ مټ ولیکل شو" حاشیه کښلې ده. زما په خیال سم شکل ئې داسي دئ:

"د غم وله بې نهال وي په زړه کي"

یا

"د غم و له بې نهاله وي په زړه کي"

"وله" دلته د هغي وني په معنا راغلې ده چي په فارسي ژبه کي "بید" ورته وايي.

– په پنځوسم مخ کي:

ستا د غم او ښې مې تل په مخ بهيږي
مـــارش مې د ژوند شـــو دفـــتر تر

وايي دوهم نیم بیتي "کټ مټ ولیکل شو".

سم شکل ئې داسي دئ:

"په بارش مي ئې د ژوند شو دفتر، تر"

د نیم بیتي "مې" د "مي ئې" مخفف دئ.

– په یو پنځوسم مخ کي دا بیت:

د دلبرو همراهي به مي مـدام کـړه
که مې نه واي په خاطر د افشر، شر

دوهم نیم بیتي ئې ناسم ګڼلی دئ او لیکلي ئې دي چي "کټ مټ ولیکل شو". سمه بڼه به ئې داسي وي:

"که مې نه وای په خاطر د اشر، شر"

شاعر وايي ما غوښتل چي هر وخت له دلبرو سره همراه او ملګرى واوسم. خو په (اشر) یا (ملګرتیا) کي تل (شر) پېښېږي، که مي دغه حقیقت په خاطر کي نه وای، تل به له دلبرانو سره مل وای.

– په ۷۴ مخ کي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ گورجي ټټو د سراي يم لګېدلي
چي له ځمکي بې خبره شهسوار کړم

اول نيم بيتي ته ئې په حاشيه کي ليکلي دي چي په اصل کي "جوړ کرهي (ټټو)" ليکل شوي دئ. مرتب د (کرهي) په لوستلو کي ستونزه پيدا کړې ده او پر ځاي ئې له ځانه څخه "ګرجي" صفت وراچولی دئ.

د نيم بيتي اصلي او سم شکل داسي دئ:

"جوړ کرهي ټټو د سراي يم لګېدلي"

له "کرهي" څخه مراد "کراهي" دئ يعني هغه ټټو چي څښتن ئې نورو ته په کراهيه ورکوي. پخوا به ځينو خلکو د کراهيې په نيامت ټټوګان (خره) په سرايو (کاروانسرايو) کي ساتل. دا خر چي به چا کراهيه کړ، بار به ئې تر مزله په ورساوه، نور به ئې بيرته خاوند ته تسليم کړ. دا خره (خرونه) به په هفتو هفتو له يوه لاسه بل لاس ته کېدل او ځل به پر پروت وو. آخر به ئې د ګېډې هغه ځايونه چي تانګ به پر تړلی وو، ولګېدل يعني زخم به سول. د کراهيې خرو به د دغو زخمو له اسيته منډه نه سوای کولای.

شاعر د دغه غزل په هر بيت کي د ځان مذمت او خواري بيانوي. دی وايي چي لکه د کاروانسرای د کراهيې ټټو په شان مي بدن لګېدلی دئ، زخمي يم او تر شهسوارانو لاندي داسي نه سم ځغستلای چي هغه دي نوره مځکه وليدلای سي.

- په ۹۷ مخ کي هم د يوه بيت دوهم نيم بيتي ته "کټ مټ وليکل شو" حاشيه راوړل سوې ده. بيت داسي دئ:

د عالـــمو انبوهي وه، په لـــوري ئې خـــوښي وه
د هر چا په لمښيو ماسي وه، آه ارمان دي کندهاره

دا شعر د کندهار په توصيف کي ويل سوی دئ. د دوهم نيم بيتي سم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکل داسي دئ:

"د هر چا په پښو ماسي وه، آه ارمان دي کندهاره"

شاعر وايي په کندهار کي ډېرخلک ول، هر لور ته خوښه خوشالي وه، هر چا (ماسئ) په پښو کړي وې، ...

(ماسئ) د څرمنو يو راز جراب وشمه توکي دي چي ماړه او هستمن خلک ئې د ژمي په موسم کي اغوندي او بيا سربېره بوټونه پر په پښو کوي. د نېستمنو خلکو خو پښې لڅي (لوڅي) وي، دی وايي چي د کندهار خلک دومره ماړه ول چي هر چا له بوټو سره (ماسئ) هم اغوستلې.

- په ۱۷۴مخ کي دوو نيم بيتيو ته "کټ مټ وليکل شو" حاشيې راغلي دي.

"ته که د ازل په قسمت راضي شې په چشمان"

د دغه شعر ټولي مصرعوي د يارلس سېلابه دي او دا نيم بيتی څورلس دئ چي په لږ تصرف ئې يوه هجا کمېدلای سي.

"ته که په ازل قسمت راضي شې په چشمان"

د همدې شعر بل نيم بيتی چي سم نه دئ لوستل سوی، دا دئ:

"زه به راحتگي و ستا سورټ ته رسوم"

سم لوستنګ ئې داسي دئ:

" زه به راحتگي ستا و صورت ته رسومه"

(ديارلس سېلابه)

دا هغه ځايونه ول چي په راتلونکي چاپ کي بايد په سم شکل سره وليکل سي.

د حبيب الله په دېوان کي ځيني لغتونه په حاشيه کي معنا سوي دي او په ويي پانګه کي ئې مکرر راوړي دي لکه: ۳۰مخ، ۳۵مخ.

د لمنليکونو عددونه ځای ځای ناسم دي لکه: ۲۰مخ، ۲۵مخ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۶مخ،...

چاپي غلطۍ هم لري.

په ويی پانګه کي ئې هر لغت ته د اړوندي غزلي نمبر ليکلی دئ خو ځای ځای په نمبرو کي لاندي باندي سته. لکه (ارهنده) لغت چي په ۸۲يمه غزله کي دئ، په ويی پانګه کي ئې ۸۴ ورته کښلي دي ... دا رنګه نمونې نوري هم ستة.

په پای کي به د دې خبري کول حتمي وي چي له يوې واحدي نسخې څخه، چي هغه بيا اصل نسخه نه وي او مايکروفيلم ئې وي، تر دې زيات دقيق متن نه سي تهيه کېدلای. مرتب خپل نهايي کوښښ کړی دئ او د پښتو ادب پر زېرمه ئې يو غوره دېوان ور زيات کړی دئ.

## ۳۰ - تذکرة الاولياء:

د تذکرة الاولياء په نامه د کوم کتاب څو پاڼي دي چي ليکونکی ئې سليمان ماکو دئ. دغه څو پاڼي د پوهاند عبدالحي حبيبي له سريزي او نښلونو سره د امير کروړ سوري د دوولس سوه پنځوسم تلين په مناسبت د افغانستان د علومو اکاډيمۍ د ژبو او ادبياتو د علمي او تحقيقي مرکز له خواپه ۱۳۶۱ش = ۱۹۸۲ع کال د کابل په دولتي مطبعه کي چاپ سوي دي. د سريزي او نښلونو په ګډون ئې د پاڼو شمېر د اصلي پاڼو له عکسي چاپ پر ته ۳۶ دئ.

په سر کي د علامه عبدالحي حبيبي په قلم دوه مخه ليکنه راغلې ده چي په هغې کي د دغو پاڼو د موندلو او نشرولو جريان، د ليکونکي پېژندنه او د دغو پاڼو پر اهميت لنډي خبري سوي دي. ورپسې سريزه (۱۸مخه) راځي او په هغې کي د پخوانيو اريايانو پر ادبي منظوماتو، د سليمان ماکو پر ژوند او زمانه، د ده د ادبي کار پر اهميت، د تذکرة الاولياء د ليکني پر ژبنيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړتیاوو او د دغو څو پاڼو پر اهمیت محققانه بحث سوی دئ. تر سریزي وروسته متن (۴مخه) بیا تعلیقات (۱۳مخه) او د هغه په تعقیب د دغو پاڼو عکسي چاپ راغلی دئ. په تعلیقاتو کي د متن پر راغلو اشخاصو باندي ږغېدلی دئ.

دا متن او د هغه اصل (عکسي) چاپ د لیکدود له مخي توپیر لري. یو توپیر خو ئې دا دئ چي د متن عبارت اوسنۍ املاء ته رااوښتی دئ او بل دا چي په اصل کي راغلي مرستندوي فعلونه "شو، شي، ..." دي خو په متن کي هغه (سو، سي، ...) سوي دي. د دې تصرف دلیل به ښایي دا وي چي متن د لیکوال (سلیمان ماکو) په خپله لهجه ثبت سوی دئ.

د دې څو پاڼو ادبي اهمیت خورا ستر دئ ځکه موږ ته د اوومي هجري پېړۍ د پښتو نثر نمونه په لاس راکوي. د دې پاڼو تر موندلو وړاندي موږ د یوازي د روښاني ادبیاتو بیلګې درلودې چي په لسمه هجري پېړۍ کي ایجاد سوي دي.

## ۳۱ - د عبدالحمید مومند دېوان:

د عبدالحمید مومند دېوان ښاغلي زلمي هیوادمل د علمي پروژې په توګه برابر کړي دئ او د هغه په ترتیب کي ئې له ۲۴خطي او چاپي نسخو څخه کار اخیستی دئ.

د دېوان په سر کي "د دیپارتمنت د مدیر نظر" په دوو مخو کي راغلی دئ او کلیشه یي خبري پکښې سوي دي. ورپسې د "عبدالحمید مومند او د هغه دېوان" تر غټ سرلیک لاندي د یوې غټې رسالې په اندازه اوږده څېړنه (۱۳۷مخه) راغلې ده او په هغې کي د حمید مومند پر پېژندنه، ادبي شهرت، ادبي لار، ادبي پلویان، د حمید پر شاعرۍ، د دېوان پر خصایصو او د اشعارو پر ترجمو، د حمید پر آثارو او تالیفاتو او په پای کي د حمید د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېوان پر همدغه متن باندي محققانه خبري سوي دي. تر دغي رساله وشمي سريزي وروسته د دېوان متن شروع کېږي چي ۴۱۱مخه ئې نيولي دي. ورپسې لغتنامه راځي (۱۲مخه)، بيا د ماخذونو ليست (۱۸مخه) او په پای کي سمون ليک. زما مخ ته چي همدا اوس (د ۲۰۱۱ع کال د نومبر شلمه) د دغه دېوان کومه نسخه پرته ده، پر ځلور سوه ځلور ځلوېښتم مخ پای ته رسېدلې ده او سودا راولوېدله چي نه ګانه د پای څو پاڼې به ئې کنډو وي. خو چي پوښتنه مي وکړه، نوري نسخې هم سته چي پر ۴۴۴ مخ پای ته رسېدلي دي (د ګران روهيال په حواله).

له ۲۴ نسخو او مايکروفيلمو څخه د يوه متن برابرول خورا شاقه کار دئ او مرتب پر دغه کار باندي د يو لړ اوږدو وقفو په ګډون اووه کاله لګولي دي. د متن له پاره د اصل په توګه د لاهور چاپ يوه نسخه ټاکلې ده[1]. ښاغلي مرتب خو دغه نسخه د متنپوهني له اصولو او اړتياوو سره سم په تفصيلي توګه معرفي کړې نه ده يوازي ئې دومره ليکلي دي چي "ما دغه ديوان له لاهوري چاپ نه که څه هم غلط و د پاړکو د ډېروالي او بشپړتوب له امله نقل کړ" (۹۲مخ)، خو زما په خيال دا چاپي نسخه به غالباً هغه نسخه وي چي د ملاعبدالغفار هوتک کندهاري له خوا په ۱۳۳۱هـ ق کال په لاهور کي چاپ سوې ده او ښاغلي مرتب ئې په ۹۱ مخ کي يادونه کړې ده. د اصل نسخې تفصيلي نه معرفي کول د دغه انتقادي متن په نيمګړتياوو کي راتلای سي. د دېوان د انتقادي متن د هر مخ په پای کي ئې تفصيلي نسخه بديلونه راوړي دي، د متن د اصل نسخې غلطۍ ئې تصحيح کړي دي او وايي چي: " ... په لږو مواردو کي مي د اصل غلط شکلونه په لمنليکونو کي هم راوړي دي" (د سريزي ۱۱۷مخ). زما په فکر که ئې ټول غلط موارد په

---

[1] وګ: د سريزي ۹۲مخ او ۱۱۴مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاشیو کي راوړي واى، تر ښو به لا ښه واى.

د دغه متن په باب به زه د متن د ترتیبوونکي خپل قضاوت رانقل کړم ځکه که ما په خپله هم د دغه انتقادي متن په باب نقد لیکلاى، همدې ټکو ته به مي اشاره کړې واى.

ښاغلي مرتب په خپله سریزه کي د دغه انتقاد د ښېګڼو پر څنګ د هغه نواقص هم بیان کړي دي (وګ: د سریزي ۱۱۸مخ) چي عمده ټکي ئې دا دي:

- د متن له پاره چي کومه نسخه د اصل په توګه ټاکل سوې ده، د دې نه وه چي د اصل له پاره دي انتخاب سوې واى. د هغې پر ځاى که د پوهاند دکتر جاوید نسخه چي هم قدیمه نسخه ده او هم د باور وړ، د اصل په توګه غوره سوې واى او بیا به له نورو چاپي او خطي نسخو سره مقابله سوې واى.

- په متن کي ځیني غزلي رانقل سوي دي چي حمید مومند ته د هغو نسبت نوره څېړنه غواړي.

- د دیوان ترتیب او تردیف ته هم ګوته نیول کېدلاى سي.

ښاغلي مرتب په خپل یوه بل اثر کي چي "د متن څېړني میتودولوژي" نومېږي (چاپ ۱۳۶۹ش)، د انتقادي متن د تهیه کولو پر وخت د اصل په توګه د کومي نسخې د ټاکلو پرنسیبونه بیانوي او د هغو په ترڅ کي د حمید مومند د دغه انتقادي متن په باب لیکي چي: "... د عبدالحمید مومند د دیوان هغه متن چي د څلیریشتو نسخو له مخي ما خپله تهیه کړي دي، لوړ پرنسیبونه مي په پام کي نه دي نیولي، متن مي د اصل په توګه د یوې مغلوطي چاپي نسخي له مخي رانقل کړي دي، او بیا مي له نورو چاپي او خطي نسخو سره مقابله کړي دي، ..." (وګ: د هماغه اثر ۳۸مخ).

زه د حمید مومند د دېوان دغه متن له پورته یادو سوو نیمګړ تیاوو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شمېر نورو کوچنیو چاپي تېروتنو سره سره د بشپړ اعتماد وړ متن بولم.

## ۳۲ - د سکندر شمایلنامه او پندنامه:

دا دوې "نامې" د خوشحال خټک د زوی سکندر خان خټک دي چې د ښاغلي زلمي هیوادمل له "سمون، سریزي، نښلونو او لمنو" سره د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز له خوا په ۱۳۶۴ش = ۱۹۸۵ع کال د پنځو سوو ټوکو په تېراژ د کابل په دولتي مطبعه کي چاپ سوي دي. عین متن تر دې وړاندي کابل مجلې د اشرف خان هجري (۱۶۳۴ - ۱۶۹۴ع) د بین المللي سیمینار په ویاړ خپور کړی دئ.

د رسالې په سر کي د کابل مجلې د مسئول نورمحمد سهیم په قلم دوه مخه "مخکیني خبري"، وروسته د "سرې" په عنوان دوه مخه بیان د پوهاند میرحسین شاه په قلم، بیا د "احقرالعبادز، هـ" په قلم دوه مخه "د سر خبرې"، ورپسې اتلس مخه سریزه راغلې ده. په سریزه کي د سکندر خان خټک پر ژوند او مؤلفاتو خبري سوي دي. له شپږویشتم مخ څخه د شمایل نامې متن شروع سوی او پر ۳۴مخ ختم سوی دئ. بیا د پندنامې متن شروع کېږي او پر څلوېښتم مخ پای ته رسېږي. تر متن وروسته نهه مخه تعلیقات راغلي دي چي په هغو کي د دغي متني رسالې پر ماخذو او پښتو شمایلنامو باندي تفصیلي بحث سوی دئ. تر تعلیقاتو وروسته په شپږو مخونو کي د هغو ماخذونو فهرست راغلی دئ چي د سریزي او تعلیقاتو په کښلو کي استفاده ورڅخه سوې ده. د رسالې ټول مخونه ۵۵ دي او رساله پروفیسور تقویم الحق کاکاخېل ته اهداء سوې ده.

د رسالې تر تیبوونکی ښاغلي زلمي هیوادمل دئ چي په دغه وخت کي ئې د تواضع او شکسته نفسۍ له اسیته له نامه سره "احقرالعباد" کیښی.

داسي ښکاري چي د سکندرنامې او پندنامې مستقل چاپ دي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجله سر ته رسېدلی وي، ځکه رساله سره له دې چې د هر مخ په پای کې مسلسله نومره لري خو د پاڼې پر سر د کابل مجلې نوم او د مربوطه مخ نومره هم ورباندې پاته سوې ده. د رسالې د دوهم مخ په کښته برخه (۲) او پر تندې باندې (۶۰) لیکل سوي دي او په دې ترتیب د رسالې د پای مخ په لاندنۍ برخه کې (۵۵) او پر پاسنۍ برخه باندې (۱۱۳) نومره لري.

د عجلې نښانې ئې له دې څخه هم ښکاري چې د کابل مجلې په چاپ کې ئې د راغلو تېروتنو د سمولو هڅه هم نه ده کړې او هماغسې ئې ناسمې پرې ایښې دي.

د رسالې د دواړو "نامو" متن ته خطي نسخه د اصل په توګه ټاکل سوې ده. دا نسخه سکندرخان خټک د دېوان یوه نسخه وه چې مرتب ته ئې د مطالعې موقع په ۱۳۵۶ش کال میسره سوې وه. په دغه دېوان کې د شمایلنامې او پندنامې بشپړ متنونه خوندي ول او مرتب د ځان له پاره کاپي کړي، بیا ئې له چاپي دېوان سره مقابله کړي او اختلافونه هم ضبط کړي ول.

د اصل نسخې په باب مرتب د سریزې په اتلسم مخ کې تفصیلي بیان سته او نسخه ئې له ټول کم و کیف سره راپېژندلې ده.

د متن ګران لغتونه په حاشیو کې معنا سوي دي. په متن کې د یاګانو مراعات کورټ نه دئ سوی. دا د افغانستان د دولتي نشراتو عمومي ستونزه ده چې د توجیه له پاره به ئې دلایل وي خو د برئت له پاره ئې کافي نه دي.

اوس به پر هغو مواردو باندې ورغږېږم چې په بل چاپ کې باید توجه ورته وسي.

**الف – چاپي غلطۍ:**

د ۱۲مخ په شلمه حاشیه کې د لام ابجدي ارزښت (۳۰۰) ښوول سوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ چي باید (۳۰) لیکل سوی وای.

د ۱۶مخ شپږدېرشمه حاشیه باید اووه دېرشمه او اووه دېرشمه باید شپږ دېرشمه سي.

د ۲۵مخ پنځه پنځوسمه حاشیه درې لیکي (کرښي) ده. دوهمه لیکه باید تر دریمي لیکي وروسته ولیکل سي.

د ۲۹مخ د شلمي حاشیې په وروستۍ جمله کي باید د (رکاز) کلمه په (رکاب) سره سمه سي. اولنو په خطي نسخو کي د پاڼو پر سر عدد نه کیښ او د هر مخ په پای کي به ئې د پاڼي په کیڼ کونج کي د راتلونکي مخ د لومړۍ لیکي د سر توری کیښ. دغه توري ئې (رکاب) باله.

د ۳۷مخ د دوهم بیت دوهم نیم بیتي باید "تر صحبته نشته بده بده بده" ولیکل سي. په متن کي "تر صحبت نشته بده بده" دئ چي وزن ئې درې هجاوي کم دئ. د دغه مخ په ۵۲مه حاشیه کي ئې د دغه نیم بیتي په باب د مرحوم استاد کامل حدس رانقل کړی دئ چي بالکل پر ځای دئ خو په متن کي ئې شامل کړی نه دئ. دا کار باید سوی وای.

د ۳۸مخ د نهه پنځوسمي حاشیې په باب ملاحظه که څه هم په چاپي غلطیو کي نه راځي، خو دلته به پر وړغېږم. دغه حاشیه د همدې مخ د دوهم بیت په ارتباط لیکل سوې ده. بیت داسي دئ:

په قهقه چي په عــــالَمو کي خندل شي
زړه ئې و مري په سینه کي نور غافل شي

په نوموړې حاشیه کي وایي چي په چاپي دېوان کي دوهم نیم بیتی داسي دئ:

"زړه ئې و مري په سینه کي ئې اوربل شي"

زما په نظر، د حاشیې ثبت باید په متن کي داخل سوی وای. په متن کي "خندَل" او "غافِل" سره قافیه سوي دي او د قافیې د رَوِي حرکتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



توپیر سره لري. سکندرخان ختک د دې سویې شاعر نه وو، چې دغه راز عیبجنه قافیه دي وتړي. دا کار هرومرو د کاتب یا ناقل تېروتنه ده. د حاشیې "اوربَل" د متن له "خندَل" سره تړل کېدلای سي چې په دې ډول به شاعر هم د قافیوي عیب له الزامه خلاص سي.

نوري وړې وړې چاپي تېروتني هم سته چې هغه د جملې له سیاقه ځخه لوستونکي سم ویلای سي.

## ځېړنیز ملاحظات:

۱ – د سکندرخان ختک د مړیني نېټه معلومه نه ده، دونه قدر پوهېږو چې تر ۱۱۱۶هـ ق = ۱۷۰۴ع پوري ژوندی وو. وایي چې د دغه کال د شعبان په میاشت کي ئې دوه زامن مړه سوي او شاعر ئې پر مړینه سوي ساندي ویلي دي. د دغو دوو زامنو نومونه ئې د ارواښاد دوست محمدخان کامل د لیکني په حواله (د دېوان سکندر مقدمه ص ۱۴) "انور خان او منور خان" بللي دي[1]. د هغوی د مړیني په ارتباط ئې د سکندرخان له کلامه ځخه دوه ځایه مثالونه هم راوړي دي چې داسي دي:

انور چې یاد کـــــــړم ژاړم په کوکي
منګل مي داغ کښېښود د زړه په ځوکي
اجل شــــاهین وو، په سکندر راغي
د زړه ئې وویستې د فـــــــراق نوکي
(د رسالې ۱۲مخ)

بل ځاي:

[1] د فراقنامې د تعلیقاتو په پنځه دېرشم مخ کي هم د سکندرخان زامن انور او منور بلل سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انور منگل لاړل په ښه ځواني
زما ئې خاوري کړه زندګاني
سکندره مخ کړه په ويراني
ژاړه اوس تښته له ودانې

(د رسالې ۳۳مخ د چاپي ديوان د ۲۹۹مخ په حواله)

له دې دواړو مثالو څخه خو په وضاحت سره معلومېږي چي د سکندر خان ختک د دغو دوو ځوانيمرګو زامنو نومونه يو "انور" او بل "منګل" ول. د (منور) نامه څرک خو له دې مثالو څخه نه سي لګېدلای. له امکانه ليري نه ده چي د کامل مرحوم په ليکنه کي دي د "منګل" نوم په سهوه سره په "منور" اوښتی وي.

۲ – د شمايلنامې د پای له خوا دوهم بيت داسي دئ:

که لحد مي شي تورتم په ګناهونه
خدايه ما ته ډيوه بله کړې له هونه

(د رسالې ۳۴مخ)

دې بيت ته ئې د همدې مخ په دوڅلوېښتمه حاشيه کي د استاد دوست محمدخان کامل شرح په دې ډول رانقل کړې ده: "هون عربي کي سپکوالي، سپکاوي او آرام ته وايي او هون ذلت، بي عزتي او خواري ته وايي ... ممکنه ده چي د شاعر مطلب دا وي که زه هر څومره ګنهګار، خوار، ذليل يم سره د دې حالت مي د سرور د محبت د داغ نه چي ته راته په سينه رااوبخښې په ګور کي راته ډيوه چراغ ساز کړه"[1].

د کامل مرحوم تاويلات خو د درناوۍ وړ دي خو له متن سره سر نه خوري. سبب ئې دا دئ چي شارح "هونه" يو لغت لوستی دئ. په داسي

---

[1] نقل قول کټ مټ رانقل سوي دئ. (هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال چي دا یو لغت نه دئ، بلکي "هو" او "نه" دوې بېلي کلمې دي یعني (له "هو" نه)، (له "هو" څخه). شاعر خدای ته التجاه کوي چي د "لحد تورتم" ئې د "هو" په ډېوه روښانه کړې. "هو" د پاک خدای اسم ذات دئ (غیاث) د عرفاوو او صوفیانو په نزد په اذکارو کي د "هو" ذِکر تر نورو ټولو اذکارو بهتر دئ. او د شاعر مراد هم همدغه دئ.

۳ – سکندرخان ختټک د شمایلنامې مثنوي د اخوند درویزه له شمایل څخه په پښتو نظم ژباړلې ده (وګ: د رسالې ۳۳مخ) او د پندنامې په باب وایي چي دغه مثنوي ئې د خواجه یوسف خزاني (نقشبندي) له پارسي کتابه په پښتو رااړولې ده. د ده خپل بیان داسي دئ:

په یو وقت خواجه یوسف خزاني وه
په بزرګي کي ستاره د یماني وه
په بزرګي په ریاضت کي بې همتا وه
خپل احوال ئې پټاوه مرتاض دانا وه
خُفیه ذکر ئې کاوه نقشبندي وه
د خدای امر ئې منلي په تندي وه
لوي کتاب ئې د پندونو دي جوړ کړي
ښه ئې زړه د طالبانو دي موړ کړي
ما دا یو وصیت وکوینښ له دې کتابه
په پارسي وو، په پښتو مي کړ احبابه
(د رسالې ۳۹ – ۴۰ مخونه)

ښاغلي مرتب د تعلیقاتو په ۴۳مخ کي کښلي دي چي له ډېر لټون سره سره ئې د "خواجه یوسف خزاني په نامه" د کوم نقشبندي عارف نوم په سترګه سوی نه دئ. یوازي ئې په خزینة الاصفیاء کي د "خواجه یوسف همداني" پر نامه سترګي لګېدلي دي خو دی زړه نا زړه دئ او لیکي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



"نور نو سړي نه شي پوهېداي چي سکندر به د همدغه خواجه یوسف له آثارو څخه خپله پندنامه ترجمه کړې وي او که د بل چا؟[۱]"

زما ذهن ته هم د تعلیقاتو تر لوستلو دمخه د خواجه یوسف همداني نوم راغی او فکر مي وکړ چي د سکندرخان ختټک مراد به همدغه نقشبندي عارف وي. د پندنامې په متن کي مي د خواجه یوسف له نامه سره د "خزاني" پر لقب باندي د "خزائي" خیال څکه وکړ، چي په دغه نامه یو کلی د رضوي خراسان تربت حیدریه ته نزدې سته او د خواجه یوسف د استوګني او مړیني ځاي (مرو) هم په خراسان کي پر ته ده خو د دغه حدس له پاره مي داسي استناد پیدا نه کړ، چي زما ګومان دي په یقین رابدل کړي. دا مسئله نوره څېړنه غواړي او سمدلاسه به پر هغو خبرو باندي یو څه وړغېږم چي ښاغلي مرتب (هیوادمل صاحب) د خواجه یوسف همداني په باب کړي دي او خواجه ئې د خزينة الاصفياء په حواله د "زينة الحيات، منازل السالکين او منازل السائرين" مؤلف بللي دئ (وګ: د تعلیقاتو ۴۳مخ).

د خواجه یوسف همداني اثر "زينة الحيات" نه نومېږي، بلکي "رتبة الحيات" ئې نوم دئ. په خزينة الاصفياء کي د دغه نامه ناسم ضبط به د مفتي غلام سرور لاهوري له خوا نه وي پېښ سوی، بلکي د کاتب سهوه به وي خو د نورو تالیفاتو (منازل السالکين او منازل السائرين) نومونه چي ښاغلي هیوادمل هم راوړي دي د مفتي غلام سرور لاهوري خپل بیان دئ خو دی په صراحت سره وايي چي دا نومونه ئې د شیخ نجيب الدين برغش شېرازي د یوه خوب په حواله کښلي دي[۲]!

---

[۱] خزينة الاصفياء د مفتي غلام سرورلاهوري تالیف دئ. م. ه.

[۲] وګ: خزينة الاصفياء – ۵۲۹ مخ د لاهور چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما (هوتک) په "پرتال علوم انساني و اسلامي" کي د علي محمد مؤذني یوه مقاله لوستې ده چي عنوان ئې" مقایسه اندیشه های عرفانی خواجه ابو یوسف همدانی و شیخ نجم الدین رازی در کتاب رتبة الحیات و مرصادالعباد" دئ. په دغه مقایسوي څېړنه کي ئې د نورالدین عبدالرحمان جامي د نفحات الانس د ۳۸۲مخ (چاپ موسسه اطلاعات تهران – ۱۳۷۰) په حواله د شیخ نجیب الدین برغش شېرازي د یوه خوب داستان رانقل کړی دئ. په دغه خوب کي ابو یوسف همداني ورته ویلي ول چي منازل السائرین او منازل السالکین هم د ده تالیفات دي. مفتي غلام سرور لاهوري په خزینة الاصفیاء کي همدغه د نفحات الانس روایت، بې له دې چي ماخذ دي وښيي، رااخیستی دئ.

په نفحات الانس کي دغه روایت د شیخ نجیب الدین له خولې په دې ډول راغلی دئ: "... وقتی جزوی چند از سخن مشایخ به دست من افتاد. مطالعه کردوم، مرا به غایت خوش آمد. طالب آن مي بودم تا بدانم که آن تصنیف کیست و از کلام وي چیزي دیگر به دست آرم. شبي به خواب دیدم که پیري باشکوه و وقار محاسني سفید و به غایت نوراني به اندرون خانقاه درآمد و به متوضَا رفت تا وضو سازد و جامه سفید نیکو پوشیده بود و بر آن جامه به خطي درشت به آب زرآیة الکرسي نوشته، چنانکه سر تا پاي جامه راگرفته بود. من درعقب وي برفتم، جامه رابیرون کرد و به من داد. در زیر آن، جامه اي سبز پوشیده بود از آن نیکوتر و به همان طریق آیة الکرسي برآن نوشته، آن را نیز به من داد و گفت: نگاهدار تا وضو سازم! چون وضو ساخت، گفت: ازین دوجامه یکي را به تو میدهم، کدام رامیخواهي؟ من اختیاري نکردم. گفتم: هر چه تو میخواهي نیک آید. جامه سبز را در من پوشانید و سفید را خود پوشید. پس گفت: مرا مي شناسي؟ من مصنف آن جزوهایم که طالب وي بودي، ابو یوسف همداني و

(c) ketabton.com: The Digital Library



آن را رتبة الحياة نام است و مرا دیگر مصنفات است از آن خوبتر مثل منازل السائرین و منازل السَالکین، چون از خواب درآمدم عظیم خُرَم شدم"[۱].

دغه اوږد نقل قول په خزینة الاصفیا، جلداول، ص ۵۲۹ چاپ لاهور کي د کلماتو په لږ توپیر سره ټول رانقل سوی دئ او د (رتبة الحیاة) پر ځای ئې (زینة الحیات؟) کښلی دئ.

د اولیاء الله وو ځیني خوبونه "رؤیای صالحه" بلل سوي دي خو زه نه پوهېږم چي د خوب لیدلو حواله به نو څومره مستنده وي؟

د سکندر خټک د چاپي شمایلنامې او پندنامې ښاغلي مرتب ته به زما په خیال په خزینة الاصفیاکي د دغه روایت د "... و دیگر تصنیفات هم مرا هستند ازان خوبتر مثل منازل السالکین و منازل السائرین ..." عبارت له ناسم لوستلو څخه داسي فهمول سوی وي چي گویا منازل السالکین او منازل السائرین هم د خواجه ابو یوسف همداني تالیفات دي؟ په دغه عبارت کي د "مثل" کلمه د مشابهت له پاره راغلې ده او مراد ورڅخه دا دئ چي ابو یوسف همداني په خوب کي ورته ویلي وو چي دی نور تالیفات هم لري چي د موضوع یا اهمیت په لحاظ منازل السالکین او منازل السائرین ته ورته دي. خواجه یوسف همداني ته د دغه منسوب منازل السائزین څرک زموږ سره نسته او د رتبة الحیات د مصحح دکترریاحي له خولې: " ... ظاهرا از میان رفته است" (مقدمه مصحح: ص ۱۷). یو بل منازل السائرین د شیخ الاسلام أبي أسماعیل عبدالله بن محمدالأنصاري الهروي (۳۹۶ – ۴۸۱هـ ق) مشهور په خواجه عبدالله انصاري تالیف دئ

[۱] په انټرنيټ کي د نفحات الانس له ۳۳۷مخ څخه اقتباس سو چي "سایت فرهنگی، اجتماعی، خبری تربت جام دات کام" تهیه او ترتیب کړی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په عربي ژبه ئې کښلي دئ[۱]. د دغه اثر فارسي شرح هم سته چي مرحوم استاد نفیسي (۱۲۷۴ – ۱۳۵۴ش) ئې د رتبة الحیات د مولف خواجه یوسف همداني لیکنه بولي[۲].

رتبة الحیات د خواجه یوسف همداني یوازني اثر دئ چي راپاته دئ. یوازنۍ خطي نسخه ئې د ترکیې په ایاصوفیه کتابتون کي خوندي ده. چاپي متن ئې له همدې نسخې څخه د دکتر محمدامین ریاحي په تصحیح او مقدمه د لومړي ځل له پاره د توس انتشارات له خوا په ۱۳۶۲ش = ۱۹۸۳ع کال د نجم الدین رازي له "رسالة الطیور" سره یو ځای چاپ سوی دئ. په دغه چاپ کي د رتبةالحیات متن له ۲۷مخ څخه پیل سوی او پر ۶۸ مخ پای ته رسېدلی دئ. یوه نسخه ئې د ټورنټو پوهنتون د روبارټس په کتابتون کي په (BP ۱۸۸,۹ Y۸۷) نمبر خوندي ده او ما کتلې ده.

د مؤلف بشپړ نوم ئې خواجه امام ابو یعقوب یوسف بوزنجردي همداني دئ چي په ۴۴۰ یا ۴۴۱هـ ق کال د همدان په بوزنجرد کي زېږېدلی او په ۵۲۵هـ ق کال په "مرو" کي وفات سوی دئ. مزار ئې مرو ته نزدې دئ. خواجه یوسف په طریقت کي نقشبندي وو.

د خواجه یوسف همداني رتبة الحیات چي ما وکوت، داسي ځرک مي پکښې و نه موند چي له مخي دي ئې د سکندر خټک پندنامه د هغه ترجمه وبولم. نتیجه دا چي د پندنامې د ماخذ مسئله نوره څېړنه غواړي.

د سکندرخان خټک د شمایل نامې او پندنامې تر بحث لاندي چاپي متن په باب له دغو پورته بیان سوو څېړنیزو ملاحظاتو سره سره، چي په راتلونکي چاپ کي باید په پام کي ونیول سي، نور نو دغه متن د متنپوهني

---


[۱] د دغه اثر د دوهم چاپ، طبع قاهره – ۱۳۸۶هـ ق = ۱۹۶۶ع یوه کاپي زما په کتابتون کي سته. م . هـ.

[۲] وګ: د رتبة الحیات د مقدمې ۱۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر اصولو برابر تهیه سوی او متن د پوره اعتماد وړ دئ.




## ۳۲ - د ملالتاړ دېوان:

ملا لتاړ د هندوستان مېشتو پښتنو شاعرانو څخه دئ چي د شاعرۍ زمانه ئې د دولسمي هجري پېړۍ له پای سره برابره ده او د روهیلکهنډ د لومړي نواب علي محمدخان روهیله (۱۱۶۲هـ ق = ۱۷۴۸ع مړ) د زوی نواب فیض الله خان معاصر وو. په ادبي تاریخو او تذکرو کي د ده نوم د پښتانه شاعر په توګه تر ۱۳۴۳ش = ۱۹۶۴ع کال دمخه نه وو یاد سوی. په دغه کال اروانښاد پوهاند رښتین د ډیلي موزیم د کتلو پر وخت د ده پر دېوان پېښ سو او په همدغه کال ئې په کابل مجله کي یوه مقاله پر وکښله. د دې نسخې مایکروفیلم هم د هندوستان پښتانه جمهور رئیس دوکتور ذاکر حسین افغانستان ته د خپل سفر په ترڅ کي پښتو ټولني ته د سوغات په توګه راوړی وو، چي له بده مرغه د نورو پښتو دېوانو د مایکروفیلمونو په شان ئې تر ډېره وخته پوري چا له مایکروفیلم څخه د استخراج ستونزي ته وخت نه وو ورایستلی. په ۱۳۶۲هـ ش = ۱۹۸۳ع کال چي د سرمحقق مرستیال ښاغلي عبدالرحیم ځدراڼ ته د هندوستان د پایتخت ډیلي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



موزیم د کتلو زمینه مساعده سوه، هورې ئې د دغه مایکروفیلم له اصلي نسخې څخه یو نقل ترتیب او همدا نقل ئې چاپ ته تیار کړ. سریزه، لنملیکونه او لغتنامه ئې ورته ولیکل چې په ۱۳۶۷ش = ۱۹۸۸ع کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو ریاست له خوا د ۲۰۰۰ ټوکو په تیراژ د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ سو. د اهتمام کار ئې ننګیالي بڅر کي کړی دئ. د دغه چاپ کومه نسخه چې همدا اوس زما (هوتک) تر کار لاندي ده، د صحافت یو څه ګډوډۍ لري او د سر لومړي څلیرویشت مخه لیکنه ئې چې په دا اوسني ځای کي ورسره مل سوې ده، بېځایه ورلوېدلې ښکاري او باید تر سریزي وروسته راغلې وای. د دېوان په سر کي د "لتاړ د دیوان اجتماعي خواوي" په څلیرویشتو مخو کي څېړل سوي دي، بیا "د ملا لتاړ دیوان" تر سرلیک لاندي د ښاغلي زلمي هیوادمل دوه مخه لیکنه راغلې ده، د هغې په تعقیب بیا تر همدغه مکرر عنوان لاندي دوه مخه نور بیان سته چې دا هم د ښاغلي هیوادمل لیکنه معلومېږي. وروسته د "ملا لتاړ او د هغه دیوان" تر سرلیک لاندي لس مخه سریزه راغلې ده او بیا نو له ۱۴ مخ څخه د دېوان متن پیل سوی دئ او تر ۲۵۲ مخه پوري رسېدلی او پر همدې مخ تمام سوی دئ. تر متن وروسته لغتنامه ده (اووه مخه). لغتنامه ئې د بیتو د نومرې په حواله ترتیب کړې ده. نسخه ئې په نوې بڼه مردف کړې او پر دوو برخو ئې وېشلې ده. غزلیات ئې یوه برخه او متفرقات (مخمسونه او رباعیات) ئې بله برخه ده. بیتونه ئې نومره بندي سوي هم دي. نسخه چاپي غلطۍ لري خو سمون لیک نه لري.

دا متن له واحدي نسخې څخه برابر سوی دئ او تر مطالعې وروسته لوستونکي په دې قانع کېږي چې مرتِّب په ښه پوره دقت سره کار پر کړی دئ. له واحدو نسخو څخه د متونو تهیه کول خورا مشکل کار دئ. خو چاپ ئې، که څه هم نیمګړتیاوي ولري، په خیر تمامېږي. اساسي خیر ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دئ چي که د حوادثو توپانونه دا واحده نسخه ورسره يوسي نو بيا خو به نه شاعر پاته وي، نه به ئې دېوان. ښاغلي ځدراڼ د دغه مشکل کار په اهميت پوه دئ او کوم ځايونه چي ئې د حدس و ګومان له مخي سم کړي دي، ډېر ناموجه نه ښکاري. ځای ځای ئې د لتاړ کلام تنقيح کړی هم دئ.

مرتب د سريزي په لسم مخ کي د دېوان خطي نسخه (اصل) معرفي سوې ده او په دغه معرفي کي د نسخې د پاڼو شمېر، په موزيم کي د نسخې نومره، د نسخې د کتابت زمانه او د کاتب نوم او دا چي دا نسخه موزيم ته له کومه ځايه راوړل سوې ده، بيان سوي دي. د نسخې پر ليکدود باندي خبري نه لري.

ما د دې دېوان هغه مخونه يو څه په دقت وکتل، چي لمنليکونه ورته ليکل سوي ول. په هغو کي مي ځيني ملاحظات وموندل او په دې نيامت ئې دلته راوړم، چي که د دغه دېوان په بل چاپ کي چا پاملرنه ورته وکړه، ګټه به ښايي پر بناء سي. په دې ملاحظاتو کي مي تر چاپي غلطيو ګام اړولی دئ. يوازي مي هغه چاپي غلطۍ رااخيستي دي چي زما په فکر ئې لوستونکي له سياقه څخه نه سي سمولای.

په (۱۶مخ) کي يو بيت داسي دئ:

ونه لويه له ميوې کا
بيا لـــه وني کا پـــوا

"پوا" کلمې ته ئې کښلي دي چي په اصل کي "ميوه" ده. مرتِّب ته په دغه ځاي کي" مېوه" کلمه راوړل قافيوي عيب ايسېدلی دئ او پر ځاي ئې"پوا" وراچولی دئ چي زه د دې لغت په معنا نه پوهېږم خو دومره رامعلومېږي چي هماغه" مېوه" سمه ده په دې شرط چي "ميوا" ئې تلفظ کړو. د هندوستانيو پښتنو په آثارو کي ما ته په الف سره د کلماتو د وروستۍ غير ملفوظي (هـ) اړول بل ځای هم په نظر راغلي دي. د سپه سالار

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نواب حافظ الملک حافظ رحمت خان بړيڅي زوی نواب محبت خان د خپل شهيد پلار د شهادت په تاريخي قطعه کي د "خانه دلې راشه" ماده "خانا دلِ راشا" ثبت کړې ده[1]. په دغه تاريخي ماده کي د "خانه" او "راشه" کلمو پای ته الفونه يوازي د ابجدي قيمت د پوره کولو له اسيته نه دي ورلوېدلي، بلکي په محاوره کي ئې همداسي وينگ عام وو. د ملا لتاړ په کلام کي نور ځايونه هم سته چي د کلماتو د پای "ه" په الف اليشه سوې ده. په (۱۹مخ) کي "ډېوه" د "ډېوا" په شکل، په (۴۶مخ) کي "مطالعه" د "مطالا" په شکل، په (۱۴۰ مخ) کي "منه" د"منا" په شکل کارول ټول پر دې خبره باندي دليل کېدلای سي چي د دغو کلماتو تلفظ په همدې ډول رواج درلود، يا لږ تر لږه ملا لتاړ دغه راز تلفظ کول. لتاړ د عامه تلفظ لېوال ښکاري. يو بل ځای ئې "بې رحمي بې د درست عمر فراموش کړم" له عوامي تلفظ سره سم "بې رامي بې د درست عمر فراموش کړم" راوړې ده (۶۳مخ). او په (۱۰۴مخ) کي ئې بهرام د "بارام" په شکل کښلی دئ. د دغو تلفظونو خوندي کول د ژبپوهاند له پاره د څېړني ښه مواد برابرولای سي.**

**په (۲۰مخ) کي د اصلي نسخې "نندارڅي" په "نندارچي" اړول سوی دئ ، چي بايد نه وای سوی. په (څ) سره د (چ) تلفظ د پښتو د منځنۍ لهجې ځانگړتيا ده. د ملا لتاړ په کلام کي د دغي ځانگړتيا څرک تر هندوستان مېشتو پښتنو پوري اوږدېدلای سي او ژبنۍ اهميت لري.**

**په (۵۷مخ) کي يو بيت سته چي وايي:**

د غفلت شونتهۍ په لاس کي
پرې سيزې د خاطـــــر کور

---

[1] (وگ: رشاد، عبدالشکور، علامه اکاډميسن پوهاند، حافظ الملک حافظ رحمت خان بړيڅی او د هغه کورنۍ، ۷۷مخ، چاپ ۱۳۸۵ش)

(c) ketabton.com: The Digital Library



"شونتېِ" ته ئې په حاشيه کي کښلي دي چي" اصل: شوشي".

شونتېِ خو د بيت له معنا سره سر خوري مگر که د (شوشي) کلمه تحقيق سوې واى، د بدلولو اړتيا ئې ليري کېدله. "سسي، سوسي" يو دښتي خړ بې اغزو بوټي دئ چي د اور بلولو پر وخت د "درگيران" كار ځني اخيستل کېږي. ظفراللغات او پښتو – پښتو تشريحي قاموس ضبط کړى دئ. ما ته د لتاړ د ديوان د اصلي نسخې"شوشي" همدغه "سوسي، سسي" ايسي چي كاتب د لهجوي شينيت تر اغېزې لاندي مسخه کړى دئ. "سوسي" د معنا په لحاظ کټ مټ د "شونتېِ" په شان لغت دئ.

دا لغت ئې بل ځاى هم راوړى دئ:

په ظاهر به سره يو تر بل زاريږي
گـرزوي د اور ټوټې په اندرون

مرتب په حاشيه کي ليکلي دي چي په اصل نسخه کي د "ټوټې" پر ځاي "شوشي" ثبت دئ. ده ته چي د "شوشي" په پوهېدلو کي مشکل پېښ دئ، دلته ئې پر ځاى " ټوټې" راوړى دئ. په دغه بيت کي هم "شوشي" د اور لگولو وسيله معنا ښندي. دغه راز پر حدس باندي ولاړي لاسوهني د متنپوهني پر اصولو نه سمېږي. تر دغه تصرف به بهتره دا واى چي د "شوشي" کلمه ئې په عين شکل په متن کي ثبت کړې واى او په لمنليک کي ورته کښلي واى چي "کټ مټ وليکل شوه" يا د دغه لغت معنا راته ځرگنده نه سوه، حل غواړي.

د (۵۷مخ) په يوه بل بيت کي هم د "تبې تورکي" د "تبې تورکي" سوى دئ چي پر "توکي" باندي د (ر) زياتولو ته اړتيا نه وه. د "تبې توکي" سمه معنا ورکوي.

د (۶۱ مخ) په ځلرم بيت کي د شاعر له خوا كار سوې کلمه "دوران" په "گردون" اليشه سوې ده چي لازمه نه وه. (دوران) او (گردون) يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفهوم لري. په اصلي نسخه کي کاتب "ددورانه" پر ځاي"ودورانه" ليکلی دئ او له امکانه ليري نه ده چي د سر (دال) دي مرتب ته (واو) ايسېدلی وي. دغه دال به ئې ورسم کړی وای. په خطي نسخو کي د (دال) او (واو) توپير کله کله مشکل وي.

په (۶۲ مخ) کي ئې هم د اصلي نسخې د ثبت سوي "ورندي" پر ځای "اورندي" ضبط کړی دئ، چي لازم نه وو.

په (۹۹ مخ) کي يو بيت دئ:

بينايي ئې د چشمانو ده راکړې
هم په غوږو شنوا د هر گفتاريم

"شنوا" ته ئې په لمنليک کي کښلي دي چي "اصل: شنوينده. په دې صورت کي د نيم بيتي هجا زياتيږي". تر دې به غوره دا وای چي په حاشيه کي ورته کښلي وای: "شينوينده بايد درې څپې ولوستل شي". په دې صورت کي به په متن کي د تصرف ځای نه وای پاته سوی.

ما د نورو ملاحظاتو يادانښتونه هم اخيستي دي. خو په همدې به ځکه بسنه وکړم چي د متن په برابرولو کي راته د مرتب دقت ښېخي څرگند دئ او حدسيات ئې، که څه هم متنپوهان په جدي توگه ترې ډډه کوي، تر يوې اندازې پوري مُوّجه ښکاري.

زما خپله رايه داسي ده چي د متن په برابرولو کي چي د چا وس کېږي، له حدس وهلو دي پرهېز کوي.

## ۳۴ - د عبدالقادر خټک دېوان:

د عبدالقادرخان خټک دغه دېوان په چاپي دېوانو کي وروستی متن دئ چي له تر دې وړاندي له ټولو چاپي او يو شمېر خطي نسخو سره مقابله سوی دئ. د مقابلې، تحشيې او تصحيح کار ئې د افغانستان د علومو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکاډمۍ غړي ښاغلي نورالله ولسپال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښووني لاندې سر ته رسولی او دېوان د کابل په دولتي مطبعه کې د دوو زرو ټوکو په تېراژ په ۱۳۶۸ش = ۱۹۸۹ع کال چاپ سوی دئ. پر دغه چاپ باندې پوهاند رشاد، پوهاند عبدالاحمد جاوید او سرمحقق محمدصدیق روهي لنډې یادوني لري او سریزه ئې نورالله ولسپال کښلې ده. د دغه متن په برابرولو کې ئې له څو خطي نسخو او چاپي نسخو څخه کار اخیستی دئ.

خطي نسخې ئې یوه د افغانستان د ملي آرشیف، بله د افغانستان د علومو اکاډمۍ نسخه او دریمه د پوهاند ډاکټر عبدالاحمد جاوید د شخصي کتابتون نسخه وه. دغه راز د ګلدستې له هغې خطي نسخې څخه استفاده سوې ده چې د روهیلکهنډ په انوله (رامپور) کې عبدالنبي نومي لیکلې او اوس د هند په رضا لائبریري پښتو کولکشن کې خوندي ده.

چاپي نسخې ئې د کندهار چاپ (۱۳۱۷ش = ۱۹۳۸ع)، د سید انوارالحق ترتیب سوی چاپ (۱۹۶۹ع پېښور)، د همېش خلیل مرتبه چاپونه (۱۹۶۷ – ۱۹۷۲ع) او دغه راز د مېجر هنري جورج راورټي په ګلشن روه، د توماس پاټریک هیوز په کلید افغاني کې د عبدالقادر خان خټک د کلام چاپ سوي برخي او د ګلدستې هغه چاپ چې د پېښور پوهنتون پښتو اکاډیمۍ په ۱۹۶۱ع کال کې بشپړ کړی دئ.

دا متن د متن څېړني پر اصولو باندې سم خېژي مګر د "خو" ځایونه پکښې ډېر دي چې ما ئې کره کتنه د همدې کتاب په تیرو مخونو کې کړې ده او په مشخصه توګه ئې پر لیکدودي ګډوډیو باندې په څلرم څپر کي، د لیکدود د عدم تجانس په بحث کې رغېدلی یم. لوستونکي دې هورې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳۵ - د احمدشاه بابا د دېوان غورچاڼ:

د احمدشاه بابا د دېوان غورچاڼ ارواښاد پوهاند عبدالشکور رشاد تهیه کړی او د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو نړۍ وال مرکز په ۱۳۵۷ش = ۱۹۷۸ع کال د یو زر ټوکو په تېراژ په کوچنۍ قطع چاپ کړی دئ. سریزه ئې ارواښاد محمدابراهیم عطایي کښلې ده او د اهتمام چاري ئې ارواښاد عبدالهادي هاند سر ته رسولي دي. د غورچاڼ په سر کي د پښتو څېړنو د نړۍ وال مرکز د هغه وخت مشر پوهندوی دوکتور مجاور احمد زیار په دوو مخو کي یو یادښت کښلی دئ او بیا سریزه پیل سوې ده چي ۲۸ مخه ئې نیولي دي. ورپسې متن پیل کېږي (۹۱ مخه).

په سریزه کي د احمدشاهي دولت په باب تاریخي څېړنه سوې ده چي د احمدشاه بابا پر علمي او ادبي آثارو باندي بحث هم ورسره مل دئ.

د احمدشاه بابا د دېوان دغه غورچاڼ له هغي خطي نسخې څخه د انتخاب سوو مخونو افسیټ چاپ دئ، چي د تاشکند د ختیځ پېژندني د انستیتوت په کتب خانه کي خوندي ده. د نسخې عکس د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا د آمریت په وسیله برابر سوی دئ. د همدغه غورچاڼ په سریزه کي ئې د دغي نسخې په باب کښلي دي چي: "د تاشکند د ختیځ پېژندني د انستیتوت په کتب خانه کي خوندي ده. لیکونکي یې محمدحامد درانی دی. دغه لړ معلومات د تاشکند د خطي کتابو د کتلاک تر ۲ – ۱۵۹۴ لمبر کتاب لاندي راغلي دي". دا نسخه د لوی احمدشاه بابا په ژوند کي استنساخ سوې ده او دلیل ئې دا دئ چي د نسخې په پای کي لوی احمدشاه بابا ته د "خلد الله ملکه وسلطانه" او "... ابدالله دولته الی یوم الدین" دوعائیه خطابونه سته چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژونديو شاهانو په باب ليکل کېږي[۱].**

**د غورچاڼ په سريزه کي د نسخې داستنساخ د وخت په باب په دغه صراحت سره خبري نه دي سوي او يو څه ابهام لري. هورې (۲۵مخ) داسي لولو: "د دې قلمي نسخې زيات ارزښت دا دی – چي ليکونکی يې په خپله د احمدشاه معاصر دی او دا نسخه يې په خپله د احمدشاه په ژوند کي ليکلې ده. د ديوان کار يې په ۱۱۶۳هـ ق کال سر ته رسيدلی دی او احمدشاه د ديوان په پاي کي داسي ويلي دي:**

کتاب ختم پــــه دوشنبې
مــورږ بـه ځــــو تاس دلې
پـه وروستي ورځ د روژې
هزار صد و شصت وسې"

**له دغو پرله پسې جملو څخه د لوستونکي ذهن ته واردواره داسي تداعي کېږي چي ګويا د نسخې د استنساخ کار په ۱۱۶۳هـ ق کي رسېدلی دئ. د دې څلوريځي تر اغېزې لاندي نورو کسانو هم دا فکر کړی دئ چي دا سنه به د دېوان د استنساخ کال وي[۲].**

**دا غورچاڼ په ډېر زيار تهيه سوی دئ او ځای ځای پکښې د بابا په کلام کي د تنقيح نخښې هم په سترګه کېږي. متن د پوره اعتماد وړ دئ. ما چي "د لوی احمدشاه بابا دېوان مشهور په دېوان هِرا" ترتيباوه، د دغه**

---

[۱] د دغي خطي نسخې بشپړه پېژندګلوي ښاغلي زلمي هيوادمل په خپل يوه اثر (۲۵مخ) کي کړې ده . دا اثر " د پښتو د ادبي تاريخ خطي منابع" نومېږي او په ۱۳۶۶ش کال د افغانستان د علومو اکاډيمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز چاپ کړی دئ. ما (هوتک) هم د لوی احمدشاه بابا ديوان، مشهور په ديوان هِرا – ۱۴مخ کي د دغي نسخې يادونه کړې ده.

[۲] د تفصيل له پاره وګورئ: "د لوی احمدشاه بابا دېوان،مشهور په دېوان هِرا"، ۱۲ – ۱۳مخونه، صحاف نشراتي مؤسسه، کوټه، ۲۰۰۹ع.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غورچاڼ ثبت ته مي زيات ارجحيت ورکړی دئ.

## ۳٦ - خلاصة المريدين:

خلاصة المريدين د کندهار د کشکنخود اوسېدونکي شمس الدين غلجي ليکلی دئ. شمس الدين غلجي د ديرلسمي هجري قمري پېړۍ په لومړۍ نيمايي کي ژوندکړی دئ. او دا کتاب ئې په ۱۲۲۰هـ ق کښلی دئ[۱].

د خلاصة المريدين چاپي متن د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي له خوا د کابل د پوهني په مطبعه کي چاپ سوی دئ. سريزه ئې استاد پوهاند مير حسين شاه کښلې ده او متن د بسم الله څېرمن "په مقابله، تصحيح او اهتمام" تهيه سوی دئ[۲].

د کتاب په سر کي تر "فهرست مندرجات" (۲مخه) وروسته د ادبياتو پوهنځي د خپرونو مدير محمدحسين راضي يو مخ "يادونه" کښلې ده، بيا سريزه (۱۳مخه) راځي، ورپسې په شپږو مخونو کي د کتاب د

---

[۱] وګ: رشاد، عبدالشکور (پوهاند)، تيروتني، لومړی ټوک، ۴۱مخ، د ۱۳۸۲ش چاپ. په دغه رساله کي علامه مرحوم د نورو پوهانو تېروتني سموي، خو دغه شپږشپېته مخيزه رساله په داسي بې غورۍ سره چاپ سوې ده چي د طباعتي غلطيو شمېر ئې تر سلو اوړي چي په هغو کي ئې پورته ياده سوې سنه هم ۱۳۲۰هـ ق کښلې ده؟.

[۲] پوهاند ميرحسين شاه د مير عبدالجواد شاه زوی، د مير نجف شاه لمسی، د ميرحسين شاه کړوسي او د سيدمير جعفر شاه اغا کوسی دئ. سيد مير جعفرشاه او ورور ئې سيد ميراحمدموسوي د لوي احمدشاه بابا په عصرکي کندهار ته راغلي دي. د دغو دوو ورونود نسب سلسله د امام موسي کاظم رحمة الله عليه و زوی احمد (مشهور په شاه چراغ) ته رسېږي. د شاه چراغ مزار په شېرازکي واقع دئ. (د تفصيل له پاره وګورئ: ګلزار قندهار، تاليف حاج شيخ محمدحسن قندهاری، ۱۷ - ۱۸ فصلونه، چاپ مطبعه النعمان نجف اشرف، او د ليکونکي اثر "احمدشاهي کندهار، دوهم ټوک، ۲۵مخ، چاپ ۱۳۸۵ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصحح خبري راغلي دي چي سرليک ئې "د خلاصة المريدين دوه قلمي نسخي" دئ. تر دغو خبرو وروسته په يوه مخ کي "يادګيرنه" سته او بيا نو متن شروع کېږي (۱۰۸مخه). تر متن وروسته "فهرست اعلام" (۳ مخه) او ورپسې د سريزي انګرېزي ترجمه (۱۲مخه) راغلې ده.

په سريزه کي ئې د کتاب مؤلف له شمس الدين کاکړ سره مغالطه کړی دئ او د دغي تېروتني سمونه واردواره په "فرهنګ زبان و ادبيات پښتو" کي خپره سوه ورپسې ما (هوتک) د ۱۳۶۵ش کال د زيري په جريده کي تفصيلي خبري پر وکړې او علامه رشاد مرحوم هم په خپل نوي چاپ سوي اثر "تېروتني" کي مقاله پر کښلې ده. په دغه سريزه کي د خلاصة المريدين پر محتوياتو او په هغو کي د راغلو ماخذو په باب محققانه او ګټوري خبري سوي دي.

د دغه کتاب متن له دووخطي نسخو څخه برابر سوی دئ چي يوه ئې د ادبياتو پوهنځي او بله ئې د پښتو ټولني د کتابتون ده[1]. دواړي نسخې او د هغو ځانګړ تياوي په نسبتاً مفصله توګه د مصحح په قلم معرفي سوي دي او د متن په برابرولو کي د ادبياتو پوهنځي نسخه د اصل په توګه ټاکل سوې او له دا بلي نسخې سره مقابله سوې ده. اختلافي موارد ئې په لمنليکونو کي راوړي دي او دغه راز ئې د لغاتو هغه معناوي چي د خطي نسخو په متن کي پر زياتي سوي دي، هم په لمنليکونو کي پر زياتي کړي دي. متن ته مستقله لغتنامه نه ده جوړه سوې.

د اصل نسخې کاتب د چاپي متن په سريزه کي "سيد کريمداد" بلل

---

[1] د پښتو ټولني نسخه د کندهار د غريبک له کتابتون څخه پښتو ټولني ته رسېدلې ده. د متن مصحح د خپلو خبرو په "ف" مخ کي وايي چي د دې نسخې پر لومړي مخ باندي "کتاب خلاصة المريدين في ملک محمد عبدالاحدعفي عنه ...." عبارت سته. محمدعبدالاحد د غريبک نوم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوی دئ او وايي چي "د سيد شيرشاه په کلي کښي اوسيده" (م مخ). د مصحح په خبرو کي دغه کاتب "سيد کريمداد بن سيد شيرشاه د سيد شيرشاه د کلي اوسيدونکي" بلل سوی دئ (س مخ). د چاپي متن د پای عبارت داسی دئ: "... تمت تمام شد بتاريخ ... شهر محرم الحرام در بلد قندهار در قريه سيادت پناه سيد شيرشاه غفرالله له ولوالديه ۱۲۳٦".

په دغو عبارتو کي که د خطي نسخې ثبت ته اعتبار ورکړه سي، نو د نسخې کاتب دغه نسخه په کندهار کي د سيد شېرشاه په کلي کي کښلې ده. د کاتب نوم او ولديت ئې بايد د نورو منابعو له مخي ليکل سوي وي چي نه ئې د کتاب د سريزي ليکوال او نه ئې د کتاب مصحح مونږ ته څرک په لاس راکوي. په کندهار کي د سيد شېرشاه کلي موقعيت ما (هوتک) ته په همدې مشخص نامه دقيق نه دئ معلوم، خو امکان لري چي مراد به ئې سپېروان ته نزدې د سيد شېر قلندر جلګه وي.

د سريزي په ("و" مخ) کي راغلي دي: "له ځينو ځايو څخه معلوميږي چي ښايي خلاصة المريدين د آداب المريدين ترجمه وي. په يو فصل کښي چي د پير او مرشد رابطه بيان شوي ده مولف وايي: په سير الطالبين کښي شيخ علي همداني ښه بيان راوړي دا کتاب دی شمس الدين بنده له دويه تاليف کړي ..."[1]. که د رانقل سوي روايت له مخي څوک د خلاصة المريدين کتاب د علي همداني د کوم اثر ترجمه وبولي، نو بايد د "سيرالطالبين" ترجمه وي، نه د "آداب المريدين" ژباړه. د سريزي په ورپسې جملو کي دا نظر بيرته رد سوې او خلاصة المريدين ترجمه نه، بلکي "يو جلا کتاب او مطلق تاليف" ګڼل سوی دئ.

پر دغه متن باندي تر سره سوی کار د متنپوهني له زياترو اصولوسره

---

[1] د سريزي "و، ز" مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم بلل کېدلای سي خو دا چي متن به څومره د مؤلف خپلي ليکني ته نزدې وي، هغه وخت څرګندېدلای سي چي د شمس الدين غلجي له نورو مؤلفاتو سره مقابله سي. حاضر دمه ئې متن د قناعت وړ دئ.

## ۳۷-خيرالبيان:

خيرالبيان د بايزيد روښان تر ټولو مهم اثر دئ. تر ۱۹۸۳ع کال پوري محققينو ته د دغه اثر يوازنۍ نسخه معلومه وه چي هغه د المان د تيوبنګن پوهنتون په کتابتون کي ساتله کېږي. دا نسخه ارواښاد مولانا عبدالقادر په تلاښ وموندل سوه او په ۱۹۶۷ع کال ئې متن له سريزو او حاشيو سره د پېښور د پښتو اکيډيمۍ له خوا خپور سو. د دغي نسخې يوه کاپي د ارواښاد عبدالرؤف بېنوا په هڅو او تلاښ له جرمني څخه افغانستان ته راورسېدله. د دغي کاپۍ، چي د سر او پاي يوه يوه پاڼه ئې کنډو وه، افسيټ چاپ د پښتوټولني په سپارښتنه د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي له خوا د بايزيد روښان د بين المللي سيمينار په وياړ په ۱۳۵۳ش = ۱۹۷۴ع کال د کابل په دولتي مطبعه کي د يو زر ټوکو په شمېر خپور سو. د اهتمام چاري ئې د حبيب الله رفيع او زلمي هيوادمل له خوا بشپړي سوي او کنډو پاڼي ئې د پېښور چاپ په مرسته د اصلي خطي نسخې ليک ته په ورته خط خطاطي سوي دي. ما اورېدلي دي چي د دغو کنډو پاڼو خطاطي د ارواښاد عبدالهادي هاند په ګوتو سر ته رسېدلې وه.

د دغه عکسي چاپ په پيل کي د ادبياتو پوهنځي رئيس پوهاند مير حسين شاه دوه مخه ليکنه راغلې ده او په هغې کي پر بايزيد روښان او د خيرالبيان د دغه چاپ پر اهميت باندي رڼاغېدلې دئ. تر دغي لنډې يادوني وروسته د ادبيوهنځي د پښتو خپرونو د هغه وخت چلوونکي دوکتور مجاوراحمد زيار دوه مخيزه يادونه لري چي په هغې کي ئې د خيرالبيان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطي نسخې د موندلو جريان، د پېښور پر چاپ او دغه راز د کابل پر چاپ باندي بړغېدلی دئ. د کابل چاپ ښېګڼي ئې تر ها بل چاپ زياتي بللي دي. تر دغو لنډو يادونو وروسته د فاضل استاد پوهاند عبدالحي حبيبي په قلم "د روښان پير عصر او د ده غورځنګ" په نامه په ۳۴ مخو کي د دغه عصر پر سياسي و ټولنيزو حالاتو، د روښان پير پر ژوند او د هغه د سياسي مبارزو پر لارو چارو، د روښان پير پر ادبي فعاليت او تاليفاتو باندي ژوري څېړنيزي خبري سوي دي او د تاليفاتو په لړ کي د ده د يوه نوم ورکي تاليف په باب خبر راکوي. تر دغي تحقيقي ليکني وروسته د ارواښاد عبدالرؤف بېنوا په قلم "د بايزيد روښان يادونه" تر سر ليک لاندي هغه آثار د الفبې په ترتيب معرفي سوي دي چي د روښان پير يادونه پکښې سوې ده. ورپسې "د خيرالبيان ليکدود" او "خيرالبيان نظم دئ که نثر؟" رساله ګوټې دي چي په ترتيب سره ۲۵مخه او ۱۸مخه لري او د پوهاند عبدالشکور رشاد په قلم ليکل سوي دي. تر دغو تحقيقاتي او ابتکاري ليکنو وروسته د خيرالبيان فهرست (۶مخه) او بيا ئې د متن عکسي چاپ راغلی دئ. تر متن وروسته "د خيرالبيان لغتونه" (۱۲۲مخه) رساله ده چي په سر کي ئې پنځه مخه سريزه او د لغتنامې لارښود پر زيات سوی دئ. دغه ژور لغوي تحقيق هم د علامه رشاد په قلم ليکل سوی او د نصير "روي" په هنرمندو ګوتو خطاطي سوی دئ. نصير "روي" هماغه نصير هنر پښتون دئ چي د پښتو يو شمېر دېوانونه، قاموسونه او نور آثار هم د ده په ښکلي خط خطاطي سوي دي.

څرنګه چي دغه چاپ د خيرالبيان انتقادي متن نه دئ، ځکه نو زه پر هغه باندي د بحث څه نه لرم. البته د کتاب په سر او پای کي د راغلو تحقيقي مقالو علمي اهميت تر اندازې زيات دئ. دوکتور مجاوراحمد زيار د دغه چاپي خيرالبيان په باب د کتاب په سر کي کښلي دي چي: "دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د دې چاپ نويوالی او خپوروالی تر ټولو دمخه د پوهاند عبدالشکور رشاد په نوچار او ابتکار پورې اړه لري، نو زموږ کوروداني لومړی په همده پورې اړه پيداکوي، د پوهاند حبيبي د هر اړخيزې سريزې او پياوړې ښنواد اخځليک د منني او پاسلوني خو له هره پلوه پوروړي يو. او په پای کې دواړو پښتو مينو ملګرو حبيب الله رفيع او ځلمي هيوادمل ځخه په دې خوښنه کوو چې يې يواځې او يواځې د پښتني وياړ او پښاو له مخې، بې له کومې توکيزې اسرې، د دغې چاپوني واړه ستونزې پر ځان ومنلې او په پوره برياليتوب يې په ډيرو لږو ورځو کې له توغه ووتل". پښتانه حق لري چې د دغو فاضلو محققينو په کار او زيار باندې تل ووياړي.

## ۳۸ - اسماء الحسنی:

اسماء الحسنی د حضرت حاجي ميا فقيرالله جلال آبادي (۱۱۹۵هـ ق = ۱۷۸۰ع مړ) منظوم اثر دئ چې په پښتو ژبه ئې د پاک خدای اسماء الحسنی شرحه کړې دي. د دغه کتاب انتقادي متن ښاغلي زلمي هيوادمل له څورلسو خطي او چاپي نسخو څخه برابر کړی دئ. سريزه، تعليقات او لغتنامه ئې علامه پوهاند رشاد ليکلې ده. دغه متن د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي له خوا[1] د ميا فقيرالله جلال آبادي د وفات د دوه سوم تلين په مناسبت د لوړو او مسلکي تحصيلاتو په مطبعه کې په ۱۳۵۹ش = ۱۹۸۰ع کال چاپ سوی دئ. متن خطاطي سوی او د خطاطۍ کار ئې د سيد حمايت الله حسيني په لاس سر ته رسېدلی دئ.

د کتاب په پيل کې د ژبو او ادبياتو پوهنځي د هغه وخت رئيس پوهنوال دوکتور مجاوراحمد زيار يو يادښت (۲مخه) کښلی دئ او په

---

[1] د کتاب د سرپر پاڼه باندې ئې خپرونکی " د فلالوژي پوهنځی " ليکل سوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعقیب ئې سریزه شروع سوې ده (د استدراک په ګډون ۱۴مخه). په سریزه کي علامه رشاد په ښو نومونو سره د پاک خدای ﷻ د یادولو پر موضوع او د دغي منظومي پښتو رسالې پر محتویاتو باندي رڼېدلی دئ او د یوه بل میا فقیرالله نومي په باب ئې چي د حضرت حاجي میا فقیرالله جلال آبادي معاصر دئ، لوستونکو ته معلومات ورکړي دي. تر دغي سریزي وروسته د متن د ترتیبوونکي خبري راځي (۲۲مخه). په دغو خبرو کي د لر او بر پښتنو لیکوالو له خوا د متونو د خپرولو جریان په محققانه توګه بیان سوی او د دغه حاضر متن د تهیه کولو په باب رڼېدلی دئ. تر دغو ګټورو خبرو وروسته د کتاب متن شروع کېږي (۱۱۰مخه). په هر مخ کي نسخه بدیلونه په لمنلیکونو کي راوړل سوي دي چي د حجم له مخي تر متن زیاتېږي. ورپسې تعلیقات راځي (۴۶مخه). په دغو تعلیقاتو کي د متن پر راغلو نومونو برسېره د "حضرت میا فقیرالله جلال آبادي د طریقت ځیني شجرې" هم څېړل سوي دي. د کتاب په پای کي لغتنامه سته (۱۶مخ) چي د متن ګران لغتونه ئې د الفبې په ترتیب په مشرّحه توګه معنا کړي دي.

متن سمون لیک نه لري او د نه راوړلو عذر ئې په (ت) مخ کي کښلی دئ.

لکه پورته چي مو یادونه هم کړې ده، دغه متن له څورلسو خطي او چاپي نسخو څخه ترتیب سوی دئ. د متن له پاره د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د کتابخانې نسخه د اصل په توګه ټاکل سوې ده. د دې نسخې د پېژندني له پاره ئې د میافقیرالله صاحب د بل اثر (فواید فقیرالله) پر چاپ (ک، ن مخونو) باندي حواله ورکړې ده. دلته ئې یوازي د نسخې د لیکلو کال (۱۲۲۲هـ ق) ته په "ر" مخ کي اشاره کړې ده. فواید فقیرالله هم په همدغه وخت کي په همدغه مناسبت د همدغه مرتب له خوا په انتقادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه تهیه سوی او چاپ سوی دئ. د یوه انتقادي متن د اصل نسخې معرفي کول باید له همدې متن سره مل چاپ سي. پر بل کتاب باندي ئې حواله ورکول د متنپوهني په اصولو کي نه ځائېږي او "نادر المثال" کار دئ. له اصل پرته ئې نوري هغه نسخې چي د متن په برابرولو کي ئې استفاده ځني کړې ده، په لنډ ډول راپېژندلي دي. د متن د برابرولو روش ئې هم دلته نه دئ بیان کړی او د فواید فقیرالله پر چاپ ئې حواله ورکړې ده (ت مخ). که له کوم لوستونکي سره د میافقیرالله صاحب د فواید دغه چاپ سوی متن موجود نه وي، د اسماءالحسنی د متن روش باید په خپله د متن له مطالعې څخه پیدا کړي. دغه ټکي د اسماءالحسني د دغه چاپ په نیمګړتیاوو کي راځي. نور نو متن د بشپړ ډاډ وړ دئ. سریزه، تعلیقات او لغتنامه خو ئې د مستقلو آثارو په اندازه علمي ارزښت لري.

## ۳۹ - فوایدفقیرالله:

فواید فقیرالله د حضرت میا فقیرالله جلال آبادي منظوم پښتو اثر دئ چي دوې برخي لري. یوه برخه ئې (فواید دعا) او بله برخه ئې (فواید دوا) ده. دا دواړي برخي ئې په یوه مجلد کي د انتقادي متن په توګه د میا فقیرالله صاحب د دوه سوم تلین په مناسبت د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا د لوړو او مسلکي تحصیلاتو په مطبعه کي په ۱۳۵۹ش = ۱۹۸۰ع کال چاپ سوی دئ. د متن ترتیبوونکی ښاغلی زلمی هیوادمل او خطاط ئې سید حمایت الله حسیني دئ او پر متن باندي سریزه، تعلیقات او لغتنامه د علامه پوهاند رشاد په قلم لیکل سوې ده.

د دغه چاپي انتقادي متن په سر کي پوهنوال دوکتور مجاوراحمد زیار دوه مخیز یادښت کښلی دئ. دوکتور زیار صاحب په دغه وخت کي د ژبو او ادبیاتو پوهنځي رئیس وو. تر دغه یادښت وروسته د کتاب سریزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلې ده (۴۰مخه). په دغه سریزه کي د متن پېژندګلوي، د کیمیاي سعادت او فوایدفقیرالله په باب هراړخیز تحقیق او د فواید د ناظم حضرت میافقیرالله رحمة الله علیه پر ژوند او آثارو باندي محققانه خبري راغلي دي.

تر سریزي وروسته (د متن لارښود) راغلی دئ چي د انتقادي متن د مرتب ښاغلي زلمي هیوادمل په قلم لیکل سوی دئ (۱۶مخه). په دغه لارښود کي د پښتو کتابو د چاپ پر لرغونې سابقه باندي رڼېدلی دئ او دغه راز ئې د قدیم هندوستان پر مطابعو او په هغو کي د پښتو آثارو پر چاپولو باندي تر لنډو خبرو وروسته په افغانستان کي د مطبعې د تاسیس او دوام موضوع څېړل سوې ده او بیا نو د دغه حاضر انتقادي متن د برابرولو جریان بیان سوی دئ.

د فواید فقیرالله دغه انتقادي متن له دوو خطي او دوولسو چاپي نسخو څخه برابر سوي دئ (د لارښود "ي" مخ). له خطي نسخو څخه یوه د اکاډیمۍ نسخه او بله د پوهاند رشاد د شخصي کتابتون مخطوطه ده. د انتقادي متن له پاره د اکاډیمۍ نسخه د اصل په توګه انتخاب سوې ده او نسخه د پوهاند رشاد په سریزه (اووم، اتم مخونو) او د مرتب په لارښود (ک،ل مخونو) کي معرفي سوې ده. د نورو نسخو پېژندنه هم د مرتب په لارښود کي سته. تر لارښود وروسته متن پیل سوی دئ چي د مخونو شمېر ئې یو سلو درې دئ. تر متن وروسته د الفبې په ترتیب مشرّحه لغتنامه (۶۶مخه) راځي چي د طبي مفرداتو د څېړني په باب په پښتو ژبه کي ابتکاري اثر دئ. د لغتنامې په پای کي پنځلس مخه تعلیقات پر زیات سوي دي.

د فواید فقیرالله دغه انتقادي متن د متنپوهني پر لارولیکه سم برابر تهیه سوی دئ او سریزه، تعلیقات او لغتنامه ئې خورا ډېري نوي خبري لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴۰ - فراقنامه:

فراقنامه د خوشحال خټک منظوم اثر دئ چي تر دغه چاپ دمخه په مستقله توګه چاپ سوې نه وه. دغه چاپ ئې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا د راحت زاخیلي د زوکړي د سلمي کالیزي په ویاړ د لوړو او مسلکي تحصیلاتو په مطبعه کي د یو زر ټوکو په شمېر په ۱۳۶۳ش = ۱۹۸۴ع کال سر ته رسېدلی دئ. د متن مرتب او د سریزي، څرګندونو او ویي پانګي لیکوال ئې ښاغلی زلمی هیوادمل دئ.

د چاپي فراقنامې په سر کي د پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیار په قلم دوه مخه (یادښت) مخي ته راځي چي په هغه کي ئې د فراقنامې پر ارزښت او د هغې د چاپ پر اړتیا خبري کړي دي. ورپسې د علامه حبیبي په قلم لیکنه (۲مخه) او بیا په پارسي ژبه د پوهاند میرحسین شاه لیکنه (۲مخه) او تر هغې وروسته د کتاب د مرتب ښاغلي زلمي هیوادمل په قلم (د سر خبرې) او (سریزه) ده چي دواړو دوپنځوس مخه نیولي دي. په دغه برخه کي د خوشحال خان خټک پر ژوند او فراق باندي ښه مغزن بیان سوی دئ د خان د بند پر عواملو باندي رڼغېدلی دئ او په دې باب ئې متعدد روایتونه رانقل کړي دي خو پر هغو باندي ئې نتیجه نه ده بناء کړې او دا کار ئې د نورو پر غاړه اچولی دئ (د سریزي "څلیریشتم" مخ). او د څېړني په پای کي ئې د فراقنامې پر دغه متن باندي د خپل کار پر روش هم رڼغېدلی دئ. تر دغو ګټورو خبرو وروسته د فراقنامې متن شروع کېږي او پر دواویایم مخ پای ته رسېږي. بیا نو تعلیقات (۴۴مخه) پیل کېږي چي ورپسې ئې لغتنامه ده (۱۱مخه) او بیا د ماخذونو فهرست دئ (۶مخه). د وقایې (پشتۍ) پر دریم مخ یوه یادونه سته او په هغې کي ئې د سمون لیک د نه لیکلو له بابته عذر غوښتی دئ او دغه راز ئې ویلي دي چي "د متن په ترتیب کي ئې د فراقنامې د خطي نسخې ضبط ته ډېر رجحان ورکړی دئ"

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خو زیاتوي چي: "ښايي په ځينو ځايونو کي د کليات ضبط مرجح وي". د فراقنامې دغه چاپ "سپين ږيري ليکوال عقاب خټک ته" اهداء سوی دئ.**

**د دغه انتقادي متن په ترتيبولو کي د هغي خطي نسخې نقل د اصل په توګه ټاکل سوی دئ چي د پېښور په موزيم کي خوندي ده او کاپيي ئې مرتب ته د ښاغلي همېش خليل له خوا رسېدلې ده (د سريزي "ط" مخ). مرتب د سريزي په اووه يشتم،اته ويشتم مخ کي وايي چي په دغه نسخه کي "يوه غزله، يوه ټوټه، يوه څلوريځه[1] يو دوې نيمګړي غزلي او د مثنوي يوه محدوده برخه داسي ده چي د خان په نورو چاپي آثارو کي نسته[2]. خطي نسخه د سريزي په څلورڅلوېښتم مخ کي معرفي سوې ده.**

**دغه متن په ډېر دقت تهيه سوی دئ، خورا ګټوري حاشيې پر کښل سوي دي خو مرتب د سريزي په اته څلوېښتم مخ کي وايي چي: "د دوو دريو ځايو په صحت يي خو زه اوس هم شکمن يم". دغه ځايونه ئې ښوولي نه دي او که ئې ښوولي وای، د راتلونکو څېړونکو پام به ژر وراوښتی وای. د متن ځيني چاپي تېروتني (د خطاط غلطۍ) ئې د متن له سياقه سمېدلای سي خو دانه مانه داسي غلطۍ هم سته چي سمېده غواړي د مثال په توګه د سريزي په "دريم مخ" کي د خان په يوه بيت کي لاهور ته د خان د رسېدلو نېټه "عفد" راغلې ده چي سم شکل ئې"غعد" دئ چي ابجدي ارزښت ئې**

---

[1] د سريزي په اته ويشتم مخ کي راغلي دي چي: "په دې کتاب کي د خان دوې څلوريزې هم راغلي ...". ما (هوتک) چي دغه حاضر متن دوه واره تر نظر تېر کړ، صرف يوه څلوريځه مي پکښې وموندله (۲۵مخ).

[2] ښاغلي همېش خليل له همدغي نسخې څخه د فراقنامې متن په پېښور کي هم خپور کړی دئ (وګ : دستارنامه، د پيژندګلو "ط"مخ، چاپ ۱۹۹۱ع پېښور).

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰۷۴) کېږي[1]. د تعلیقاتو په "پنځه دېرش" مخ کي د سکندرخان خټک د دوو ځوانیمرګو زامنو نومونه "انور او منور" بلل سوي دي. په دې نومو کي ما ته "منور" د تامل وړ ایسي او دلایل مې زما د همدې کتاب د "شمایل نامې او پندنامې" په برخه کي ویلي دي.

د فراقنامې دغه ترتیب سوی متن د متنپوهني په تاله درون خېژي او په ښو متونو کي راځي.

## ۴۱-د یونس خیبري دېوان:

د یونس دېوان د ۱۳۵۶ش = ۱۹۷۷ع کال په مني کي د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا آمریت له خوا د یو زر ټوکو په تېراژ چاپ سوی دئ. د متن د نقل، مقابلې، سمون، مقدمې او حاشیې کار ئې د ښېرندوی عبدالله خدمتګار له خوا سر ته رسېدلی دئ. د خطاطۍ چاري ئې د نصیر هنر پښتون په ګوتو بشپړي سوي دي او نسخه هغه راز خطاطي سوې ده، لکه اصل خطي نسخه چي ئې درې پېړۍ وړاندي استنساخ سوې او نقاشي سوې وه. د دغه دېوان یوازنۍ نفیسه او ښکلې نسخه د افغانستان د جمهوري ارګ په کتابتون کي خوندي وه چي اوس د افغانستان په ملي آرشیف کي ساتله کېږي او پېژندنه ئې د دغه آرشیف د پښتو خطي نسخو د فهرست په ۷۵مخ کي راغلې ده.

د چاپي دېوان په سر کي د وخت د اطلاعاتو او کلتور د وزیر پوهاند دکتور نوین په قلم "د یونس خیبري دېوان" تر سرلیک لاندي موجزه

---

[1] دغه تاریخي ماده د اروابناد سرفرازخان عقاب خټک د مقالو په هغه مجموعه کي، چي د (خوشحال نامه) په نوم د ښاغلي زلمي هیوادمل په زیار په ۱۳۶۵ش کال په کابل کي خپره سوې ده، د "عند" په شکل ضبط ده. د "عند" ابجدي ارزښت (۱۰۵۴) کېږي چي تر مطلوبي سنې شل کاله کم ښیي. (وګ: خوشحال نامه ۲۷مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکنه (۲مخه) ده، بیا د متن د ترتیبوونکي په قلم اووه دېرش مخیزه سریزه ورسره مل سوې ده. په سریزه کي د یونس پر ژوند، شاعرۍ باندي د بېلابېلو منابعو په حواله اوږدې خبري سوي دي. د دېوان متن تر سریزي وروسته پیل کېږي او تر ۲٦۸مخ پوري رسېږي. د اصلي نسخې متن په پټه خزانه، کلید افغاني، د ملا ښایسته خان په جونګ کي د یونس د کلام له ثبت سوو نمونو سره مقابله سوی دئ او اختلافي شکلونه ئې د هر مخ په لمن کي ورته لیکلي دي. د متن مشکل لغات ئې هم په حاشیو کي معنا او تشریح کړي دي او د مستقلي لغتنامې اړتیا ئې له منځه په وړې ده. د متن په پای کي د خطاط نصیر هنر پښتون په قلم د قلمي نسخې (اصل) او دغه چاپي خطاطي سوي نسخې پر خطاطۍ او نقاشۍ باندي خبري سوي دي چي د هغو په ترڅ کي ئې د نسخې هر اړخیزه معرفي کښلې ده. د چاپي متن په باب ئې لیکلي دي چي: "... دا هاند وشو څو تر ممکنه حده پوري د اصلي نسخې د نقاشیو فورم، اصالت، سبک او طرز خوندي شي. په دې توګه به نو، د دې کتاب د پوښ او د متن د لومړي مخ نقاشۍ وکولای شي چه د (رنګ آمیزیو) نه پر ته یو "کلي تصور" د اصلي نسخې نه موجود کاندي". د کتاب په پای کي د اشعارو فهرست د شعر د لومړي بیت د اول نیم بیتي په ترتیب اوډل سوی دئ (۲۲مخه).

دا متن د متنپوهني له مروجو اصولو سره سم ترتیب سوی دئ او د کار دقت ئې محسوس دئ. خو د نسخه بدیلونو تر مقابلې وروسته چي کومو ټکو ته زما سترګه وراوښتې ده، په ورپسې کرښو کي پر بړغېږم.

د دېوان د شپږم مخ اوومه غزل په پټه خزانه کي هم سته. دا غزل چي ما مقابله کړه، یو څه توپیرونه مي پکښې وموندل. ځینو ته ئې په لمنلیکو کي اشاره سوې ده خو ځیني بیا ښوول سوي نه دي. په دې ډول:

د دوهم بیت اوله مصرع "که ښایست یې ستا له حسنه روزي نه وي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. د دغي د پای کلمه احتمالي (وای) دئ چي په دريم او څلرم بيت کي د (... رهبر نه وای) او (... تر مشام شوای) په شکل ضبط دئ. په پټه خزانه کي د احتمال دا درې سره فعلونه الفونه نه لري خو د دېوان په چاپي متن کي ئې په دوهم بيت کي دغه الف نه دئ ورکړی خو په دريم او څلرم کي ئې ورسره راوړی دئ. (وي) او (شوي) په ختيځه لهجه کي ويل کېږي او (وای) او (شوای، سوای) د لوېديځي لهجې وينگ دئ. زما يقين دئ چي يونس په خپله په دغو دوو شکلونو کي يو پاله، نه دواړه. دا د کاتبانو او مصححينو بې توجهي ده چي په متن کي ئې مغشوش توب زېږولی دئ. که په اصل نسخه کي هم د ضبط دغه دوگانگي موجوده وي، نو بيا خو ئې يادونه لازمه ده. اوس چي د ژبي محقق په پټه خزانه او د يونس په چاپي دېوان کي د يوه شاعر د يوې غزلي دوه رازه ضبطويني، هرومرو په څېړنه کي بې لاري کېږي. د دغه ناسم ضبط له اسيته دئ چي د چاپي دېوان مصحح داسي انگېرلي دي چي گويا د يونس "ژبه او قلم په دواړو لهجو چلېدلی دئ" (د سريزي يودېرشم مخ).

د همدې غزلي په اووم بيت کي هم د لاسوهنو څرگندي نخښي سته. د دغه بيت اول نيم بيتی په پټه خزانه کي "جدايي بې حلق ورتريخ لکه گندېر کا" دئ او په چاپي دېوان کي "جدائي به يې حلق تريخ لکه گندېر که". په لومړي بيت کي "... بې حلق ورتريخ..." د لوېديځي لهجې ترکيب دئ او د چاپي دېوان "... به ئې حلق تريخ لکه ..." د ختيځي لهجې د کوم ناسخ ثبت دئ چي غالباً ئې د (بې = به ئې) په پوهېدلو کي ستونزه درلوده او زموږ مصحح يا د اصل ناسخ بيا د (به يې) په ليکلو سره د مصرع د هجاوو عيب د (ورتريخ) پر ځای د (تريخ لکه) په راوړلو سره له منځه وړی دئ. د پټې خزانې (ورتريخ) ته په حاشيه کي اشاره سته خو د (کا) او (که) خبره ئې بې تبصرې پرې ايښې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوولسم مخ اووم بیت داسي ضبط دئ:

عشق وژلي ته وگوره
چه تداونه خون بها

په حاشیه کي ورته کښلي دي: "کیدي شي چه مطلب (تداوي) وي". زه چي د یونس په کلام کي د کلماتو د محاوروي استعمال ډېرښت ته گورم، د (تداو) کلمه راته (نداو) ایسي او (نداو) بیا د هماغه وخت له معمول لیکدود سره سم (نه داو = نه داوه = نه دعوه) راته ښکاري. په زیاترو نسخو کي د کلماتو وروستی حرکت (ه) یا نه لیکل کېږي، یا ئې په اعراب سره ښیي. شاعر وایي چي د عشق وژلي له پاره نه څوک دعوه کوي او نه خون بها غواړي. د دغه راز عامیانه وینګ نور مثالونه هم سته. په ۵۲ مخ کي ئې (لیمو = میوه) د (نیمبو) په شکل راوړی دئ، په ۱۷۱مخ کي ئې (بایلاو) د (بایداو) په بڼه لیکلی دئ او نور.

د همدې مخ د وروستي بیت په دوهم نیم بیتي کي د قلمي نسخې "پڅي" کلمه (لڅې) سوې ده. په اول وار کتلو سره خو دغه سمونه پر ځای ایسي، خو (لڅې) د بیت له مفهوم سره سم نه وایي (سم نه لګېږي). بیت داسي ضبط سوی دئ:

هـــره چـــار په اندازه ســـره بایده ده
لڅې پېښې برمنډې شي څیرې نمد ستا

د (لڅې) او (برمنډې) د بې ضرورته تکرار تمه د یونس غوندي قادر الکلام شاعر څخه نه سي کېدلای. د قلمي نسخې (پڅې) زه (نڅي = نه څې = نه چي) بولم. د لوېدیځي او منځنۍ لهجې ځیني ویونکي (چه = چي) د (څي) په ډول تلفظ کوي. شاعر دلته وایي چي په هره چاره کي اندازه باید په پام کي و نیول سي، داسي نه چي پېښې دي برمنډې او نمد دي څیري وي.

د دوولسم مخ معما سمه نه ده محاسبه سوې. هورې ئې د (۲۳۸) عدد

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمایي (۱۲۶) بللې ده. د دغه عدد نیمایي (۱۱۹) کېږي. دغي حسابي تېروتني د (پټه خزانه في المیزان) ارواښاد مؤلف ته ښه دستاویز په لاس ورکړی دئ او د دغه کتاب (چاپ ۱۹۸۸ع) په ۲۹، ۳۰ مخونو کي ئې د یونس د دېوان د مصحح له دغي حسابي تېروتني څخه د پټي خزانې په جعلي ثابتولو کي کار اخیستي او ښه پوره شخوند ئې پر وهلی دئ.

د ۵۱مخ لسم بیت داسي دئ:

عـــراقي په اشارت سره پوهـــېږي
په کړه وړه سره تعلیم شي و یابو ته

(کړه وړه) ته ئې په حاشیه کي کښلي دي: "په قلمي نسخه کښې: کروړه". مصحح ته د (کروړه) ویي معنا نه ده څرګنده او له هغه څخه ئې په خپل زعم (کړه وړه) جوړ کړی دئ چي د بیت معنا ئې ورسره مغشوشه کړې ده. شاعر وایي چي عراقي آس اصیل آس دئ په (اشارت) سره پوهېږي خو (یابو) ته چي تعلیم ورکوې په (کروړه) به ئې ورکوې. کروړه د (قمچین) په معنا هم ده خو اصلاً یو ډول اغزن بوټي ته ویل کېږي. یابو ته چي تعلیم ورکوي په دغه اغزي بوټي ئې وهي ټکوي او پر لار ئې سموي. کروړه د لوېدیځي لهجې ژوندی لغت دئ چي پښتو – پښتو تشریحي قاموس ثبت کړی دئ او په مثال کي ئې د یونس همدغه بیت راوړی دئ. خو هلته ئې اوله معنا (متروکه، غمچینه، قمچین) لیکلې ده او دوهمه ئې (ازغن بوټي) راوړې ده. د دوهمي معنا په مثال کي ئې د عیسی شاعر دغه بیت راوړی دئ:

د عـاشق زړه په ختو پاره پاره کا
ولې درخته د عشق اړه تر کروړه

په زړه پانګه کي هم د (کروړه) لغت همدا دوې معناوي سته او هلته د خورا ډېرو شاعرانو له کلامه مثالونه راغونډ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په ۱۰۴مخ کي داسي لولو:**

که څوک وکاندي له زړه سره تميز
نه دنيا د آبرو شی ده نه يې څيز

**(د آبرو شي) ته ئې په لمنليک کي کښلي دي چي دا ځای په قلمي نسخه کي (د بروسي) دئ. (بروسه) د اعتماد، ډاډ، حمايت په معناوو په پښتو کي دخيل لغت دئ. ريښه ئې هندي الاصله ژبو ته رسېږي. ظفراللغات په همدې معنا ضبط کړی دئ. په پورتني بيت کي شاعر وايي چي نه دنيا د اعتماد وړ ده او نه ئې (څيز) چي مراد ئې د اولنو په ژبه (مافيها) ده. مصحح ته سره له دې چي د دغه لغت معنا معلومه ده او په ۲۶۷مخ کي د همدې معنا حاشيه ورکړې ده، خو دلته ئې دقت نه دئ ورته کړی.**

**په ۱۲۹مخ کي دوهم لمنليک د بيت مفهوم ته ورنږدې دئ خو ابهام پکښې سته. بيت داسي دئ:**

د ايام په شهسواری فراغت مه شه
اورميږونه ماتوي توسن ابلق

**(ايام) د (يوم) جمع ده. يوم په عربي کي (ورځ) ته وايي. د شاعر مطلب دا دئ چي په ايام، يعني شپه و ورځ، په دنيا باور نسته، لکه شوخ ابلق (برگ) آس، ورميږونه ماتوي. همدغه مفهوم په حاشيه کي په کمزوري عبارت سره بيان سوی دئ او لوستونکی ژر نه په پوهېږي. هورې ئې کښلي دي: "ابلق = برگ، مطلب ترې ورځ او شپه ده".**

**په ۱۶۴مخ کي يو بيت داسي دئ:**

که دوزخ څه عذاب کم گڼي په کور کښې
نور دي پور کا د مينو له بيلتونه

**د (کور) له پاره ئې داسي لمنليک ورکړی دئ: "دا کلمه په قلمي نسخه کښې "کور" ليکل شوي؛ څرنگه چه په قلمي نسخه کښې د (گ) پر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای هم (ک) لیکل شوي نو "ګور" هم لوستل کیدای شي، مګر تر دواړو "اور" ښه معنا ورکوي".

تر دغسي مستدلو خبرو وروسته ئې لا هم په متن کي دا کلمه "کور" ضبط کړې ده. مصحح ته چي معلومه ده چي په قلمي نسخه کي (ک) د (ګ) له پاره هم کارېږي، د نورو خبرو ځای نه پاته کېدی، باید سمدلاسه ئې (ګور) لیکلې وای. د (اور) له پاره حدس ته هیڅ اړتیا نه پاته کېدله.

د ۲۰۱ مخ دا بیت:

دا غمونه په مثال اینه چینجي وه
حواله مې اندرون په زړه کو ګل شي

د دغه مخ په دریمه حاشیه کي وایي چي په قلمي نسخه کي د (اینه چینجي) پر ځاي (اوینه چمچي) لیکل سوی دئ.

لومړي خو باید د "چمچي" ویی په همدې شکل په متن کي ثبت سوی وای، ځکه دا د چینجي = چمجي یو بل لهجوي واریانت ښکاري. دوهمه خبره دا ده چي (اوینه) دلته د فارسي (موریانه) معادله پښتو کلمه ده چي په لس زره پښتو لغتونه کي ئې په "کویه چوب خورک" معنا کړې ده. د پښتو په لوېدیځه لهجه کي په همداسي شکل ژوندۍ کلمه ده او په نورو لهجو کي (وَینه) تلفظ کېږي.

د ۲۰۲ مخ د دوهمي حاشیې له مخي داسي ښکاري چي مصحح ته د قلمي نسخې (څټ = مغزي) لغت ناسم ایسېدلی دئ او پر ځای ئې (سټ) لیکلی دئ. دغه راز ئې د ۲۵۲ مخ په اوله حاشیه کي هم (مغزی) له (اورمېږ، سټ، ګردن) سره یو شان بللی دئ. دا معناوي ټولي سمي دي خو د (سټ) تر لیکني ما ته (څټ) غوره ایسي او د قلمي نسخې ثبت ته باید ترجیح ورکړه سوې وای. (سټ) د پښتو په ټولو مروجو قاموسو کي د (تباه، برباد) په معناوو ثبت دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۲۱۳مخ کې یو بیت داسې دئ:

مظـلومانو لــره عــار له غـاو نشته
په دربار یې د داد ده وشور بهتر دي

دې بیت ته ئې په حاشیه کې کښلي دي :"د دې بیت په پوره معنا پوره و نه رسېدم".

په دې باب زما عاجز رایه دا ده چې اول خو په لومړي نیم بیتي کې د (غاو) کلمې پر (واو) باندې فتحه له کاتبه پاته سوې ده یا ښایي مصحح سمه نه وي لیدلې. د دوهم نیم بیتي (په دربار ئې) هم په ډېر احتمال سره (په دربار کې) وي. بل دا چې د دوهم نیم بیتي د (د داده و) اوسنۍ لیکنه به غالباً (داد دِهو) وي. (داد دِه = عدل ورکوونکی، عادل) معنا لري. (دادِهو) ئې مغیره جمع ده. د شاعر مراد دا دئ چې مظلومان باید په (غاو، چیغو او فریاد) و نه شرمېږي ځکه د عادلانو په دربار کې (شور بهتر) دئ. هر څومره چې په دغه دربار کې ډېر شور وسي، هغومره دي بازخواست کېږي. د دغې توجیه پر اساس به نو ټول بیت داسې وي:

مظلومانو لره عــار له غـــاوه نشته
په دربار کې د دادِهو شور بهتر دئ

د۲۵۳مخ دریم بیت داسې ثبت سوی دئ:

یا هغه چه سرنگــون په اور کښې پرېوځي
چه درست خور یې ویلي په اور سره ختلي

دوهمه مصرع ډېره ګډه وډه ده او مصحح هم ورته لیکلي دي: "د دې مصرع معنا غور غواړي. ما چې غور پکښې وکړ، سم شکل مې داسې وباله:

"چې درست خور ئې وي په اور سره ختلي"

د دغه بیت اړونده غزله د مصحح په تائید د نورالدین عبدالرحمن جامي د هغې غزلې ترجمه ښکاري چې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



به دندان رخنه در فولاد کردن
به ناخـــن راه در خــارا بردن
(الخ)[۱]

په پښتو ترجمه کي شاعر وايي چي که څوک وغواړي په نوک سره په پولاد کي رخنه وکړي، په باڼوګانو سره کاڼي وکيندي، يا په اور کي سرنګونه پرېوځي،... دا ټولي سختۍ له "يوکمينه" څخه تر "خواست کولو" اسانه ښکاري. زموږ تر بحث لاندي بيت په دوهمه مصرع کي (خوَر) د لومړي او وروستي توري په سکون او د دوهم توري په زوَر (فتحه) سره د (پوست، قِشر) معنا لري[۲]. د مصرع معنا دا ده چي د بدن ټول پوست ئې په اور سره ختلی وي.

ما نور واړه واړه ياداښتونه هم اخيستي دي خو د همدې ليکني له پاره دغونده بس دي.

## ۴۲ - اخلاقنامه

اخلاقنامه د خوشحال خان خټک او د هغه د کوم زوی ګډ تاليف دئ. د دغه زوی پر نامه باندي اوس تقريباً بشپړ اتفاق دا دئ چي دا سړی صدرخوشحال دئ. د صدر خوشحال نوم په کتاب کي په واضح ډول نسته خو دونه قدر څرګنده ده چي وروستي درې بابه د ده يوه زوی بشپړ کړي دي. د دغه زوی په باب واردواره علامه حبيبي مرحوم د "ښايي" په قيد سره د (صدرخوشحال) نوم واخيست. علامه مرحوم د همدې اخلاقنامې د سريزي په يوه لمنليک کي داسي کښلي دي:

---

[۱] ما د حضرت جامي د دغه غزل د مطلع دوهمه مصرع داسي هم لوستې ده: "بناخن سنګ خارا را بريدن" هوتک.

[۲] وګ: لس زره لغتونه ۳۳۴مخ، پښتو – پښتو تشريحي قاموس ۱۸۴۵مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ښايي چې دا ښپړوونکی د ده زوی صدرخان وي ځکه چې صدرخان خو د خپلو آثارو د ليکلو په باب له پلاره سره مشوره کوي او خپل تخلص هم صدر خوشحال ږدي. له بلې خوا د ژوندانه په وروستيو وختو کې خوشحال خان ته د ده ټولو زامنو، مخ نه ورکاوه او يوازې صدرخان ئې په خدمت بوخت و، چې دا مطلب له هغې ويرنې څخه چې صدرخان د پلار په مړينه کې ويلې ده، ښه څرګنديږي ...".

د اخلاقنامې پر متن باندې ښاغلو حبيب الله رفيع او همېش خليل په يوه وخت کې کار پيل کړی دئ خو همېش خليل په دې منډه! کې دمخه سوی دئ او چاپي متن ئې په ۱۹۸۱ع کال کې خپور کړ. د ښاغلي رفيع په لاس تيار سوی متن د ده له خولې په دغه وخت کې خطاطي سوی وو خو لا پوره تکميل نه وو او کله چې د همېش خليل صاحب ترتيب سوی متن خپور سو، ده د خپل کار له نشر څخه صرف نظر وکړ (وګ: د اخلاقنامې ۵مخ). دغه خطاطي سوی متن ئې شل کاله وروسته په ۱۳۸۰هـ ش = ۲۰۰۱ع کال په نيدرلينډ کې د افغاني کلتوري ټولنې له خوا خپور کړ، چې اوس دغه چاپ زما مخ ته پروت دئ او پر ږغېږم.

د کتاب په سر کې په نيدرلينډ کې د افغاني کلتوري ټولنې مشر د ډاکټر محمدطارق رشاد په قلم دوه مخه خبرې راغلې دي. ورپسې د ارواښاد پوهاند عبدالحي حبيبي په قلم پر اخلاقنامه باندې په څلورو مخونوکې بحث سوی دئ. بيا د کتاب فهرست راځي (۲مخه). تر هغه وروسته د مرتب سريزه پيل کېږي چې ۴۵ مخه ئې نيولي دي او په هغې کې د اخلاقنامې د خطي نسخې د موندلو جريان بيانوي او پر چاپي نسخه باندې په تفصيل سره ږغېږي او هغو اعتراضونو ته جواب وايي چې ځينو کسانو خوشحال خان خټک ته د دغې نسخې د انتساب په برخه کې خپاره کړي ول. په پای کې د خپل استدلال نتيجه داسې راباسي چې اخلاقنامه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان خټک او د هغه د زوی صدر خوشحال ګډه ترجمه ده.

تر دې سریزې وروسته د اخلاقنامې متن شروع کېږي. ټول متن ۷۶مخه دئ چې د نصیر هنر پښتون په ښکلي خط خطاطي سوی دئ. تر متن وروسته ویی پانګه راغلې ده چې په هغې کې د متن لغتونه د الفبې په ترتیب په مشرح ډول معنا سوي دي. ویي پانګه ټوله ۳۹ مخه ده. د کتاب په پای کې درې مخه نوم لیک هم سته.

دا متن له هغې نسخې څخه برابر سوی دئ چې د پېښور د پښتو اکېډمۍ په خطي کتابتون کې په ۲۵۳ نومره کې خوندي ده او بشپړه پېژندنه ئې د سریزې په ۱۴مخ کې راغلې ده. د نسخې ځیني برخې د اوبو رسېدلو، اوینو خوړلو او د ګنډلو په وخت کې د پام نه کولو له اسیته کنډو سوي دي او دغه کنډو برخې مرتب په حدس و ګومان سره پوره کړي دي او الحق چې ښې ئې پوره کړي دي. زما سره همدا اوس د همدې اخلاقنامې هغه چاپ نسته چې ښاغلي همېش خلیل خپور کړی دئ. که دا چاپ راسره وای، نو به مې د کره کتني له پاره د ویلو ډېر څه درلودلای. اوس چې پر همدې یوه چاپ باندي بړغېږم، د استدلال تاداو به مې ډېر پوخ نه وي. خو همدا خبري به ښایي د اخلاقنامې په بل چاپ کې یو څه په درد وخوړل سي.

– د متن په شپږم مخ لسم بیت کې (باسه) له قلمه لوېدلی دئ.

– د اووم مخ د پای له خوا پنځم مخ کې (لپرتور) چې (لپړتور) سي، محاورې ته به نزدې وي.(لپړ) د (ککړ) پر وزن ژوندۍ کلمه ده. په ویي پانګه کې د مرتب حدس پر ځای دئ. (لڅ لپړ، لوڅ لپړ) ترکیب هم ژوندی استعمال لري.

– په ۱۳مخ اووم بیت کې (فوزونه) د کاتب لاسوهنه بولم. (فوجونه، فوځونه) ئې سهي بڼه ده. د ۱۴مخ په نهم بیت کې بیا سم (فوځونه) راغلی دئ .

– په ۱۴مخ کې په لسم بیت او ۲۶مخ اتم بیت کې "قیچاق" سم ثبت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دئ او په ویی پانگه (۱۰۶مخ) کي هم په همدغه شکل دئ خو د معنا په وخت کي بیا (قبچاق) لیکل سوی دئ. دا ویی ( قبچاق) دئ. (وگ: غیاث اللغات، دهخدا، او نور قاموسونه).

– په ۱۷مخ شپږم بیت کي (یوه يې توره) په گرامري لحاظ سهي دئ خو د بیت وزن ئې یوه څپه زیات کړی دئ. که داسي وای، ښه به وای چي:

(یو يې تــــوره) د زبان وه
بل يې (توره) پر اسمان وه

په ورپسې بیت کي:

(فاطمه باندې) اخترؤ
چې علي ددې شوهرؤ

"( فاطمې باندې) اختر وو" ښه ورسره وايي.

– د متن په دېرشم مخ دوولسم بیت کي [دی] ته اړتیا نسته. بیت بې له هغه هم روان بیت دئ.

– په ۳۲مخ اول بیت لومړي نیم بیتي (په یوه ملک، په یوه ښهر) کي (ښهر) دوې څپې دئ او فشار ئې باید د دوهم نیم بیتي د "اظهر" په حکم پر دوهمه څپه وي. له دې امله نو مغیره (یوه) باید په (یو) سره ثبت سي یعني:

په یو ملک، په یو ښَهَر
دا خـــبره ده اظـــهَر

– د ۳۴مخ په دوولسم بیت، اول نیم بیتي کي د "که په ځای کړې دا شکرونه" پر ځای "که پر ځای کړې دا شکرونه" سهي راځي. په (په ځای کړې) کي (په) ظرفي ادات دئ خو په (پر ځای کړې) کي استعلایي دئ. د شاعر مراد دلته استعلایي دئ، نه ظرفي.

– د همدې ۳۴ مخ په اتلسم بیت کي (ورځ) لیکل سوې ده خو په نور متن کي زیاتره (روځ) ثبت ده. د لیکدود د تجانس له اسیته او د دغه عصر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مروجي ژبي له خاطره باید دلته هم (روځ) لیکل سوې وای.

– د ۳۵ مخ اوولسم بیت داسي دئ:

چې که ښه شکرمې نه زده
ته را [ته] وښیه ما څه زده

د دوهم نیم بیتي [ته] بې ضرورته زیاتونه ده. له یوې خوا ئې د نیم بیتي وزن یوه څپه زیات کړی دئ او له بلي خوا (راوښیه) تر (راته وښیه) لنډ او محاورې ته نزدې دئ. دغه راز که په همدې دوهم نیم بیتي کي د (ما) پر ځای (زما) راسي، ښه به وي:

"ته را وښیه زما څه زده"

د همدې مخ د پای له خوا په دوهم بیت کي دوهم نیم بیتي داسي دئ:

"په هرچا دې رحم (کاندې)"

که په دې ډول ثبت سي، ښه به وي:

پر هر چا دې رحم کاندي

دلته بیا د ظرفي او استعلایي اداتو قانون سره ګډ سوی دئ.

– د ۳۶ مخ دوهمه حاشیه په متن کي نښاني سوې نه ده.

– د ۴۵ مخ دوولسم بیت په دوهم نیم بیتي "هر یوه سوړپرې (خپل) ټټر کړ" کي چي (خپل) پر زیات سوی دئ د بیت وزن ئې دوه سپوڼه ډېر کړی دئ. بې له (خپل) څخه بیت بالکل روان دئ:

د پسر په بند ئې ورکړ
هر یوه سوړپرې ټټر کړ

– د ۴۸ مخ په لسم بیت کي [وته] زیاتی دئ. وزن ئې وران کړی دئ. بې له هغه نیم بیتی سم روان لوستل کېږي.

– د ۴۹ مخ اووم بیت داسي بشپړ سوی دئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بخبنل په (پخو) ل ؤ

د یارانــــو په نمنځل ؤ

که زما اختیار وای، ما داسي بشپړ اوه:

په بخبنل و په (باز) ل وو

د یارانــــو په نمنځل وو

(بخبنل) و (بازل) د خوشحال خان په کلام کي په ستر ګه کېږي.

- د ۵۳مخ دپای له خواپه دریم بیت کي کنډو ځای په (زر ؤ) ډک سوی دئ چي د اول نیم بیتي له (ناظِر ؤ) سره هماهنګي نه لري. که ئې پر ځای (ځیر ؤ) راغلی وای، سم به وای.

یو مرغه ورته ناظر (ؤ)

و میږي ته ګویا (ځیر ؤ)

- په ۵۷ مخ، ۶۰ مخ، ۶۲مخ کي په ترتیب سره (په عادل)، (په غلیم)، (په شیطان) ثبت دئ چي سم شکلونه ئې (پر عادل)، (پر غلیم) او (پر شیطان) دي.

- په ۷۳ مخ کي د پای له خوا د شپږم بیت دوهم نیم بیتي کي (خوَر) د پوست په معنا دئ او په ویي پانګه کي باید معنا سوی وای. په اول نظر لوستونکی د (خور = خپور) یا (خور = همشیره) ګومان پر کوي.

- په ۸۰ مخ کي د (ادل بدل) ویي ښه او مروجه معنا (مخی) ده.

- په ۹۱مخ کي د (توسن) سره د (آس) معنا پاته سوې ده.

په متن کي د کتابت نوري وړې وړې تېروتني هم سته خو هغه له سیاقه سمېدلای سي.

نور نو د اخلاقنامه نامې متن د متنپوهني پر اصولو برابر تهیه سوی دئ او د ډاډ وړ متن دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال چاپ او ناچاپ آثار

**چاپ سوي اثار :**

۱. سرمني او ښکي – شعري مجموعه – ۱۳۶۹ل = ۱۹۹۰ع، کراچي.
۲. پاشلي ویناوي – د مولوي صالح محمد هوتک – سریزه او حاشیې – ۱۳۶۹ل = ۱۹۹۰ع، کراچي.
۳. د میرزا حنان بارکزي دېوان – سریزه، سمون او لغتنامه او خطاطي – ۱۳۷۰ل = ۱۹۹۱ع، کراچي.
۴. پوخ کانی – پټه خزانه یو واقعیت دئ – ۱۳۷۵ل = ۱۹۹۶ع، ټورنټو.
۵. احمدشاهي کندهار – لومړی ټوک، ۱۳۷۵ل = ۱۹۹۶ع، ټورنټو.
۶. میرزا عبدالودود هوتک – ۱۳۷۷ ل = ۱۹۹۸ ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۷. پښتني قبیلې او روایتي شجرې – ۱۳۷۹ ش = ۲۰۰۰ ع، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.
۸. ښکار او کندهار – ۱۳۸۲ل = ۲۰۰۳ ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۹. درنه کورنۍ (د علامه حبیب الله کندهاري کورنۍ) ۱۳۸۳ل = ۲۰۰۳ ع، د علامه حبیبي د څېړنو مرکز.
۱۰. د پولادي امیر تر سیوري لاندي، د فرانک مارتین لیکنه، پښتو ژباړه، ۱۳۸۳ل–د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.
۱۱. بحرالعلوم د دوست محمدخټک – لومړی ټوک، (سریزه، سمون او حواشي) ۱۳۸۳ل = ۲۰۰۴ ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۱۲. روڼي شپې – شعري مجموعه – ۱۳۸۴ش = ۲۰۰۵ع، صحاف نشراتي مؤسسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳. سل بگړۍ یو پوړنی – د هوتکو ملي، روحاني، علمي ادبي او ټولنیزي څېړې – ۱۳۸۴ د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.
۱۴. شین سترګي مستخدمین په افغانستان کي. څو قسطه په ګوربت مجله کي. په کتابي بڼه ۱۳۸۵ ل، صحاف نشراتي مؤسسه.
۱۵. احمدشاهي کندهار – دوهم ټوک، ۱۳۸۴ ل = ۲۰۰۵ ع، علامه رشاد خپرندویه ټولنه/ کندهار.
۱۶. د علامه رشاد د کندهار یادابښتونه، (ترتیب، سمون او لمنلیکونه) ۱۳۸۶ ل = ۲۰۰۷ ع، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.
۱۷. د عبدالروف بېنوا میرویس نیکه، (سریزه او لمنلیکونه) چاپ: ۱۳۸۴ ل = ۲۰۰۵ ع، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.
۱۸. پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه، ۱۳۸۵ ل = ۲۰۰۶ ع، علامه رشاد خپرندویه ټولنه/ کندهار.
۱۹. د سید جمال الدین افغان تتمة البیان فی تاریخ افغان، د پښتو ژباړې (د محمد رفیق حبیبي په قلم) ترتیب، سمون او لمنلیکونه – ۱۳۸۵ ل = ۲۰۰۶ ع، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.
۲۰. کندهاري وروڼه (کندهاري سرداران)، ۱۳۸۷ش = ۲۰۰۹ع، علامه رشادخپرندویه ټولنه/کندهار.
۲۱. پښتو! ستا میني بوداپیست ته بوتلم، ۱۳۸۷ش = ۲۰۰۸ع، علامه رشاد خپرندویه ټولنه/ کندهار.
۲۲. احمدشاهي شهنامه، د متن سمونه، سریزه او لمنلیکونه – پېژندنه او تعلیقات د علامه رشاد، ۱۳۸۷ش = ۲۰۰۸ع، علامه رشاد اکاډیمي، کندهار.
۲۳. د شمس الدین کاکړ دېوان، سریزه او لغتنامه، ۱۳۸۸ش = ۲۰۰۹ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۲۴. د میرزاحنان بارکزي دېوان (بشپړکلام)، سریزه، سمون او لغتنامه، ۱۳۸۸ش = ۲۰۰۹ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۲۵. د لوی احمدشاه بابا دېوان (مشهور په دېوان هرا)، ترتیب او مقابله، ۱۳۸۸ش = ۲۰۰۹ع، صحاف نشراتي مؤسسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲٦. له (Erinn Banting) کاناډايي مېرمنې سره د (Afghanistan) نومي کتاب په ليکلو کي مرسته او همکاري، (Crabtree Publishing Co)، کاناډا، ۲۰۰۳ع. دا کتاب په دريو برخو (Culture, Land, People) کي خپور سو، خو پر مطالبو باندي يې په ملګروملتو کي د افغانستان د هماغه وخت استازي مشورو تر دې اندازې پوري سيوري واچاوه، چي د لوی احمدشاه بابا عکس لا هم پکښې چاپ نه سو او کتاب زما (هوتک) د مشورو اولارښوونو پر خلاف چاپ سو.

۲۷. اديب شيخ، ۱۳۸۸ل، د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رياست

۲۸. کچکول (د مقالو لومړۍ برخه)، ۱۳۸۹ل، د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رياست

۲۹. کچکول (د مقالو دوهمه برخه)، ۱۳۸۹ل، د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رياست

۳۰. له کندهاره تر اټکه، ۱۳۸۹ل، علامه رشاد خپرندويه ټولنه/کندهار

۳۱. د مخلص کندهاري د کلام لغوي زېرمه

۳۲. د علامه رشاد جغرافيايي يادا ښتونه – سريزه، ترتيب او کمپوز.

## ناچاپ اثار :

۱. د هوتکو نوميالي (دوهم ټوک).

۲. د بې ادبه ادب څېړنه.

۳. پرتليز کليز، د هجري قمري او عيسوي سنو اړونه او رااړونه.

۴. د غره او د وره (ژوند پېښې).

۵. کچکول، د مقالو مجموعه – ۶ ټوکه.

٦. د افغانستان انتالوجي (۱۰۰۰ مخه) ټايپ سوې نسخه يې د بيهقي کتاب چاپولو په مؤسسه کي خوندي وه. اوس يې حال نه لرم.

۷. تعميې په پښتو ادب کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زموږ نور چاپ سوي کتابونه

۱. احمدشاهي کندهار –لومړی ټوک/استاد محمدمعصوم هوتک
۲. احمدشاهي کندهار –دوهم ټوک/ استاد محمدمعصوم هوتک
۳. د کوډو سرنوشت د علمي پلټني په رڼا کي/ استاد نوميالی
۴. د پښتنو د ټولنيز تاريخ مبادي/ استاد نوميالی
۵. انکار –شعري مجموعه/ عبدالقديم پتيال
۶. شل مقالې –نهمه برخه/ علامه حبيبي
۷. شل مقالې –لسمه برخه/ علامه حبيبي
۸. شل مقالې –يوولسمه برخه/ علامه حبيبي
۹. شل مقالې –دوولسمه برخه/ علامه حبيبي
۱۰. شل مقالې –ديرلسمه برخه/ علامه حبيبي
۱۱. د کندهار دودونه/ عبدالخالق واسعي
۱۲. اوسني ليکوال/ استاد عبدالرؤف بېنوا
۱۳. پردېس بېنوا / عبدالقديم پتيال
۱۴. کندهاري ورونه/ استاد محمدمعصوم هوتک
۱۵. په کندهار کي د کورنۍ جوړښت/ ظاهر افق
۱۶. د لومړي افغان –انګليس جنګ مقدمه/ د نسيم سليمي ترجمه
۱۷. د پلار ليکونه لورته/ د نسيم سليمي ترجمه
۱۸. پښتو متلونه/ د نسيم سليمي تاليف
۱۹. په افغانستان کي د يوه بندي خاطرات/ د نسيم سليمي ترجمه
۲۰. پر معياري ژبه د معيار په ژبه يوه څېړنه/ استاد محمدمعصوم هوتک
۲۱. د کندهار ښار/ عبدالهادي ريشا
۲۲. ځوان کلونه ناځوان وختونه –شعري مجموعه/ سعيد لودين

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۳. د میوند فاتح/ د عبدالنافع ثنا ترجمه
۲۴. پولیټیکل ساینس ته یوه کتنه/ د ډاکټر محمدصدیق ظهیر ترجمه
۲۵. نبوي کورنۍ/ مولوي عبدالهادي حماد
۲۶. نبوي معجزې/ مولوي عبدالهادي حماد
۲۷. اراکوزیا/ استاد عبدالقدوس نجیب
۲۸. افغانان نه ژاړي/ حاجي محمد رزمي
۲۹. افغان شاغاسیان – انګلیسي/ استاد محمد معصوم هوتک
۳۰. کشف شاهنامه قبل از دورهٔ مغل/ علامه حبیبي
۳۱. ملي هینداره/ استاد محمدګل نوري
۳۲. له کندهاره تر اټکه/ استاد محمد معصوم هوتک
۳۳. د بېنوا پرېشانه افکار/ استاد بېنوا
۳۴. نوموړکي مؤرخین/ علامه حبیبي
۳۵. د کندهار مشاهیر/ محمدولي زلمی
۳۶. پردېس عربي قاموس/ د اختر محمد جهید ترجمه
۳۷. پښتو ستا مینې بوداپیست ته بوتلم/ استاد محمد معصوم هوتک
۳۸. د پښتو ادب لنډ تاریخ/ علامه حبیبي
۳۹. ستاینې او وېرنې/ اروابناد عبدالمجید بابی
۴۰. د پښتو ژبې ننۍ مسألې/ محمدهارون خپل
۴۱. افغانستان، سیاسي کمزوري او بهرنۍ مداخله/ ډاکټر نبي مصداق
۴۲. پټه خزانه/ د محمد بن داود هوتک – د علامه حبیبي سریزه
۴۳. ادبي فنون/ استاد عبدالرؤف بېنوا
۴۴. نړیوال نکلونه/ د عبدالغفار ترین ترجمه
۴۵. ګیدړه او انګور/ د عبدالغفار ترین ترجمه
۴۶. د ډیپارچر ویکبلري، انګلیسي – پښتو/ د نعیم قاسمي ترجمه
۴۷. لیک نښې/ کاندید اکاډمیسین ظاهر افق
۴۸. بین المللي سیاست ته یوه کتنه/ د ډاکټر محمدصدیق ظهیر ترجمه
۴۹. پښتنې قبیلې او روایتي شجرې/ استاد محمد معصوم هوتک

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۰. د افغانستان د ایتنوګرافۍ په باب یوه پلټنه
۵۱. پند او عبرت/ د عبدالباري جهاني منظوم داستانونه
۵۲. کلیله او دمنه/ د ډاکټر صالح محمد زېري ترجمه
۵۳. د پښتو د فوکلوري نکلونو لنډ تحلیل/ عبدالباري جهاني
۵۴. پښتو متون سمېدل غواړي (همدغه اثر)

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library